

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ

تحفۃ ابی الیمان
فی
خلاصۃ القرآن





مؤلف

ابو الیمان شیخ القرآن والحدیث مولانا

محمد طیب طاہری

امیر جماعت اشاعت التوحید والسنۃ

الناشر: مکتبۃ الیمان دار القرآن پنج پیر صوابی



عظیم الشان خوشخبری



★ اب مکتبہ اشاعت آپ کے جیب میں ★

دنیا میں کسی بھی جگہ علماء جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف

Play Store اور Website سے بالکل فری انسٹال / ڈاؤن لوڈ کریں۔



انسٹال / ڈاؤن لوڈ کرنے کا طریقہ



Play Store سے " مکتبۃ الاشاعت " انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں مطلوبہ کتاب ڈاون لوڈ کریں نیز اپنی کتاب کو Website / Play Store پر مفت شائع کرنے کے لیے بھی رابطہ کریں۔

نیز ماہنامہ التوحید والسنۃ پلے سٹور اور ویب سائٹ دونوں پر دستیاب ہے۔

نوٹ

ویب سائٹ پر جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف مثلاً تفاسیر، فتاویٰ جات، شروح، سوانح حیات، نوٹس، درس نظامی کے کتب وغیرہ دستیاب ہیں آپ وقتاً بوقتاً Play Store اور website پر چیک کیا کریں مزید معلومات کے لیے دیے گئے واٹس ایپ نمبر پر رابطہ کریں۔ وہاں آپ کو آسانی کے لئے مطلوبہ کتاب کا link دیا جائے گا اور آپ کو بہترین رہنمائی دی جائے گی جس سے آپ کو مطلوبہ کتاب آسانی سے ملے گا۔ پلے سٹور پر ترجمہ و تفسیر یا سورتوں کے نوعیت والے تصانیف دستیاب ہوں ہیں کیونکہ ایک PDF میں اس کا مطالعہ مشکل ہوتا ہے تو ہم نے آسانی کے لیے ہر ایک پارے کے لیے الگ الگ بٹن بنایا ہے تاکہ قارئین کے لیے پڑھنے میں آسانی ہو باقی تمام نوعیت کے تصانیف مندرجہ ذیل ویب سائیٹ پر دستیاب ہوں گے۔ جو Goggle پر مزکورہ ویب سائیٹ میں سرچ کرنے سے یا ہمارے مندرجہ بالا app " مکتبۃ الاشاعت " کو پلے سٹور سے انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں سرچ کرنے سے ملیں گے۔ آسانی کے لیے ویب سائیٹ پر links ملاحظہ کیجئے۔ جزاکم اللہ

WhatsApp:0320-1914145

ویب سائیٹ **maktabatulishaat.com** (مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام)





وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ

تحفۃ أبی الیمان
في
خلاصۃ القرآن





مؤلف


أبو الیمان شیخ القرآن والحدیث مولانا

محمد طیب طاہری

أمیر جماعت اشاعت التوحید والسنۃ

الناشر: مکتبۃ الیمان دار القرآن پنج پیر صوابی

بسم الله الرحمن الرحيم



اسم الكتاب : **تحفة أبي اليمان في خلاصة القرآن**

اسم المؤلف : شيخ القرآن والحديث علامه **مولانا محمد طيب** طاهري
امير جماعت اشاعة التوحيد والسنة العالمية

تصحيح ونظر ثاني: مولانا مفتی خالد الرحمن ناصح صاحب


کمپوزنگ: مولانا محمد حماد صاحب

سن الطباعة : ۱۴۴۲ ھ بمطابق 2021ء

الناشر: مكتبة اليمان دار القرآن پنج پير صوابی

زیر انتظام: مولانا مفتی محمد صابر ناظم اعلی دار القرآن پنج پیر صوابی
0346-4543152

يطلب من : مكتبة اليمان دار القرآن پنج پير



بسم الله الرحمن الرحيم

تقديم

الحمد لله حمداً كثيراً و الصلوة و السلام على رسوله بشيراً و نذيراً

أمّا بعد !

مونږ په داسي زمانه کښې پیدا شو چې د قرآن کریم زده کړه ډیره آسانه شوي ده ، او دا ځکه چې زما والد محترم او زما شیخ محترم شیخ القرآن و الحدیث مولانا محمد طاهر رحمه الله د قرآن کریم د زده کولو د پاره ډیر محنت کړے وو د قرآن کریم د زده کړي د پاره هغوي څه اصول او قواعد ایخودي وو او بیا ئي د وضاحت د پاره امثله هم پیش کړي وو ، د دي نه علاوه هغوی د هر سورت خلاصه راویستي ده چې د هغي د زده کولو سره د سورت مطلب په آسانه طریقه ذهن کښې پریوتلو او علماء څه چې عوام به هم د قرآن د مطلب نه سیر شو ، او دغه وجه ده چې عوامو هم قرآن زده کړو او د مطلب نه ئي خبر شو خو افسوس دا چې د هغوی بعضي شاګردانو یا زما شاګردانو په دغه اصولو او قواعدو او خلاصو کښې رد و بدل اوکړو او زده کول د قرآن کریم ئي بیا مشکل کړل او دا ئي او نهٔ کړل چې وضاحت او تفصیل ئي د حضرت شیخ محترم د لیکلو کړے وے ، ما دا ضرورت محسوس کړو ، د دي وجې نه مونږه هغهٔ اصول او قواعد او خلاصي په هغه طریقه د شیخ محترم پیش کوو او د هغي لږ تفصیل او وضاحت ضروری ګڼړو ، اصول او قواعد په نامه د : عقد الجواهر في دورس الشّیخ محمد طاهر رحمه الله ، او خلاصي په نامه د تحفة أبي الیمان ،

امید دے چې تاسو به دا تحفي قبول کړئ ، او مونږ به په خپلو دعاګانو کښې یاد ساتئ .

الأحقر محمد طیب الطاهري

بسم الله الرحمن الرحيم

د ټول قرآن کريم مختصر خلاصه

قرآن کريم په اعتبار د فهم سره څلور حصې دے :

اوله حصه : د سورة الفاتحة نه تر سورة الأنعام پورې ده ، دې کښې مقصدي مسئله دا ده چې : {اَلْخَالِقُ لِكُلِّ شَيْئٍ هُوَ اللهُ} پيدا کوونکے د هر شي الله تعالیٰ دے ، په دې حصه کښې پنځه / ٥ سورتونه دي .

دويمه حصه : د سورة الأنعام نه تر سورة الكهف پورې ده ، دې کښې مقصدي مسئله دا ده چې : {اَلْمُرَبِّي لِكُلِّ شَيْئٍ هُوَ اللهُ} پالونکے د هر شي الله تعالیٰ دے ، دې حصه کښې دولس / ١٢ سورتونه دي .

دريمه حصه : د سورة الكهف نه تر سورت سبا پورې ده ، دې کښې مقصدي مسئله دا ده : {اَلْمُبَارِكُ فِيْ كُلِّ شَيْئٍ هُوَ اللهُ} برکت اچونکے په هر څيز (شي) کښې الله تعالیٰ دے ، دې حصه کښې شپاړس / ١٦ سورتونه دي .

څلورمه حصه : د سورت سبا نه تر آخره پورې ده ، په دې کښې دوه / ٢ مقصدي مسئلې دي : ١: اثبات القيامة (اثبات د قيامت) . ٢ : نفي الشفاعة القهرية (نفي د شفاعت قهريه) ، په دې حصه کښې يو اتيا / ٨١ سورتونه دي .

هره حصه په ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ سره شروع کيږي ، چونکه ړومبنو دريو / ٣ حصو کښې يَو يَو مقصدي مسئله وه نو د هغې يو يو سورت په : ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ سره شروع دےاو څلورمه حصه کښې دوه مقصدي مسئلې دي نو د هغې دوه سورتونه (سبا او فاطر) په : ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ سره شروع دي .

د هر یو سورت په ابتداء کښې به مونږ پنځه / ٥ خبرې ذکر کوؤ .

(۱) ترتیب نزولي او ترتیب مصحفي کښې د سورت نمبر ، سره د ذکر کولو د ما قبل نه .

(۲) ربط او مناسبت د ما قبل سره .

(۳) امتیازات د سورت یعني هغه خبرې چې نورو سورتونو کښې نۀ وي او په دې سورت کښې وي .

(٤) دعوی د سورت (مرکزی مضمون د سورت) .

(٥) خلاصه / تقسیم د سورت خپلو مضامینو ته .

سورة الفاتحة مكية

نزولاً ٥ بعد المدّثر مصحفاً ١

وجوه د تقدیم د سورة الفاتحة

چونکه د دینه مخکښې بل سورت نشته نو ربط ئې هم نشته لهذا مونږ وجوه د تقدیم د سورة الفاتحة ذکر کوؤ یعني دا سورت ئې ولې په نورو سورتونو مقدم کړو؟

اوله وجه : په قرآن کریم کښې څلور قسمه علوم ذکر دي چې په هغې باندې بخواني دینونه قائم وو او هغه ټول په سورة الفاتحة کښې ذکر دي ، ځکه ئې مقدّم کړه :

(۱) علم الأصول : چې د دې دارو مدار په څلورو څیزونو باندې دے :

۱ / معرفة الذات : ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ﴾ کښې دې ته اشاره ده .

۲/ معرفة الصفات : ﴿ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ﴾ کښې دې ته اشاره ده .

۳ / معرفة النبوات : ﴿ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ﴾ کښې دې ته اشاره ده .

٤ / معرفة المعاد : يعني د قيامت پيژندل﴿ مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ﴾ كښې دي ته اشاره ده .

(٢) علم العبادات : ﴿ اِيَّاكَ نَعْبُدُ ﴾ كښې دي ته اشاره ده .

(٣) علم السلوك : يعني خپل نفس د شريعت په آدابو باندي راړول او د خپل رب تابعداري كول ديته ئي په : ﴿ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ۝ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ﴾ سره اشاره كړي ده .

(٤) علم القصص يعني د پخوانو امتونو د حالاتو اطلاع او خبردارے وركول چې اوكوره ، چا چې د الله تعالٰى تابعداري كړي وه ، نو هغه نيک بخت شو او خلاصے ئي اوموندو او چا چې د الله تعالٰى نافرماني كړي وه نو هغوى بدبخت شو او تباه شو ، دي (علم القصص) ته : ﴿ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ۝ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ ﴾ كښې اشاره كړي ده .

دو يمه وجه : امام غزالي رحمه الله (المتوفي : ٥٠٥ ھ) خپل تفسير " جواهر القرآن " كښې ذكر كوي چې قرآن كريم كښې لس / ١٠ قسمه علوم ذكر دي :

(١) معرفت د ذات د الله تعالٰى .

(٢) معرفت د صفاتو د الله تعالٰى .

(٣) معرفت د كارونو د الله تعالٰى .

(٤) ذكر د معاد (قيامت) .

(٥) تزكيه (د نا كاره خويونو نه ځان پاكول) .

(٦) تحليه (په ښو خويونو باندي ځان ښائسته كول) .

(٧) ذكر د نعمت په دوستانو د الله تعالٰى .

(٨) ذكر د غضب په دشمنانو د الله تعالٰى .

(٩) مُحَاجَّةُ الْكفار ، يعنى جګړه د كافرانو مومنانو سره .

(۱۰) احکام د فقهآء .

امام غزالی رحمه الله وائي چې داړومبنی اته (۸) علوم فاتحه کښې ذکر دي او دا روستنی دوه پکښې نشته خو حضرت شیخ القرآن رحمه الله "سمط الدرر" صفحه ٤، ٥ کښې لیکي چې امام غزالی نه دے پوهه شوے دا پکښې هم شته اصل کښې مَحَاجةُ الْكُفار او احکام د فقهآء نه علم الكلام او علم الفقه راؤځی او دا دواړه : ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ ۝ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾ کښې ذکر دي .

بیا حضرت شیخ القرآن رحمه الله وائي چې بنده نه غلطي راتلے شي : ﴿فَسُبْحٰنَ الَّذِيْ لَا يَنْسٰى﴾ الله هغه ذات دے چې هغه نه هېر نه راځي .

امام غزالی رحمه الله پخپله اقرار کړے دے ، چې ما خپل عمر د قرآن کریم د تفسیر نه بغیر په منطق او فلسفه کښې ضائع کړے دے ، هغه وائي : { وَ قَدْ ضَيَّعْنَا شَطْرًا صَالِحًا مِنَ الْعُمْرِ فِيْ تَصْنِيْفِ الْخِلَافِ مِنْهُ وَ صَرَّفْنَا قَدْرًا صَالِحًا مِنْهُ إِلَى تَصَانِيْفِ الْمَذْهَبِ وَتَرْتِيْبِهِ إِلَى بَسِيْطٍ وَجِيْزٍ و وَسِيْطٍ (ص:۱/۲۷)}.

د امام غزالی رحمه الله شاګرد قاضی ابن العربي المغافري رحمه الله (المتوفي ٥٤٣هـ) وائي : شَيْخُنَا اَبُوْحَامِدٍ دَخَلَ فِيْ بَطْنِ الْفَلَاسِفَةِ ثُمَّ اَرَادَ اَنْ يَّخْرُجَ مِنْهُمْ فَمَا قَدَرَ.

ترجمه : زمونږ أستاد ابو حامد (امام غزالی رحمه الله) د فلاسفو مینځ کښې داخل شوے وو .بیا ئي اراده اوکړه چې دوی نه راؤځی خو طاقت ئي اونه لرلو.

دارنګه دے وائي چې امام غزالی رحمه الله به وئیل : انا مزجی البضاعة في الحديث .

چه په احادیثو کښې زما پنګه کوته ده ، یعنی زما ډېر مهارت نشته .

علامه ابن تیمیه رحمه الله خپل "كتاب الرد على المنطقيين" ،،صفحه ۵۱۰ کښې ذكر كوي : أَمْرَضَهُ الشِّفَاءُ ، يعنى امام غزالی رحمه الله ته دا مرض (د منطق او فلسفي) د خپل استاذ بوعلی سینا د کتاب " الشفاء " ،،نه لګیدلے وو.

دریمه وجه: دا سورت په حمد و ثناء د الله تعالٰی او د بنده په استعانت ، استعاذه او دعا باندې مشتمل دے ، بل سورت داسې نشته ، او دا مطلب د هغه حدیث قدسی دے چې الله تعالٰی فرمائي : قُسِمَتِ الصَّلٰوةُ بَيْنِيْ وَ بَيْنَ عَبْدِيْ ، صلوة نه مراد فاتحه ده یعنی فاتحه زما او زما د بنده په مینځ کښې تقسیم شوې ده .

څلورمه وجه: قرآن كريم كښې درې قسمه مضامين ذكر كوي : (۱) اسماء او صفات ، (۲) وعد او وعيد ، (۳) احكام ، او دا ټول فاتحه کښې ذکر دي .

﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ،الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾ کښې اسماء او صفات ذکر کوي .

﴿مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ﴾ کښې وعد او وعید ته اشاره ده .

﴿اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ﴾ کښې احکامو ته اشاره ده .

پنځمه وجه: د قرآن کریم آیتونه دوه قسمه دي : (۱) علمی . (۲) عملی .

علمی : هغه آیتونه چې په هغې باندې علم راوستل پکار دي .

عملی : هغه آیتونه چې هغه په عمل کښې راوستل پکار دي .

سورت فاتحه کښې دواړه قسمه آیتونه دي : ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ تا مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ﴾ علمی آیتونه او : ﴿اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَ اِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ۝اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ﴾ عملی آیتونه دي .

شپږمه وجه: امام ابو عبدالله المازری ذکر کوي چې قرآن کریم درې قسمه مضامين ذکر کوي :

(۱) قصص ، (۲) احکام ، (۳) اوصاف د الله تعالی او فاتحه کښې دا دري واړه ذکر دي : ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ۝١ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۝٢ مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ﴾ اوصاف او صفات د الله تعالی دي ، ﴿اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ﴾ احکام دي ، ﴿الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ۝٦ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ﴾ قصص دي .

اوومه وجه : قرأن کريم دري اقسامو باندي مشتمل دے : (۱) الهيات . (۲)نبوات . (۳) اوامر او نواهي .

او فاتحه کښې دا دري واړه ذکر دي : ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ۝١ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۝٢ مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ﴾الهيات دي ، او د نبواتو د پاره لس نکتې ذکر کوي روستو صفحو کښې به ان شاء الله تعالی د هغې بيان راشي ، ﴿اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ﴾ کښې اوامر او نواهي ته اشاره ده .

اتمه وجه : امام رازي رحمه الله فرمائي چې د ټول قرآن کريم مقصود ، بيان د څلورو امورو دے : (۱) الهيّات . (۲) معاد . (۳) نبوات. (٤) اثبات د قضاء او قدر د الله تعالی او دا ټول فاتحه کښې ذکر دي .

﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ۝١ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾ په الهياتو باندي دلالت کوي ، ﴿مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ﴾ په معاد باندي دلالت کوي، ﴿اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَ اِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ﴾ په نفي د جبر باندي دلالت کوي ، ﴿اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ﴾په قضاء او قدر د الله تعالی او په نبواتو باندي دلالت کوي .

نهمه وجه : صاحب د کشاف (محمود بن عمر بن عمر محمد بن احمد الزمخشري (المتوفی ۵۳۸هـ) وائي : چې قرآن کريم کښې ثناء او صفت د الله تعالی ، اوامر ، نواهي ، وعد او وعيد ذکر کيږي , او دا ټول سورت فاتحه کښې موجود دي .

لسمه وجه : قاضی بيضاوي رحمه الله وائي چې قرآن کريم دوه قسمه احکام ذکر کوي : (۱) احکام نظريه . (۲) احکام عمليه .

د ړومبنی قسم تعلق د عقيدي او د دويم قسم تعلق د عمل سره دے ، او دا دواړه فاتحه كښې ذكر دي : ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ﴾ احكام نظريه دي ، (اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ) احكام عمليه دي .

يؤلسمه وجه : علامه طيبي رحمه الله ذكر كوي چې قرآن كريم څلور قسمه علومو باندي مشتمل دے :

(١) علم الاصول : د دي دار و مدار په معرفت د الله تعالٰى او په صفاتو د باري تعالٰى ,په معرفت د نبواتو او په معرفت د معاد دے﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾كښې اشاره ده معرفت د الله تعالٰى او صفاتو د هغه ته : ﴿اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ﴾كښې اشاره ده معرفت د نبواتو ته او﴿ مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ﴾ كښې اشاره ده معرفت د معاد(قيامت) ته .

(٢) علم الفروع : د دي اصل عبادات دي چې ﴿اِيَّاكَ نَعْبُدُ ﴾ كښې اشاره شوي ده .

(٣) علم الاخلاق : دي ته : ﴿اِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ﴾ كښې اشاره شوي ده .

(٤) علم القصص: دي ته : ﴿اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَ لَا الضَّآلِّيْنَ﴾ كښې اشاره ده .

دولسمه وجه : شيخ المشايخ مولانا حسين علي رحمه الله وائي : چې قرآن كريم په اعتبار د فهم سره څلور حصي دے .

اوله حصه : د فاتحه نه تر انعام پوري ، په دي كښې مقصدي مسئله : ﴿اَلْخَالِقُ لِكُلِّ شَيْءٍ هُوَ اللّٰهُ﴾ .

دويمه حصه : د انعام نه تر كهف پوري ، په دي كښې مقصدي مسئله : {اَلْمُرَبِّي لِكُلِّ شَيْءٍ هُوَ اللّٰهُ}.

دريمه حصه : د كهف نه ترسبا پوري ، په دي كښې مقصدي مسئله :{اَلْمُبَارِكُ لِكُلِّ شَيْءٍ هُوَ اللّٰهُ}.

څلورمه حصه : د سورت سبا نه تر آخره پوري ، او په دي كښې دوه مقصدي مسئلې ذكر كوي : (۱) اثبات د قيامت . (۲) نفي د شفاعت قهريه ، نو ټولې پنځه مسئلې شوي .

فاتحه كښې دي ټولو مسئلو ته اشاره شوي ده : اولې مسئلې ته : ﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ﴾ سره اشاره كوي ، دويمې مسئلې ته : ﴿رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ سره اشاره شوي ده ، دريمې مسئلې ته : ﴿الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ﴾ سره اشاره شوي ده ، څلورمې او پنځمې مسئلې ته : ﴿ مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ ﴾ سره اشاره شوي ده .

دعوی:

اثبات د توحيد : ﴿ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ﴾ .

خلاصه:

په دي سورت كښې مقاصد اربعه عاليه ذكر كوي :

(۱) **اثبات د توحيد** : د الله تعالى په پنځو/۵ نومونو (الله ، رب ، رحمن ، رحيم ، مالک) باندي توحيد ثابتوي

(۲)**اثبات د رسالت** : دي د پاره لس/۱۰ نكتي دي :

(۱) ﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ﴾ مونږ ته د الله تعالى د حمد طريقه معلومه نه وه الله تعالى پيغمبر ﷺ راوليږۀ ، نو مونږ ته ئي طريقه اوښودله .

(۲) ﴿رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ﴾ الله تعالی زمونږ تربيت کونکے دے او تربيت په دوه قسمه دے : (۱) تربيتِ بدني . (۲) تربيتِ روحاني .

د تربيت بدني د پاره الله تعالی په زمکه کښې مختلف څيزونه د خوراک پيدا کړي دي او د روحاني تربيت د پاره الله تعالی انبياء عليهم السلام راليږلی دي ، چې آخري په هغوی کښې جناب محمد رسول الله صلی الله عليه و سلم وو .

(۳) ﴿الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾ د الله تعالی د رحمتونو نه يو رحمت د پيغمبر عليه السلام راليږل وو ، الله تعالی فرمائي : ﴿وَمَا اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ﴾ ، سورة الانبيآء ۱۰۷ .

ترجمه : مونږ نه دے ليږلے تا لره مګر رحمت د پاره د مخلوقات .

(٤) ﴿مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ﴾ د قيامت ورځ د جزا او سزا ورځ ده او الله تعالی د پيغمبر عليه السلام د ليږلو نه پس سزا ورکوي : ﴿وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِيْنَ حَتّٰى نَبْعَثَ رَسُوْلًا﴾ ، إسرآء ۱۸ .

ترجمه : او مونږ نه يو عذاب ورکونکي تر دي چې اوليږو پيغمبر.

دا رنګي مائده ۱۹ ، سورت نساء ۱٦٥ ، او سورت قصص ٤٧ کښې هم ذکر کوي.

(٥) ﴿اِيَّاكَ نَعْبُدُ﴾ مونږ ته د الله تعالی د عبادت طريقه معلومه نه وه ، نو الله تعالی پيغمبر عليه السلام راؤليږهٔ ، نو مونږ ته يې طريقه اوښودله .

صرف په عقل باندي د عبادت طريقه نه معلوميږی ، لکه علماء د علم اصول وائي : فَاِنَّ الْعَقْلَ لَا تَسْتَقِلُّ بِمَعْرِفَةِ الشَّرَائِعِ . (مسلم الثبوت)

البته احکام الهيه د عقل سليم برابر دي په دي باندي علماء کرامو کتابونه ليکلی دي ؛ لکه شاه ولی الله الدهلوي رحمه الله "حجة الله البالغه" او علامه ابن تيميه رحمه الله "درء تعارض العقل و النقل" ليکلے دے.

علامه ابن قيمؒ د خپل استاذ د دي كتاب باره كښې وائي :

فَاقْرَءْ كِتَابَ الْعَقْلِ وَالنَّقْلِ الَّذِيْ مَا فِيْ الْوُجُوْدِ لَهُ نَظِيْرٌ ثَانِ

(زما د استاذ) كتاب العقل والنقل اوګوره د دي مثال پۀ وجود كښې نشته.

د مبتدعينو د تباهئ وجه هم دا ده چې دوئ د عقل تابع دي ؛ لكه سورت جاثيه ۱۸ كښې ذكر كړي .

باقي قياس د ائمه مجتهدينو مظهر (ښكاره كونكے) د حكم شرعي دے ؛ لكه شيخ القرآنؒ "سمط الدرر" : ۱۲ كښې ذكر كوي : وَقِيَاسُ الْأَئِمَّةِ مُظْهِرٌ لِلْحُكْمِ الشَّرْعِيِّ لَيْسَ بِمُخْتَرِعٍ لِلْبِدْعِيِّ كَمَا يُظَنُّ ,, .

ترجمه : قياس د ائمو د حكم شرعى مظهر(ښكاره كونكے) دے ، دا د ځان نه جوړونكے د حكم بدعي نه دے لكه څنګه چې ګمان كولے شي ، يعني خلق دا ګمان كوي چې دا قياس حكم بدعي جوړوي خو دا ګمان يې غلط دے .

(٦) ﴿إِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ﴾ مونږ ته د استعانت طريقه نه وه معلومه نو الله رب العزت پيغمبر راوليږلو او مونږ ته يې د استعانت طريقه اوښودله .

(٧) ﴿اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ﴾ صراط مستقيم ته رسيدل بغير د پيغمبر نه نا ممكن وو ، نو الله رب العزت پيغمبر راؤليږو او مونږ ته يې صراط مستقيم اوښودلو .

(٨) ﴿صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ﴾ منعم عليهم (چا باندي چې الله تعالیٰ انعام كړي دے) مونږ ته معلوم نه وو ، نو الله رب العزت پيغمبر راؤليږلو او مونږ ته يې منعم عليهم اوښودل .

(۹) ﴿غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ﴾ مونږ مغضوب عليهم نه پيژندل ، الله رب العزت پيغمبر راوليږو او مونږ ته ئي مغضوب عليهم اوښودل .

(۱۰) ﴿وَلَا الضَّآلِّيْنَ﴾ مونږ ضالين نه پيژندل ، الله رب العزت پيغمبر راؤليږو او مونږ ته ئي ضالّين اوښودل .

(۳) دريم مقصد د مقاصد اربعو عاليو صداقة الكتاب : نو ﴿اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ﴾ كښې صداقة القرآن ته اشاره ده .

د صراط مستقيم يو مصداق قرآن كريم دے ، لكه سورت انعام:۱۵۳ كښې ذكر كوي : ﴿وَاَنَّ هٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوْهُ﴾

ترجمه : او يقينا دا قرآن كريم زما نيغه لار ده نو دي پسي روان شئ .

(٤) څلورم مقصد د مقاصد اربعو عاليو الايمان بالاخرة يا اثبات د قيامت : نو په : ﴿مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ﴾ كښې اثبات د قيامت ذكر كوي .

امتيازات:

(۱) دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په ډيرو نومونو باندي .

(تفصيل د پاره سمط الدرر ص ۲ اوګورئ).

(۲) په اجمالي بيان د ټول قرآن كريم باندي .

څكه قرآن كريم څلور حصي دے او هغه ټولو ته په دي كښې اشاره ده .

(۳) په دي چې دا سورت خلاصه د آسماني كتابونو ده .

(٤) په ښودلو د طريقي د سوال باندي .

(٥) په تقسيم د خلقو باندي دري/۳ قسمونو ته اجمالاً .

قابل توجه خبره :

مخكښې چې كومي وجي د تقديم د فاتحي ذكر شوي دي ، نو هغه امتيازات هم كيدے شي.

سورة البقرة مدنية

نزولاً ۸۷ بعد المطففين مصحفاً ۲ بعد الفاتحه

«ربط د ما سبق سره»

(۱) سورت فاتحه کښې څلور مضامين (توحيد ، رسالت ، صداقة الكتاب ، ايمان بالأخرة) اجمالًا بيان شو نو دلته د هغې تفصيل کوي .

(۲) ما قبل کښې ئې وئيلي وو : ﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ﴾ نو دلته آيت ۲۱ کښې وجه د حمد ذکر کوي ، چې د الله حمد وايئ ځکه چې تاسو او ستاسو مشران يې پيدا کړي دي .

(۳) سورت فاتحه کښې ئې وئيلي وو : ﴿رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ﴾ رب د مخلوقاتو دے نو دلته وائي آيت ۲۱ کښې : ﴿رَبَّكُمْ﴾ ستاسو رب دے ، يعني تخصيص بعد التميم دے .

(٤) ما قبل کښې ئې ذکر کړي وو : ﴿الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾ نو دلته د رحمانيت او د رحيميت نمونې ذکر کوي (نمونه د رحمانيت په واقعې د آدم عليه السلام او نمونه د رحيميت په واقعې د بنی اسرائيلوسره).

(٥) ما قبل کښې اثبات د قيامت وو په : ﴿مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ﴾ سره نو دلته آيت ٤۸ کښې تخويف ورکوي د ورځې د قيامت نه : ﴿وَاتَّقُوْا يَوْمًا لَّا تَجْزِيْ نَفْسٌ عَنْ نَّفْسٍ شَيْئًا وَّلَا يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَاعَةٌ وَّلَا يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ وَّلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ﴾

(٦) ما قبل کښې دعوی ذکر وه بغير د دلائلونه : ﴿اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ﴾ نو دلته آيت ۲۱ کښې دعوی مع الدلائل ذکر کوي .

(۷) ما قبل کښې سوال ذکر شوے وو : ﴿اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ نو دلته آيت ۲ کښې د صراط مستقيم ښودنه کوي : ﴿ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ فِيْهِ﴾ .

(۸) ما قبل کښې اجمالًا د منعَم علیهم ذکر وو : ﴿صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ﴾ نو دي سورت کښې د منعَم علیهم تفصیل کوي او د هغوي اوصاف، حکم دنیوي او حکم أخروي ذکر کوي آیت ۱ نه ۵ پوري .

(۹) ما قبل کښې اجمالًا د مغْضُوْب عَلَيْهِمْ ذکر وو : ﴿غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ﴾ نو دلته د هغوی تفصیل کوي آیت ٦ ، ۷ کښې .

(۱۰) ما قبل کښې ئې اجمالًا د ضالینو ذکر کړے وو : ﴿وَلَا الضَّآلِّيْنَ﴾ نو دلته د هغوی تفصیل کوي ، د هغوي اوصاف او احکام ذکر کوي ، آیت ۸ نه ۱٦ پوري.

(۱۱) ما قبل کښې ئې ذکر کړي وو: ﴿اِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ﴾ نو دلته آیت ٤٥ کښې امر بالاستعانت کويَ : ﴿وَاسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصلوة﴾.

(۱۲) ما قبل کښې ئې ذکر کړي وو : ﴿اِيَّاكَ نَعْبُدُ﴾ نو دلته آیت ۲۱ کښې امر بالعبادة ذکر کوي : ﴿يَآيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ﴾.

امتیازات :

(۱) دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په کثرت د اوامر ، نواهي او احکامو باندي . ابن العربي وائي چې دي سورت کښې زر(۱۰۰۰) اوامر ، زر(۱۰۰۰) نواهي او زر (۱۰۰۰) احکام دي .

(۲) په بیان د زیاتو پلیتو د یهودو باندي .

(۳) په واقعي د ذبح د بقرے باندي ، (آیت ٦۷ تا ۷۱) .

(٤) په واقعي د قتل النفس باندي ، (آیت ۷۲ تا ۷۳) .

(٥) په واقعي د طالوت او جالوت باندي ، (آیت ۲٤٦ تا ۲٥۱) .

(٦) په آیت الکرسی باندي ، (هغه آیت چې پکښې ۱۷ ځایه د الله تعالی نوم ذکر دے کله په اعتبار د اسم ظاهر او کله په اعتبار د اسم ضمیر سره(آیت۲٥٥).

(۷) په ذکر د أمورو د جهاد باندي .

(۸) په واقعي د عزیر علیه السلام باندي ، آیت ۲۵۹.

(۹) په مناظري د ابراهیم علیه السلام او د نمرود باندي ، آیت ۲۵۸.

(۱۰) په هغه پنځو واقعاتو باندي چې دنیا کښې الله رب العزت مړی ژوندي کړي دي آیت ٥٦ ، ۷۲ ، ۲٤۳ ، ۲٥۹ ، ۲٦۰ .

(۱۱) په آیت طویله باندي ، آیت ۲۸۲ .

(۱۲) په تحویل د قبلے باندي ، آیت ۲٤۲ .

(۱۳) په تفصیلي بیان د مضامین اربعۀ (توحید، رسالت ، جهاد ، انفاق) باندي.

(۱٤) په بیان د مباهلي د یهودو سره آیت ۹٤ .

(۱٥) په تفصیلي بیان د دریو ډلو (منعم علیهم ، مغضوب علیهم ، ضالین) باندي.

(۱٦) په تفصیلي بیان د دري قسمه بے وقوفو باندي .

(۱۷) چې صحابه کرامو ته د بے وقوفو نسبت کوي آیت ۱۳.

(۱۸) چې د ابراهیم علیه السلام د طریقي نه اعراض کوي آیت ۱۳۰

(۱۹)چه د پیغمبر علیه السلام په طریقه او کار باندي اعتراض کوي آیت ۱٤۲.

(۲۰) په بیان د هغه نهو /۹اعتراضونو چې واردیدل په رسالت باندي .

(۲۱) په بیان د شرائطو د امیر باندي ، آیت ۲٤۷.

(۲۲) په بیان د پنځو دفعاتو په سودي باندي .

(۲۳) په ذکر د صفا او مروه باندي ، آیت ۱٥۸.

(۲٤) په بیان د شرائطو د توبي د ملا باندي ، آیت ۱٦۰.

(۲٥) په بیان د اقسامو د حاجیانو باندي ، آیت ۲۰۰. ۲۰۱).

دعوى:

بيان د مضامين اربعو (توحيد ، رسالت ، جهاد، انفاق) دوه د اصولو او دوه د ممداتونه د باقي څلورو مضامينو (صداقة الكتاب ، ايمان بالآخرة ، تنظيم او آداب) بيان ورسره ضمنًا كوي .

اجمالي خلاصه:

سورت بقره په اعتبار د مضامينو څلور/٤حصې ده .

اوله حصه:

آيت ١ نه تر آيت٩٦ پورې ، په دېكښې اثبات د توحيد كوي .

دويمه حصه:

آيت٩٧ نه تر آيت١٧٦ پورې ، په دېكښې اثبات د رسالت كوي .

دريمه حصه:

آيت١٧٧ نه تر آيت٢٥٣ پورې ، په دېكښې بيان د جهاد في سبيل الله تعالى كوي .

څلورمه حصه :

آيت٢٥٤نه تر آخره پورې ، په دېكښې بيان د انفاق في سبيل الله تعالى كوي .

تفصيلي خلاصه:

اوله حصه :

اوله حصه كښې ٩٦ آيتونه دي او دا حصه درې / ٣ بابونه ده .

اول باب :

آيت ١ نه ترآيت ٢٠ پورې ، په دېكښې د دريو/٣ ډلو (مومنانو ،كافرانو، منافقانو) بيان كوي بطور تمهيد ، ابتدائي پنځو آيتونه كښې د منعم عليهم (مومنين) پنځه /٥ صفات :

(۱) په غیب باندي ایمان لرل : ﴿ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ﴾، آیت ۳ .

(۲) د مونځ پابندي کول : ﴿ الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ﴾ ، آیت ۳ .

(۳) د الله تعالی په لاره کښې مال خرچ کول: ﴿وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ﴾،آیت ٤.

(٤) آسماني کتابونو باندي ایمان راوړل : ﴿ وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ﴾.

(٥) په آخرت باندي يقين کول : ﴿وَبِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ﴾.

او دوه حکمونه : (۱) حکم دنیوي : ﴿اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ﴾ ، آیت ٥ .

(۲) حکم أخروي : ﴿وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ﴾ ، آیت ٥ .

بیا په دوؤ آیتونو کښې د مغضوب علیهم " د کفارو " یو صفت بیانوي :

﴿سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَاَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ﴾ ، آیت ٦ .

او د دوی دوه حکمونه : (۱) حکم دنیوي د کافرانو : الله تعالی ورله اسباب د فهم بند کړي دي : ﴿خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَ عَلٰى سَمْعِهِمْ وَ عَلٰٓى اَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ﴾ ، آیت ۷ . (۲) حکم أخروي : ﴿وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ﴾، آیت ۷.

بیا ﴿وَمِنَ النَّاسِ﴾ آیت۸ نه تر آیت ۱٦ پورې د ضالّینو (منافقینو) بیان کوي ، د دوی ګڼ اوصاف او احکام ذکر کوي .

آیت ۱۷ ، ۱۸ کښې مثال د نبي ﷺ او د کافرانو د مکی ذکر کوي ، او آیت ۱۹ ، ۲۰ کښې مثال د قرآن او د منافق ذکر کوي .

دويم باب:

آیت ۲۱ نه تر آیت ۳۹ پورې په دیکښې ۱۹ آیتونه دي ، دي باب کښې اول دعوی د توحید : ﴿اعْبُدُوا رَبَّكُمُ﴾ بیا په هغې باندي پنځه دلائل ذکر کوي :

(۱) تاسو م پیدا کړي يئ: ﴿الَّذِىْ خَلَقَكُمْ﴾ .

(۲) ستاسو مشران م پیدا کړي دي : ﴿وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ﴾ .

(۳) زمکه م درله فرش کرځولي ده : ﴿الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ فِرَاشًا﴾ .

(٤) آسمان م در باندي چهت کرځولے دے : ﴿وَالسَّمَآءَ بِنَآءً﴾ .

(٥) باران راوروم او په هغي باندي ستاسو د خوراک د پاره میوې پیدا کوم : ﴿اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَخْرَجَ بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ﴾ .

بیا ثمره د دلائلو ذکر کوي : ﴿فَلَا تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا وَّاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ﴾ ، آیت ۲۳.
﴿وَاِنْ كُنْتُمْ فِيْ رَيْبٍ﴾ کښې اثبات د رسالت او دلیل وحي ذکر کوي آیت ۲٤ ﴿فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا﴾ کښې زجر نۀ منونکو مسئلي د توحید ته آیت ۲٥ کښې بشارت منونکو د مسئلي ته آیت : ۲٦ ، ۲۷ ﴿اِنَّ اللّٰهَ لَا يَسْتَحْيٖٓ﴾ کښې دفع د شبهي چې واردیږی په صداقت د قرآن باندي ، آیت ۲۸ ﴿كَيْفَ تَكْفُرُوْنَ﴾نه نعم اربعه (څلور نعمتونه) :

اول نعمت : نیشت نه م شته کړي يئ : ﴿وَكُنْتُمْ اَمْوَاتًا فَاَحْيَاكُمْ﴾ ، آیت ۲۸.

دويم نعمت : د دنیا منافع م ستاسو د پاره پیدا کړي دي : ﴿هُوَ الَّذِيْ خَلَقَ لَكُمْ مَّا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا﴾ .

دريم نعمت : ستاسو نیکۀ (أدم عليه السلام) م معزز کرځولے وو په ملائکو کښې : ﴿وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ﴾ ، آیت ۳٤ .

څلورم نعمت : ستاسو نیکۀ (أدم عليه السلام) نه لغزش شوے وو نو هغه مي ورته معاف کړو : ﴿فَتَلَقّٰٓى اٰدَمُ مِنْ رَّبِّهٖ كَلِمٰتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ﴾ ، آیت ۳۷ او د دي باب آخري آیت کښې تخویف اخروي دے .

دريم باب :

آيت ٤٠ نه تر آيت ٤٦ پورې په دې کښې خطاب خاص دے پس د خطاب عام نه مخکښې : ﴿يَاأَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا﴾ خطاب عام وو . اوس بنى اسرائيل خاص کوي په خطاب سره ، په دے خطابِ خاص کښې ٣ پليتۍ د يهودو ذکر کوي :

(١) تحريف : ﴿ ولا تَشْتَرُوا بِاٰيٰتِيْ ثَمَنًا قَلِيْلًا ﴾ ، آيت ٣ .

(٢) کِتمَان حق : ﴿ وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ ﴾ ، آيت ٤٢ .

(٣) ترک عمل : ﴿اَتَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ اَنْفُسَكُمْ﴾ ، آيت ٤٤ .

او د دے مقابله کښې ٣ ښه صفتونو د مومنانو ذکر کوي .

(١) صبر ، (٢) صلوة : ﴿وَاسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ﴾ ، آيت ٤٥ او (٣) ايمان بالآخرة : ﴿الَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ مُّلٰقُوْا رَبِّهِمْ﴾ .

بيا دويم : ﴿ يَابَنِيْ اِسْرَائِيْلَ﴾ نه خطابات سته (شپږ خطابانو) بنى اسرائيلو ته ذکر کوي .

<u>اول خطاب</u> : آيت ٤٧ نه تر آيت ٦٢ پورې ، په دیکښې اته نعمتونه او دوه عذابونه ذکر کوي :

٨ (اتهٔ) نعمتونه :

(١) نجات من فرعون : دظالم بادشاه نه م خلاص کړي يۍ :﴿ وَاِذْ نَجَّيْنٰكُمْ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ ﴾، آيت ٤٩ .

(٢) نجات من الغرق : درياب کښې د ډوبيدو نه م بچ کړي يۍ : ﴿وَاِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ الْبَحْرَ﴾ ، آيت ٥٠ .

(٣) اعطاءالکتاب : ﴿ وَاِذْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ ﴾ ، آيت ٥٣ .

(٤) العفو عن القتل : ﴿ فَاقْتُلُوٓا اَنْفُسَكُمْ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ عِنْدَ بَارِئِكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ ﴾ ، آيت ٥٤ .

(٥) حيات بعد الممات : ﴿ثُمَّ بَعَثْنٰكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَوْتِكُمْ﴾ ، آيت ٥٦ .

(٦) تظليل الغمام : ﴿ وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْغَمَامَ ﴾ ، آيت ٥٧ .

(٧) انزال المنّ و السلوى : ﴿ وَاَنْزَلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى ﴾ ، آيت ٥٧ .

(٨) انفجارالعيون من الحجر : ﴿ وَاِذِ اسْتَسْقٰى مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ فَقُلْنَا اضْرِبْ بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ فَانْفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ﴾ ، آيت ٦٠ .

دوه عذابونه :

(١) نزول العذاب من السماء : ﴿ فَاَنْزَلْنَا عَلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا رِجْزًا مِّنَ السَّمَآءِ ﴾ ، آيت ٦٩ .

(٢) الذلة والهوان بسبب الكفران:﴿ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ ﴾، آيت ٦١.

تتمه د دے خطاب بالترغيب ده .

دويم خطاب : آيت ٦٣﴿وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ﴾نه تر آيت ٨٢ پورې ، په دېكښې درې پليتۍ د مشرانو د يهودو او څلور پليتۍ د كشرانو ذكر كوي .

درې پليتۍ د مشرانو د يهودو :

(١) نقض العهود : وعدې ئې ماتولې آيت ٦٣ ، ٦٤ .

(٢) الحيل في ذبح البقر: د غوا حلالولو كښې ئې چل ول كولو آيت ٦٧ .

(٣) قتل النفس: خلق ئې مال او دولت د پاره وژل:﴿وَاِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا﴾،آيت ٧٢.

څلور پليتۍ د كشرانو د يهودو :

(١) تحريف : ﴿ثُمَّ يُحَرِّفُوْنَهٗ﴾ ، آيت ٧٥ .

(٢) منافقت : ﴿وَاِذَا لَقُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قَالُوْٓا اٰمَنَّا﴾ ، آيت ٧٨ .

(۳) تقليد د آراو (رائي كانو) د يهودو: ﴿وَ مِنْهُمْ اُمِّيُّوْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ الْكِتٰبَ﴾ ، آيت ۷۸ .

(٤) مخصصين لانفسهم بالجنة :ځانونه ئي د جنت ټهيکه داران حسابول:﴿وَ قَالُوْا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ اِلَّآ اَيَّامًا مَّعْدُوْدَةً﴾ آيت۸۰ .

دريم خطاب : آيت ۸۳ ﴿وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ﴾ نه تر آيت ۸۲ پورې په ديکښې اِنْكَارُهُمْ مِنَ الْاَوَامِرِ وَ اِتْيَانُهُمْ بِالنَّوَاهِي(الله تعالى چې ورته د څۀ حکمونه کړي وو چې دا اوکړئ نوهغه ئي نه کول او چې د څۀ نه ئي منع کړي وو چې دامه کوئ نوهغه ئي کول .

څلورم خطاب : آيت ۸۷ ﴿وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ﴾ نه تر آيت ۸۸ پورې ، په ديکښې اِنْكَارُهُمْ مِنَ الْاَنْبِيَاءِ السَّابِقِيْنَ ذکر کوي .

پنځم خطاب : آيت ۸۹ ﴿وَلَمَّا جَآءَهُمْ كِتٰبٌ﴾نه ترآيت ۹۱ پورې ، په ديکښې اِنْكَارُهُمْ مِنَ هٰذَا النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم.

شپږم خطاب : آيت۹۲﴿وَلَقَدْ جَآءَكُمْ مُّوْسٰى﴾نه ترآيت ۹٦ پورې ، په ديکښې خلاصه د ماسبق ده .

يعنې د مخکښې پنځو خطاباتو خلاصه او نچوړ پکښې ذکر کوي .

دويمه حصه :

آيت۹۷ ﴿قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيْلَ﴾ نه تر آيت ۱۷٦ پورې په ديکښې اثبات د رسالت کوي او نهه اعتراضونه او د هغې جوابونه ذکر کوي .

اول اعتراض : آيت ۹۷ کښې مونږ تا ځکه نه منو چې تا سره جبريل عليه السلام راځي ،او هغه زمونږ دشمن دے زمونږ مشران ئي تباه کړي دي ، د دي اعتراض پنځه جوابونه ذکر کوي :

(۱) ﴿فَإِنَّهُۥ نَزَّلَهُۥ عَلَىٰ قَلۡبِكَ بِإِذۡنِ ٱللَّهِ﴾ ، (۲) ﴿مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ﴾ ، (۳) ﴿وَهُدٗى﴾ ، (٤) ﴿وَبُشۡرَىٰ لِلۡمُؤۡمِنِينَ﴾ ، (٥) ﴿مَن كَانَ عَدُوّٗا لِّلَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَرُسُلِهِۦ وَجِبۡرِيلَ وَمِيكَىٰلَ فَإِنَّ ٱللَّهَ عَدُوّٞ لِّلۡكَٰفِرِينَ﴾ (آيت ۹۷) .

دويم اعتراض : آيت ۱۰۲ كښې مونږ تا ځكه نه منو چې ته د سليمان عليه السلام ملكرے ئي او هغه جادوګروو .

جواب : ﴿مَا كَفَرَ سُلَيۡمَٰنُ وَلَٰكِنَّ ٱلشَّيَٰطِينَ كَفَرُواْ﴾ (آيت ۱۰۳) .

حاصل د جواب : چې جادو كفر دے او سليمان عليه السلام (او ټول انبياء عليهم السلام) د دي (كفر كولو) نه پاك وو .

دريم اعتراض : جادو جائز دے الله تعالى رالیږلے دے او ته ترینه مونږ منع كوي .

جواب : ﴿وَمَآ أُنزِلَ عَلَى ٱلۡمَلَكَيۡنِ بِبَابِلَ﴾ (آيت ۱۰۲) يا خو الله تعالى جادو بالكل رالیږلے نه دے او كه رالیږلے ئي دے نو د پاره د امتحان ئي رالیږلے دے .

څلورم اعتراض : ته مونږه د صحيح الفاظو نه منع كوي .

جواب: ﴿لَا تَقُولُواْ رَٰعِنَا﴾ (آيت ۱۰٤) داسی الفاظ مه وائي چې هغه كښې بے ادبي د پيغمبر صلى الله عليه وسلم وي .

پنځم اعتراض : په نسخ باندي ئي اعتراض كولو چې ته څنګه پيغمبر ئي كله يو خبره كوي او كله بله خبره كوي .

جواب : ﴿مَا نَنسَخۡ مِنۡ ءَايَةٍ﴾ (آيت ۱۰٦) .

حاصل د جواب : چې زه د الله تعالى د حكم تابع يم .

شپږم اعتراض : ﴿قَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدٗا﴾ (آيت ۱۱٦) دوی وائي چې الله تعالى نائبان نيولی دي ، د دي اعتراض (٥) جوابونه :

(۱) ﴿سُبۡحَٰنَهُۥ﴾الله تعالى د نائبانونه پاک دے ، (۲) ﴿بَل لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ﴾ (آيت ۱۱٦) ، (۳) ﴿كُلّٞ لَّهُۥ قَٰنِتُونَ﴾ (آيت ۱۱٦) ، (٤) ﴿بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ﴾ (آيت ۱۱۷) ، (٥) ﴿وَإِذَا قَضَىٰٓ أَمۡرٗا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ﴾ (آيت ۱۱۷).

اووم اعتراض :كه ته د الله تعالى رېښتونے پيغمبر ئي نو ستا په رسالت دِ الله تعالى مونږ سره خبري اوكړي : ﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ لَوۡلَا يُكَلِّمُنَا ٱللَّهُ﴾ ، آيت۱۱۸ .

جواب : قانون په دي باندي نه دے جارى بادشاه عام اعلان كوي د هر چا كوځي له نه ځى ، چې ما دا حكم كړے دے .

د ووم او اتم اعتراض په مينځ كښې دري خبري دي :

(۱) بَيْتُ الله بُنِيَتْ لِلتَّوْحِيْدِ فَلِمَ تُشْرِكُوْنَ فِيهِ.

بيت الله د توحيد د پاره جوړ شوے دے نو تاسو پكښې ولي شرك كوئ ؟

ددي ماخذ آيت ۱۲٥ كښې : ﴿أَن طَهِّرَا بَيۡتِيَ لِلطَّآئِفِينَ﴾ .

(۲) دا پيغمبر دعا د ابراهيم عليه السلام ده نو ولي ئي نه منئ؟ ﴿رَبَّنَا وَٱبۡعَثۡ فِيهِمۡ رَسُولٗا مِّنۡهُمۡ﴾ ، آيت ۱۲۹.

(۳) توحيد د ټولو انبياء عليهم السلام مشتركه مسئله وه خصوصاً ستاسو نيكانو (مشرانو) پري وصيت كړے وو ، نو ولي ترينه انكار كوئ ؟﴿وَوَصَّىٰ بِهَآ إِبۡرَٰهِـۧمُ بَنِيهِ وَيَعۡقُوبُ﴾ (آيت ۱۳۲) .

اتم اعتراض : په تحويل د قبلے باندي چې ستا خپله په خپل دين كښې شك دے كله يو طرف ته مخ كوي او كله بل طرف ته : ﴿سَيَقُولُ ٱلسُّفَهَآءُ مِنَ ٱلنَّاسِ مَا وَلَّىٰهُمۡ﴾(آيت ۱٤۲) .

جواب :﴿قُل لِّلَّهِ ٱلۡمَشۡرِقُ وَٱلۡمَغۡرِبُ﴾ (آيت ۱٤۲) .

حاصل د جواب : زه د الله تعالٰی د حکم تابع يم کوم طرفته چې راته الله تعالی حکم کوي نو هغه طرفته مخ کوم .

نهم اعتراض : ته مونږ دَ بُتانو د عبادت نه منع کوي او پخپله د صفا او مروه طواف (سعی) کوي .

جواب: ﴿إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِن شَعَآئِرِ اللهِ﴾ (آيت ۱۵۸) .

حاصل د جواب : ما ته الله تعالٰی حکم کړيدے او تاسو ته چا حکم کړي دے ؟ چې د بتانو عبادت کوئ .

بيا آيت ۱۵۹ ﴿إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَآ أَنزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَٰتِ﴾ کښې زجر کاتمينو د حق ته ورکوي .

﴿إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا وَأَصْلَحُوا وَبَيَّنُوا﴾ (آيت ۱٦۰) کښې د ملا د توبې دري شرطونه ذکر کوي .

بيا دوؤ آيتونو کښې کافراتو ته تخويف بيا آيت ۱٦٤ کښې دعوی د توحيد : ﴿وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ﴾ او په هغې باندي اته دلا ئل په ترقي سره د دويم باب نه ذکر کوي .

﴿وَ مِنَ النَّاسِ مَنْ يَتَّخِذُ مِنْ دُوْنِ اللهِ اَنْدَادًا يُّحِبُّوْنَهُمْ﴾ کښې زجر بالشرک .

بيا آيت ۱٦٦، ۱٦۷ ﴿إِذْ تَبَرَّأَ الَّذِينَ اتُّبِعُوا﴾ کښې تبريه (بائيکاټ) د عابدينو او معبودينو ذکر کوي .

آيت ۱٦۸ ، ۱٦۹ کښې رد د شرک فعلي .

آيت ۱۷۰ کښې زجر بالاستدال الباطل .

آيت ۱۷۲ کښې بيا رد د تحريما ت العباد .

آيت ۱۷۳ کښې تحريما ت الله .

آیت ۱۷٤ نه تر ۱۷٦ پوري رتنه ورکوي پټونکو د حق ته .

په دے ځائي دويمه حصه ختميږی .

دريمه حصه:

آيت ۱۷۷ (لَيْسَ الْبِرَّ) نه تر آيت ۲۵۳ پوري ، په ديکښې بيان د جهاد في سبيل الله تعالیٰ کوي ، او دري منازل د جهاد ذکر کوي .

اول منزل تهذيب الاخلاق :

آيت ۱۷۷ کښې د مجاهد د تربيت د پاره لس صفات ذکر کوي ،

پنځه / ٥ متعلق د عقيدي :

(۱) **الايمان بالله** :په الله تعالیٰ ايمان لرل .

(۲) **الايمان باليوم الاخر**:د قيامت په ورځ ايمان لرل .

(۳) **الايمان بالملائکة** : په ملائکو باندي ايمان لرل .

(٤) **الايمان بالکتب**:په آسمانی کتابونو باندي ايمان لرل . (کتب جنس دے اطلاق ئي قليل او کثير باندي کيږي)

(٥) **الايمان بالنبين** :. په انبياء عليهم السلام ايمان لرل .

او پنځه / ٥ متعلق د عمل :

(۱) **الانفاق**: د الله تعالیٰ د رضا د پاره خرج کول .

(۲) **اقامة الصلوة** :د مونځ پابندي کول .

(۳) **ايتاء الزکوة** : زکوة ورکول .

(٤) **الايفاء بالعهود** :د وعدو پوره کول .

(٥) **الصبر في الباساء و الضراء** :په تاوانونو او تکليفونو کښې صبرکول .

دويم منزل د سياست مدينه :

دويم منزل کښې د ملک د اصلاح د پاره څلور قوانين ذکر کوي :

(۱) القصاص من الظالم : آيت ۱۷۸ د ظالم نه دِ بدله واغستے شي .

(۲) تقسيم الاموال بالقانون الشرعي :آيت ۱۸۰ مال دِ په قانون شرعي تقسيم شي.

(۳) مسئلة الصوم لارتباط النفس : آيت ۱۸۳ مسئله د روژي د پاره د مضبوطولو د نفس .

(٤) النهي عن الارتشاء: آيت ۱۸۸ د رشوت د ورکولو او اغستلو نه منع کوي .

بيا دينه روستو ترغيب ورکوي انفاق ته آيت ۱۹۵ کښې ځکه چې جهاد بغير د انفاق نه نهٔ کيږي ، بيا آيت ۱۹٦ ﴿وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ﴾ نه بيان د حج او د عمري کوي ځکه څنګه چې جهاد کښې مال لګی (خرچ کيږي) او نفس پکښې تکليف برداشت کوي نو دارنګي حج او عمره کښې هم مال لګی او نفس پکښې کړيږي ، او د حاجيانو دوه قسمونه ذکر کوي .

(۱) بد بخته حاجيان : آيت ۲۰۰ کښې﴿فَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَقُولُ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا وَمَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ﴾ .

(۲) نيک بخته حاجيان : آيت ۲۰۱ کښې : ﴿ مِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ﴾ .

بيا آيت ۲۰٤ نه تر ۲۰۷ پوري څلورو آيتونو کښې د دواړه قسمه حاجيانو منزل او درجه ښائی.

دريم منزل د تدبير المنزل :

په ديکښې د کورنی د اصلاح د پاره اتلس (۱۸) قوانين ذکر کوي .

(۱) د کور مشر به کوروالو باندي مال خرج کوي ، آيت ۲۱۵.

(۲) حکم د قتال يعني د کور مشر کښې به قوت د مدافعت وي ، آيت ۲۱۵.

(۳) حکم د قتال في الاشهر الحرم : ﴿يَسْأَلُونَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ﴾ يعني په مياشتو د عزت کښې د جنګ کولو حکم ، آيت ۲۱۷.

(٤) اَلنَّهْى عن الْخَمْرِ والْمَيْسِرِ، آيت ٢١٩.

(٥) إِصْلَاحُ الْيَتَامىَ ، آيت ٢٢٠ .

(٦) النهى عن نكاح المشركات ، آيت ٢٢١.

(٧) النهى عن الْأَفْعَالِ الْمَمْنُوْعَةِ ، آيت ٢٢٢.

(٨) مَقْصَدُ الْجِمَاعِ ، آيت ٢٢٣.

(٩) (الحلف) يعني تعظيم د الله تعالى كوي ، آيت ٢٢٤.

(١٠) مسئله د ايلاء ، آيت ٢٢٦.

(١١) حكم د طلاق ، آيت ٢٢٩.

(١٢) مسئله د رضاع ، آيت ٢٣٣.

(١٣) عِدَّةُ الْمُتَوَفّى عَنْهَا زوجها ، آيت ٢٣٤.

(١٤) حُكْمُ الْخِطْبَةِ (دكوژدني حكم) ، آيت ٢٣٥.

(١٥) حكم د طلاق د غير مدخول بها ، آيت ٢٣٦.

(١٦) اَلْمُحَافَظة على الصَّلٰوات ، آيت ٢٣٨.

(١٧) وصيَّة لِلْأَزْوَاج ، آيت ٢٤٠.

(١٨) حكم الْمُتْعَةِ ، آيت ٢٤١.

بيا آيت ٢٤٣ : ﴿اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ﴾ كښې زجر متكاسلينو د جهاد ته آيت ٢٤٤ : ﴿وَقَاتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ﴾ كښې دعوى د مضمون ثالث (القتال في سبيل الله تعالى) ، آيت ٢٤٥ ﴿مَنْ ذَا الَّذِيْ يُقْرِضُ اللهَ قَرْضًا حَسَنًا﴾ كښې ترغيب الى الانفاق ، بيا آيت ٢٤٦ نه واقعه د طالوت او د جالوت چې پکښې دري شرائط د باره د امير ذكر كوي .

څلورمه حصه:

آیت ۲٥٤ ﴿يَآأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْفِقُوْا﴾نه تر آخره پوري ، په دیکښې بیان د انفاق في سبیل الله تعالی کوي ، آیت ۲٥٤ کښې ترغیب الی الانفاق ، آیت ۲٥٥ کښې دعوی د توحید ، بیا آیت ۲٥٧ ﴿اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا﴾کښې دوه قسمه خلق ذکر کوي :

(۱) اصحاب الرشد (د سمي لاري خاوندان) .

(۲) اصحاب الغيّ (د کږی لارے خاوندان) .

بیا مثالونه د دوارو ذکر کوي : اصحاب الغی، لکه شیطان او نمرود .
اصحاب الرشد ، لکه ابراهيم عليه السلام او عزیر عليه السلام، آیت ۲٥٧ نه تر آیت ۲٦۰ پوري دا ذکر کوي .

بیا امثله د منفقین في سبیل الله او د منفقین في غیر سبیل الله او د دي مثالونه آیت ۲٦۱ او آیت ۲٦٥ کښې ذکر کوي ، د دویمي ډلي مثالونه آیت ۲٦٤ او آیت ۲٦٦ کښې ذکر کوي ، آیت ۲٦٧ کښې ترغیب انفاق طیب ته ورکوي ، بیا آیت ۲٧٥ تر ۲۸۱ پوري بیان د سودي کوي او په سود باندي پنځه دفعي لګوي، بیا آیت ۲۸۲ آیت طویله دے په دیکښې طریقه د لین دین ښائي ، بیا آخري رکوع کښې اعاده د مضامین اربعو کوي :

(۱) اثبات د توحید : ﴿لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ﴾ ، آیت ۲۸۲ .

(۲) اثبات د رسالت : ﴿اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مِنْ رَّبِّهٖ﴾ ، آیت ۲۸٥ .

(۳) بیان د جهاد في سبیل الله تعالی .

(٤) بیان د انفاق في سبیل الله تعالی.

دي آخري دوارو مضامینو ته : ﴿لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا﴾ ، آیت ۲۸٦ کښې اشاره کوي ، بیا د سورت آخري دوه جملوکښې مختصر طریقي سره دغه

مضامين اربعه ذکر کوي : ﴿اَنۡتَ مَوۡلٰنَا﴾ دیکښې اثبات د توحید او رسالت پرې قیاس دے : ﴿فَانۡصُرۡنَا عَلَى الۡقَوۡمِ الۡكٰفِرِيۡنَ﴾ کښې اشاره جهاد ته او انفاق پرې قیاسْ کوي .

سورة آل عمران ــــ مدنية

نزولاً ۸۹ بعد الانفال مصحفاً ۳ بعد البقرة

«ربط د ما سبق سره»

(۱) ما قبل کښې مضامين اربعه (توحيد ، رسالت ، جهاد او انفاق) بيان شو، نو دي سورت کښې هم دغه مضامين پهٔ زيات وضاحت سره بيانوي.

(۲) د ما قبل آخر کښې ئې وئيلي وو : ﴿فَانۡصُرۡنَا عَلَى الۡقَوۡمِ الۡكٰفِرِيۡنَ﴾نو دلته آيت ۱ کښې هغه مسئله ذکر کوي چې منکر ئې کافر دے .

(۳) ما قبل کښې په رسالت باندي نهه اعتراضونه ذکر شو نو دلته د هغه خلقو (يهودو او نصارؤ) ۱۵ پليتی ذکر کوي ، چې پيغمبر عليه السلام سره ئې دشمنی وه.

(٤) سورت بقره کښې څلور څله دعوی د توحيد ذکر وه ، دلته دعوی د توحيد ۷ څله ذکر کوي .

(٥) سورت بقرة کښې عجز د اله د يهودو (يعنی د بقري عجز) ذکر شو نو دلته عجز د اله د نصارو ذکر کوي يعني د عيسی عليه السلام عجز.

(٦) مخکښې د مغضوب عليهم (د يهودو) زيات بيان اوشو نو دلته زيات بيان د ضالّينو (د منافقينو) کوي .

(۷) مخکښې آيت ۷٦ کښې ئې وئيلي وو : ﴿وَاِذَا لَقُوا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا قَالُوۡۤا اٰمَنَّا﴾ نو دلته آيت ۷۳ کښې د هغې تفصيل کوي : ﴿وَلَا تُؤۡمِنُوۡۤا اِلَّا لِمَنۡ تَبِعَ دِيۡنَكُمۡ﴾ .

(۸) بقره آیت ٩٤ کښې مباهله وه يهودو سره نو دلته آيت ٦١ کښې مباهله ده د نصارؤ سره .

(۹) مخکښې آيت ١١٦ کښې يو اعتراض او د هغې پنځه جوابونه ذکر شو نو دلته پنځه اقوال د بزرګانو ذکر کوي .

(۱۰) سورت بقرة کښې د کورنۍ د اصلاح د پاره ۱۸ قوانين او د ملک د اصلاح د پاره ئې ٤ قوانين ذکر کړل نو دلته د جماعت د پاره پنځه / ٥ قوانين ذکر کوي .

(۱۱) سورت بقره کښې ئې د نبي ﷺ د بعثت مقصد تعليم الكتاب ښودلے وو نو دلته آيت ١٦٤ کښې هم دغه مقصد ذکر کوي .

(۱۲) د ما قبل آخر کښې ئې وئيلي وو : ﴿فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ﴾ نو دلته وائي . چې د الله امداد به هله حاصليږی چې کله د زړه نه دا مسئله ﴿اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ﴾ ، آيت ۲ اومنئ .

(۱۳) ما قبل کښې د بعضي انبياء عليهم السلام تاريخ ذکر شو نو دلته د نورو انبياء عليهم السلام تاريخ ذکر کوي .

(١٤) سورت بقرة آيت ۸۷ کښې ئې د بنی اسرائيلو قباحت ذکر کړے وو چې انبياء عليهم السلام ئې وژل نو دلته آيت ۱۲ کښې په هغې باندي زيادت او ترقي ده .

(١٥) سورت بقره کښې ئې مسئله د توحيد ثابته کړي وه په ادله عقليو سره او دلته مسئله د توحيد ثابتوي په ادله ثلاثؤ سره .

(١٦) سورت بقره آيت ۲۵۰ کښې د پخوانو امتونو د مجاهدينو دعا ذکر کړې وه نو دلته آيت ١٤٧ کښې ددي امت د مجاهدينو (صحابه کرامو) دعا ذکر کوي.

(۱۷) سورت بقرة آیت ۱٦۰ کښې ئې د ملا د توبې ۳ شرطونه ذکر کړي وو نو دلته آیت ۸۹ کښې د أمی د توبې دوه / ۲ شرطونه ذکر کوي .

(۱۸) سورت بقرة آیت ۱٥۹ کښې ئې وئيلي وو چا چې حق پټ کړو نو په هغه د الله لعنت دے نو دلته آیت ۸۷ کښې وائي چې څوک د ایمان نه پس مرتد شو نو په هغه هم د الله لعنت دے .

(۱۹) سورت بقرة آیت ۲٦۷ کښې ترغیب الی الانفاق وو نو دلته آیت ۹۳ کښې هم ترغیب الی الانفاق دے .

(۲۰) سورت بقرة آیت ۱۷٤ کښې ئې ذکر کړي وو چا چې حق پټ کړو نو الله به ورسره خبري نه کوي نو دلته آیت ۱۷۷ کښې وائي چا چې د الله په احکامو پیسي واغستي نو الله به ورسره خبري (د نرمی) نه کوي .

(۲۱) سورت بقرة آیت ۱۹٦ کښې ئې وئيلي وو : ﴿وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ﴾ نو دلته آیت ۱۷۷ کښې وائي چا چې د فرضیت د حج نه انکار اوکړو نو هغه کافر دے .

(۲۲) سورت بقرة کښې د پخوانو مجاهدينو (د طالوتيانو) بهادري ذکر شوي ده نو دلته د دي امت د مجاهدينو (د بدر والو) بهادري ذکر کوي .

امتيازات:

(۱) دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په رد د اصولو د نصرانيت باندي .

(شپږ اصول د نصرانيت رد کوي)

(۲) په پنځو/ ٥ اقوالو د بزرګانو باندي .

(۳) په هغه آیت چې پکښې دعوی د توحید او په هغي ادله ثلاثه ذکر دي ، آیت ۱۸.

(٤) په بیان د شان د صحابه رضی الله عنهم باندي .

(٥) په رد د شهبے د نصراؤ چې هغوي وئيل عيسى عليه السلام ته الله تعالى ابن وئيلے دے .

(٦) په بيان د مباهلي د نصراو سره ، آيت ٦١

(٧) په بيان د هغه وعدي چې الله رب العزت د علماء نه اغستي وه آيت ١٨٧ کښې ذکر کوي .

(٨) په بيان دمکر د نصراؤ چې د عيسى عليه السلام د قتل تدبير ئي جوړ کړے وو، آيت ٥٤ .

(٩) په شرائطو د توبي د اُمى باندي ، آيت ٨٩ .

(١٠) په بيان د آل عمران باندي ، آيت ٣٥ .

(١١) په بيان د پنځو / ٥ قوانينو د پاره د تنظيم ، آيت ١٠٢ ، ١٠٣ ، ١٠٤ ، ١١٥ ، ١١٧.

(١٢) په تفصيلي واقعه د جنګ اُحد باندي .

(١٣) په٣٣ نکتو په عبديت د عيسى عليه السلام او هغهٔ د مور باندي .

(١٤) په بيان دلسو صفاتو د منافقينو باندي ، آيت ١١٨ نه تر ١٢٠ پوري .

(١٥) په بيان دصفاتو د امير باندي ، آيت ١٥٩.

(١٦) په دعوت ورکولو باندي اهل کتابوته ، آيت ٦٤.

(١٧) په تفصيلي واقعي د جنګ بدر باندي .

(١٨) په صفائي د صحابه کرامو باندي .

(١٩) په عجز د اله د نصارؤ چې عيسى عليه السلام دے .

(٢٠) په بيان د هغه وعدي چې الله تعالى د اهل کتابو نه اغستے وه ، آيت ٨١.

(٢١) په ١٥ پليتو د اهل کتابو باندي .

(٢٢) په بيان د فضيلت د حضرت مريم عليها السلام باندي .

دعوى:

بيان د هغه مضامين اربعه کوم چې سورت بقره کښې وو تفصيلاً (بالترقي على ماسبق) : (۱) اثبات د توحيد (۲) اثبات درسالت (۳) بيان د انفاق في سبيل الله تعالى (٤) بيان د انفاق في سبيل الله تعالى .

اجمالي خلاصه تقسيم د سورت:

سورة آل عمران دري حصي دے:

اوله حصه:

آيت ۱ نه تر آيت ٦٣ پوري په ديکښې اثبات د توحيد کوي .

دويمه حصه:

آيت ٦٤ نه تر آيت ۱۰۱پوري، په ديکښې اثبات د رسالت کوي .

دريمه حصه:

آيت۱۰۳ نه تر آخره پوري، په ديکښې بيان د جهاد او د انفاق في سبيل الله تعالى ذکر کوي .

تفصيلي خلاصه:

سورة آل عمران دري حصي دے:

اوله حصه :

کښې ٦٣ آيتونه دي او دري بابونه ده .

اول باب:

آيت ۱ نه تر آيت ۱۷ پوري ، په ديکښې شپږ خبري ذکر کوي :

(۱) دعوى د توحيد او په هغي ادله ثلاثه (عقلي ، نقلي، وحى) آيت ۲ ، ۳.

(۲) تخويف دنيوي او اخروي ، آيت ٤.

(۳) جواب د شبهې د نصراؤ چې دوی وئیل ،عیسی عليه السلام ته الله تعالی په انجیل کښې ابن وئیلے دے نو جواب : دا د متشابهاتو نه دے ،که الله ورته ابن وئیلے دے نو ابن په معنی د محبوب دے ، آیت ٦.

(٤) تعلیم (د دعاګانو) په وخت د اعتراضونو (د خلقو) کښې آیت ۷ کښې .

(٥) مال او دولت د الله تعالی د عذاب نه مدافعت نه شي کولے آیت ۱۰ کښې .

(٦)تَذْهِيْد من الدُّنْيَا او ترغيب الى الْآخرة آیت ١٤ ، یعني دنیا نه بے رغبتي او آخرت ته ترغیب ورکوي او آیت ١٦ ، ١٧ کښې د مومنانو صفات ذکر کوي .

دویم باب:

آیت ۱۸ ﴿شهدالله﴾ نه تر آیت ۲٥ پورې ، په دیکښې هم شپږ خبرې ذکر کوي :

(۱) دعوی د توحید او په هغې ادله ثلاثه (عقلي، نقلي، وحي) ، آیت ۱۸.

(۲) جواب دفع د شبهې د نصراؤ چې عیسی عليه السلام ته الله تعالی ابن وئیلے دے ، نو جواب ئې کوي چې دا دسّ من البغاة دے ، آیت ۱۹.

(۳) صداقت د پیغمبر عليه السلام ، آیت ۲۰.

(٤) خبائث د اهل کتابو ، آیت ۲۱.

(٥) د یهود خباثت چې د الله د کتاب نه ئې اعراض کولو (اَلتَّوَلِّی عن کتاب الله) ، آیت ۲۳.

(٦) تخویف اخروي ، آیت ۲٥.

دریم باب:

آیت ۲٦ ﴿قُلِ اللّٰهُمَّ مٰلِكَ الْمُلْكِ﴾ نه ترآیت ٦۳ پورې ، په دیکښې شپږ خبرې بیانوي :

(۱) دعوی د توحید او په هغې باندې ادله ثلاثه (عقلی ، نقلی ، وحی) ، آیت ۲٦ ، ۲۷ کښې .

(۲) تهدید (رټنه) مومنانو ته په موالات (دوستۍ) د اهل کتابو باندې ، آیت ۲۸ کښې.

(۳) تخویف اخروي ، آیت ۳۰ کښې .

(٤) ترغیب اتباع د پیغمبر ﷺ ته ، آیت۳۱ کښې .

(٥) تفصیلي جواب د شبهې د نصاراؤ په ذکر کولو د ۳۳ نکتو په عبدیت دعیسی علیه السلام او د هغه د مور باندې ، دارنګه پنځه اقوال د بزرګانو ذکر کوي :

(۱) نیا د عیسی علیه السلام وائي : ﴿إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ﴾ ، آیت ۳٥.

(۲) مور دعیسی علیه السلام (حضرت مریم) وائي : ﴿إِنَّ اللَّهَ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ﴾ ، آیت ۳۷.

(۳) ماما دعیسی علیه السلام (حضرت زکریا) وائي :﴿إِنَّكَ سَمِيعُ الدُّعَاءِ﴾ ، آیت ۳۸.

(٤) ملائک وائي : ﴿كَذَٰلِكِ اللَّهُ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ﴾ ، آیت ٤٧ .

(٥) عیسی علیه السلام وائي : ﴿إِنَّ اللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ﴾ ، آیت ٥١ .

دینه پس شپږمه خبره د دې باب :

(٦) مباهله د نصراؤ سره ، آیت ٦١ کښې .

دویمه حصه:

آیت ٦٤ ﴿قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ﴾ نه تر آیت ۱۰۱ پورې ، په دیکښې اثبات د رسالت کوي او ۱٥ پلیتۍ (خبائث) د اهل کتابو ذکر کوي .

(۱) اتخاذ الاحبار والرهبان في التحليل والتحريم : آیت ٦٤ کښې یعنې ملیانو او پیرانو به چې څه ته حلال وئیل نو دوی به ورته حلال وئیل اګر که

هغه به حرام وو، او چې هغوي به څه ته حرام وئيل نو دوئ به ورته حرام وئيل اګر که هغه به حلال وو.

(۲) احتجاج بالباطل: آیت ٦٥ کښې، یهودو او نصارؤ وئیل چې ابراهیم علیه السلام زمونږ په دین وو حالانکه ابراهیم علیه السلام د موسی علیه السلام او د عیسی علیه السلام نه مخکښې تیر شوے وو.

(۳) اِضْلَالُ الْمُؤْمِنِيْنَ : آیت ٦٩ مومنان يئ ګمراه کول.

(٤) كُفْرُهُمْ بِأيَاتِ اللهِ: آیت ۷.

(٥) تَلْبِيْسُ الْحَقِّ بِالْبَاطِلِ: آیت ۷۱.

(٦) تَلْبِيْسُ الدِّيْنِ على الضُّعَفَاءِ: آیت ۷۲.

(۷) اَلْوَصِيَّةُ بِالْيَهُوْدِيَّةِ الْمَنْسُوْخَةِ وَالنَّصْرَانِيَّةِ الْمَنْسُوْخَةِ: آیت ۷۳.

(۸) خیانت : آیت ۷٥.

(۹) تحریف : آیت ۷۸.

(۱۰) اَلْاِفْتِرَاءُ عَلَى الْعِبَادِ الصَّالِحِيْنَ : آیت ۷۹.

(۱۱) اَلتَّوَلِّي عن كتاب الله : آیت ۸۲،۸۱.

(۱۲) اَلْاِرْتِدَادُ عن الدِّيْنِ بعد الاِيْمَانِ: آیت ۸٦.

(۱۳) اَلْاِفْتِرَاءُ عَلَى الْاَنْبِيَاءِ عليهم السلام: آیت۹۳.

(١٤) قِبْلَتُنَا قَبْلَ قِبْلَتِكُمْ ، آیت۹٤ دوئ وئیل زمونږ قبله ستاسو قبلې نه مخکښې ده.

(۱۵)الصَّدُّ عن سَبِيْلِ اللهِ تَعالي : آيت ۹۹ خلق ئي د الله تعالى د كتاب نه بندول.

__دريمه حصه :__

آيت ۱۰۲﴿يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ﴾نه تر آخره پوري ، په ديکښې بيان د جهاد او انفاق في سبيل الله تعالى كوي او پنځۀ قوانين د پاره د جماعت ذکر كوي .

قانون ۱ :عقيده به د اركانو د جماعت يوه (يعني د توحيد) وي ، آيت ۱۰۲.

قانون ۲: منشور د جماعت به قرآن كريم وي ، آيت ۱۰۳.

قانون ۳: اركان د جماعت به فعال كار كونكې وي ، آيت ۱۰٤.

قانون ٤: اركان د جماعت به جماعت باندي لګوي ، آيت ۱۱۵.

قانون ۵: په تنظيم او جماعت کښې به غير راز دار نه وي ، آيت ۱۱۸.

بيا په پنځم قانون باندي دوه واقعي تفريع كوي :

(۱) واقعه د جنګ أحد . (۲) واقعه د جنګ بدر.

جنګ أحد کښې غير رازدار شو نو فتح په شكست بدله شوه سره د دي چې اسلحه او تعداد د مومنانو زيات وو.

او جنګ بدر کښې غير رازدار نه وو نو الله مومنانو له فتح وركړه اګر چې اسلحه او تعداد د مومنانو کم وو.

ضروری خبردارے : سورة آل عمران کښې شپږ ځله دعوى د توحيد ذكر كوي ، آيت ۲ ، ۱۸ ، ۲٦ ، ٦٤ ، ۱۰۹ ، ۱۸۹ کښې او ثمره د دلائلو دري ځايه آيت ٦ ، ۱۸ ، ٦۲ کښې ذكر كوي .

سورة النساء مدنية

نزولاً ۹۲ بعد الممتحنة مصحفاً ۴ بعد ال عمران

«ربط د ما سبق سره»

(۱) سورت فاتحه کښې د دریو ډلو ذکر شوے وو: (۱) منعم علیهم (مومنین)، (۲) مغضوب علیهم (کفار)، (۳) ضالین (منافقین) نو سورة البقره کښې زیات خطاب مغضوب علیهم سره او آل عمران کښې زیات خطاب د ضالینو سره وو نو دي سورت کښې زیات خطاب د منعم علیهم (مومنانو) سره کوي.

(۲) د سورت آل عمران اختتام په تقوی وو ددي سورت افتتاح په تقوی سره کوي.

(۳) ما قبل کښې اصلاح د عقیدي وه دي سورت کښې اصلاح د معاشري کوي.

(٤) سورت آل عمران کښې د جماعت د پاره قوانین ذکر شو نو دلته دراعی او رعیت د پاره احکام ذکر کوي.

(٥) ما قبل آیت ۸۹ کښې ئي د اُمّتي د توبے د پاره شرطونه ذکر کړي وو نو دلته آیت ١٤٦ کښې د منافق د توبے شرطونه ذکر کوي.

(٦) ما قبل کښې ئي وئیلي وو چې الله رب العزت عیسی علیه السلام بغیر د پلار نه پیدا کړے وو نو دلته آیت ۱۷۱ کښې ئي زیات تفصیل کوي.

(۷) ما قبل آیت ٥٥ کښې د عیسی علیه السلام د پورته کولو ذکر وو نو دلته آیت ۱٥۷ کښې رد کوي په هغه خلقو باندي چې هغوی وائي مونږ عیسی علیه السلام قتل کړے دے.

(۸)ما قبل آیت ۱۸ کښې شهادت بالتَّوْحِيد وو د الله او د فرشتو نو دلته آیت ۱٦٦ کښې شهادت بالکتاب (ای القرآن) د الله تعالی او د فرشتو ذکر کوي.

(۹) ما قبل کښې ئې د حضرت مریم او د هغې د مور ذکر کړے وو نو دلته آیت ۳٤ کښې د عامو زنانوُ ښه صفات بیانوي .

(۱۰) ما قبل کښې خبائث د یهودو بیان شو نو دلته زواجر (رټنه) ورکوي یهودو ته .

(۱۱) ما قبل کښې د عیسی علیه السلام عبدیت ذکر شو نو دلته رد کوي په نصاراو باندي .

(۱۲) ما قبل کښې ئې د مجاهدینو ذکر او کړو نو دلته فضیلت د مجاهدینو ذکر کوي .

(۱۳) ما قبل کښې بیان د قتال او شو نو دلته آیت ۱۰۵ کښې وائي چې ملک فتح شو نو قانون به پکښې د الله کتاب وی.

(۱٤) ما قبل آیت ۱۸ کښې دعوی د توحید ، ادله ثلاثه او ثمره د دلائلو وه نو دلته آیت ۱۲٦ یو آیت کښې مقاصد اربعه ذکر کوي .

(۱۵) ما قبل آیت ۱۳۰ کښې ئې وئیلي وو:﴿لَا تَأْكُلُوا الرِّبَا﴾ د سود مال مه خورئ نو دلته آیت ۲۹ کښې وائي : ﴿لَا تَأْكُلُوا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ په هر قسمه غلطه طریقه د یو بل مال مه خورئ .

امتیازات:

(۱) دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په قواعدو باندي د پاره د اصلاح د معاشري .

(۲) په بیان د حقوقو د ښځو باندي .

(۳) په بيان د هغه قوانينو باندي چې په هغي باندي اصلاح د راعی او رعيت راځي.
(٤) په بيان د احکامو د ميراث باندي.
(٥) په بيان د مهرونو د ښځو باندي، آيت ٤.
(٦) په بيان د هغه ١٤ قسمه ښځو باندي چې په نکاح اغستل ئې حرام دي، آيت٢٣.
(٧) په بيان د تعداد د منکوحو باندي (چه هغه څلور ښځي دی)، آيت ٣ کښې.
(٨) په بيان د حکم د قتل خطاء باندي، آيت ٩٢.
(٩) په بيان د حفاظت د مال د يتيم باندي، آيت ٢.
(١٠) په بيان دحفاظت کولو د مال د بے وقوف باندي، آيت ٥.
(١١) په بيان د شرائطو د توبے د منافق باندي، آيت ٤٦.
(١٢) په مشرت د سړی باندي، آيت ٣٤.
(١٣) په بيان د دريو طريقو باندي د پاره د سمولو د ښځے، آيت ٣٤.
(١٤) ممتاز دے په نه کولو د مانځه باندي په حالت د بے هوشی کښې، آيت ٤٣.
(١٥) په بيان د کفّاري د قتل خطا باندي، آيت ٩٢.
(١٦) په بيان د فضيلت د مجاهدينو باندي، آيت ٩٥.
(١٧) په بيان د حکم د مانځه باندي په سفر کښې، آيت ١٠١.
(١٨) په بيان د ببنښه نه کولو د شرک، آيت ٤٨، ١١٦.
(١٩) په بيان د تشبيه ورکولو د وحي د نبي عليه السلام د وحي د نوح عليه السلام سره، آيت١٦٣.
(٢٠) په هغه شپاړس احکامو باندي د پاره د اصلاح د رعيت.
(٢١) په اتو / ٨ احکامو باندي د پاره اصلاح د راعی او رعيت.
(٢٢) په کثرت دزواجرو باندي.

دعوی:

بیان د هغهٔ أمورو چې په هغې اصلاح د معاشرے راځي .

اجمالی خلاصه:

سورة النساء دري حصي ده .

اوله حصه:

آیت ۱ نه تر آیت ۵۷ پورې ، په دیکښې شپاړس احکام د پاره د اصلاح د رعیت ذکر کوي .

دویمه حصه:

آیت ۵۸ نه تر آیت ۱۳٤ پورې ، په دیکښې اته / ۸ احکام د پاره د اصلاح د راعی او رعیت ذکر کوي .

دریمه حصه:

آیت ۱۳۵ نه تر آخره پورې ، په دیکښې د دریو ډلو : { (۱) اهل کتاب (۲) منافقین (۳) مومنین بیان کوي } .

تفصیلي خلاصه:

سورت دري حصي دے :

اوله حصه:

اوله حصه کښې ۵۷ آیتونه دي او په دیکښې شپاړس احکام ذکر کوي بین الرعیة [د اصلاح د رعیت د پاره] :

(۱) حِفْظُ اموال الْیَتامی : د یتیمانو د مالونو حفاظت اوکړئ ، آیت ۲ .

(۲) حِفْظُ اَنْفُسِ الیتامی : د یتیمانو د نفسونو حفاظت اوکړئ ، آیت ۳ .

(۳) إِعْطَاءُ الْمُهُوْرِ: ښځو له د هغوي مهرونه ورکړي ، آیت ٤ .

(٤)حِفْظُ اَمْوَالِ السُّفَهَاءِ: د بے وقوفو د مال حفاظت اوکړئ ، آیت ٥ .

(٥)إِعْطَاءُ الْحُقُوْقِ لِلْمُسْتَحِقِّيْنَ: حقدارو له د هغوي حقوق ورکړئ،آيت ٧.

(٦) تَقْسِيْمُ الْاَمْوَالِ بِالْفَرَائِضِ الْمُقَدَّرَةِ مِنَ اللهِ تَعَالٰى : د الله د طرف نه چې کومې حصې د ميراث مقرر دي نو د هغې مطابق مال تقسيم کړئ ،آيت ١١.

(٧) تطهير الانفس و الرد على الفواحش : ځانونه پاکول او د بے حيائی کارونو باندې رد کول ،آيت ١٥.

(٨) (ښځو نه ميراث مه جوړوئ) ، ښځې ميراث کښې مه اوړيئ ، آيت ١٩.

(٩) د خپلو مشايخو (مشرانو) بے ادبی مه کوئ ، آيت ٢٢.

(١٠) النهى عن نكاح المحرمات ،آيت ٢٣.

(١١) النهى عنَ الاموال المحرمة ، آيت ٢٩.

(١٢) النهى عن العُدْوَان ، آيت ٣٠.

(١٣) اِيْفَاء العهود ، آيت ٣٣.

(١٤) امير البَيْتِ الرجل ،آيت ٣٤.

(١٥) الصُّلْح بين العَشَائِرِ ، آيت ٣٥.

(١٦) التوحيد ، آيت ٣٦ .

هسی نه چې د معاشرے په اصلاح شروع ئي . او توحيد (اصل مسئله) در نه پاتے شي .

دارنګه دې حصه کښې مومنانو ، منافقانو او يهودو ته زجر ورکوي بالتضعيف والتنصيف دريو آيتونو(١ ، ١٤ ، ٣٠) کښې زجر مومنانو ته شپږو آيتونو (٣٦، ٣٧ ، ٣٨ ، ٣٩ ، ٤١، ٤٢)کښې منافقانو ته او بيا آيت ٥١ نه ٦٢ پورې دولسو آيتونو کښې زواجر دي يهودو ته .

دويمه حصه :

دويمه حصه آيت ٥٨ نه تر آيت ١٣٤ پوري، په ديكښې نهه / ٩ اَحْكَام بين الرَّاعِي والرعية ذكر كوي .

(١) حقدارو له د هغوي حقوق وركړي ، آيت ٥٨.

(٢) د الله تعالى د پيغمبر عليه السلام او د علماء تابعداري كول ، آيت ٥٩ .

(٣) حكم د قتال ، آيت ٧٤ .

(٤) احتياط فِي القتل (په قتل كښې احتياط كول) ، آيت ٩٢.

(٥) اصلاح النية (نيت صيحيح كول) ، آيت ٩٤ .

(٦) الترغيب الى الهجرة في سبيل الله تعالى ، آيت ١٠٠ .

(٧) حكم الصلوة في السفر للتَّثَبُّتِ وَالْإِرْتِبَاطِ آيت ١٠١ .

په سفر كښې د مانځه حكم د پاره د كللكوالى او مضبوطوالى .

(٨) د ملک د فتح كيدو نه پس قانون به د الله كتاب وي ، آيت ١٠٥.

(٩) نهم حكم تنوير على ما سبق ، آيت ١٢٧.

بيا آيت ١٣٢ كښې دعوى د توحيد ذكر كوي : ﴿وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ﴾ .

دريمه حصه :

دريمه حصه آيت ١٣٥ نه تر آخره پوري ، په ديكښې د دريو ډلو: (١) د مومنانو ، (٢) د منافقانو ، (٣) د اهل كتابو بيان كوي .

اول آيت كښې تابعدارى د الله او پيغمبر ته ترغيب وركوي ، بيا ١٣٦ كښې مقاصد اربعه (توحيد ، رسالت ، صداقة الكتاب ، ايمان بالآخرة) ذكر كوي .

دارنګه دغه دريوارو ډلو ته زواجر وركوي .

اول دوه آيتونو ١٣٥ ، ١٣٦ كښې مومنانو ته ، بيا آيت ١٣٧ نه تر آيت ١٥٢ پورې دولس آيتونوكښې زواجر منافقانو ته بيا آيت ١٥٣ نه تر آيت ١٦١ پورې نهو آيتونو كښې زواجر اهل كتابو ته وركوي ، بيا نفي د شرک في التصرف ، اثبات ، ترغيب الى القرآن ذكر كوي . او آخر د سورت د اول د سورت سره مرتبط دے په ذكر كولو د احكامو كښې ، يعني سورت چې ختموي نو د اول سره ئې تړي ، اول كښې احكام ذكر وو نو آخر كښې هم احكام ذكر كوي .

سورة المائدة مدنية

نزولاً ١١٢ بعد الفتح مصحفاً ٥ بعد النساء

«ربط د ما سبق سره»

(١) سورة النساء كښې د تنظيم اهميت بيان شو نو دې سورت كښې هغه مسئله (رد د نذر لغير الله) بيانوي چې د هغې د پاره د تنظيم ضرورت دے .

(٢) هركله چې سورة النساء كښې ئې امور مصلحه د معاشرے ذكر كړل نو دې سورت كښې امور مصلحه د طعام ذكر كوي .

(٣) ما قبل په خطاب عام : ﴿يَآاَيُّهَا النَّاسُ﴾ باندې شروع وو نو دا سورت په خطاب خاص ﴿يَآاَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا﴾ باندې شروع كوي ، يعني تخصيص بعد التعميم دے .

(٤) مخكښې آخرې آيت ١٧٦ كښې ئې وئيلي وو : ﴿يُبَيِّنُ اللهُ لَكُمْ اَنْ تَضِلُّوا﴾ الله تاسو ته نور احكام بيانوي چې تاسو گمراه نشئ نو دلته اوس هغه احكام بيانوي .

(٥) مخكښې آيت ٣٣ كښې ئې وئيلي وو چې عهد د اُخوت اسلامی پوره كړئ نو دلته آيت ١ كښې وائي چې هر عهد پوره كړئ.

(٦) ما قبل کښې زواجر وو يهودو ته نو دلته آيت ٥١ کښې مومنان د دوی د دوستئ نه منع کوي .

(٧) ما قبل کښې ئې د خبيث مال څه اقسام ذکر کړل (مال د يتيم ، مال د بے وقوف وغيره) نو دلته د خبيث مال بل قسم (نذر د غير الله) ذکر کوي .

(٨) سورة النساء آيت ١٧٤ کښې ئې قرآن کريم ته رڼړا وئيلي وه نو دلته آيت ١٥ کښې ورته هم رڼړا وائی.

(٩) مخکښې آيت ١٧١ کښې ئې وئيلي وو : ﴿وَلَا تَقُولُوا ثَلَاثَةٌ﴾ دا مه وايئ چې خدايان دري دي نو دلته آيت ٧٣ کښې فتوي د کفر لګوي په هغه چا چې دري خدايان منی : ﴿لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ ثَالِثُ ثَلَاثَةٍ﴾.

(١٠) مخکښې آيت ١٠٥ کښې ئې ذکر د خائن (سارق) کړے وو چې سفارش ورله مه کوه نو دلته آيت ٣٣ کښې حکم د سارق ذکر کوي چې لاس ورله کټ کړئ .

(١١) مخکښې آيت ١٠٥ کښې ئې وئيلي وو چې قرآن باندي فيصله کوه نو دلته هغه چا باندي فتوی لګوي چې د الله په کتاب فيصله نه کوي ، آيت ٤٤ ، ٤٥ ، ٤٦ . کافر ، فاسق ، ظالم ورته وائي . (تفصيل مشکلاتو کښې دے)

(١٢) ما قبل ئې ختم کړے وو په نفي د شرک في التصرف باندي نو دے سورت کښې نفي د شرک فعلي کوي ځکه چې دا ذريعه د شرک في التصرف ده .

(١٣) يا شرک في التصرف متضمن د شرک فعلي دے نو سورة النساء کښې ئې نفي د شرک في التصرف اوکړه او دلته نفي د شرک فعلي کوي .

(۱٤) سورة النساء کښې ئې دوه ځله (آیت ٤٨ . ١١٦)کښې وئیلي وو چې الله تعالیٰ شرک نه بښي نو دلته آیت ٧٤ کښې سزا د مشرک ذکر کوي چې الله تعالیٰ پرې جنت حرام کړے دے .

(١٥) مخکښې آیت ١٠٥ کښې ئې وئیلي وو چې قرآن م رالیږلے دے په دې باندې فیصله کوه نو دلته آیت ٤٤ کښې وائي چې تورات م رالیږلے وو نو انبياء علیهم السلام به پرې فیصله کوله .

(١٦) سورة النساء آیت ٤٣ کښې ئې بیان د تیمم کړے وو نو دلته آیت ٦ کښې په هغې باندې زیادت او ترقي کوي .

(١٧) سورة النساء آیت ٤٣ کښې ئې د عیسی علیه السلام عاجزي ذکر کړې ده دنیا کښې نو دلته آیت ١١٧ کښې د عیسی علیه السلام عاجزي ذکر کوي په قیامت کښې.

(١٨) سورة النساء کښې بیان د عیسی علیه السلام او د هغه عاجزي ذکر شوه نو دلته بیان د عیسی علیه السلام او د هغه معجزې ذکر کوي .

(١٩) سورة النساء آیت ١٧٤ کښې ئې قرآن ته رڼرا وئیلي وه نو دلته آیت ٦٧ کښې وائي چې دا رڼرا خلقو ته اورسوه .

(٢٠) ما قبل کښې ئې وئیلي وو چې یهودیانو او نصاراو وعدے ماتے کړے وے نو دلته آیت ١ کښې مومنانو ته وائي : ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ﴾ اے مومنانو تاسو وعدے پوره کړئ .

امتیازات:

(١) دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په بیان د کفارے د قسم باندې ، آیت ٨٩.

(٢) په بیان د ښکاریانو (سپوا ، مارغانو) باندې .

(٣) په بيان د حكم د مذبوحے او د جينكو د اهل كتابو باندي چې مومنانو له روا دي .

(٤) په واقعي د : ﴿إِذْ هَمَّ قَوْمٌ أَنْ يَبْسُطُوٓا إِلَيْكُمْ أَيْدِيَهُمْ﴾ باندي ، آيت ١٠.

(٥) په بيان د حكم د سارق او سارقي باندي ، آيت ٣٨ .

(٦) په جواب د عيسى عليه السلام په قيامت كښې ، آيت ١١٦.

(٧) په حكم د ترک موالات باندي د يهودو سره ، آيت ٥١.

(٨) په ذكر د مائدي باندي ، آيت ١١٢ .

(٩) په تفصيل دَ مسائل اربعو باندي :

(١) تحريمات الله (٢) تحريمات العباد . (٣) نذور الله . (٤) نذور العباد .

(١٠) په واقعي د هابيل او قابيل باندي .

(١١) په اجماع د انبياء عليهم السلام په نفي د علم غيب باندي .

(١٢) په بيان د بحيري ، سائبي ، وصيلي او حام باندي ، آيت ١٠٣ .

(١٣) په بيان د شرائطو د ښكار باندي .

(١٤) په دي باندي چې د الله كتاب فيصله نه كونكى ته ئې كافر، فاسق او ظالم وئيلي دي ، آيت ٤٤ ، ٤٥ ، ٤٦.

(١٥) په يولس بشارتونو باندي مبلغ ته .

دعوى:

بيان د مسائل اربعو .(بيان د څلورو مسئلو)

(١) تحريمات الله (٢) تحريمات العباد. (٣) نذور الله . (٤) نذور العباد .

تقسيم د سورت (خلاصه):

داسورت لس حصي دے .

اوله حصه:

آيت ١ نه تر آيت ٥ پوري ، په ديکښې مسائل اربعه (څلور مسئلې) بيانوي .

(١) تحريمات الله . (٢) تحريمات العباد . (٣) نذور الله . (٤) نذور العباد.

دويمه حصه:

آيت ٦ نه تر آيت ١١ پوري، په د يکښې امور مصلحه الممدة للمبلغ ذكر کوي .

دريمه حصه:

آيت ١٢ نه تر آيت ١٩ پوري ، په ديکښې مثال د ناقضينو د عهد ذكر كوي.

څلورمه حصه:

د آيت ٢٠ نه تر آيت ٢٦ پوري ، په د يکښې انجام د هغه چا ذكر كوي چې د الله حكم کښې ئې سستي کړے وه .

پنځمه حصه:

آيت ٢٧ نه تر آيت ٤٠ پوري ، په ديکښې دري خبري ذكر كوي :

(١) سزا د ظالم او دا چې څوک کيناستهٔ (د ځان دفاع نه کوي) لکه د هابيل نو هلاک به شي .

(٢) الترغيب في التبليغ و التر غيب الى الاعمال الصالحة .

(٣) منع د نرمی کولو نه د هغه چاسره چې څوک زياتے او فساد کوي بيا نفي د شرک في التصرف كوي .

شپږمه حصه:

آيت ٤١ نه تر آيت ٥٠ پورې، په دیکښې تسلي ورکوي نبي ﷺ ته او قبائح د اهل کتابو ذکر کوي.

اووم حصه:

آيت ٥١ نه تر آيت ٥٨ پورې، په دیکښې تهدید ورکوي مومنانو ته په موالات د اهل کتابو باندې او منافقانو ته زجر ورکوي.

اتمه حصه:

آيت ٥٩ نه تر آيت ٦٦ پورې، په دیکښې تهدید او زجر علماء سوء ته او قبائح د اهل کتابوذکر کوي.

نهمه حصه:

آيت ٦٧ نه تر آيت ٨٦ پورې، په دیکښې ترغیب في التبليغ او تسلي نبي ﷺ ته ورکوي.

لسمه حصه:

آيت ٨٧ نه تر آخره پورې په دیکښې بیا هغه څلور مسئلې (تحريمات الله، تحريمات العباد، نذور الله، نذور العباد) دوباره په بل نهج باندې ذکر کوي او سورت د غيرالله نه په نفي د علم غيب په واقعي د عيسى ﷺ باندې ختموي.

سورة الانعام مكية

نزولاً ٥٥ بعد الحجر مصحفاً ٦ بعد المائدة

«ربط د ما سبق سره»

(١) سورت مائده كښې اول رد د شرک فعلي او روستو رد د شرک اعتقادي وو نو دلته د هغې په عكس باندي دواړه رد كوي، (يعنى اول رد د شرک اعتقادي او بيا رد د شرک فعلي كوي).

(٢)ما قبل كښې رد د شرک وو تفصيلاً نو دلته اثبات د توحيد كوي تفصيلاً.

(٣)ما قبل كښې عاجزي د عيسى عليه السلام بيان شوه نو دلته د نور مخلوقات (د انبياء عليهم السلام د جناتو او د نمر او سپوږمۍ و غيره) عاجزي ذكر كوي.

(٤) ما قبل كښې ئې بيان د مائدي كړے وو چې بني اسرائيلو د پاره رالیږلے شوي وه نو دلته عام الفاظ ﴿وَهُوَ يُطْعِمُ وَلَا يُطْعَمُ﴾ذكر كوي. الله هر چاته رزق وركوي، هر څوک ورته محتاج دي او الله تعالى هيچاته محتاج نه دے.

(٥) ما قبل آيت ١٠٣ كښې بيان د بحيري، سائبي، و صيلي او حام اوشو نو دلته آيت ١٤٢ كښې د چارپايانو (څارو) فائدي ذكر كوي.

(٦) ما قبل كښې نفي د علم غيب وه د انبياء عليهم السلام نه نو دلته آيت ٥٩ كښې د هغې خلاصه كښې ذكر كوي.

(٧) ما قبل كښې ئې وئيلي وو: ﴿لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾ يعني مالک (اختيار مند) الله تعالى دے نو دلته وائي: ﴿الَّذِىْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ﴾ خالق هم الله تعالى دے، په ماسبق باندي ترقي ده.

(٨) ما قبل آيت ٨٧ كښې ئې وئيلي وو چې حلالو ته حرام مه وايئ نو دلته آيت ١٢١ كښې وائي چې حرامو ته حرام اوايئ.

(۹) مخکښې ئي امور مصلحه د طعام ذکر کړل نو دلته هغه امور ذکر کوي چې په هغې باندې اصلاح د عقیدې راځي .

(۱۰) مخکښې ئي آخري آیت کښې وئیلي وو : ﴿ لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا فِيْهِنَّ ﴾ یعني متصرف الله تعالیٰ دے نو دلته آیت ۳ کښې وائي : ﴿ يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَجَهْرَكُمْ وَيَعْلَمُ مَا تَكْسِبُوْنَ ﴾ عالم الغیب هم صرف الله رب العزت دے .

(۱۱) سورت مائده آیت ۱۰۹ کښې ئي نفي د علم غیب کړې وه د ټولو انبیاء علیهم السلام نو دلته آیت ۵۰ کښې نفي د علم غیب کوي د نبي ﷺ یعني تخصیص بعد التعمیم کوي .

(۱۲) مخکښې اجمالاً رد شوے وو نذر د غیر الله ﴿ وَمَآ اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ ﴾ نو دلته آیت ۱۴۵ کښې ئي تفصیلي رد کوي .

(۱۳) د ما قبل اختتام وو په : ﴿ لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ﴾ نو هر کله چې مالک الله تعالیٰ دے نو دلته اول آیت کښې وائي چې د الله حمد اوایه ، اهل معاني وائي چې دا جمله خبرِیه ده خو معنیٰ ئي د امر ده .

(۱٤) ما قبل کښې رد په مشرکین بالعباد الصالحین وو نو دلته په ټولو اقسامو د مشرکینو باندې رد کوي.

(۱۵) ما قبل کښې امور مصلحه الممدة للمبلغ ذکر شو نو دلته اصل مسئله د تبلیغ (توحید) ذکر کوي .

(۱٦) سورت مائده کښې ئي وئیلي وو چې د غیرالله په نوم باندې نذرو نیاز مه ورکوئ نو دلته ئي وجه ذکر کوي الله تعالیٰ وائي دوی ما ته محتاج او عاجز دي .

(۱۷) سورت مائده کښې ئي مسئله د توحید بیان کړه نو دلته په هغې باندې دلائل عقلیه پیش کوي .

(۱۸) سورت مائده آيت ۱۱ کښې ئي وئيلي وو چې مشرکينو پيغمبر عليه السلام ته جادوګر وئيل نو دلته آيت ۷ کښې وائي چې قرآن ته ئي جادو وئيل.

(۱۹) سورت مائده آيت ٤٤ کښې ئي وئيلي وو: ﴿وَلَا تَشْتَرُوْا بِاٰيٰتِيْ ثَمَنًا قَلِيْلًا﴾ زما په احکامو باندي دنيا مه اخلی نو دلته آيت ۹۰ کښې پيغمبر عليه السلام ته وائي: ﴿قُلْ لَّآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا﴾ اوايه زه ستاسو نه په دي (قرآن) باندي څه اجر (مزدوری) نه غوارم.

(۲۰) سورت مائده آيت ٤٤ کښې ئي قرآن ته ترغيب ورکړے وو نو دلته آيت ۱۵۳ کښې هم قرآن ته ترغيب ورکوي.

(۲۱) سورت مائده آيت ٦٧ کښې ئي ووئيلی وو چې قرآن مخلوق ته اورسوه نو دلته آيت ۵۱ کښې وائي چې په دي باندي خلق اويروه.

(۲۲) سورت مائده آيت ٦٧ کښې ئي وئيلی وو چې کوم شي باندي د الله نوم ياد شوے وي نو هغه اوخرئ نو دلته آيت ۱۲۱ کښې وائي چې کوم شي باندي د الله نوم ياد نه شي نو هغه مه خورئ.

(۲۳) سورت مائده آيت ۷۲ کښې ئي اوئيل چې نصارو شرک کړے وو چې عيسی عليه السلام ته ئي اله وئيلو نو دلته آيت ۸۱ کښې وائي چې مشرک سره په شرک باندي دليل نشته.

(۲٤) سورت مائده آيت ٦٧ کښې ئي وئيلي وو چې مشرک باندي جنت حرام دے نو دلته آيت ٦٦ کښې وائي دا څکه چې د مشرک عمل برباد دے.

(۲۵) سورت مائده کښې يولس بشارتونه د پاره د مبلغ د توحيد ذکر شو نو دلته آيت ۱۵۱ کښې يولس وصيتونه د نبي عليه السلام ذکر کوي.

(۳) سورت صافاته آیت ۱۱۹ کښي لي د حضرتو صحابه د صاحبي ذکر کړي وه د عیسی علیه السلام د پوره آیت د کښي صحابه د حضرتو ذکر کوي د نبي علیه السلام چې په دې باندې د خپل رب د طرف ته متوجه ولې نه راځي.

امتیازات

(۱) دا سورت کلمات د شرک د نفي په پوره باندې په کثرت د اولو حضرتو باندې د دوه قسمه په توحید ذکر کړي.

(۲) په تفصیل رد د شرک په ټولو قسمونو باندې.

(۳) په بیان د عظیمات ستة باندې.

(۴) په بیان د کثرت اعتراضاتو د مشرکینو په نبي علیه السلام باندې.

(۵) په تفصیل رد د مشرکینو اربعو باندې. (مشرکین بالعباد الصالحین، مشرکین بالملائکة، مشرکین بالجن، مشرکین بالکواکب)

(۶) په دې باندې چې کله د ... ورځې ... (۸۰۰۰) فرښتې راځي ﴿انهم يقولون و يسبحون﴾ ټول تهليل (لا اله الا الله) او تسبيح (سبحان الله) وايي.

(۷) په ذکر د اته څیزو د ... باندې د آیت ۳۸

(۸) په تقریر د ابراهیم علیه السلام خپل پلار او قوم ته.

(۹) په تقسیم د ... باندې د آیت ۸۸.

(۱۰) په بیان د کثرت د زواجرو باندې مشرکینو ته.

(۱۱) په بیان د توحید باندې پر ... .

(۱۲) په بیان د رد او د مشرکینو خپل اولاد او په قوم د غیر الله باندې.

(۱۳) په بيان د ووه / ۷ ځله ګمراه او مشرک وئيلو باندي د ابراهيم عليه السلام خپل پلار او قوم ته .

(١٤) په بيان د څلورځله لفظ د : ﴿ مَنْ أَظْلَمُ ﴾ باندي .

(١٥) په بيان د ووه / ۷ ځله نفي د شرک في التصرف باندي .

(١٦) په بيان څلوريشت (٢٤) اصولو باندي . (سمط الدر:٢٣)

(١٧) په بيان د ابتلاء بالنعم والنقم باندي .(په خصوصي انداز باندي)

(١٨) په بيان د ٢٣ ځله تخويف ورکولو باندي مشرکينوته .

(١٩) په ذکر کولو د اولس (١٧) انبياء عليهم السلام باندي .

(٢٠) په دوه ځله وئيلو د صراط مستقيم قرآن کريم ته ، آيت ١٢٦ ، ١٥٣ .

(٢١) قرآن والؤ ته په خير راغلے وئيلو باندي ، آيت ٥٤.

(٢٢) د امن نسخي ښودلو باندي ، آيت ٨٢ : ﴿ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَمْ يَلْبِسُوْٓا اِيْمَانَهُمْ بِظُلْمٍ اُولٰٓئِكَ لَهُمُ الْاَمْنُ ﴾.

(٢٣) په کنځلو نهٔ کولو باندي اٰلِهَوْ د مشرکينو ته ، آيت ١٠٨.

(٢٤) په بيان د هغه څيزونو چې يهوديانو باندي قهراً حرام شوي وو ، آيت ١٤٦.

(٢٥) په ذکر د نبي عليه السلام باندي ، آيت ١٥١.

(٢٦) په ذکر د بربادېدو د عمل د انبياء عليهم السلام په سبب د شرک سره ، آيت ٨٨ (که بالفرض انبياء عليهم السلام شرک کړے وو نو د دوی عمل به برباد شوے وو) .

دعوی:

نفی د شرک اعتقادي او د فعلي سره د اقسامو ددي ، ٢٥ ادله عقليه په اثبات د توحيد او مناظره د ابراهيم عليهم السلام د مشرکينو سره .

(خلاصه) تقسيم د سورت:

(اجمالی خلاصه)

سورت دوه حصی دے :

اوله حصه:

آیت ۱ نه تر آیت ۱۱۷ پوري ، په دیکښې رد د شرک اعتقادي کوي .

دويمه حصه:

آیت ۱۱۸ نه تر آخره پوري ، په دیکښې رد د شرک فعلي کوي .

تفصيلي خلاصه:

سورت دوه حصی دے:

اوله حصه:

کښې ۱۱۷ آیتونه دي ، په دیکښې رد د شرک اعتقادي دے مکمل طور باندي یعني د شرک اعتقادي څلور قسمونه (شرک في العلم، في التصرف ،فی الدعاء ، في العبادة) رد کوي .

(۱) رد د شرک في العلم :، آیت ۳ ، ۵۰ ، ۵۹ ، ۷۳ ، ۸۰ کښې.

(۲) رد د شرک في التصرف :. آیت۱۲ ، ۱۳ ، ۱۷ ، ٤٦ ، ۵۷ تا ۵۸ او آیت ٦۲ کښې.

(۳) رد د شرک في الدعاء :، آیت ٤۰ تا ٤۱ ، ٦۳ تا ۷۱ کښې.

(٤) رد د شرک في العبادة :. آیت۵٦ ، ۱۰۲ ، ۱٦۲ تا ۱٦۳ .

دا رنګه په څلور قسمه مشرکینو باندي رد کوي .

(۱) مشرکین بالعباد الصالحین. (۲) مشرکین بالملائکة (۳) مشرکین بالجن (٤) مشرکین بالکواکب .

(۱) رد په مشرکین بالعباد الصالحین: آیت ۷٤ کښې.

دويمه حصه:

د آيت ۱۱۸ نه تر آخره پوري ، په ديکښې ۱٤۸ آيتونه دي ، په ديکښې رد د شرک فعلي کوي :

رد په تحريمات العباد : آيت ۱۱۸ ، ۱۱۹، ۱۳٦ تا ۱۳۹ ، ۱٤۱، ۱٤۲ ، ۱٤٥ ، ۱٤۸ ، ۱٥۰ ، کښې .

رد په نذور العباد: آيت ۱۱۹ ، ۱۲۱ ، ۱۳٦ ، ۱۳۷ کښې .

دارنګه ۱۱ ځله دعوی د توحيد په دي سورت کښې ذکر کوي : آيت ۱ ، ۱۷ ، ۱۹ ، ٤٥ ، ۱۰۰ ، ۱۰۲ ، ۱۰٦ ، ۱٥۱، ۱٦۲ ، ۱٦۳ ، ۱٦٤ کښې.

پنځه ويشت (۲٥) ادله عقليه په اثبات د توحيد باندي : آيت ۱: ، ۲ ، ۳ ، ۱۲ ، ۱۳، ۱٤ ، ۱۸ ، ۳۸ ، ٤۰ ، ٤٦ ، ٤۷ ، ٥۹ ، ٦۰ ، ٦۱ ، ٦۳ ، ٦٥ ، ۷۳ ، ۹٥ ، ۹٦ ، ۹۷ ، ۹۸ ، ۹۹ ، ۱۰۱ ، ۱٤۱ ، ۱٤٤ کښې ذکر کوي .

دارنګه قل ، قالوا سره تقريباً ٦۳ اعتراضونه او د هغي جوابونه ذ کر کوي ، د نبي ﷺ عمر هم ٦۳ کاله وو ، بطور نمونه يو څو آيتونه پيش کوو ، آيت ۷ ، ۸ ، ۱٥ ، ۲٥ ، ۲۹ ، ۳۳ ، ۳۷ ، ٦٦ وغيره .

دارنګه دي سورت کښې شپږ امتحانات ذکر کوي چې هغي ته مونږ عقبات سته وايو .

شپږ امتحانات عقبات سته:

اوله عقبه : آيت ٥۳ کښې : ﴿أَهَٰؤُلَاءِ مَنَّ اللَّهُ عَلَيْهِم مِّن بَيْنِنَا﴾ تا ته به وائي (چه کله ته مسئله د توحيد بيان کړي) دا مسئله فلانکی مولوي صاحب ، فلانکی اخون زاده صاحب وغيره نه ده کړي او ته ئې کوي .

جواب :﴿أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَعْلَمَ بِالشَّاكِرِينَ﴾

حاصل د جواب : چې زه د به الله شکر ګزاریم چې ما نه د توحید خدمت اخلي او دا ته چې څوک یادَوي نو هغوی به د الله شکر ګزار نه وي .

دويمه عقبه : آيت ٥٥ کښې کله چې ته بله ورځ مسئله د توحيد بيان کړې نو تاته به وائي چر ته بله مسئله در له بغير د توحيد نه درځي او که نه ؟

جواب : ﴿وَ كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ وَلِتَسْتَبِيْنَ سَبِيْلُ الْمُجْرِمِيْنَ﴾

حاصل د جواب : چې دا مسئله بيا بيا ځکه بيانوم چې چا باندې بده لګی چې هغوی ښکاره شي ، په تا خو بده نه لګی ؟ نو دے به وائي چې نه .

دريمه عقبه : آيت ١٠٥ کښې بيا کله چې مسئله بيانوي نو دے به تاته وائي چې ستا اُستاذ څوک دے دا مسئله دِ چا نه زده کړي ده (ممن تعلمت) ؟ نو چې ته وائي فلانکے نو دے به وائي هغه شري هغه فسادي وغيره هغه ستا اُستاذ دے ، نو ته به وائي چې زما اُستاذ پريږده (ځکه مقصد د ده به شر جوړول وي) زه چې درته کومه مسئله کوم هغه الله تعالٰی قرآن کښې ذکر کوي ، وريسې آيت ١٠٦ : ﴿اِتَّبِعْ مَاۤ اُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ۚ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ﴾ (زيات تفصيل د عقباتو تنوير کښې دے)

څلورمه عقبه : آيت ١١٢ کښې علماء سوء (ناکاره مُليان) به د اطرافونه راجمع شي او باطل دلائل به د کتابونو نه پيش کوي ، فلانکی کتاب کښې ئي ليکلی دي : { و لو نملة سوداء في ليلة ظلماء على صخرة سحماء وراء جبل کهف و علمت بها لتفطرت مرارتي﴾ ، وغيره وغيره .

پير صاحب وائي که تور ميږے په توره شپه کښې په توره ګټه باندې د کوه کهف نه اخوا روان وي او زه پرې پوهه نه شم نو زما سکي (کليجه) به ويلي شي .

ستا جواب : آیت ۱۱٤ ، ۱۱۵ ﴿اَفَغَيۡرَ اللّٰهِ اَبۡتَغِيۡ حَكَمًا﴾ ته به د دوی د یو یو خبري جواب د قرآن نه کوي .

پنځمه عقبه : آیت ۱۲۳ کښې کله چې په مناظرو باندې کار د دوی (علماء سوء) اونه شي ، نو دوی به ناکاره پیران او مریدان تا ته اولمسوي او تا ته به ئي جنګ د پاره تیزوي ، ستا خلاف به رپوټونه اوشي .

شپږمه عقبه : آیت ۱۲۹ کښې کله چې په دغه (رپورټونو) هم کار اونه شي نو دوی (ناکاره ملیان او پیران)به ستا د قتل منصوبه جوړوي . ستا تقریر آیت ۱۳۵ کښې . ته به ثابت قدم اوسې الله به ستا امداد کوي .

دا آخري امتحان دے دینه پس به خوشحالي وي .

سورة الاعراف مكية

نزولاً ۳۹ بعد ص — مصحفاً ۷ بعد الأنعام

«ربط د ما سبق سره»

(۱) ما قبل کښې مسئله د توحید په ادلو عقلیو ثابته شوه نو دلته مسئله د توحید په ادلو نقلیو باندې ثابتوي .

(۲) ما قبل کښې ئي دواړه اقسام د شرک (اعتقادي ، فعلي) رد کړل هلته اول رد د شرک اعتقادي بیا رد د شرک فعلي وو نو دلته دغه دواړه قسمه شرک په عکس د ما سبق رد کوي .

(۳) سورت أنعام کښې مسئله د توحید په ادله عقلیه باندې ثابته شوه نو دلته انجام د هغه چا ذکر کوي چې مسئلې د توحید نه انکار کوي .

(٤) سورت أنعام کښې عقبات سته بیان شو نو دلته ئي نموني ذکر کوي .

(٥) ما قبل كښې ئې توقي د مشركينو ذكر كړے وي د نبي عليه السلام پوري نو دلته نبي عليه السلام ته تسلي وركوي .
(٦) ما قبل كښې ئې د مشركينو انكار ذكر كړي وو نو دلته نموني ذكر كوي .
(٧) ما قبل كښې د مشركينو انكار ذكر شو نو دلته انجام د مشركينو ذكر كوي.
(٨) ما قبل آيت ٤٨ كښې ئې ذكر كړي وو : ﴿وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِيْنَ اِلَّا مُبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ﴾ نو دلته آيت ٣٥ كښې په هغې باندي زيادت او ترقي ده : ﴿يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ اِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ﴾ .
(٩) ما قبل آيت ٩٢ كښې حكمت د نزول د قرآن ذكر شو نو دلته آيت ٢ كښې هم دغه مضمون ذكر كوي .
(١٠) ما قبل آيت٦ كښې تخويف دنيوي ذكر شو نو دلته آيت ٤ كښې هم تخويف دنيوي ذكر كوي .
(١١) ما قبل آيت ١٢ كښې اثبات د قيامت اوشو نو دلته آيت ٩ كښې هم اثبات د قيامت كوي .
(١٢) ما قبل آيت ٦ كښې ئې وئيلي وو مونږ ځوانو له طاقت وركړے وو نو دلته آيت ١٠ كښې وائي چې تاسو له م طاقت دركړے دے .
(١٣) ما قبل آيت ١٥٥ كښې ئې حكم كړے وو چې د قرآن تابعداري اوكړئ نو دلته آيت ٣ كښې هم دغه حكم ذكر كوي .
(١٤) ما قبل آيت ١٤٤ كښې ئې وئيلي وو : ﴿فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا﴾ نو دلته آيت ٣٧ كښې په هغې باندي زيادت كوي : ﴿فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِه﴾ .
(١٥) ما قبل آيت ٨١ كښې ئې وئيلي وو چې مشرك سره په شرك باندي څه دليل نشته نو دلته آيت ٧١ كښې هم دغه خبره ذكر كوي په ترقي سره د ما سبق نه .

(١٦) ما قبل آيت ٤٥ كښې ئې وئيلي وو: ﴿فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا﴾ يعني ظالمان تباه شو نو دلته آيت ٧٢ كښې وائي چا چې زمونږ په آيتونو دروغ وئيل نو هغه هم تباه شو : ﴿وَقَطَعْنَا دَابِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا﴾ .

(١٧) ما قبل آيت ٤٢ كښې ئې وئيلي وو : ﴿وَلَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰٓى اُمَمٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَاَخَذْنٰهُمْ بِالْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُوْنَ ۝٤٢﴾ نو دلته آيت ٩٤ كښې هم دغه مضمون ذكر كوي .

(١٨) ما قبل كښې مسئله د توحيد بيان شوه نو دلته د منكرينو ددي مسئلي كوي .

(١٩) ما قبل آخري آيت كښې ئې وئيلي وو : ﴿اِنَّ رَبَّكَ سَرِيْعُ الْعِقَابِ وَاِنَّهٗ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ﴾ نو دلته ئې امثله ذكر كوي .

(٢٠) ما قبل آيت ١٢ كښې : ﴿كَتَبَ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ﴾ ذكر شو نو دلته د الله تعالیٰ د مهربانو نمو ني ذكر كوي .

(٢١) ما قبل آيت ١٥٣ كښې ذكر شو : ﴿وَاَنَّ هٰذَا صِرَاطِيْ مُسْتَقِيْمًا فَاتَّبِعُوْهُ﴾ نو دلته آيت ١٦ كښې وائي چې شيطان به تا ديته نه پريږدي .

(٢٢) ما قبل آيت ١٦٠ كښې ذكر شو : ﴿مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ عَشْرُ اَمْثَالِهَا﴾ نو دلته آيت٨ كښې وائي : ﴿وَالْوَزْنُ يَوْمَىِٕذِ الْحَقُّ﴾

(٢٣) ما قبل كښې د موسىٰ عليه السلام او د لوط عليه السلام اجمالاً بيان اوشو نو دلته ئې تفصيلي بيان كوي .

(٢٤) ما قبل آيت ٧٥ كښې ئې وئيلي وو چې ما ابراهيم عليه السلام ته دلائل د بادشاهی د آسمانونو او زمكو ښودلي وو نو دلته آيت ١٧٥ كښې وائي : ﴿اَوَلَمْ يَنْظُرُوْا فِيْ مَلَكُوْتِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾ دا خلق په دغه دلائلو كښې ولے سوچ نه كوي .

(۲۵) ما قبل آیت ۱٦٤ کښې ئې ذکر کړي وو : ﴿قُلْ اَغَيْرَ اللّٰهِ اَبْغِيْ رَبًّا﴾ یعنی د الله تعالیٰ نه بغیر بل رب نشته نو دلته آیت ۱٤۰ کښې وائي : ﴿اَغَيْرَ اللّٰهِ اَبْغِيْكُمْ اِلٰهًا﴾ د الله تعالیٰ نه بغیر بل اله (حاجت روا) نشته .

(۲٦) ما قبل آیت ۷۰ کښې ئې نفي د شفیع قهری کړي وه نو دلته آیت ۵۳ کښې ذکر کوي چې دوی (مشرکین) به وائي : ﴿فَهَلْ لَّنَا مِنْ شُفَعَآءَ فَيَشْفَعُوْا لَنَآ﴾ .

(۲۷) ما قبل آیت ۱۳۰ کښې ئې ذکر کړل چې کافران به خپله ځان باندي د کفر ګواهی کوي نو دلته آیت ۳۷ کښې هم دغه خبره ذکر کوي .

(۲۸) ما قبل آیت ۹۰ کښې ئې اوئیل : ﴿قُلْ لَّآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا﴾ زه ستاسونه په دعوت او تبلیغ باندي هیڅ اجر نه غواړم نو دلته آیت ۱۷٦ کښې مثال د هغه چا ذکر کوي چې دنیا ته میلان اوکړو .

(۲۹) ما قبل آیت ٤۵ کښې ئې ذکر کړل : ﴿فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا﴾ نو سورت اعراف کښې د هغه تباه شوو مثالونه ذکر کوي .

(۳۰) ما قبل آیت ٦۳ کښې ذکر شو : ﴿تَدْعُوْنَهٗ تَضَرُّعًا وَّ خُفْيَةً﴾ نو دلته په هغې باندي ترقي ده .

(۳۱) ما قبل کښې د ابراهیم عليه السلام واقعه تفصیلي ذکر شوه بطور دلیل نقلي نو دلته ٤ واقعات د انبیاء علیهم السلام تفصیلي ذکر کوي .

(۳۲) ما قبل آیت ۱ کښې ذکر شو : ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ﴾ نو دلته آیت ٥٤ کښې په هغې باندي ترقي ده : ﴿الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ﴾ .

(۳۳) ما قبل آیت ۱۵۲ کښې ئې ذکر کړل : ﴿لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا﴾ نو دلته آیت ٤۲ کښې هم دغه مضمون ذکر کوي .

(٣٤) ما قبل آیت ۱۱۰ کښې ذکر شو : ﴿وَنَذَرُهُمْ فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ﴾ نو دلته آيت ۱۸۶ کښې هم دغه خبره ذکر کوي .

(٣٥) ما قبل آیت ۱۵۳ کښې ترغیب الی القرآن وو نو دلته آیت ۲ کښې هم ترغیب الی القرآن ذکر کوي .

(٣٦) ما قبل آیت۳ کښې ئي اوئیل : ﴿يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَ جَهْرَكُمْ وَ يَعْلَمُ مَا تَكْسِبُوْنَ﴾ يعني عالم الغيب الله رب العزت دے نو دلته آیت ۱۸۸ کښې نفي د علم غیب کوي د نبي عليه السلام نه ، چې آخري پيغمبر عالم الغیب نه دے نو بل څوک خو بطريقه اولی سره نه شي کیدے .

(٣٧) ما قبل آيت ٤ کښې ئي اوئیل : ﴿وَمَا تَأْتِيْهِمْ مِّنْ اٰيَةٍ مِّنْ اٰيٰتِ رَبِّهِمْ اِلَّا كَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ﴾ نو دلته آیت ۷۳ کښې واقعه د قوم صالح عليه السلام بطور مثال ذکر کوي .

(٣٨) ما قبل آیت ۱۹ کښې ئي اوئیل : ﴿وَاُوْحِيَ اِلَيَّ هٰذَا الْقُرْاٰنُ لِاُنْذِرَكُمْ بِهٖ وَمَنْۢ بَلَغَ﴾ نو دلته آیت ۲ کښې وائي : ﴿لِتُنْذِرَ بِهٖ وَذِكْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ﴾ .

(٣٩) ما قبل آیت ٦ کښې ئي اوئیل : ﴿فَاَهْلَكْنٰهُمْ بِذُنُوْبِهِمْ﴾ نو دلته د هلاک شوو خلقو تفصیل کوي.

(٤٠) ما قبل آیت ۱۰٦ کښې ئي اوئیل : ﴿اِتَّبِعْ مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ﴾ نو دلته آيت ۳ کښې وائي : ﴿اِتَّبِعُوْا مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ﴾ ترقي علی ما سبق ده .

(٤١) ما قبل آیت ۹ کښې نبي عليه السلام ته تسلي وه نو دلته به دي باندي تفصيلي واقعه د موسٰی عليه السلام ذکر کوي ، چې هغهٔ زړه نه وو تنګ کړے نو ته به زړه نه تنګوي.

(٤٢) ما قبل آيت ١٨ كښې ئي اوئيل : ﴿وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهٖ﴾ نو دلته ئي مختلفي نموني ذكر كوي اوكوره چا چې د انبياء عليهم السلام خلاف كړے وو نو هغوي ئي تباه كړل اګر كه طاقتور ئي ځان ته وئيل .

(٤٣) ما قبل آيت ١٥٥ كښې ئي اوئيل : ﴿وَهٰذَا كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ فَاتَّبِعُوْهُ وَاتَّقُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ﴾ يعني قرآن د بركت كتاب دے نو دلته آيت ٢٠٤ كښې وائي (د بركت دي كتاب ته) غوږ كيږدئ او چپ شئ.

(٤٤) ما قبل آيت ٣٢ كښې ئي اوئيل : ﴿وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ﴾ يعني د دنيا نه ئي بے رغبتي وركړي وه نو دلته وائي چا چې دين پريخودۀ او دنيا پسي شو نو مثال ئي د سپي دے : ﴿فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ الْكَلْبِ﴾ .

(٤٥) ما قبل آيت ١١ كښې ئي اوئيل چې شيطانان خپلو دوستانو ته وسوسي اچوي نو دلته آيت ٢٠ كښې وائي چې صرف دا نه بلكه د الله دوستانو ته هم وسوسي اچوي .

(٤٦) ما قبل آيت١٤٣ كښې ئي اوئيل : ﴿اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ﴾ دا شيطان ستاسو ښكاره دشمن دے نو دلته آيت ٢٢ كښې وائي ستاسو د نيا او نيكه هم دشمن وو : ﴿اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمَا عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ﴾ .

(٤٧) ما قبل آيت ١٧ كښې ئي اوئيل : ﴿وَاِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗٓ اِلَّا هُوَ﴾ نو دلته آيت ١٨٠ كښې وائي د الله تعالیٰ ښائسته نومونه دي نو په هغي تري نه دعا غواړه نو مصيبت او تكليف به درنه لري كړي : ﴿وَلِلّٰهِ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى فَادْعُوْهُ بِهَا﴾ .

(٤٨) ما قبل آیت ۹۰ کښې ئې اوئيل : ﴿قُلْ لَّآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا﴾ نو دلته په دي باندي واقعات د انبياء عليهم السلام ذكر كوي چې هغوي هم دين دغه شان (بغير د اجر و عوض نه) بيان كړے وو.

(٤٩) ما قبل آيت ۱۰۷ كښې ئې مسئله د توحيد په عنوان د اله ذكر كړي وه : ﴿لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ﴾ نو دلته آيت ٥٤ كښې مسئله د توحيد ذكر كوي په عنوان د بركت سره : ﴿ تَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴾ .

(٥٠) ما قبل آيت٨٥ كښې ئې اوئيل انبياء عليهم السلام ټول نيكان وو نو دلته آيت ١٩٤ كښې وائي : ﴿وَ هُوَ يَتَوَلَّى الصّٰلِحِيْنَ﴾الله تعالٰى د نيكانو خلقو سره دوستي كوي .

(٥١) ما قبل آيت۹۲ كښې ترغيب الى القرآن وو : ﴿وَ هٰذَا كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ﴾نو دلته آيت ١٧٥ كښې وائي چا چې د الله كتاب پريخودے دے نو شيطان وريسي لګيدلے دے او ګمراه كړے ئې دے .

(٥٢) ما قبل آيت ٤٨ كښې ئې اوئيل : ﴿فَمَنْ اٰمَنَ وَ اَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَ لَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ﴾نو دلته آيت ١٧٠ كښې وائي : ﴿اِنَّا لَا نُضِيْعُ اَجْرَ الْمُصْلِحِيْنَ﴾ څوك چې خپل عمل درست (صحيح) كوي نو الله ئې اجر نه ضائع كوي .

(٥٣) ما قبل آيت ٣٥ كښې ئې اوئيل : ﴿ فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ ﴾نو دلته آيت ١٩٩ كښې ترقي ده په ماسبق باندي : ﴿وَ اَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِيْنَ﴾.

(٥٤) ما قبل آيت١٠٦ كښې ئې اوئيل : ﴿وَ اَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ﴾.نو دلته آيت ١٩٩ كښې وائي :.﴿وَ اَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِيْنَ﴾.

(٥٥) ما قبل آيت ٢٩ كښې ئې د كافرو قول ذكر كړے وو :﴿ وَ مَا نَحْنُ بِمَبْعُوْثِيْنَ ﴾ نو دلته آيت ٥٧ كښې مثال سره اثبات د قيامت كوي :﴿كَذٰلِكَ نُخْرِجُ الْمَوْتٰى ﴾.

(۵۶) ما قبل آیت ۱۴۷ کښې ئي اوئيل : ﴿رَبُّكُمْ ذُوْ رَحْمَةٍ وَّاسِعَةٍ﴾ نو دلته آیت ۱۵۶ کښې ترقي ده على ماسبق : ﴿وَرَحْمَتِيْ وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ﴾ .

(۵۷) ما قبل آیت ۱ کښې ئي اوئيل : ﴿الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ﴾ نو دلته آیت ۵۸ کښې وائي زمکه په اعتبار د زرغنو سره په دوه قسمه ده : (۱) ﴿وَالْبَلَدُ الطَّيِّبُ﴾ (ښه زمکه) (۲) ﴿وَالَّذِيْ خَبُثَ﴾ (خوره ناکه زمکه) .

(۵۸) ما قبل آیت ۴۸ کښې بشارت وو : ﴿فَمَنْ آمَنَ وَاَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ﴾ نو دلته آیت ۳۵ کښې هم بشارت ورکوي : ﴿فَمَنِ اتَّقٰى وَاَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ﴾ .

(۵۹) ما قبل آیت ۴۹ کښې تخویف اخروي وو مکذبينو د قرآن ته نو دلته آیت ۳۶ کښې هم دوی ته تخويف ورکوي په ترقی سره د ما سبق نه .

(۶۰) ما قبل آیت ۲۵ کښې ئی اوئیل : ﴿وَاِنْ يَّرَوْا كُلَّ آيَةٍ لَّا يُؤْمِنُوْا بِهَا﴾ ته نو دلته آیت ۱۰۷ کښې وائي اوکوره موسٰی علیه السلام فرعون ته معجزی پیش کړي نو هغه تري نه انکار اوکړو .

امتیازات:

(۱) دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په تفصيلي واقعه د حضرت آدم علیه السلام او د ابليس باندي .

(۲) په بیان د حالت د اعراف والؤ باندي .

(۳) په بیان د تفصيلي واقعي د موسٰی علیه السلام باندي .

(۴) په بیان د هغه وختونو چې اکثر قومونه پکښې تباه شوي دي .

(۵) په بیان د محرمات خمسۇ باندي ، آیت ۳۳.

(۶) په بیان د مقصد د لباس باندي ، آیت ۲۶.

(۷) په بیان د تفصيلي حالت د اصحاب السبت باندي .

(٨) په بيان د هغه قوانينو باندي چې پهٔ هغي تڪميل د انسان راځي.

(٩) په مثال د خواهش پرست او دنيا پرست ملا باندي، آيت ١٧٦.

(١٠) په بيان د ٣ ډلو د بنى اسرائيلو باندي : (١) نافرمان. (٢) منع كونكى د ګناه نه. (٣) چپ پاتى كيدونكي.

(١١) په ذكر د غضب او ذلت باندي د پاره د عبادت كونكو د سخي.

(١٢) په تجلى كولو باندي د رب العرت غرته : ﴿فَلَمَّا تَجَلَّى رَبُّه للجبلِ﴾.

(١٣) په بيان د نهو معجزاتو باندي يو آيت كښي.

(١٤) په بيان ددولسو نمونو د عذاب باندي.

(١٥) په ذكر د : ﴿الٓمٓصٓ﴾ باندي، آيت ١.

(١٦) نبي الطَيْقَلاتَه تسلى وركولو باندي په دي الفاظو سره : ﴿فَلَا يَكُنْ فِي صَدْرِكَ حَرَجٌ مِّنْهُ﴾، آيت ٢.

(١٧) په رټلو د شيطان په دي الفاظو : ﴿فَمَا يَكُونُ لَكَ أَنْ تَتَكَبَّرَ فِيهَا﴾، آيت١٣.

(١٨) په دي خبره د شيطان :﴿لَأَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيمَ﴾باندي،آيت ١٦.

(١٩) په قول د شيطان چې دي خلقوته به دهر طرف نه راځم، آيت ١٧.

(٢٠) په : ﴿وَقَاسَمَهُمَا إِنِّي لَكُمَا لَمِنَ النَّاصِحِينَ﴾، آيت ٢١.

(٢١) په : ﴿وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَرَقِ الْجَنَّةِ﴾، آيت ٢٢.

(٢٢) په قول د الله تعالى، آد م الطَيْقَلاو د هغه بي بي ته : ﴿أَلَمْ أَنْهَكُمَا عَنْ تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ﴾، آيت ٢٢.

(٢٣) په دعا د آد م الطَيْقَلاو د هغه د بي بي باندي، آيت ٢٣.

(٢٤) په بيان د دوو/٢ فائدو د لباس باندي، آيت ٢٦.

(٢٥) په قول د الله تعالى :﴿إِنَّهُ يَرَاكُمْ هُوَ وَقَبِيلُهُ مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ﴾،آيت ٢٧.

(۲٦) په قول د الله تعالى : ﴿يٰبَنِيْ اٰدَمَ خُذُوْا زِيْنَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ﴾ ، آيت ۳۱.

(۲۷) په قول د الله تعالى : ﴿قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِيْنَةَ اللّٰهِ الَّتِيْٓ اَخْرَجَ لِعِبَادِهٖ﴾ ، آيت ۳۲.

(۲۸) په لعنت وئيلو دجهنميانو په به خپل ملګرو باندي : ﴿كُلَّمَا دَخَلَتْ اُمَّةٌ لَّعَنَتْ اُخْتَهَا﴾ ، آيت ۳۸.

(۲۹) په قول د الله تعالى : ﴿لِكُلٍّ ضِعْفٌ وَّلٰكِنْ لَّا تَعْلَمُوْنَ﴾ ، آيت ۳۸.

(۳۰) په قول د الله تعالى : ﴿وَلَا يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ حَتّٰى يَلِجَ الْجَمَلُ فِيْ سَمِّ الْخِيَاطِ﴾ ، آيت ٤٠.

(۳۱) په قول د الله تعالى : ﴿لَهُمْ مِّنْ جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَّمِنْ فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ﴾ ، آيت ٤١.

(۳۲) په قول د الله تعالى:﴿فَاَذَّنَ مُؤَذِّنٌۢ بَيْنَهُمْ اَنْ لَّعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الظّٰلِمِيْنَ﴾،آيت ٤٤.

(۳۳) په دعاء د اعراف والو : ﴿رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ﴾ ، آيت ٤٧ .

(۳٤) په وينا د جهنميانو جنتيانو ته : ﴿اَنْ اَفِيْضُوْا عَلَيْنَا مِنَ الْمَآءِ اَوْ مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ﴾ ، آيت ٥٠ .

(۳٥) په جواب د جنتيانو جهنميانو ته :﴿اِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَهُمَا عَلَى الْكٰفِرِيْنَ﴾ ، آيت٥٠.

(۳٦) په ذكر د لفظ د ' حَثِيْثًا ' باندي ، آيت ٥٤ : ﴿ يَطْلُبُهٗ حَثِيْثًا﴾.

(۳۷) په قول د الله تعالى : ﴿اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً﴾ ، آيت ٥٥.

(۳۸) په دي جملې باندي : ﴿وَلَا تُفْسِدُوْا فِى الْاَرْضِ بَعْدَ اِصْلَاحِهَا﴾ دوه ځله آيت ٥٦ ، آيت ٧٥ .

(۳۹) په قول د هود عليه السلام باندي : ﴿وَاَنَا لَكُمْ نَاصِحٌ اَمِيْنٌ﴾ ، آيت ٦٨.

(٤٠) په قول د هود عليه السلام باندي : ﴿قَالَ قَدْ وَقَعَ عَلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ رِجْسٌ وَّغَضَبٌ﴾ ، آيت ٧١.

(٤١) په قول د كافرو باندي : ﴿اَتَعْلَمُوْنَ اَنَّ صٰلِحًا مُّرْسَلٌ مِّنْ رَّبِّهٖ﴾ ، آيت ٧٥.

(٤٢) په قول د لوط عليه السلام باندي : ﴿أَتَأْتُونَ الْفَاحِشَةَ مَا سَبَقَكُمْ بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ﴾ ، آيت ٨٠.

(٤٣) په قول د لوط عليه السلام باندي : ﴿إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الرِّجَالَ شَهْوَةً مِّنْ دُوْنِ النِّسَآءِ﴾ ، آيت ٨١.

(٤٤) په جواب د قوم د لوط عليه السلام باندي : ﴿أَخْرِجُوْهُمْ مِّنْ قَرْيَتِكُمْ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَّتَطَهَّرُوْنَ﴾ ، آيت ٨٢ .

(٤٥) په دعا د شعيب عليه السلام باندي : ﴿رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَأَنْتَ خَيْرُ الْفٰتِحِيْنَ﴾ ، آيت ٨٩.

(٤٦) په قول د قوم د موسٰى عليه السلام باندي : ﴿أُوْذِيْنَا مِنْ قَبْلِ أَنْ تَأْتِيَنَا وَمِنْ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا﴾ ، آيت ١٢٩.

(٤٧) په قول د الله تعالٰى باندي : ﴿وَلَقَدْ أَخَذْنَا آلَ فِرْعَوْنَ بِالسِّنِيْنَ وَنَقْصٍ مِّنَ الثَّمَرٰتِ﴾ ، آيت ١٣٠.

(٤٨) په ذكر د قمل او ضفادع باندي ، آيت ١٣٣.

(٤٩) په قول د بنى اسرائيلو موسٰى عليه السلام ته : ﴿قَالُوْا يٰمُوْسَى اجْعَلْ لَّنَا إِلٰهًا كَمَا لَهُمْ اٰلِهَةٌ﴾ ، آيت ١٣٨.

(٥٠) په قول د موسٰى عليه السلام هارون عليه السلام ته : ﴿اخْلُفْنِيْ فِيْ قَوْمِيْ وَأَصْلِحْ وَلَا تَتَّبِعْ سَبِيْلَ الْمُفْسِدِيْنَ﴾ ، آيت ١٤٢.

(٥١) په قول د الله رب العزت باندي : ﴿وَخَرَّ مُوْسٰى صَعِقًا﴾ ، آيت ١٤٣.

(٥٢) په قول د الله تعالٰى چې متكبرينو له د قرآن علم نه وركوم : ﴿سَأَصْرِفُ عَنْ اٰيٰتِيَ الَّذِيْنَ يَتَكَبَّرُوْنَ فِي الْأَرْضِ﴾ ، آيت ١٤٦ .

(٥٣) په قول د الله تعالى : ﴿وَاخْتَارَ مُوْسٰى قَوْمَهٗ سَبْعِيْنَ رَجُلًا لِّمِيْقَاتِنَا﴾ ، آيت ١٥٥.

(٥٤) په توصيف د نبي عليه السلام په دي الفاظو سره : ﴿الرَّسُوْلَ النَّبِيَّ الْأُمِّيَّ﴾، آيت ١٥٧.

(٥٥) په ذكر د : ﴿فَانْۢبَجَسَتْ﴾ باندي په واقعه د موسٰى عليه السلام كښې آيت ١٦٠ .

(٥٦) په قول د بنى اسرائيلو (يهودو) باندي : ﴿سَيُغْفَرُ لَنَا﴾ ، آيت ١٦٩.

(٥٧) په ذكر د دوه قسمونو د زمكي باندي : ﴿وَالْبَلَدُ الطَّيِّبُ﴾ (ښه زمكه) . (٢) ﴿وَالَّذِيْ خَبُثَ﴾ (خوره ناكه زمكه) .

(٥٨) په قول د الله تعالٰى باندي : ﴿اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ﴾ ، آيت ١٧٢.

(٥٩) په قول د الله تعالٰى باندي : ﴿وَهُوَ يَتَوَلَّى الصّٰلِحِيْنَ﴾ آيت ١٩٦.

(٦٠) په حكم د غوږ كيخودلو او چپ كيناستلو باندي قرآن كريم ته : ﴿وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَاَنْصِتُوْا﴾ آيت ٢٠٤.

دعوى:

(١) نفي الشرك الفعلي والاعتقادي بالادلة النقلية.

(٢) الترغيب الى ما انزل الله والتحضيض في التبليغ.

(٣) التسلي للرسول صلى الله عليه و سلم .

بالفاظ ديګر

دي سورت كښې دري مسئلي بيانوي .

(١) تسلي نبي عليه السلام ته (٢) اتباع د ما انزل (٣) بيان د توحيد او رد د شرك .

خلاصه:

سورة الاعراف كښې دري مسئلي ذكر كوي .

(١) تسلي : ماخذ آيت ٢.

(٢) اتباع د ما انزل : ماخذ آيت ٣

(۳) بيان د توحيد او رد د شرک : ماخذ آيت ۲۹.

په دي دري وارو مسئلو باندي واقعات په طريقى د لف نشر غير مرتب ذکر کوي

په ړومبنۍ مسئله (تسلی) باندي د تو لو نه روستو واقعه د موسٰیؑ ذکر کوي آيت ۱۰۳

په دويمي مسئلي (اتباع د ما انزل) باندي، آيت ۱۰۳.

د ټولو نه مخکښې واقعه د ابليس (شيطان) ذکر کوي آيت ۱۱ چې او ګوره شيطان اتباع د ما انزل اونۀ کړه نو ذليل او رسوا شو. او په دريمے مسئلي باندي په مينځ د سورت کښې ګڼړ واقعات د انبياء عليهم السلام ذکر کوي (د نوحؑ، د هودؑ، د صالحؑ، د شعيبؑ).

(۱) واقعه د نوحؑ آيت ۵۹.

(٤) واقعه د شعيبؑ آيت ۸۵.

(۲) واقعه د هودؑ آيت ٦٥.

(۳) واقعه د صالحؑ آيت ۷۳.

دے ټولو انبياء عليهم السلام بيان د توحيد او رد د شرک کړے وو: ﴿يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ﴾(بيان د توحيد) ﴿مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ﴾(رد د شرک) نو ستا به هم دغه ذمه داري وي.

سورة الانفال مدنية

نزولاً ۸۸ بعد البقرة مصحفاً ۸ بعد الاعراف

«ربط د ما سبق سره»

(۱) ما قبل آیت ۷۲ کښې ئې د پخوانو کافرو حالت ذکر کړے وو : ﴿وَقَطَعْنَا دَابِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا﴾ نو دلته آیت ۷ کښې د نبی ﷺ د زماني د کافرو حالت ذکر کوي : ﴿وَيَقْطَعَ دَابِرَ الْكٰفِرِيْنَ﴾.

(۲) ما قبل آیت ۹۵ کښې ئې اوئیل : ﴿حَتّٰى عَفَوْا﴾ د دوی تعداد او مال زیات شو نو مست شو نو دلته آیت ۲۸ کښې وائي : ﴿وَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَآ اَمْوَالُكُمْ وَاَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ﴾.

(۳) ما قبل کښې توحید ثابت شو په ادلو باندي {اوس ئې هم چې څوک نه مني} نو دلته امر بالقتال دے ، جنګ ورسره اوکړئ .

(٤) ما قبل کښې مقابله باللسان {په ژبي مقابله } ذکر شوه نو دلته مقابله بالسيف {په توره مقابله} ذکر کوي.

(٥) ما قبل کښې ئې د بنی اسرائیلو تفرّق ذکر کړو نو دلته آیت ۱ کښې امت محمدیه ﷺ ته حکم کوي : ﴿اَصْلِحُوْا ذَاتَ بَيْنِكُمْ﴾ .

(٦) ما قبل آیت ۲۰٤ کښې مومنانو ته د قرآن د اوریدلو حکم اوشو نو دلته آیت ۲ کښې وائي : ﴿وَاِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ اٰيٰتُهٗ زَادَتْهُمْ اِيْمَانًا﴾ کله چې مومنانوته قرآن وئیلے شي نو د هغوی د ایمان اثر زیاتیږی .

(۷) ما قبل کښې مقاصد اربعه عالیه بیان شو نو دلته د جهاد شپږ قاعدي ذکر کوي ، په لفظ د : ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا﴾ سره .

(۸)ما قبل آخر کښې ئې دملائکو ۳ صفات ذکر کړل نو دلته ابتداء کښې ه صفتونه د مؤمنانو ذکر کوي .

(۹) ما قبل کښې شپږ واقعات د انبياء عليهم السلام ذکر شو نو دلته شپږ قاعدې د ميدان جنګ ذکر کوي .

(۱۰) ما قبل کښې ئې بيان د عقائدو اوکړو نو دلته بيان د احکامو کوي .

امتيازات:

(۱) دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په بيان د دريؤ ۳ اوامرو باندې مؤمنانو ته .

[۱] ﴿ فَاتَّقُوا اللّٰهَ ﴾ [۲] ﴿ وَاَصۡلِحُوۡا ذَاتَ بَيۡنِكُمۡ ﴾ [۳]﴿ اَطِيۡعُوا اللّٰهَ وَرَسُوۡلَهٗۤ ﴾ درې واړه يو آيت کښې ذکر کوي .

(۲) په بيان دهغه وعدې کومه چې الله تعالىٰ د نبيﷺ سره کړې وه : ﴿وَاِذۡ يَعِدُكُمُ اللّٰهُ اِحۡدَى الطَّآئِفَتَيۡنِ اَنَّهَا لَـكُمۡ﴾ آيت۷

(۳) په بيان د شپږو قاعدو د ميدان جنګ په لفظ د : ﴿ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا﴾ سره .

(٤) په مکر د کفارو باندې چې د نبي ﷺ خلاف ئې کړے وو آيت ۳۰ .

(٥) په بيان د دوؤ اسبابو د امن په زمانه د نبيﷺ کښې :

{۱} د نبي وجود {۲} استغفار آيت ۳۳ .

(٦) په بيان د مونځ د مشرکينو باندې : ﴿ وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمۡ عِنۡدَ الۡبَيۡتِ اِلَّا مُكَآءً وَّتَصۡدِيَةً ﴾ آيت ۳۵ .

(۷) په تقرير د نبي ﷺ باندې قيديانو ته ، آيت ۷۰ .

(۸) په حکم د تيارۍ کولو د پاره د مقابلے د کافرو : ﴿وَاَعِدُّوۡا لَهُمۡ مَّا اسۡتَطَعۡتُمۡ﴾ ، آيت ٦۰ .

(۹) په حکم د مال نفل باندي ، آیت ۱ .

(۱۰) په ذکر د : ﴿وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ رَمَىٰ﴾ ، آیت ۱۷.

دعوی:

الترغيب الى القتال في سبيل الله لدفع الشرک والقواعد الستة لها ، یعني د شرک ختمولو د پاره د الله تعالی په لاره کښې جهاد کولو ته ترغیب ورکوي او شپږ قاعدي د میدان جنګ ذکر کوي .

خلاصة:

ابتداء د سورت کښې دري۳ اوامر ذکر کوي:

[۱] ﴿فَاتَّقُوا اللَّهَ﴾. [۲] ﴿وَأَصْلِحُوا ذَاتَ بَيْنِكُمْ﴾. [۳] ﴿أَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ﴾.

بيا پنځه صفات د مؤمنانو ذکر کوي ، دينه پس شپږ قاعدي د میدان جنګ د پاره د مؤمنانو او اوومه قاعده امیر حرب د پاره ذکر کوي :

رومبنۍ قاعده : آیت ۱۵ کښې : ﴿فَلَا تُوَلُّوهُمُ الْأَدْبَارَ﴾ دشمن ته به شاه نه کرځوی.

دويمه قاعده : آیت ۲۰ کښې : ﴿أَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ﴾ د الله تعالی او پیغمبر عليه السلام تابعداري به کوی . .

دريمه قاعده : آیت ۲٤ کښې : که د خوشحالۍ ژوند غواړۍ نو د امیر خبره اومنۍ .

څلورمه قاعده : آیت ۲۷ کښې : خیانت او درغلی مه کوئ .

پنځمه قاعده : آیت ۲۹ کښې : مؤمنان به د الله نه يره کوي نو الله به ورله فتح ورکړي .

شپږمه قاعده : آیت ٤٥ کښې : مجاهدين به میدان جنګ کښې الله تعالی ډیر ډیر یادوي .

اوومه قاعده : آيت ۷۰ کښې : په لفظ د : ﴿يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ﴾امير جهاد به قيديانو ته په نرمي لهجې باندي تقرير کوي .

سورة التوبة مدنية

نزولاً ۱۱۳ بعد المائدة مصحفاً ۹ بعد الانفال

«ربط د ما سبق سره»

(۱) ما قبل کښې حکم د قتال ذکر شو نو دلته اقسام د مشرکينو ذکر کوي چې کومو سره جهاد صحيح او کومو سره صحيح نه دے .

(۲) ما قبل کښې تقسيم د غنائمو ذکر شو نو دلته تقسيم د صدقاتو ذکر کوي .

(۳) ما قبل آيت ۱ کښې ئې اوئيل : ﴿ وَأَصْلِحُوا ذَاتَ بَيْنِكُمْ﴾ نو دلته آيت ۱ کښې وائي چې کافرانو سره بائيکاټ اوکړئ .

(٤) ما قبل آيت ٦۰ کښې ئې اوئيل چې د کافرانو د مقابلې د پاره تيارے اوکړئ نو دلته هغه چا له زجر ورکوي چې جهاد له تيارے نه کوي .

(٥) ما قبل ٦۰ کښې نفي د علم غيب وه د مؤمنانو نه دلته د نبي عليه السلام نه نفي د علم غيب کوي .

(٦) ما قبل آيت ۳٥ کښې ئې اوئيل چې مشرکينو مونځونه سوررې او تانرې دي نو دلته آيت ۲۸ کښې وائي مشرکان پليت دي مسجد حرام ته دِ نه نزدې کيږي .

(۷) ما قبل کښې قوانين د جهاد ذکر شو نو دلته دهغه خلقو حالت ذکر کوي چې جهاد کښې سستي کوي .

(۸) ما قبل کښې د مشرکينو قبائح ذکر شو نو دلته قبائح د منافقينو ذکر کوي .

(۹) ما قبل آیت ۵۸ کښې ئې اوئیل : ﴿وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِن قَوْمٍ خِيَانَةً فَانبِذْ إِلَيْهِمْ عَلَىٰ سَوَاءٍ﴾ نو دلته آیت ۷ کښې وائي : ﴿ إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدتُّمْ عِندَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۖ فَمَا اسْتَقَامُوا لَكُمْ فَاسْتَقِيمُوا لَهُمْ ﴾چه دوی عهد نه ماتوي نو تاسو ئې هم مه ماتوئ .

(۱۰) ما قبل کښې قوانین د جهاد ذکر شو نو چونکه جهاد کښې د مال خرچ کولو ضرورت هم راځي نو دلته ترغیب الی الانفاق ورکوي.

(۱۱) ما قبل کښې ئې واقعه د جنګ بدر ذکرکړه نو دلته واقعه د جنګ حُنَین ذکر کوي .

(۱۲) ما قبل کښې ترغیب الی القتال وو نو دلته هم ترغیب الی القتال دے .

(۱۳) ما قبل کښې ئې اوئیل چې د کافرو سره جهاد اوکړئ نو دلته براءت ذکر کوي د کافرانو نه .

(۱٤) ما قبل کښې اوصاف د مؤمنانو ذکر شو نو دلته نور اوصاف د مؤمنانو ذکر کوي .

(۱۵) ما قبل کښې اوصاف د مؤمنانو ذکر شو نو دلته اوصاف د منافقانو ذکر کوي .

(۱٦) ما قبل آیت ۳۵ کښې ئې اوئیل د مشرک مونځ نه قبلیږی نو دلته آیت ۱۷ کښې وائي چې مشرکین دِ جماتونه نه جوړوي . داعمل ئې هم نه قبلیږی .

(۱۷) ما قبل کښې ئې ذکر د هغه چا اوکړو چې زړه کښې ئې مرض د منافقت وو نو دلته ئې تفصیل کوي .

(۱۸) ما قبل کښې ترغیب الی الجهاد وو چې جهاد اوکړئ نو جهاد به چا سره کوي ؟ نو دلته آیت ۲۹ کښې وائي : ﴿ قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ﴾ یعني کافرو سره جهاد اوکړئ .

(١٩) ما قبل آيت ٤٠ کښې ئې مؤمنانو ته تسلي ورکړې وه : ﴿وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ مَوْلٰىكُمْ﴾ نو دلته آيت ١٢٩ کښې نبي ﷺ ته تسلي ورکوي : ﴿ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ حَسْبِيَ اللّٰهُ﴾ .

(٢٠) ما قبل کښې ئې ترغيب ورکړو جهاد ته نو دلته آيت ١٢٠ کښې مقام د مجاهدينو ذکر کوي .

امتيازات:

(١) دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په بيان د تفصيلي حالت د څلور قسمه : {مشرکين ، منافقين ، اهل کتاب ، مؤمنين } خلقو باندي .

(٢) په اقسامو او احکامو د مشرکينو باندي .

(٣) په اعلان د براءت باندي د مشرکينو نه ، آيت ١ .

(٤) په بيان د کثرت اوصافو د منافقينو باندي .

(٥) په منع کولو باندي مشرکينو لره د جماتو نو جوړولو نه ، آى ١٧ .

(٦) په واقعي د جنګ حنين باندي : ﴿لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ فِيْ مَوَاطِنَ كَثِيْرَةٍ ۙ وَّيَوْمَ حُنَيْنٍ﴾ ، آيت ٢٥ .

(٧) په ذکر د مسجد ضرار باندي : ﴿وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مَسْجِدًا ضِرَارًا﴾ ، آيت١٠٧.

(٨) په بيان د تقسيم د صدقاتو باندي ، آيت ٦٠ .

(٩) په حکم د هغه کافر چي مستأمن وي ، آيت ٦ .

(١٠) په بيان د ډيرو تحضيضاتو د جهاد باندي .

(١١) په بيان د حج اکبر باندي ، آيت ٢ .

(١٢)په بيان د تعداد د مياشتو باندي ، آيت ٣٥ .

(١٣) په واقعي د نبي ﷺ او د ابو بکرصديق ﷛ باندي: ﴿اِذْ هُمَا فِي الْغَارِ اِذْ يَقُوْلُ لِصَاحِبِهٖ لَا تَحْزَنْ﴾،آيت ٤٠.

(١٤) په نه ليکلو د بسم الله په ابتداء کښې .

(١٥) په اوبو ورکولو د مشرکينو حاجيانوته : ﴿ اَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَآجِّ ﴾، آيت١٩.

(١٦) په حکم د نه کولو د جنازې په منافق باندې ،آيت ٨٤ .

(١٧) په حکم کولو د زده کړې د دين باندې ،آيت ١٢٢ .

(١٨) په بيان د هغه درې کسانو چې جهاد نه پاتې شوي وو: {١} کعب بن مالک {٢} مرارة بن ربيع ، (٣) هلال بن اميه .

(١٩) په قول د الله تعالى : ﴿ اِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ الْاَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَاْكُلُوْنَ اَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ﴾، آيت ٣٤ .

(٢٠) په حکم د جنګ کولو د نزدې کافرو سره : ﴿قَاتِلُوا الَّذِيْنَ يَلُوْنَكُمْ مِّنَ الْكُفَّارِ﴾، آيت ١٢٣ .

دعوى:

التحريض بالجهاد للمومنين {مؤمنانو له تيزى ورکوې په جهاد باندې}.

خلاصة السورة وتقسيمها:

دې سورت کښې ترغيب الى القتال دے او څلور قسمه خلق ذکر کوې: {١}مؤمنان . {٢}مشرکان . {٣} منافقان . {٤}اهل کتاب .

دارنګه د دوی احکام او صفات ذکر کوې .

دا سورت څلور حصې دے :

اوله حصه:

د آيت ١ نه تر آيت ٢٩ پورې ، په دېکښې ٣ اقسام د مشرکينو او د هغوی احکام ذکر کوې : {١} محاربين. {٢} مستامنين . {٣} معاهدين .

{١} محاربين : هغه مشرکان چې د مؤمنانو سره جنګ کوې ، د دوی حکم په آيت ١٢ کښې ، چې جنګ ورسره اوکړئ :

{۲} مستامنين : هغه مشركان چي د مؤمنانو نه مطالبه د امن اوكړي آيت ٦ كښې د دوى حكم ذكر كوي ، چې امن ورله وركړئ .

{۳} معاهدين :هغه مشركان چې د مؤمنانو سره ئې معاهده كړے وي دا بيا دوه قسمه دي .

{۱}معاهدين بالعهود الموقت : چې وعده ورسره شويده او وخت ئې مقرر دے ، د دوى حكم آيت ٤ كښې ذكر كوي : ﴿ فَأَتِمُّوٓا إِلَيۡهِمۡ عَهۡدَهُمۡ﴾.

{۲} معاهدين بالعهود الغيرالموقت: چې وعده ورسره شويده او وخت ئې مقرر نه دے ، د دوى حكم آيت ۲ كښې ذكر كوي ، چې خلور مياشتي مهلت ورله وركړئ : ﴿فَسِيحُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَرۡبَعَةَ أَشۡهُرٖ﴾ دا رنګه مؤمنانو له مشركينو سره جنګ كولو باندي تيزي وركوي .

دويمه حصه:

آيت ۳۰ نه تر ۳۷ پوري ، په ديكښې قبائح د اهل كتابو ذكر كوي او علتونه د جنګ كولو دوى سره بيانوي ، او آيت ۳۳ كښې صداقت د پيغمبر عليه‌السلام ذكر كوي .

دريمه حصه:

آيت ۳۸ تر آيت ۸۹ پوري په ديكښې ٦۳ خبائث د منافقينو ذكر كوي .

څلورمه حصه:

آيت ۹۰ نه تر آخره پوري ، په ديكښې اوصاف د مؤمنانو ذكر كوي او دري اقسام د مؤمنانو ذكر كوي:

{۱} المجاهدون . {۲} المسارعون بالتوبة { په توبه كښې تلوار كونكي } .

{۳} المتكاسلون .

سورة يونس مكية

نزولاً ۱ ۵ بعد بني اسرائيل مصحفاً ۱۰ بعد التوبة

«ربط د ما سبق سره»

(۱) ما قبل كښې بيان د جهاد اوشو نو دلته رد د شرک کوي .

(۲) ما قبل آخري آيت کښې توحيد بيان شو : ﴿لااله الا الله﴾ نو دلته وائي چې دا مسئله چا نه وه منلے نو انجام ئې اوګوره .

(۳} ما قبل کښې مشرکينو سره مقابله بالسيف ذکر شوه نو دلته دوی سره مقابله باللسان ذکر کوي .

(٤) ما قبل کښې مسئله د توحيد بغير د دلائلو نه ذکر شوه نو دلته په مسئلي د توحيد باندي دلائل پيش کوي.

(٥) ما قبل کښې د صحابه کرامو رضي الله عنهم توبه ذکر شوه نو دلته توبه د قوم يونس عليه السلام ذکر کوي .

(٦) ما قبل کښې مضمون د جهاد بيان شو نو دلته هغه مسئله {توحيد} ذکر کوي چې د هغي د پاره جهاد کولے شي .

(۷) ما قبل آخري آيت کښې ئې اوئيل : ﴿ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ﴾ نو دلته د توکل کونکو مثالونه ذکر کوي

(۸) ما قبل کښې براءت عن المشرکين وو دلته هم براءت عن المشرکين ذکر کوي خو په نورو الفاظو باندي.

(۹) ما قبل کښې اوصاف د نبي عليه السلام ذکر شو نو دلته د نورو انبياء عليهم السلام اوصاف ذکر کوي .

(۱۰) ما قبل کښې مسئله د توحید بیان شوه نو دلته د مشرکینو اعتراضونه او د هغې جوابونه ذکر کوي ،

(۱۱) ما قبل اختتام آیت ۱۲۸ کښې صداقت الرسول وو او د دې سورت افتتاح آیت ۲ کښې صداقة الرسول ذکر کوي .

(۱۲) ما قبل کښې آیت ۱۰۱ کښې نفي د شرک في العلم اوشوه نو دلته آیت ۱۰۷ کښې نفي د شرک في التصرف کوي .

(۱۳) ما قبل کښې مسئله د توحید بیان شوه نو دلته آیت ٦٤ کښې هغه چاله زیرے ورکوي چا چې دا مسئله اومنله .

(١٤) ما قبل آیت ۳۷ کښې ئې اوئیل چې منافق په دنیا خوشحالیږي او جهاد له نه ځي نو دلته آیت ۷ کښې وائي چې کافر هم د دنیا په ژوند خوشحاله دے او زړه ئې پرے لګولے دے .

(١٥) ما قبل آیت ۳۷ کښې ئې اوئیل چې د منافق دنیا سره مینه ده نو دلته د دنیا سپکاوے ذکر کوي .

(١٦) ما قبل آیت ١٢٥ کښې ئې اوئیل چې د منافقانو زړونو کښې مرض د منافقت دے نو دلته آیت ٥٧ کښې وائي: ﴿وَشِفَآءٌ لِّمَا فِى الصُّدُوْرِ﴾ قرآن د زړونو د مرضونو د پاره شفاء ده ، یعني دلته د دوی د مرض علاج ښائي.

(١٧) ما قبل آیت ٨١ کښې ئې اوئیل : ﴿فَرِحَ الْمُخَلَّفُوْنَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلٰفَ رَسُوْلِ اللّٰهِ﴾ نو دلته وائي خوشحالي په ښه کار باندې پکار ده : ﴿قُلْ بِفَضْلِ اللّٰهِ وَبِرَحْمَتِهٖ فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا﴾ ، آیت ٥٨ .

(١٨) ما قبل آیت ٣٤ کښې ئې اوئیل چې ناکاره ملیان او پیران خلق د قرآن نه بندوي نو دلته آیت ٥٧ کښې قرآن کریم ته ترغیب ورکوي .

(۱۹) ما قبل آیت ۳۸ کښې ئې اوئيل : ﴿ فَمَا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا قَلِيْلٌ﴾ نو دلته آیت ۲٤ کښې ئې مثال سره وضاحت کوي .

(۲۰) ما قبل آیت ۲۰ تا ۲۲ کښې بشارت ذکر شو مؤمنينو ته نو دلته آیت ۲٦ کښې بشارت ورکوي محسنينو ته .

امتيازات:

(۱) داسورت د نورو سورتونو نه په رد د اصل عقيدے د مشرکينو باندي ،آيت۱۸.

(۲) په بيان د توبې د قوم يونسؑ باندي .

(۳) په بيان د مقاصد اربعه عاليه مراراً .

(٤) په ذکر کولو د کليمے د فرعون باندي ، آیت ۹۰ .

(٥) په حمد و ثناء بيانولو د جنتيانو باندي ، آيت ۱۰.

{په دے الفاظو باندي نورو سورتونو کښې نشته }.

(٦) په خيرو د موسٰیؑ باندي ، آيت ۸۸ .

(۷) په بيانولو د تعريف ، منزل او د کرامت د ولی باندي ، آیت ۹۲.

(۸) په اوچت ځائي غرځولو د فرعون باندي ، آيت ۹۲.

(۹) په قول د کافرو باندي ، آیت ۱٥ : ﴿ائْتِ بِقُرْاٰنٍ غَيْرِ هٰذَآ اَوْ بَدِّلْهُ﴾ ، آيت ۱٥.

(۱۰) په پنځه ځله ذکر کولو د دي الفاظو باندي : ﴿ اِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا﴾.

(۱۱) په ذکر د قدم صدق باندي ، آيت ۲.

(۱۲) په قول د الله تعالى باندي :﴿فَبِذٰلِكَ{اى بالقرآن والاسلام }فَلْيَفْرَحُوْا﴾.

(۱۳) په قول د نوحؑ ﴿ فَاَجْمِعُوْٓا اَمْرَكُمْ وَ شُرَكَآءَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُنْ اَمْرُكُمْ عَلَيْكُمْ غُمَّةً ﴾ ، آيت ۷۱.

{١٤) په قول د نوح عليه السلام ﴿ ثُمَّ اقْضُوٓا اِلَيَّ وَلَا تُنْظِرُوْنِ ﴾ ، آيت ٧١.

(١٥) په قول د موسىٰ عليه السلام : ﴿ مَا جِئْتُمْ بِهِ السِّحْرُ اِنَّ اللّٰهَ سَيُبْطِلُهٗ ﴾ ،آيت٨١ .

(١٦) په قول د الله تعالىٰ باندي : ﴿ فَمَآ اٰمَنَ لِمُوْسٰٓى اِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِّنْ قَوْمِهٖ ﴾ ، آيت ٨٣ .

(١٧) په قول د الله تعالىٰ باندي : ﴿ وَّاجْعَلُوْا بُيُوْتَكُمْ قِبْلَةً ﴾ ، آيت ٨٧ .

(١٨) په دي جمله باندي : ﴿ فَقَدْ لَبِثْتُ فِيْكُمْ عُمُرًا مِّنْ قَبْلِهٖ ﴾ ، آيت ١٤ .

١٩) په قول د الله تعالىٰ : ﴿ اِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ ﴾ ، آيت ٢٣ .

(٢٠) په اعتراض د کافرو په موسىٰ عليه السلام او هارون عليه السلام باندي: ﴿ وَتَكُوْنَ لَكُمَا الْكِبْرِيَآءُ فِي الْاَرْضِ ﴾ ، آيت٧٨.

دعوی:

نفی د شرک اعتقادي او فعلي سره د اقسامو د دي او نفي د شرک في الدعا په آخر کښي په دي باندي مرتب کوي .

خلاصة السورة وتقسيمها:

دا سورت دوه حصي دے :

اوله حصه:

آيت ١ نه تر آيت ٧٠ پوري ديکښې رد د شرک اعتقادي او اثبات د مقاصد اربعه عاليؤ مراراً کوي {مقاصد اربعه عاليه}:

{١} توحيد . {٢} رسالت . {٣} صداقت القرآن . {٤} ايمان بالآخرة .

او مشهوره شبهه د مشرکينو آيت ١٨ کښي رد کوي .

دويمه حصه:

آيت ٧١ نه تر آخره پوري ، په ديکښې تخويف دنيوي په ذکر د هلاکت د امم سابقوٌ باندي دري واقعات ذکر کوي ، دوه واقعات {د قوم نوح عليه السلام ، د قوم موسىٰ عليه السلام } د هغه چا چې مسئله ئي او نه منله نو اوګوره څه انجام ئي شو؟

دريمه واقعه {د قوم يونس ﷺ} چې هغوی توبه اويسته نو بچ شو او په آخر د سورت کښې رد د اشراک ثلاثو کوي :

{١} رد د شرک في العبادة آيت ١٠٤ کښې .

{٢} رد د شرک في الدعاء آيت ١٠٦ کښې .

{٣} رد د شرک في التصرف آيت ١٠٧ کښې .

سورة هود مكية

نزولاً ٥٢ بعد يونس مصحفاً ١١ بعد يونس

« ربط د ما سبق سره »

{١} ما قبل آيت ٤ کښې ئې ﴿ اِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ ﴾ ذکر کړو نو دلته آيت ٤ کښې ذکر کوي : ﴿ اِلَى اللهِ مَرْجِعُكُمْ ﴾ هلته اسم ضمير وو نو دلته اسم ظاهر ذکر کوي .

{٢} ما قبل آيت ٢١ کښې ئې ذکر کړل : ﴿ اِذَآ اَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً مِّنْۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُمْ اِذَا لَهُمْ مَّكْرٌ فِيْٓ اٰيَاتِنَا ﴾ نو دلته آيت ٩ کښې ذکر کوي : ﴿ وَلَئِنْ اَذَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنَّا رَحْمَةً ثُمَّ نَزَعْنٰهَا مِنْهُ ۚ اِنَّهٗ لَيَئُوْسٌ كَفُوْرٌ ﴾.

{٣} ما قبل آيت ٢ کښې ئې ذکر کړل : ﴿ قَالَ الْكٰفِرُوْنَ اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ مُّبِيْنٌ ﴾ نو دلته آيت ٧ کښې وائي : ﴿ لَيَقُوْلَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴾ .

{٤} ما قبل آيت ٢٠ کښې ئې اوئيل : ﴿ وَيَقُوْلُوْنَ لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّه ﴾ نو دلته آيت ١٢ کښې په هغې ترقي ده : ﴿ لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ كَنْزٌ اَوْ جَآءَ مَعَهٗ مَلَكٌ ﴾.

{٥} ما قبل آيت ٣٨ کښې مطالبه د يو سورت وه د مخالفينو نه نو دلته آيت ١٣ کښې مطالبه د لسو سورتونو کوي .

{٦} ما قبل آيت ١٧ کښې ئې اوئيل : ﴿فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا﴾ نو دلته آيت ١٨ کښې ترقي ده په ما سبق باندي دلته ئې سزا ذکر کوي .

{٧} ما قبل آيت ٣٠ کښې ئې ذکر کړل : ﴿وَ ضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ﴾ نو دلته آيت ٢١ کښې په هغې باندي ترقي کوي : ﴿اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَ ضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ﴾

{٨} ما قبل آيت ٧٢ کښې ئې د نوح عليه السلام قول ذکر کړے وو : ﴿فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَمَا سَاَلْتُكُمْ مِّنْ اَجْرٍ ؕ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ﴾ نو دلته آيت ٢٩ کښې هم د نوح عليه السلام دغه خبره په مختلف الفاظو باندي ذکر کوي : ﴿وَ يٰقَوْمِ لَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مَالًا ؕ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ﴾.

{٩} ما قبل آيت ٧١ کښې ئې د نوح عليه السلام قول ذکر کړو ﴿فَاَجْمِعُوْٓا اَمْرَكُمْ وَ شُرَكَآءَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُنْ اَمْرُكُمْ عَلَيْكُمْ غُمَّةً ثُمَّ اقْضُوْٓا اِلَيَّ وَ لَا تُنْظِرُوْنِ﴾ نو دلته آيت ٥٥ کښې د هود قول ذکر کوي : ﴿ مِنْ دُوْنِهٖ فَكِيْدُوْنِيْ جَمِيْعًا ثُمَّ لَا تُنْظِرُوْنِ﴾.

{١٠} ما قبل کښې انکار د مشرکينو ذکر شو نو دلته حالت د مشرکينو ذکر کوي .

{١١} ما قبل کښې ادله عقليه بيان شو نو دلته ادله نقليه ذکر کوي .

{١٢} ما قبل کښې نفي د شرک في التصرف او نفي د شرک في الدعاء اوشوه نو دلته نفي د شرک في العبادة او في العلم کوي .

{١٣} ما قبل ابتداء کښې ترغيب الى القرآن وو نو دلته ابتداء کښې هم ترغيب الى القرآن دے .

{١٤} ما قبل آيت ١٥ كښې ئې اوئيل كه ما مسئله د {توحيد} بيان نه كړه نو زه د الله تعالىٰ د عذاب نه يريږم نو دلته وائي كه خلقو دا مسئله او نه منله نو زه په دوی باندي د الله تعالىٰ د عذاب نه يريږم .

{١٥} ما قبل كښې تزهيد من الدنيا ذكر شو نو دلته آيت ١٥ كښې وائي كه څوک دنيا په دين باندي غواړی نو دنيا به ورته وركړم خو آخرت كښې به ورله اُور وي .

{١٦} ما قبل آيت ٤٢ كښې ئې ذكر كړل : ﴿ اَفَاَنْتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ ﴾ نو دلته آيت ٢٠ كښې په هغې باندي ترقي ده : ﴿ مَا كَانُوْا يَسْتَطِيْعُوْنَ السَّمْعَ وَ مَا كَانُوْا يُبْصِرُوْنَ﴾.

{١٧} ما قبل آيت ٧٨ كښې ئې ذكر كړل چې كافرو موسىٰ عليه السلام او هارون عليه السلام ته اوئيل : ﴿ وَمَا نَحْنُ لَكُمَا بِمُؤْمِنِيْنَ ﴾ نو دلته آيت ٥٣ كښې وائي چې هود عليه السلام ته هم كافرو دغه شان وئيلي وو : ﴿وَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِيْنَ﴾ .

{١٨} ما قبل آيت ٧١ كښې ئې اوئيل چې نوح عليه السلام په الله تعالىٰ باندي توكل كړے وو : ﴿فَعَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْتُ﴾ نو دلته آيت ١٢٣ كښې الله تعالىٰ نبي عليه السلام ته حكم كوي: ﴿وَ تَوَكَّلْ عَلَيْهِ﴾ په الله باندي ځان اوسپاره.

{١٩} ما قبل كښې د دريو انبياء عليهم السلام ذكر اوشو نو دلته د شپږو انبياء عليهم السلام تذكره كوي.

{٢٠} ما قبل كښې اعتراضونه د مشركينو ذكر شو نو دلته نبي عليه السلام او هر يو مبلغ ته تسلي وركوي .

امتیازات:

{۱} دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په تفصیلي واقعي د نوح ﷺ باندي.

{۲} په مطالبي د لسو سورتونو باندي د کافرانو نه : ﴿قُلْ فَأْتُوا بِعَشْرِ سُوَرٍ مِّثْلِهِ مُفْتَرَيَاتٍ﴾ ، آيت ۱۳ .

{۳} په مکالمې د نوح ﷺ او د هغه د ځوي باندي .

{٤} په ذکر کولو د ارمان د لوط ﷺ باندي : ﴿لَوْ أَنَّ لِي بِكُمْ قُوَّةً أَوْ آوِي إِلَىٰ رُكْنٍ شَدِيدٍ﴾ ، آيت ۸۰ .

{٥} په قول د الله تعالی باندي : ﴿وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ﴾ ، آيت ۷ .

{٦} په قول د فرښتو ابراهيم ﷺ ته : ﴿رَحْمَتُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ﴾ ، آيت ۷۳ .

{۷} په دي قول د کافرو باندي صالح ﷺ ته چي : ﴿قَدْ كُنتَ فِينَا مَرْجُوًّا قَبْلَ هَٰذَا﴾ ، آيت ٦۲ .

{۸} په بيان د څلورو مسئلو باندي په آخري آيت کښې .

(۱) العبادة لله وحده . (۲) عالم بكل شيئ هو الله . (۳) ترغيب في التبليغ.

(٤) تسلي .

{۹} په قول د الله تعالی : ﴿وَلَا تَرْكَنُوا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ﴾ ، آيت ۱۱۳.

{۱۰} په قول د الله تعالی نوح ﷺ ته : ﴿لَن يُؤْمِنَ مِن قَوْمِكَ﴾ ، آيت ٣٦ .

{۱۱} په قول د نوح ﷺ کافرو ته : ﴿أَنُلْزِمُكُمُوهَا وَأَنتُمْ لَهَا كَارِهُونَ﴾ ، آيت ۲۸.

{۱۲} په قول د نوح ﷺ مسلمانانو ته : ﴿ارْكَبُوا فِيهَا بِسْمِ اللَّهِ مَجْرَاهَا وَمُرْسَاهَا﴾ ، آيت ٤۱.

{۱۳} په ذکر د جودي غر باندي : ﴿وَاسْتَوَتْ عَلَى الْجُودِيِّ﴾ ، آيت ٤٤ .

{١٤} په قول د كافرو هود عليه السلام ته: ﴿وَمَا نَحْنُ بِتَارِكِيْٓ اٰلِهَتِنَا عَنْ قَوْلِكَ﴾، آيت ٥٣.

{١٥} په قول د كافرو هود عليه السلام ته: ﴿اِنْ نَّقُوْلُ اِلَّا اعْتَرٰىكَ بَعْضُ اٰلِهَتِنَا بِسُوْٓءٍ﴾آيت ٥٤.

{١٦} په قول د الله تعالى باندي په باره د ابراهيم عليه السلام كښې﴿ اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ لَحَلِيْمٌ اَوَّاهٌ مُّنِيْبٌ﴾. آيت ٧٥.

{١٧} په قول د لوط عليه السلام باندي: ﴿اَلَيْسَ مِنْكُمْ رَجُلٌ رَّشِيْدٌ﴾. آيت ٧٨.

{١٨} په قول د شعيب عليه السلام باندي خپل قوم ته: ﴿بَقِيَّتُ اللّٰهِ خَيْرٌ لَّكُمْ﴾. آيت٨٦.

{١٩} په قول د كافرو شعيب عليه السلام ته: ﴿اِنَّكَ لَاَنْتَ الْحَلِيْمُ الرَّشِيْدُ﴾. آيت ٨٧.

{٢٠} په قول د الله تعالى په باره د جهنم كښې: ﴿وَبِئْسَ الْوِرْدُ الْمَوْرُوْدُ﴾. آيت ٩٨.

دعوى:

بيان د مسائل اربعو:

{١} العبادة لله وحده آيت ٢. {٢} نفي د علم غيب عن غيره تعالى آيت ٥.

{٣} ترغيب في التبليغ آيت ١٢ {٤} تسلي نبي عليه السلام ته آيت ١٧.

خلاصة:

په دي سورت كښې مذكوره بالا څلور مسئلي ذكر كوي په اولي مسئلي باندي دڅلورو انبياء عليهم السلام {نوح عليه السلام، هود عليه السلام، صالح عليه السلام، شعيب عليه السلام. واقعات ذكر كوي، چې ټولو دا مسئله كړي وه: ﴿يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ﴾.

په دويمه مسئله {عَالِمٍ بِكُلِّ شَيْئٍ هُوَ اللّٰهُ} باندي دوه واقعات {د ابراهيم عليه السلام، د لوط عليه السلام} ذكر كوي چې فرښتې ورته د انسانانو په شكل كښې راغلي وي او دوى ته پته نه وه چې دا انسانان دي او كه فرښتي، په دريمې

او خلورمې مسئلې باندې واقعه د موسٰی علیه السلام ذكر كوي چې اوكوره موسٰی علیه السلام فرعون او د هغهٔ وزیرانو ته مسئله بیان كړې وه او مصیبتونه پرې راغلې وو خو زړه ئې نه وو تنگ كړے نو ته به زړه نه تنگوې .

سورة يوسف مكية

نزولاً ۵۳ بعد هود مصحفاً ۱۲ بعد هود

«ربط د ما سبق سره»

{۱} ما قبل كښې ئې مسئله د توحيد ثابته كړه په كنړو واقعاتو د انبياء عليهم السلام باندې نو دلته آيت ۳۹ كښې مسئله د توحيد په واقعې د يوسف علیه السلام ثابتوي .

{۲} ما قبل كښې ئې اوئيل چې ابراهيم علیه السلام او لوط علیه السلام په غيبو باندې نه پوهيدل نو دلته وائي چې يعقوب علیه السلام هم په غيبو باندې نه پوهيدهٔ .

{۳} ما قبل آخري آيت كښې ئې اوئيل : ﴿وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ﴾ نو دلته واقعه د يعقوب علیه السلام بطور نمونه {د توكل} ذكر كوي .

{٤} ما قبل آيت ۷۳ كښې ئې قول د ملائكو ذكر كړو : ﴿رَحْمَتُ اللهِ وَبَرَكٰتُهُ عَلَيْكُمْ اَهْلَ الْبَيْتِ﴾ نو دلته د الله تعالٰى د رحمت نمونه پيش كوي چې اوكوره د ابراهيم علیه السلام نوسی {يعقوب علیه السلام} له الله تعالٰى دولس ځامن وركړل .

{٥} ما قبل آيت ۱۲۳ كښې ئې د الله تعالٰى شان ذكر كړے وو : ﴿وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ﴾ نو دلته آيت ۳ كښې د بنده عاجزي ذكر كوي : ﴿وَاِنْ كُنْتَ مِنْ قَبْلِهٖ لَمِنَ الْغَافِلِيْنَ﴾.

{٦} ما قبل آیت ۱۱۳ کښې ئې اوئیل : ﴿وَلَا تَرْكَنُوٓا إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا﴾ نو دلته د میلان نه کولو نمونه پیش کوي چې اوګوره یوسف علیه السلام زلیخي ته میلان او نه کړو.

{٧} ما قبل ابتداء کښې صداقة القرآن وو نو دلته هم ابتداء کښې صداقة القرآن ذکر کوي.

{٨} ما قبل کښې ئې نبي علیه السلام ته په واقعي د موسٰی علیه السلام باندي تسلي ورکړه نو دلته په واقعي د یوسف سره ورته تسلي ورکوي.

{٩} ما قبل کښې ترغیب في التبلیغ وو نو دلته په هغي باندي تفصیلي واقعه د یوسف علیه السلام ذکر کوي.

{١٠} ما قبل ابتداء کښې ترغیب الی القرآن وو نو دلته هم ابتداء کښې ترغیب الی القرآن دے.

{١١} ما قبل کښې ئې اوئیل چې انبیاء علیهم السلام مسئله د توحید میدان کښې بیان کړي وه نو دلته وائي چې یوسف په جیل کښې دا مسئله بیان کړي وه.

{١٢} ما قبل کښې امتحانات په انبیاء علیهم السلام باندي ذکر شو نو دلته امتحان په یوسف او یعقوب باندي ذکر کوي.

{١٣} ما قبل کښې ئې نجات او کامیابی د نورو انبیاء علیهم السلام ذکر کړه نو دلته نجات او کامیابی د یوسف علیه السلام ذکر کوي.

امتیازات:

{١} د نورو سورتونو نه په واقعي دیوسف علیه السلام باندي.

{٢} د بادشاه په خوب باندي آیت٤٣.

{۳} په خوب د جیلیانو باندي، آیت ۳٦ .

{٤} په بیان د مکر دښځو باندي .

{٥} په بیان د دوه قسمه محبت باندي :

{۱} جائز لکه محبت د یعقوب عليه السلام د خپل ځوی سره . {۲} ناجائز لکه محبت د زلیخي د یوسف عليه السلام سره .

{٦} په بیان د فریب د ځامنو د یعقوب عليه السلام باندي .

{۷} په سیاسی بصیرت د یوسف عليه السلام باندي، چې جیل کښې ئې موقع موندلے ده نو مسئله بیانوي او جیل نه ئې تحریک روان کړي دے او پوره بادشاهی ئې واغسته دارنګه بادشاه ورته محتاج شوے دے .

{۸} په بیان د قمیص د یوسف عليه السلام باندي چې د غم او خوشحالی دواړو سبب ګرځیدلے وو .

{۹} په قول د الله تعالی باندي : ﴿كَذَٰلِكَ كِدْنَا لِيُوسُفَ﴾، آیت ۷٦

{۱۰} په تقریر د یوسف عليه السلام په جیل کښې آیت ۳۸ تا ٤۰ .

{۱۱} په بیان د خوب د یوسف عليه السلام باندي، آیت ٤ .

{۱۲} په ذکر د صواع الملک باندي، آیت ۷۲ .

{۱۳} په عدم ذکر د جنت او دوزخ باندي .

{۱٤} په ذکر د نفس اماره باندي : ﴿إِنَّ النَّفْسَ لَأَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ﴾ .آیت ٦۳ .

{۱٥} په ژړا د رونړو د یوسف عليه السلام باندي، آیت ۱٦ .

{۱٦} په بیان د شنو او اوچو وږو باندي، آیت ٤٦ .

{۱۷} په بیان د اووه ۷ غواګانو څربو او اووه۷ غواګانو تپو باندي، آیت ٤٦ .

{۱۸} په پورته کولو باندي د یوسف عليه السلام خپل مور او پلار لره په تخت باندي، آیت ۱۰۰ .

{۱۹} په قول د یعقوب ﷺ خپلو ځامنو ته: ﴿لَا تَدۡخُلُوا۟ مِنۢ بَابٖ وَٰحِدٖ﴾ ، آیت ٦٧.
{۲۰} په قول د یعقوب ﷺ خپلو ځامنو ته : ﴿فَصَبۡرٞ جَمِيلٞ﴾ دوه ځله آیت ۱۸،
۸۳ کښې .

دعوی:

تفصیل او وضاحت د هغه څلورو مسئلو کومې چې سورت هود کښې بیان شوې :

{۱} العبادة لله وحده . {۲} نفي د علم غیب عن غیره تعالی . {۳} ترغیب في التبلیغ . {٤} تسلي . او دا ذکر کوي چې حالك کحال یوسف .

خلاصة:

سورت کښې ترغیب في التبلیغ او تسلي نبي ﷺ ته په واقعي د یوسف ﷺ سره حالك کحال یوسف :

{۱} لکه څنګه چې یوسف ﷺ خپلو رونړو د خپل ملک نه روک کړے وو نو دارنګه تا به هم مکې والا {کافران} د مکې نه اوباسی .

{۲} څنګه چې یوسف ﷺ لاره باندي په یره تلو نه ته به هم {مکی نه مدینې ته} په یره باندي ځې .

{۳} څنګه چې یوسف ﷺ په کوهی کښې وخت تیر کړے وو نو دارنګه ته به په غار{غارثور} کښې وخت تیروې .

{٤} څنګه چې یوسف پردې ملک کښې آباد شو نو دارنګه ته به هم پردې ملک کښې آباد شې .

{٥} څنګه چې یوسف ﷺ باندي بدنامه لګیدلې وه پردې ملک کښې نو دارنګه ستا بي بي باندي به پردې ملک کښې بدنامه اولګی.

{٦} ښکله چې زه یوسف ﷺ ته رونړه په خپو کښې اوغرځول {یعنی محتاج او ملامت شو} نو تاته به هم دا مکې والا خپو کښې اوغرځوم .
{٧} ښکله چې یوسف خپلو رونړو ته وئیلي وو : ﴿لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ﴾ ، آیت ٩٢ نو ته به هم مکې والا ته داسي اوائې چنانچه نبي ﷺ د بدر قیدیانو ته دغه شان وئیلي وو : لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ .
{٨} ښکله چې زه یوسف پردې ملک کښې عزت مند کړو نو تا به هم پردي ملک کښې عزت مند کړم .

سورة الرعد مكية

نزولاً ٩٦ بعد محمد مصحفاً ١٣ بعد یوسف

«ربط د ما سبق سره»

{١} ما قبل کښې ئې نفي د شرک في العلم اوکړه د غیرالله نه نو دلته آیت ٩ کښې وائي چې عالم الغیب الله تعالی دے .
{٢} ما قبل آیت ٤٠ کښې ئې مسئله د توحید ذکرکړه : ﴿اَمَرَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ﴾ نو دلته پرې دلائل ذکر کوي .
{٣} ما قبل کښې توحید باندې دلائل ذکر شو بغیر د تنبیهاتو نه نو دلته دلائلو سره تنبیهات هم ذکر کوي .
{٤} ما قبل آیت ١٠٨ کښې ئې اوئیل : ﴿قُلْ هٰذِهٖ سَبِيْلِيْٓ اَدْعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ﴾ نو دلته طریقه د دعوت ښائي یعنې اول مسئله د توحید بیا دلائل او بیا مثالونه بیانوي .
{٥} ما قبل آخر کښې ئې اوئیل : ﴿وَكَاَيِّنْ مِّنْ اٰيَةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ يَمُرُّوْنَ عَلَيْهَا﴾ نو دي کښې هغه نښې او دلائل ښائي .

{٦} د ما قبل اختتام وو په ترغيب الى القرآن او د دي سورت افتتاح ده په ترغيب الى القرآن باندي .

{٧} ما قبل کښي ئې نفي د شرک في العلم اوکړه نو دلته نفي د شرک في الدعاء کوي .

{٨} ما قبل آيت ٤٠ کښي ئې اعلان د يوسفعليه السلام ذکر کړو په جيل کښي نو دلته آيت ٣٦ کښي اعلان د نبي عليه السلام ذکر کوي په ميدان کښي.

{٩} ما قبل کښي مسئله د توحيد باندي دليل نقلي ذکر شو نو دلته پري ادله عقليه پيش کوي .

{١٠} ما قبل کښي مسئله د توحيد بيان شوه نو دلته آيت ١٤ کښي ئې په مثال سره ئې وضاحت کوي .

{١١} ما قبل آيت ٣ کښي ئې قرآن ته احسن القصص اوئيل نو دلته آيت ٢٨ کښي وائي چې په دي {قرآن} باندي زړونه مطمئن کيږي .

{١٢} ما قبل آيت١٠٠ کښي ئې ذکر کړل : ﴿وَخَرُّوا لَهُ سُجَّدًا﴾ نو دلته آيت ١٥ کښي وائي يعني يواځي هغوی نه آسمانونو او زمکو کښي چې څه دي هغوی د الله تابعدار دي .

{١٣} ما قبل کښي مکر د رونړو د يوسف او مکر د ښځو ذکر شو نو دلته آيت ٤٢ کښي مکر د کافرانو ذکر کوي .

{١٤} ما قبل کښي ئې اوئيل چې لائق د عبادت صرف يو الله دے نو دلته وائي لائق د رامدد شي هم صرف يو الله دے .

{١٥} ما قبل آيت ٤٠ کښي ئې اوئيل : ﴿مَآ أَنزَلَ اللهُ بِهَا مِن سُلْطَٰنٍ﴾ يعني په شرک دليل نشته نو دلته په توحيد باندي دلائل ذکر کوي ، هغه ذات رامدد کړ چې د هغه په بلنه دلائل شته .

امتيازات:

{۱} دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په کثرتِ تنبیهاتو باندي .

{۲} په ترتیب د ادلؤ باندي .

{۳} په طریقي د حصول د اطمینان قلبي باندي ، آیت ۲۸ .

{٤} په تسبیح د رعد {فرښتي} باندي ، آیت ۱۳ .

{٥} په کثرت د امثلؤ باندي .

{٦} په بیان د مثال د شرک باندي ، آیت ١٤.

{۷} په بیان د مثال د مسئلي د توحید ، آیت ۱۷.

{۸} په قول د الله تعالی : ﴿وَفِي الْأَرْضِ قِطَعٌ مُتَجَاوِرَاتٌ﴾ ، آیت ٤ .

{۹} په قول د الله تعالی : ﴿وَنَخِيلٌ صِنْوَانٌ وَغَيْرُ صِنْوَانٍ﴾ ، آیت ٤ .

{۱۰} په ذکر د لفظ د " الْمَثُلَاتُ " باندي ، آیت ٦.

{۱۱} په قول د الله تعالی : ﴿لَهُ مُعَقِّبَاتٌ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ﴾ آیت ۱۱ .

{۱۲} په قول د الله تعالی : ﴿لَهُ دَعْوَةُ الْحَقِّ﴾ ، آیت ١٤ .

{۱۳} په قول د الله تعالی : ﴿ يَمْحُو اللَّهُ مَا يَشَاءُ وَيُثْبِتُ﴾ ، آیت ۳۹ .

{١٤} په قول د الله تعالی : ﴿وَاللَّهُ يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهِ﴾ آیت٤١ .

{١٥} په اعتراض د کافرانو ﴿وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَسْتَ مُرْسَلًا﴾ ، آیت ٤٣.

دعوی:

اثبات التوحيد بالدلائل العقليه و نفي الشرك في الدعاء

دعوی د توحید دري / ۳ ځله ذکر کوي آیت ١٤ ، ۳۰ ، ۳٦ .

خلاصة :

دې سورت کښې نفي د شرک في الدعاء کوي ، يعني لائق د رامدد شي صرف الله دے : ﴿لَهُ دَعْوَةُ الْحَقِّ﴾ ، آيت ١٤ په دې باندې پنځه دلائل پيش کوي .

{١} اول قسم ادله ، الخالق لكل شيئ هو الله ، آيت ٢.

{٢} دويم قسم ادله ، العالم بكل شيئ هو الله ، آيت ٨ .

{٣} دريم قسم ادله ، الحافظ لكل شيئ هو الله ، آيت ٨ .

{٤} څلورم قسم ادله ، المتصرف في كل شيئ هو الله ، آيت ١٢ .

{٥} پنځم قسم ادله ، كلهم منقادون الى الله {ټول الله تعالى ته محتاج دي} ، آيت ١٥ .

کله چې دا دلائل ذکر کړي نو آيت ١٤ کښې پرې مسئله تفريع کوي : ﴿لَهُ دَعْوَةُ الْحَقِّ﴾ خاص دي {الله تعالى} لره بلنه ده ربښتيا نو دے کړه رامدد .

بيا وضاحت د مسئلې د پاره آيت ١٧ کښې مثال بيانوي ، دارنګه ٣ ځله مسئله د توحيد په سورت کښې ذکر کوي ، اول ځل آيت ١٤ کښې : ﴿لَهُ دَعْوَةُ الْحَقِّ﴾ ، دويم ځل آيت ٣٠ کښې : ﴿قُلْ هُوَ رَبِّي لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ﴾ ، دريم ځل آيت ٣٦ کښې : ﴿قُلْ اِنَّمَآ اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَ اللّٰهَ وَلَآ اُشْرِكَ بِهٖ﴾ .

تقسيم د سورت:

دا سورت شپږ بابونو ته منقسم دے :

اول باب:

آيت ۱ نه تر آيت ۷ پوري په ديکښې اول ترغيب الى القرآن بيا ادله عقليه سره د تنبيهاتو چې خالق {پيدا کونکے د هر څيز الله تعالىٰ دے . بيا زجر او تخويف او آخري آيت ۷ کښې انکار د مشرکينو د رسالت د پيغمبر ﷺ نه ذکر کوي .

دويم باب:

آيت ۸ نه تر آيت ۱۵ پوري په ديکښې باقي څلور قسمه دلائل ذکر کوي:

{۱} العالم بكل شيئ هو الله ، آيت ۸ .

{۲} الحافظ لكل شيئ هو الله ، آيت ۱۱.

{۳} المتصرف في كل شيئ هو الله ، آيت ۱۲.

{٤} كلهم منقادون الى الله ، آيت ۱۵ .

بيا آيت ۱٤ کښې په دي دلائلو باندي دعوىٰ د نفي د شرک في الدعاء تفريع کوي او مثال د هغه مشرکينو ذکر کوي چې غيرالله رامدد کوي ، بيا آيت ۱۵ کښې پنځم قسم ادله چې ټول مخلوق الله تعالىٰ ته محتاج دے .

دريم باب:

آيت ۱٦ نه تر آيت ۲۵ پوري ، په ديکښې اول دليل عقلي الزامى ، نفي د شرک في التصرف مثال د مؤحد او مشرک او دعوىٰ پرې تفريع کوي چې الله تعالىٰ خالق دے آيت ۱٦ کښې بيا دليل عقلي او مثال د قران آيت ۱۷ کښې بيا ذکر د اعمالو د مؤحد او مشرک آيت ۱۷ ، ۱۸، کښې بيا اته ۸ صفات او څلور درجات د مؤمنانو ذکر کوي آيت ۲۰ نه تر آيت ۲٤ پوري بيا دري اوصاف قبيحه د مشرکانو او د هغوىٰ سزا ذکر کوي آيت ۲۵ کښې .

څلورم باب:

آيت ۲٦ نه تر آيت ۳۲ پورې ، په دیکښې پنځه خبرې ذکر کوي :

{۱} دليل عقلي او تزهيد من الدنيا ، آيت ۲٦ .

{۲} زجر منکرينو د رسالت ته ، آيت ۲۷

{۳} بشارت ، ترغيب الى القرآن او دعوٰى د توحيد ، آيت ۲۹ ، ۳۰ .

{٤} زجر منکرينو د قرآن او رسالت ته ، آيت ۳۱ .

{٥} تسلي پيغمبر ﷺ ته ، آيت ۳۲.

پنځم باب:

آيت ۳۳ نه تر آيت ۳۷ پورې ، پۀ دیکښې دليل عقلي په ثابتولو دعلم باندې الله تعالٰى لره {چه الله تعالٰى په هر څه پوهيږي} رد په مشرکينو ، تخويف او بشارت بيا آيت ۳٦ کښې دليل نقلي او دعوٰى د توحيد او آيت ۳۷ کښې ترغيب الى القرآن دے .

شپږم باب:

آيت ۳۸ نه تر آخره پورې ، پۀ دیکښې نبیﷺ ته تسلي ورکوي او د دريو اعتراضونو جوابونه ذکر کوي :

اول اعتراض :تۀ پيغمبر نه ئې څکه چې ستا اولاد دے .

جواب : آيت ۳۸ کښې : ﴿ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّنْ قَبْلِكَ وَ جَعَلْنَا لَهُمْ اَزْوَاجًا وَّ ذُرِّيَّةً﴾.

دويم اعتراض :که ته {واقعي} پيغمبر ئې نو مونږ ته عذاب ولې نه راوړې.

جواب : ﴿لِكُلِّ اَجَلٍ كِتَابٌ﴾ ، آيت ۳۸ .

دريم اعتراض :كه مونږ د پاره عذاب مقرر شوے وي نو په تا باندي زمونږ ايمان راوړل فائده نه كوي .

جواب :﴿يَمْحُوا اللّٰهُ مَا يَشَآءُ وَيُثْبِتُ﴾ ،آيت ۳۹.

بيا تخويف او زجر وركوي او په آخر كښې صداقت د پيغمبر عليه السلام ذكر كوي .

سورة ابراهيم مكية

نزولاً ۷۲ بعد نوح مصحفاً ۱۴ بعد الرعد

«ربط د ما سبق سره»

{۱} ما قبل آيت ۱٤ كښې اهمه مسئله بيان شوه : ﴿لَهُ دَعْوَةُ الْحَقِّ﴾ نو دلته ترغيب في التبليغ دے .

{۲}ما قبل آيت ۲۲ ، ۲۳ كښې بشارت ذكر شو مؤمنانو ته نو دلته آيت ۲۳ كښې هم مؤمنانو ته بشارت وركوي په ترقی سره ماسبق نه .

{۳} ما قبل آيت ۳ كښې ئې اوئيل : ﴿وَهُوَ الَّذِي مَدَّ الْاَرْضَ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ وَاَنْهَارًا﴾ نو دلته آيت ۳۲ كښې په هغي باندي ترقي ده .

{٤} ما قبل آيت ۳ كښې ئې اوئيل : ﴿وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ﴾ نو دلته آيت ۳۳ كښې وائي : ﴿وَسَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَآئِبَيْنِ﴾ ترقي ده ماسبق باندي .

{٥} ما قبل آيت ١٤ كښې ئې اوئيل : ﴿وَمَا دُعَآءُ الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ﴾ نو دلته آيت ۳ كښې وائې﴿ اُولٰٓئِكَ فِيْ ضَلٰلٍ بَعِيْدٍ﴾ ترقي ده ماسبق باندي .

{٦} ما قبل آيت ٤٢ كښې ئې اوئيل : ﴿وَسَيَعْلَمُ الْكُفّٰرُ لِمَنْ عُقْبَى الدَّارِ﴾ نو دلته د كافرانو انجام دنيوي ذكر كوي .

{۷} ما قبل آيت ۱۷ كښې ئې مثال د توحيد ذكر كړو نو دلته آيت ٢٤ كښې بل مثال د مسئلي د توحيد ذكر كوي .

{۸} ما قبل آيت ۳۲ کښې ئې اجمالًا اوئيل چې چا پيغمبرانو پورې توقې کړې وې نو مهلت م ورله ورکړو بيا م پرې عذاب راوستو نو دلته آيت ۹ نه تر آيت ۱۷ پورې ئې تفصيل کوي .

{۹} ما قبل اول کښې ترغيب الى القرآن وو نو دلته هم اول کښې ترغيب الى القرآن دے .

{۱۰} ما قبل آيت ۲۰ تا ۲۲ کښې صفات د مؤمنانو ذکر شو نو دلته آيت ۲۳ کښې بشارت د جنت مؤمنانو ته ورکوي .

{۱۱} ما قبل آيت ۳۸ کښې ئې اوئيل چې معجزې د الله تعالى اختيار کښې دي نو دلته هم آيت ۱۱ کښې دغه خبره ذکر کوي خو په نورو الفاظو باندي .

{۱۲} ما قبل آيت ۳۰ کښې ئې اوئيل : ﴿عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ﴾ پيغمبر عليه السلام وئيل ما په الله باندې توکل کړے دے نو دلته آيت ۱۱ کښې وائي : ﴿وَعَلَى اللهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ﴾ مؤمنان د په الله تعالىٰ باندې توکل اوکړي .

{۱۳} ما قبل آيت ۵ کښې تخويف اخروي وو نو دلته آيت ۴۹ ، ۵۰ کښې هم تخويف اخروي دے په ترقئ سره د ما سبق نه .

{۱۴} ما قبل آيت ۳۸ کښې ئې اوئيل : ﴿وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّنْ قَبْلِكَ﴾ نو دلته آيت ٤ کښې وائي هر يو پيغمبر م د قوم په ژبه ليږلے دے چې دوئ ته {د الله احکام} بيان کړي .

{۱۵} ما قبل آيت ۱ کښې ئې صداقة القرآن ذکر کړے وو نو دلته آيت ۵۲ کښې حکمتونه د نزول د قرآن ذکر کوي .

امتيازات:

{۱} دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په بيان د تکاليفو د انبياء عليهم السلام باندې اجمالاً .

{٢} په مثال د كليمي د توحيد او په مثال د كليمي د شرک باندي .

{٣} په دي خبرهِ باندي چې الله تعالىٰ ټول پيغمبران د قوم په ژبه باندي ليږلي وو ، آيت ٤.

{٤} په تقرير د شيطان خپل تابعدارو ته په قيامت کښې ، آيت ٢٢.

{٥} په بيان د مثال د عمل د كافرانو باندي ، آيت ١٨ .

{٦} پهٔ ذكر د ٤ ځله لفظ د 'أَلَمْ' باندي .

{٧} پهٔ خاص واقعي د ابراهيم عليه السلام باندي .

{٨} پهٔ لباس د جهنميانو باندي ، آيت ٥٠ .

{٩} پهٔ قول د الله تعالىٰ : ﴿لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ﴾ ، آيت ٧.

{١٠} پهٔ بيان د حالت د جهنميانو باندي : ﴿وَأَفْئِدَتُهُمْ هَوَاءٌ﴾ ، آيت ٤٣.

{١١} پهٔ قول د الله تعالىٰ باندي : ﴿وَإِنْ كَانَ مَكْرُهُمْ لِتَزُولَ مِنْهُ الْجِبَالُ﴾ ، آيت ٤٦.

{١٢} په داسي آيت باندي چې هغي کښې څلور / ٤ حكمتونه د نزول د قرآن ذكر دي آيت ٥٢ .

{١٣} په قول د انبياء عليهم السلام باندي: ﴿وَلَنَصْبِرَنَّ عَلَىٰ مَا آذَيْتُمُونَا﴾، آيت ١٢.

{١٤} په قول د الله تعالىٰ باندي : ﴿ فَرَدُّوا أَيْدِيَهُمْ فِي أَفْوَاهِهِمْ﴾ ، آيت ٩.

{١٥} په حكم د الله باندي موسىٰ عليه السلام : ﴿وَذَكِّرْهُمْ بِأَيَّامِ اللَّهِ﴾ ، آيت ٥ .

دعوى:

الترغيب في التبليغ والتذكير بايام الله .

خلاصة :

ابتدائي اته ٨ آيتونه بطور تمهيد دي ، بيا ٤ ځله لفظ د 'أَلَمْ' ذكر كوي ·

اول : آلَمْ نه بعد جدال المشركين مع الانبياء عليهم السلام ، آيت ۹ .

دويم : آلَمْ نه بعد جدال المشركين فيما بينهم ، آيت ۱۹ .

دريم : آلَمْ نه بعد الامثلة للفريقين اى المشركين والموحدين ، آيت ۲٤ .

څلورم: آلَمْ نه بعد الزجر و التخويف والادلة {العقلية و النقلية} و واقعة ابراهيم عليه السلام ، آيت ۲۸ ، او سورت په توحيد باندي ختموي .

تقسيم السورة:

دا سورت شپږ بابونو باندي مشتمل دے .

اول باب:

آيت ۱ نه تر آيت ۸ پوري په ديکښې دعوٰی د سورت يعني {الترغيب في التبليغ و التذكير بايام الله } بيا دليل عقلي ، زجر منکرينو ته ذکر کوي دارنګه دا ذکر کوي چې انبياء عليهم السلام الله رب العزت بيان د توحيد د پاره ليږلي وو او هغوی په ديکښې تکليفونه برداشت کړي وو په دي باندي واقعه د موسٰى عليه السلام ذکر کوي .

دويم باب:

آيت ۹ نه تر آيت ۱۸ پوري ، په ديکښې جِدَالُ الْمُشْرِكِيْنَ مَعَ الْاَنْبِيَاءِ عليهم السلام يعني مشرکينو د انبياء عليهم السلام سره په توحيد کښې جګړي کړي وي ، خو د انبياء توکل او اعتماد په الله تعالٰى باندي وو هيڅ پرواه ئي نه وه کړي .

دريم باب:

آيت ۱۹ نه تر آيت ۲۳ پوري ، په ديکښې دليل عقلي په مسئلي د توحيد باندي ، احوال المشركين فِيْمَا بَيْنَهُم او تخويف ذكر كوي .

څلورم باب

آيت ٢٤ نه تر آيت ۲۷ پوري ، په ديکښې مثال د توحيد او د شرک ذکر کوي يا داسي هم وئيلي شي اَلْاَمْثِلَة للفريقين {د موحدينو او مشركينو د پاره مثالونه ذكر كوي}.

پنځم باب:

آيت ۲۸ نه تر آيت ۳۰ پوري ، په ديکښې زجر او تخويف منکرينو ته او بشارت مؤمنانو ته ذکر کوي .

شپږم باب:

آيت ۳۱ نه تر آخره پوري په ديکښې عقلي او نقلي دلائل ذکر کوي او تخويف منکرينو ته ورکوي .

سورة الحجر مكية

نزولاً ٥٤ بعد يوسف مصحفاً ١٥ بعد ابراهيم

«ربط د ما سبق سره»

{۱} ما قبل کښې ترغيب في التبليغ وو نو دلته وائي چا چې مسئله او نۀ منله نو هغوی د عذاب مستحق اوگرځيدل .

{۲} د ما قبل اختتام په توحيد باندي اوشو نو دلته منزل د منونکو د توحيد ذکر کوي آيت ٤٥ کښې .

{٣} ما قبل اختتام په توحيد باندي اوشو نو دلته انجام د منكرينو د توحيد ذكر كوي.

{٤}د ما قبل ابتداء كښې ترغيب الى القرآن وو نو دلته هم ابتداء كښې ترغيب الى القرآن دے.

{٥} ما قبل په ترغيب الى القرآن باندي ختم شوے وو نو دا سورت په ترغيب الى القرآن باندي شروع كوي.

{٦} ما قبل كښې مسئله د توحيد ذكر شوه نو دلته په هغې باندي دلائل پيش كوي.

{٧} ما قبل كښې ئې حالت د ابراهيم عليه السلام بيان كړو نو دلته حالت د ميلمنو د ابراهيم عليه السلام ذكر كوي.

{٨} د ما قبل اختتام اوشو په توحيد باندي، آيت ٥٢ نو دلته په رد د شرک او په مسئلې د توحيد باندي اختتام د سورت كوي.

{٩} ما قبل كښې د دوؤ ډلو {د موحدينو او مشركينو} مثالونه بيان شو نو دلته د دوارو ډلو انجام ذكر كوي.

{١٠} ما قبل آيت ١٦، ١٧، كښې تخويف اخروي وو نو دلته آيت ٧٣، ٧٤ كښې تخويف دنيوي ذكر كوي.

{١١} ما قبل آيت ٥ كښې ئې اوئيل: ﴿ وَذَكِّرْهُمْ بِأَيَّىٰمِ اللَّهِ ﴾ پند وركړه دوى ته په نعمتونو د الله، په عذابونو د الله نو دلته ئې تفصيل كوي.

{١٢} ما قبل آيت ٢٢ كښې ئې أخروي حالت د شيطان ذكر كړو نو دلته آيت ٣٤، ٣٥ كښې دنيوي حالت د شيطان ذكر كوي.

{١٣} ما قبل آيت ٣٤ كښې ئې اوئيل: ﴿ إِنَّ الْإِنسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ ﴾ نو دلته ئې په واقعې د قوم لوط او د قوم صالح سره تفصيل كوي.

{١٤} ما قبل آيت ١ كښې ئي اوئيل : ﴿ كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ﴾ نو دلته آيت ١٤ كښې وائي : ﴿فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَاَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ﴾ صاف بيان كوه نو خلق به هله د تيارو نه راؤځي .

{١٥} ما قبل آيت ٧ كښې ئي اوئيل : ﴿لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَاَزِيْدَنَّكُمْ﴾نو دلته آيت ٢١ كښې وائي : ﴿ وَاِنْ مِّنْ شَيْءٍ اِلَّا عِنْدَنَا خَزَآئِنُهٗ ﴾.

{١٦} ما قبل آيت ٧ كښې ئي اوئيل : ﴿وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ اِنَّ عَذَابِيْ لَشَدِيْدٌ﴾ نو دلته د عذاب نموني ذكر كوي.

{١٧} ما قبل آيت ٣ كښې ئي د كافرانو صفت ذكر كړو : ﴿اَلَّذِيْنَ يَسْتَحِبُّوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا عَلَى الْاٰخِرَةِ﴾ نو دلته آيت ٨٨ كښې وائي چې كافرانو ته كوم مال او دولت وغيره وركړے شوي دي نو هغي ته مه پسخيږه.

{١٨} ما قبل آيت ٣٣ كښې ئي اوئيل : ﴿تَحِيَّتُهُمْ فِيْهَا سَلٰمٌ﴾ نو دلته آيت ٤٦ كښې وائي چې جنتيانو ته به اوئيلے شي : ﴿اُدْخُلُوْهَا بِسَلٰمٍ اٰمِنِيْنَ﴾ ترقي ده په ما سبق باندي .

{١٩} ما قبل آيت ٣٦ كښې ذكر شو چې ابراهيم عليه السلام وئيل: ﴿ وَمَنْ عَصَانِيْ فَاِنَّكَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ﴾ نو دلته آيت ٤٩ كښې وائي : ﴿ نَبِّئْ عِبَادِيْٓ اَنِّيْٓ اَنَا الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ﴾ ترقي ده په ماسبق باندي .

امتيازات:

{١} دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په افسوس د كافرانو باندي په قيامت كښې ، آيت ٢ .

{٢} په بيان د خلقت د ابو الإنس {آدم عليه السلام } او ابوالجن {ابليس } باندي .

{٣} په بيان د تعداد د دروازو د جهنم باندي : ﴿ لَهَا سَبْعَةُ اَبْوَابٍ ﴾ ، آيت ٤٤ .

{٤} په قول د الله تعالى باندي : ﴿ وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّى يَأْتِيَكَ الْيَقِيْنُ ﴾ ، آيت ٩٩ .

{٥} په قول د الله تعالى باندي : ﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحٰفِظُوْنَ ﴾ ، آيت ٩ .

{٦} په بيان د مقتسمينو باندي ، آيت ٩٠ .

{٧} په بيان د السبع المثاني باندي ، آيت ٨٧ .

{٨} په گمراه وئيلو هغه چا ته چې د الله د رحمت نه نا اميد شو ، آيت ٥٦ .

{٩} په ذكر د لَوَاقِحَ ، باندي ، آيت ٢٢.

{١٠} په ذكر د متوسمين ، باندي ، آيت ٧٥.

{١١} په قول د الله تعالى باندي : ﴿ فَاصْفَحِ الصَّفْحَ الْجَمِيْلَ ﴾ ، آيت ٨٥ .

{١٢} په قول د الله تعالى باندي : ﴿ فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ ﴾ ، آيت ٩٤ .

دعوى:

التخويف للمجرمين بعذاب السابقين بذكر الاقوام الخمسة المهلكة {تخويف مجرمانو ته په ذكر د سابقينو باندي } دا سورت بطور نتيجه د ما قبل ده .

خلاصة السورة وتقسيمها:

دا سورت دري بابونو باندي مشتمل دے :

اول باب:

آيت ١ نه تر ١٥ پوري ،په ديكښې دري خبري ذكر كوي :

{١} ترغيب الى القرآن ، آيت ١ .

{٢} تخويف منكرينو ته {چې دا دعوٰى د سورت ده } ، آيت ٢ نه تر ٥ پوري .

{٣} زجر منكرينو د رسالت او د قرآن ته ، آيت ٦ نه تر ١٥ پوري .

دويم باب:

آيت ١٦ نه تر آيت ٥٠ پوري ، پديکښې: {١} دلائل عقليه ، آيت ١٦ تر ٢٥ پوري . {٢} انجام د تکبر او د سرکشۍ په واقعي د ابليس سره ، آيت ٢٦ تا ٤٢. {٣} تخويف اخروي او بشارت ، آيت ٤٣ تا ٥٠ .

دريم باب:

آيت ٥١ نه تر آخره پوري ، په ديکښې پنځه واقعات د اقوام مهلکو بطور تنوير په دعوی د سورت باندي او سورت ختموي په توحيد باندي څنګه چې سورت ابراهيم په توحيد باندي ختم شوے وو .

سورة النحل مكية

نزولاً ٧٠ بعد الكهف مصحفاً ١٦ بعد الحجر

«ربط د ما سبق سره»

{١}ما قبل کښې عذاب د سابقينو ذکر شو نو دلته عذاب د موجودينو ذکر کوي.

{٢} سورت ابراهيم کښې ترغيب في التبليغ وو نو حجر کښې نموني د عذاب ذکر شوې نو دلته اصل مسئله {توحيد} ذکر کوي .

{٣} ما قبل آيت ٩٩ کښې مسئله د توحيد ذکر شوه نو دلته پري ادله متنوعه ذکر کوي .

{٤} ما قبل کښې ئې خلقت د آدم عليه السلام او د ابليس ذکر کړو نو دلته آيت ٤ کښې د عام انسانانو خلقت ذکر کوي .

{٥} ما قبل آيت ٤٦ کښې ئې اوئيل : ﴿اُدْخُلُوْهَا بِسَلٰمٍ اٰمِنِيْنَ﴾ نو دلته آيت ٣٢ کښې په هغې باندي ترقي ده .

{٦} ما قبل کښې پيدائش د انسان ذکر شو نو دلته انقلاب د انسان ذکر کوي.

{۷} ما قبل آیت ٤٩ کښې ئي اوئيل : ﴿أَنَا الْغَفُورُ الرَّحِيمُ﴾نو دلته نموني د الله تعالیٰ د مهربانو ښائي .

{۸} ما قبل آيت ٩٧ کښې تسلي وه نو دلته آيت ١٢٧ کښې هم تسلي ده په ترقي سره د ماسبق نه .

{۹} ما قبل آيت ۹۸ کښې مسئله د توحيد په عنوان د تسبيح ذکر شوه نو دلته آيت۱ کښې ئي هم په دغه عنوان ذکر کوي .

{۱۰} ما قبل ابتداء کښې ترغيب الى القرآن وو نو دلته آيت ٤٤ کښې حکمت د نزول د قرآن کريم ذکر کوي.

{۱۱} ما قبل آيت ٩٤ کښې ئي اوئيل : ﴿ فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ﴾ نو دلته آيت ١٢٧ کښې تسلي ورکوي ، ځکه چې دين صفا بيانوي نو ديکښې به مصيبتونه راځي .

{۱۲} ما قبل کښې ئي واقعه د ابراهيمعليه السلام بيان کړه نو دلته توصيف د ابراهيم عليه السلام ذکر کوي : ﴿إِنَّ إِبْرٰهِيْمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتًا لِّلّٰهِ حَنِيْفًا شَاكِرًا لِّأَنْعُمِهِ﴾،آيت١٢٠.

{۱۳} ما قبل کښې تخويف دنيوي وو نو دلته ٢٧ کښې تخويف اخروي ذکر کوي.

{۱٤} ما قبل آيت ٩٦ کښې ئي اوئيل چې مشرکان د الله تعالیٰ سره بل حاجت روا ګرځوي نو دلته د دوی د معبودينو عاجزي ذکر کوي آيت ٢٠ ، ٢١ کښې .

{۱۵} ما قبل آيت ٤٥ کښې بشارت ذکر شو نو دلته آيت ٣٠ نه تر ٣٢ پوري بشارت دے په ترقي سره د ما سبق نه .

{۱٦} ما قبل آيت ٩٤ کښې ئي اوئيل : ﴿وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ ﴾نو دلته آيت ٧٣ کښې ئي وجه ذکر کوي : ﴿يَعْرِفُوْنَ نِعْمَتَ اللّٰهِ ثُمَّ يُنْكِرُوْنَهَا وَأَكْثَرُهُمُ الْكٰفِرُوْنَ﴾

{۱۷} ما قبل آيت ١ کښې ترغيب الى القرآن وو نو دلته آيت ١٠٢ کښې هم ترغيب الى القرآن دے .

امتيازات:

{۱} دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په ادله متنوعه باندي .

{۲} په فائدو د ډانګرو {چارپایانو} باندي .

{۳} په بعض فوائدو د دریاب باندي .

{٤} په بیان د حکم د الله تعالیٰ مجيء ته : ﴿وَاَوْحٰى رَبُّكَ اِلَى النَّحْلِ﴾ ،آیت ٦٨ .

{٥} په بیان فائدي د ګبین باندي : ﴿فِيْهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ﴾ ، آیت ٦٩.

{٦} په مثال د هغه بے وقوفې ښځې باندي : ﴿ وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّتِيْ ﴾ ، آیت ٩٢.

{۷} په بیان د اجمع آیت باندي ، آیت ٩٠ په دیکښې ٣ اوامر او ٣ نواهي دي .

{۸} په ذکر د حیوة طیبه باندي د پاره د مؤمنانو ، آیت ٩٧ .

{۹} په قول د الله تعالیٰ باندي : ﴿ اَتٰۤى اَمْرُ اللّٰهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوْهُ ﴾ ، آیت ١ .

{۱۰} په ذکر د قحط سالئ دمکې والؤ باندي ، آیت ١١٢.

{۱۱} په امت وئیلو باندي ابراهیم ته : ﴿اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ كَانَ اُمَّةً ﴾ ،آیت ١٢٠ .

{۱۲} په قانت وئیلو باندي ابراهیم ته : ﴿قَانِتًا لِّلّٰهِ﴾ ، آیت ١٢٠.

{۱۳} په قول د الله تعالیٰ باندي : ﴿اُدْعُ اِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَ الْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ﴾ ، آیت ١٢٥.

{۱٤} په قول د شرکاؤ باندي مشرکینو ته : ﴿ اِنَّكُمْ لَكٰذِبُوْنَ﴾ ، آیت ٨٦ .

{۱٥} په قول د الله تعالیٰ باندي ، آیت ٩١ ﴿وَلَا تَنْقُضُوا الْاَيْمَانَ بَعْدَ تَوْكِيْدِهَا﴾ .

{۱٦} په ذکر کولو د : ﴿ وَحَفَدَةً ﴾ باندي ، آیت ٧٢.

{۱۷} په ذکر کولو د : ﴿ اَكْنَانًا﴾ باندي ، آیت ٨١ .

دعوى:

اثباة التوحيد بالادلة المتنوعة .

خلاصة السورة {تقسيمها}:

دې سورت كښې اته / ۸ بابونه دي :

اول باب:

آيت ۱ نه تر ۲۳ پورې په دېكښې اول دوه قسمه دلائل ذكر كوي چې خالق لكل شيئ هو الله او عالم بكل شيئ هو الله بيا مشركينو ته زجر او عاجزي د الهؤ د مشركينو ذكر كوي او آيت ۲۲ كښې پرې مسئله د توحيد تفريع كوي { اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ } .

دويم باب:

آيت ۲٤ نه تر آيت ۳۵ پورې ، په دېكښې زواجر او تخويف مشركينو ته وركوي .

دريم باب:

آيت ۳٦ نه تر آيت ٤۷ پورې په دېكښې دليل نقلي اجماعي د انبياء عليهم السلام نه په توحيد باندې ، رد په مشركينو ، مشركينو او منكرينو د قيامت ته زجر ، جواب د هغه شبهې چې وارديده په رسالت باندې ، آيت ٤۳ كښې او آخر كښې تخويف دنيوي وركوي .

څلورم باب :

آيت ٤۸ نه تر آيت ٦٤پورې ، په دېكښې دريم قسم ادله ، دليل وحي آيت ۵۱، زجر او تخويف مراراً او تحضيض بالتبليغ او آخر كښې آيت ٦٤ كښې ترغيب الى القرآن ذكر كوي .

پنځم باب :

آيت ٦۵ نه تر آيت ۷۷ پورې ، په دېكښې بيا دهغه نعمتونو بيان كوي چې الله تعالى د زمكې نه پيدا كړي دي لكه ګلونه يا ئي د خيټو د ځارؤ نه پيدا

کړي دي لکه پېغ {شودهٔ} يا ئي د خُلو د مچو نه پيدا کړي دي لکه کبين، نو هرکله چې الله تعالیٰ دا نعمتونه ستاسو د پاره پيدا کړي دي نو ولي د الله نه بغير د بل چا عبادت کوئ؟ او ولي د الله نه بغير بل څوک رامدد کوئ؟

شپږم باب:

آيت ٧٨ نه تر آيت ٨١ پورې په دېکښې بيان دهغه نعمتونو کوي چې الله تعالیٰ په انسانانو باندې کړي دي او دوئ ورته محتاج وو لکه غوږونه، سترګې او کورونه وغيره، حاصل د پنځم او شپږم باب دا چې {النعم کلها من الله تعالیٰ} نعمتونه ټول د الله تعالیٰ د طرف نه دي.

اووم باب:

آيت ٨٢ نه تر آيت ١١٣ پورې په دېکښې يؤلس خبرې ذکر کوي:

{١} تسلي پيغمبرته﴿ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ﴾، آيت ٨٢ .

{٢} تخويف اخروي، احوال د مشرکينو او ګواهي د ګواهي کؤنکو {د انبياء عليهم السلام} په خپلو امتونو باندې، آيت ٨٤، ٨٥ .

{٣} دليل وحي او عظمت د قرآن کريم، آيت ٨٩ .

{٤} بيان د امور مصلحه الدافعه للعذاب آيت ٩٠ .

{٥} مثال د اعمالو د مشرکينو آيت ٩٢ .

{٦} رد په تحريف کؤنکو او دنيا غوره کؤنکو باندې، آيت ٩٥ .

{٧} الترغيب الی القرآن او ذکر د حياة طيبه {ژوند د خوشحالئ} د هغه چا د پاره چې الله تعالیٰ ته انابت {رجوع} کوي .

{٨} زجر منافقينو ته، آيت ١٠١ .

{۹} الامر بالتثبت عند الابتلاء د مصيبت او امتحان په وخت کښې د
ګټکیدلو حکم کوي چې کلک شه ، آیت ۱۰٦.
{۱۰} سبب د اعراض {د ایمان نه} ښائي چې هغه خوښ ګڼړل د ژوند د دنیا
دے {سبب الاعراض استحباب الحیٰوة الدنیا} ، آیت ۱۰۷.
{۱۱} مجاهدینو او مهاجرینو ته بشارت او تخویف دنیوي او اخروي د پاره د
معرضینو ، آیت ۱۱۰ نه تر ۱۱۳ پوري.

اتم باب:

آیت۱۱٤ نه تر آخره پوري،پدیکښې رد د شرک فعلي ، زجر هغه مشرکینو
ته چې حلال او حرام ئي د ځان نه جوړول ، طریقه د بیان او د تبلیغ ښائي ،
تسلي نبي ﷺ ته ورکوي او دا ذکر کوي چې الله تعالیٰ د مؤحدینو امداد کوي.

سورة بني اسرائيل مكية

نزولاً ۵۰ بعد القصص مصحفاً ۱۷ بعد النحل

«ربط د ما سبق سره»

{۱} ما قبل کښې ئي نزول د عذاب اول ذکر کړو او بیائي دعوٰی اصلي ذکر کړه
نو دلته اول دعوٰی اصلي {توحید} ذکر کوي بیا خلور امور ذکر کوي چې
مرتکب د هغي مستحق د عذاب ګرځی.
{۲} ما قبل کښې ئي راتلل د عذاب ذکر کړل په مجرمینو باندي نو دلته مثالونه
د مجرمینو سابقینو ذکر کوي.
{۳} ما قبل کښې ئي عذاب دنیوي ذکر کړو نو دلته عذاب اخروي ذکر کوي.

{٤} ما قبل ابتداء کښې مسئله د توحید وه په عنوان د تسبیح ﴿سُبۡحَٰنَهُۥ﴾ نو دلته ابتداء کښې هم مسئله د توحید په عنوان د تسبیح ذکر کوي : ﴿ سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِيٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ﴾.

{٥} ما قبل آیت ١٢٤ کښې بیان د اصحاب السبت {بنی اسرائیل} وو نو دلته د اصحاب السبت شریعت ذکر کوي .

{٦} ما قبل کښې اثبات د توحید اوشو په ادلوٗ متنوعوٗ سره نو دلته واقعه د معراج ذکر کوي .

{٧} ما قبل آیت ٧٨ کښې ئي اوئیل : ﴿وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَٱلۡأَفۡـِٔدَةَ﴾ نو دلته آیت ٣٦ کښې وائي چې د دغه نعمتونو باره کښې به تپوس کیږي .

{٨} ما قبل آیت ١ کښې مسئله د توحید په عنوان د تسبیح بیان شوه نو دلته آیت ١١١ کښې مسئله د توحید په عنوان د تحمید ذکر کوي .

{٩} ما قبل آیت ٢٢ کښې ئي اوئیل : ﴿ إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ﴾ نو دلته آیت ٤٦ کښې وائي مشرکین د دینه نفرت کوي کله چې ته دا مسئله بیانوي .

{١٠} ما قبل آخر کښې ترغیب الی الهجرة وو نو دلته بیان د هجرت د نبي ﷺ کوي .

{١١} ما قبل کښې مطالبه د مشرکینو ذکر شوه چې معجزه ئي غوښته نو دلته بیان د واقعي د معجزې د اسراء (معراج) کوي .

{١٢} ما قبل آیت ٨٩ کښې ترغیب الی القرآن وو نو دلته آیت ٨٢ کښې هم ترغیب الی القرآن دے ، په ترقی سره د ما سبق نه .

امتیازات:

{١} دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په بیان د اسبابو د عذاب باندي .

{٢} په ٢٥ اوامر او نواهي باندي .

{۳} په واقعې د اسراء باندې .

{٤} په ذکر د تهجد باندې ، آيت ۷۹.

{٥} په منع کولو باندې د فضول خرچۍ نه ، آيت ٢٦ .

{٦} په قول د الله تعالٰی باندې : ﴿ اِنَّ الْمُبَذِّرِيْنَ كَانُوْٓا اِخْوَانَ الشَّيٰطِيْنِ ﴾ ،آيت۲۷.

{۷} په حاضريدو د فرشتو قرآن ته په وخت د سبا کښې ، آيت ۷۸ .

{۸} په قول د الله تعالٰی باندې : ﴿وَ لَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيْٓ اٰدَمَ ﴾ ، آيت ۷۰ .

{۹} په ذکر کولو د دريو / ۳ اجزاء د عبادت باندې په يو آيت کښې ، آيت ۵۷ .

{۱۰} په ذکر د انقلاباتو په بنی اسرائيلو باندې .

{۱۱} په قول د الله تعالٰی باندې : ﴿ وَ اِنْ مِّنْ شَيْءٍ اِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ وَ لٰكِنْ لَّا تَفْقَهُوْنَ تَسْبِيْحَهُمْ﴾ ، آيت ٤٤ .

{۱۲} په قول د شيطان باندې : ﴿ لَاَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهٗٓ اِلَّا قَلِيْلًا﴾ ، آيت٦۲ .

دعوی:

بيان د هغه څلورو امورو چې مرتکب د هغې مستحق د عذاب کرځي.

خلاصة:

دې سورت کښې امور اربعه ذکر کوي چې د هغې ارتکاب کوُنکے د عذاب مستحق کرځي : {۱} شرک مستمره سبب لنزول العذاب ، په دې واقعه د نوح عليه السلام ذکر کوي . {۲} هتک د شعائر الله سبب لنزول العذاب ، آيت ۵۹ . {۳} اخراج الرسل سبب لنزول العذاب ، آيت ۷٦ . {٤} استهزاء بالرسل سبب لنزول العذاب ، آيت ۱۰۳ .

سورة الكهف مكية

نزولاً ٦٩ بعد الغاشية مصحفاً ١٨ بعد بنی اسرائیل

سورة الانعام پوري د قرآن كريم اوله حصه بيان شوه چې پکښې مقصدي مسئله وه : الخالق لكل شيئ هوالله . دويمه حصه د انعام نه تر كهف پوري په ديکښې مقصدي مسئله : المربي لكل شيئ هوالله ، بيان شوه ، اوس د سورت كهف نه تر سورت سبا پوري . دريمه حصه شروع کيږي په ديکښې مقصدي مسئله : المبارك في كل شيئ هوالله ، ذكر كوي .

« ربط د ما سبق سره »

{١} ما قبل شروع وو په تسبيح باندي او داسورت شروع كوي په تحميد باندي ؛ ځكه تسبيح د ذات سره تعلق ساتى او تحميد د صفاتو سره . تنزيه مقدم وي په توصيف باندي ، حضرت شيخ القرآن په سمط الدرر ص ١٠٢ کښې وائي : لما كان التسبيح تنزيه الذات والتحميد صفة له و لا شک ان التنزيه تكون اولاً لتعلقه بالاول فقدم الاول في الاول .

{٢} ما قبل شروع وو په تسبيح باندي چې هغه سبب د پاکوالى دزړه دے د ګند د شرک نه نو دلته ابتداء کښې بيان د حمد دے چې هغه سبب د رسيدلو دے كمال ته يعني كله چې تا زړه د ګند د شرک نه پاک کړو په تسبيح سره نو اوس د الله حمد وايه چې عروج د كمال ته اورسې .

{٣} ما قبل کښې بيان د نعمت اوشو چې معجزه د اسراء {معراج} وه نو دلته اول کښې وائي چې په دي نعمت باندي د الله حمد وايه .

{٤} ما قبل ختم شوے وو په تحميد باندي نو دا سورت شروع كوي په تحميد باندي .

{٥} ما قبل آخر کښې ئي رد په اتخاذ الولد باندي اوکړو نو دلته آيت ٤، ٥ کښې هم پرې رد کوي .

{٦} ما قبل کښې ئی اثبات د توحيد د پاره واقعه د معراج ذکر کړه نو دلته جوابات د شبهاتو د مشرکينو کوي د پاره د اثبات د توحيد .

{٧} ما قبل کښې ترغيب الی الهجرت وو او سورت بنی اسرائيل کښې بيان د هجرت او دعا د نبي عليه السلام ذکر شوه نو اوس دلته اقسام د هجرت ذکر کوي : (١) هجرت د پاره د حفاظت د دين لکه هجرت د اصحاب کهف . (٢) هجرت د پاره د زده کړي د دين لکه هجرت د موسٰی عليه السلام . (٣) هجرت د پاره د اشاعت د دين او د پاره د دفع کولو د مفاسد لکه هجرت د ذوالقرنين .

{٨} ما قبل آيت ٥٥ کښې ئي اوئيل چې عالم الغيب الله دے : ﴿وَرَبُّكَ أَعْلَمُ بِمَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ﴾ نو دلته په دي مسئله {په نفي د علم غيب عن غيره تعالی} باندي څلور / ٤ واقعات ذکر کوي : (١) اصحاب کهف.

(٢) د نبي عليه السلام . (٣) د موسٰی عليه السلام او خضر عليه السلام . (٤) د ذوالقرنين .

{٩} ما قبل آيت ١٨ کښې سپکاوے د دنيا ذکر شو نو دلته خساست د دنيا بالوجوه الثلاثه ذکر کوي .

{١٠} ما قبل آيت ١٩ کښې مؤمنانو ته بشارت وو نو دلته آيت ١ ، ٧ ، ١٠٨ کښې هم بشارت دے په ترقی سره د ما سبق نه .

امتيازات:

{١} دا سورت ممتاز دے نورو سورتونو نه په واقعي د اصحاب کهف باندي .

{٢} په واقعي د موسٰی عليه السلام او خضر عليه السلام باندي .

{٣} په دري وجوه د خساست د دنيا باندي .

{٤} په واقعي د ذوالقرنين باندي .

{٥} په واقعي د باغ والا باندي .

{٦} په لس ځله ذکر کولو د لفظ د (اَحَد) باندي ، آیت ١٩ ، ٢٢ ، ٢٦ ، ٣٢ ، ٣٨ ، ٤٢ ، ٤٧ ، ٤٩ ، ١١٠ ،

{٧} په سپکاوي د دنیا په دي الفاظو باندي : ﴿ اَلْمَالُ وَ الْبَنُوْنَ زِيْنَةُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا﴾ ، آیت ٤٦ .

{٨} په بیان د مثال د ژوند د دنیا باندي ، آیت ٤٥.

{٩} په واقعي د نبي عليه السلام باندي ، آیت ٢٣.

{١٠} په ذکر د جنت الفردوس باندي ، آیت ١٠٧ .

دعوی:

نفی د شرک في العلم بالوجوه الاربعه او خساست د دنیا بالوجوه الثلاثه .

خلاصه:

په دي سورت کښي دوه مسئلي ذکر کوي .

(١) : نفي د شرک في العلم. (٢): خساست الدنیا (سپکاوی) د دنیا.

(١) **نفي د شرک في العلم** :په دي باندي څلور واقعات ذکر کوي :

اوله واقعه : د اصحاب کهف ، چي د خپلي زماني لوي اولیاء وو ،خو د ځان د حال نه خبر نه وو ، چي مونږ غار کښي څومره وخت تیر کړے دے ، سره د دي نه چي مړه هم نه وو بلکه اوده وو هغوي وائي : ﴿ لَبِثْنَا يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ﴾ ، آیت ١٩ او قرآن وائي : ﴿ وَلَبِثُوْا فِيْ كَهْفِهِمْ ثَلٰثَ مِائَةٍ سِنِيْنَ وَ ازْدَادُوْا تِسْعًا﴾ ، آیت ٢٥ دري سوه او نهه ٣٠٩ کاله ئي تیر کړي وو .

دویمه واقعه : د نبي عليه السلام آیت ٢٣ کښي : ﴿ وَلَا تَقُوْلَنَّ لِشَايْءٍ اِنِّيْ فَاعِلٌ ذٰلِكَ غَدًا﴾

حاصل : اے پیغمبره تاته د صبا پته نشته چي صبا به څه کیږي .

دریمه واقعه د موسي علیه السلام چې اوکوره هغه د خضر علیه السلام په کارونو باندي پوهه نه شو.

څلورمه واقعه : د ذوالقرنین چې د ټولي دنیا بادشاه وو خو د قوم په ظاهري خبرو نهٔ پوهیدهٔ د ترجمان پهٔ ذریعه ئي ورسره خبري کولي.

د اولي مسئلي مأخذ آیت ۲٦ دے.

(۲) خساست د دنیا : خساست د دنیا په دریو وجوه سره ذکر کوي :

(۱) الدُّنْيَا تُؤْخَذُ منك كما اخذت من اصحاب الجنة " دا دنیا به ستا نه وا غستے شي لکه څنګه چې باغ واله نه باغ واغستے شو "، آیت ۳۲.

(۲) الدنیا وقتها قلیل " د دنیا وخت ډیر لږ دے "، آیت ٤٥ .

(۳) الدنیا تکون وَبَالًا علیك " دا دنیا به تا باندي وبال شي "، آیت ٤٩ .

سورة مريم مكية

نزولاً ۴۴ بعد الفاطر مصحفاً ۱۹ بعد الكهف

«ربط د ما سبق سره»

(۱) ما قبل آیت ۱۳ کښې ئي اوئیل : ﴿إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَاهُمْ هُدًى﴾ نو دلته آیت ۷٦ کښې په هغي باندي ترقي ده چې یواځي آصحاب کهف نه بلکه ټول چې هم د هدایت طلب کوي نو الله تعالی ئي مضبوطوي .

(۲) د ما قبل آیت ۳٤ کښې ئي د باغ والا قول ذکر کړو چې هغهٔ خپل ملګري ته وئیل : ﴿أَنَا أَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا وَأَعَزُّ نَفَرًا﴾ نو دلته آیت ۷۷ کښې هغه چاته رټنه ورکوي څوک چې داسي خبري کوي.

(۳) ما قبل آیت ۱۵ کښې زجر بالشرک وو نو دلته آیت ۸۱ کښې هم زجر بالشرک دے په ترقی سره د ما سبق نه .

(٤) ما قبل آيت ٤ كښې ئې اوئيل : ﴿ وَيُنْذِرَ الَّذِيْنَ قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا﴾ نو دلته آيت ٨٨ كښې وائي : ﴿ وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا﴾.

(٥) ما قبل آيت ٥ كښې ئې اوئيل : ﴿مَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ﴾ نو دلته آيت ٨٩ كښې وائي : ﴿لَقَدْ جِئْتُمْ شَيْئًا اِدًّا﴾ يعني ما قبل كښې رد وو په هغه چا چې هغوي وئيل الله نائبان نيولي دي نو دي سورت كښې هم په دغه خلقو رد كوي.

(٦) ما قبل آيت ٢٦ كښې ئې اوئيل ﴿ اَبْصِرْ بِهٖ وَاَسْمِعْ ۭ مَا لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّلِيٍّ ۡ وَّلَا يُشْرِكُ فِيْ حُكْمِهٖٓ اَحَدًا﴾ نو دلته آيت ٣٨ كښې : ﴿ اَسْمِعْ بِهِمْ وَاَبْصِرْ ۙ يَوْمَ يَاْتُوْنَنَا لٰكِنِ الظّٰلِمُوْنَ الْيَوْمَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ﴾ ترقي ده ما سبق باندي.

(٧) ما قبل آيت ١٦ كښې ئې اوئيل : ﴿وَاِذِ اعْتَزَلْتُمُوْهُمْ وَمَا يَعْبُدُوْنَ اِلَّا اللّٰهَ﴾ نو دلته آيت ٤٨ كښې ترقي ده په ما سبق باندي ابراهيم عليه السلام وئيل : ﴿ وَاَعْتَزِلُكُمْ وَمَا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَاَدْعُوْا رَبِّيْ﴾.

(٨) ما قبل آيت ٣٦ كښې ئې د باغ والا قول ذكر كړو : ﴿ وَّمَآ اَظُنُّ السَّاعَةَ قَآئِمَةً﴾ نو دلته آيت ٦٦ كښې زجر بانكار القيامة دے.

(٩) ما قبل كښې ئې نفي د شرک في العلم اوكړه نو دلته نفي د شرک في الدعاء كوي.

(١٠) ما قبل كښې ئې عاجزي د انبياء عليهم السلام او د اولياء كرامو ذكر كړه نو دلته د انبياء عليهم السلام او د ملائكو عاجزي ذكر كوي.

(١١) ما قبل آيت ١١٠ كښې ئې مسئله د توحيد ذكر كړه : ﴿ اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ﴾ دلته په هغې باندي ادله نقليه ذكر كوي د انبياء عليهم السلام او ملائكو نه.

(١٢) ما قبل كښې ئې دفع د بعضي شبهاتو اوكړه نو دلته د نورو شبهاتو دفع كوي.

امتیازات:

١) دا سورت ممتاز دے نورو سورتونو نه په تفصيلي واقعي د حضرت زکریا ﷺ او د حضرت مریم باندي.

٢) په قول د جبرئیل آمین باندي: ﴿وَمَا نَتَنَزَّلُ اِلَّا بِاَمْرِ رَبِّكَ﴾ ٦٤.

٣) په دعا د زکریا ﷺ: ﴿فَهَبْ لِيْ مِنْ لَّدُنْكَ وَلِيًّا۝يَّرِثُنِيْ وَ يَرِثُ مِنْ اٰلِ يَعْقُوْبَ ۖ وَاجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيًّا﴾ ٥، ٦.

٤) په قول د زکریا ﷺ باندي: ﴿وَ اشْتَعَلَ الرَّاْسُ شَيْبًا﴾ ٤.

٥) په تفصيلي واقعي د حضرت مریم باندي ١٦.

٦) په خصوصي نصیحت د ابراهیم ﷺ باندي خپل پلار ته.

٧) په خصوصي حالت د ادریس ﷺ باندي: ﴿وَرَفَعْنٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا﴾، آیت ٥٧.

٨) په قول د الله تعالی باندي په باره د اسماعیل ﷺ کښي: ﴿اِنَّهٗ كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ﴾، آیت ٥٤.

٩) په تفصيلي واقعي د ولادت د عیسی ﷺ باندي.

١٠) په خبرو کولو د عیسی ﷺ باندي په ځانګو کښي: ﴿قَالَ اِنِّيْ عَبْدُ اللّٰهِ ۖ اٰتٰىنِيَ الْكِتٰبَ وَجَعَلَنِيْ نَبِيًّا﴾، آیت ٣٠.

١١) په عاجزی د ځنږ شوي مخلوقات باندي چې انبیاء علیهم السلام او ملائک دي.

١٢) په قول د حضرت مریم باندي: ﴿يٰلَيْتَنِيْ مِتُّ قَبْلَ هٰذَا وَكُنْتُ نَسْيًا مَّنْسِيًّا﴾، آیت ٢٣.

دعوى:

عجز المصطفَين من الانبياء والملائكة عاجزي د چنړ شوي مخلوقات يعني د انبياء عليهم السلام او د ملائكو.

خلاصه:

دا سورت دوه حصې دے:

اوله حصه:

د آيت ۱ نه تر ٦٣پوري ، دي كښې عجز (عاجزي) د انبياء عليهم السلام او د حضرت مريم ذكر كوي.

دويمه حصه:

آيت ٦٤ نه تر آخره پوري. په دي كښې عاجزي د ملائكو ذكر كوي او خلاصه د سورت آيت ٦٥ كښې راوباسي : ﴿رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا فَاعْبُدْهُ وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهٖ ۚ هَلْ تَعْلَمُ لَهٗ سَمِيًّا﴾ .

سورت طه مكيه

نزولاً ٤٥ بعد مريم مصحفاً ٢٠ بعد مريم

«ربط د ما سبق سره»

(۱) هر كله چې سورت كهف كښې ئې مسئله د توحيد ثابت كړه په نفي د علم غيب باندي د عزت مندو بنديگانو نه او سورت مريم كښې ئې مسئله د توحيد ثابته كړه په نفي د تصرف د چنړ شوي مخلوقات او پهٔ عجز د هغوى باندي نو دي سورت كښې تشجيع وركوي پهٔ رسولو د دي مسئلي باندي او پهٔ تكليف برداشت كولو پهٔ دي مسئله كښې.

(٢) ما قبل كښې ئې عاجزي د چنړ شوې مخلوقات ذکر کړه نو دلته په هغې باندې زيادت کوي چې هغوی باندې مصيبتونه راغلي وو که دوی بالفرض اِلٰهه وے نو مصيبتونه به پرې نه راتلل ، واقعه د موسى عليه السلام بطور مثال ذکر کوي ، چې اوګوره هغهٔ ته د فرعون د طرف نه مصيبتونه اورسيدل .

(٣) ما قبل آيت ٤٢ کښې ئې قول د ابراهيم عليه السلام ذکر کړو چې پلار ته ئې وئيل : ﴿إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ يَا أَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِي عَنكَ شَيْئًا﴾ نو دلته آيت ٨٩ کښې قول د الله تعالىٰ ذکر کوي په باره د عبادت کونکو د سخي کښې : ﴿أَفَلَا يَرَوْنَ أَلَّا يَرْجِعُ إِلَيْهِمْ قَوْلًا وَلَا يَمْلِكُ لَهُمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا﴾.

(٤) ما قبل آيت ٥١ کښې ئې د موسى عليه السلام باره کښې اوئيل : ﴿إِنَّهُ كَانَ مُخْلَصًا﴾ نو دلته آيت ١٣ کښې ئې موسىٰ عليه السلام مخاطب کړے دے : ﴿وَأَنَا اخْتَرْتُكَ فَاسْتَمِعْ لِمَا يُوحَىٰ﴾ ترقي ده په ما سبق باندې .

(٥) ما قبل آيت ٥٣ کښې ئې اوئيل : ﴿وَوَهَبْنَا لَهُ مِن رَّحْمَتِنَا أَخَاهُ هَارُونَ نَبِيًّا﴾ دلته آيت ٣١، ٣٢ کښې دعا د موسىٰ عليه السلام ذکر کوي چې دا ورله موسىٰ عليه السلام دعا غوښتې وه .

(٦) ما قبل آيت ٩٧ کښې ترغيب الى القرآن وو نو دلته ٢ ، ٣ کښې تسلي ده چې زړه مه تنګوه د خلقو په خلاف کولو باندې .

(٧) ما قبل آيت ٧٦ کښې ئې اوئيل : ﴿وَالْبَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ خَيْرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابًا﴾ نو دلته آيت ٧٥ کښې په هغې باندې ترقي ده چې چا نيک عمل اوکړو نو هغوي له اوچتې درجې دي .

(٨) ما قبل آيت ٦٥ کښې ئې اوئيل : ﴿فَاعْبُدْهُ وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهِ﴾ نو دلته آيت ١٣٢ کښې وائي : ﴿وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا﴾ ترقي ده په ما سبق باندې.

(۹) آیت ۵۵ کښې ئي ذکر کړل چې اسماعیل عليه السلام به خپل اهل ته د مونځ حکم کولو : ﴿وَكَانَ يَأْمُرُ اَهْلَهُ بِالصَّلٰوةِ﴾ نو دلته آیت ۱۳۲ کښې نبي عليه السلام ته الله رب العزت وائي چې ته هم خپل اهل ته د مونځ حکم کوه.

(۱۰) آیت ۹۸ کښې تخویف دنیوي وو نو دلته آیت ۱۲۸ کښې هم تخویف دنیوي دے .

(۱۱) آیت ۹۷ کښې ترغیب الی القرآن وو نو دلته آیت ۱۲٤ کښې سزا د هغه چا ذکر کوي چې د قرآن نه اعراض کوي.

(۱۲) ما قبل ک نفي د شفاعت قهریه وه نو دلته هم نفي د شفاعت قهریه کوي.

امتیازات:

(۱) داسورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په تفصیلي واقعي د موسٰی عليه السلام باندي.

(۲) په ذکر د سوزولو د سخی باندي ، آیت ۹۷۔

(۳) په قول د سامری باندي چې هغهٔ وئیل : ﴿لَا مِسَاسَ﴾ ، آیت ۹۷ .

(٤) په مناظري د موسٰی عليه السلام باندي په یوم الزینة کښې .

(۵) په دعا د موسٰی عليه السلام باندي ، ۲۵ .

(٦) په جواب د جادوګرو باندي فرعون ته : ﴿فَاقْضِ مَآ اَنْتَ قَاضٍ﴾ ، آیت ۷۲.

(۷) په بیان د عذر د آدم عليه السلام باندي : ﴿فَنَسِيَ وَلَمْ نَجِدْ لَهُ عَزْمًا﴾، آیت ۱۱۵.

(۸) په سزا د معرضینو د قرآن باندي ، آیت ۱۲٤ .

(۹) په ذکر د "طه" باندي ، آیت ۱ .

(۱۰) په قول د الله تعالٰی باندي : ﴿وَخَشَعَتِ الْاَصْوَاتُ لِلرَّحْمٰنِ فَلَا تَسْمَعُ اِلَّا هَمْسًا﴾،آیت۱۰۸.

(۱۱) په حکم د الله تعالٰی باندي : ﴿ وَقُلْ رَّبِّ زِدْنِي عِلْمًا ﴾ ، آیت ۱۱٤ .

(۱۲) په بيان د څلورو شرائطو د پاره د ښېښي :﴿وَإِنِّي لَغَفَّارٌ لِّمَن تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدَىٰ﴾ .آيت ۸۲.

دعوى :

الترقي على ما سبق والتشجيع في التبليغ .

خلاصه:

په ابتداء د سورت کښې دري / ۳ مسئلي ذکر کوي .

(۱) الخالق لكل شئى هو الله ، آيت ٤ ـ

(۲) المتصرف في كل شئ هو الله ،آيت ٦ .

(۳) العالم بكل شئ هو الله ، آيت ۷ .

نوآيت ۸ کښې پري مسئله د توحيد تفريع کوي : ﴿اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ﴾ بيا دوه مسئلي ذکر کوي : (۱) أُبْتِلُوْبِالْمَصَائِبِ . (۲)تسلي او تشجيع في التبليغ په دي باندي دري واقعات ذکر کوي .

(۱) واقعه د موسٰى عليه السلام : ذکر کوي چې اوکوره موسٰى عليه السلام څنګه هغه ظالم متمرد اوسرکش بادشاه ته مسئله بيان کړه او تکليفونه يې برداشت کړل .

(۲)بيا کلک والے د ساحرينو : ذکر کوي چې هغوی څنګه د نرتوب جواب فرعون ته ورکوي : ﴿فَاقْضِ مَا أَنتَ قَاضٍ﴾ .

(۳)واقعه د آدم عليه السلام ذکر کوي چې د هغهٔ غونډې هير درنه رانهٔ شي۔ کلک شئ اودا مسئله خلقو ته اورسوئ ، د الله تعالىٰ تابعداري مه پريږدئ او مه ئي هيروئ ، اوکوره آدم عليه السلام نه د الله حکم هير شو نو مصيبت سره مخامخ شو .

سورة الانبياء مكية

نزولاً ۷۳ بعد ابراهيم   مصحفاً ۲۱ بعد طٰهٰ

«ربط د ما سبق سره»

(۱) ما قبل آخري آيت كښې ئې اوئيل : ﴿ قُلْ كُلٌّ مُّتَرَبِّصٌ ﴾ دا انتظاربه څومره وي نو دلته رومبنی آيت كښې وائي : ﴿ اقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ ﴾ .

(۲) ما قبل آيت ۱۲٤ كښې ئې زجرمعرضينو د قرآن كريم ته وركړو نو دلته آيت ۲ كښې هم دغه خلقوته زجر وركوي .

(۳) ما قبل كښې ئې نفي د دوؤ قسمونو د شرك اوكړه نو دلته آيت ۹۲ كښې د هغي خلاصه ده : ﴿ وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاعْبُدُونِ ﴾ .

(٤) ما قبل كښې ابتلاء ده موسٰیعليه السلام ذكر شوه نو دلته ابتلاء د نورو انبياء عليهم السلام ذكر كوي .

(٥) ما قبل كښې واقعه د موسٰیعليه السلام تفصيلي ذكر شوه نو دلته د هغي خلاصه ذكر كوي .

(٦) ما قبل آيات ۸ كښې ئې مسئله د توحيد ذكر كړه نو دلته آيت ۲٥ كښې وائي چې د دي مسئلي وحي مي هر يو پيغمبرته كړي ده .

(۷) سورت كهف كښې نفي د علم غيب اوشوه مريم كښې عاجزي د مصطفينو سورت طه كښې ابتلاء د مصطفينو دا سورت خلاصه د دغه دري واړو سورتونو ده آيت ۹۰ كښې وائي چې ټولو انبياءعليهم السلام مونږ رامدد كولو.

(۸) ما قبل آيت ۹۷ كښې ئې بهادري د موسٰیعليه السلام ذكر كړه نو دلته آيت ٥۸ كښې بهادري د ابراهيمعليه السلام ذكر كوي ،آيت ٥۸ .

(۹) ما قبل ۱۲۸ کښې ئې هلاکت د قومونوذکر کړے وو نو دلته آيت ۱۱ کښې علت (وجه) د هلاکت ذکر کوي چې ظلم دے .

(۱۰) ما قبل کښې رد د شرک وو دلته په دي واقعات د انبياء عليهم السلام ذکر کوي .

(۱۱) ما قبل آيت ۱٤ کښې وحي د موسٰیعليه السلام ذکر شوه چې الله تعالٰی ورته وئيلي وو: ﴿لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدْنِي﴾ نو دلته آيت ۲۵ کښې د ټولو انبياء عليهم السلام وحي ذکر کوي : ﴿لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ﴾ .

(۱۲) ما قبل آيت ۱۰۹ کښې ئې نفي د شفاعت قهريه اوکړه نو دلته آيت ۲۸ کښې نفي د شفيع قهری کوي .

امتيازات:

(۱) دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په واقعې د ايوبعليه السلام باندي ،آيت۸۳.

(۲) په دعا ديونسعليه السلام باندي ، آيت ۸۷ .

(۳) نبيعليه السلام ته رحمت للعالمين وئيلو باندي ، آيت ۱۰۷ .

(٤) په بتانو ماتولو باندي (د ابراهيمعليه السلام) ، آيت۵۸ .

(۵) په حکم د الله تعالٰی باندي اُور ته دي الفاظو سره : ﴿يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَامًا عَلٰى إِبْرَاهِيمَ﴾ ، آيت٦۹.

(٦) په اتلس واقعاتو د انبياء عليهم السلام باندي .

(۷) په فيصلې د داؤدعليه السلام باندي او د سليمانعليه السلام باندي ، آيت ۷۸ .

(۸) په دليل نقلي اجماعي د انبياء عليهم السلام باندي ، آيت ۲۵ .

(۹) په بيان د خصوصي حالت د عابدينو اومعبودينو باندي ، ۱۰۱ .

(۱۰) په قسم د ابراهيمعليه السلام باندي ، آيت۵۷ .

دعوى:

نفي الشرك في الدعاء و اكرام الانبياء بعد الابتلاء واثبات المقاصد الاربعة .

تقسيم د سورت (خلاصه):

دا سورت په شپږ بابونو باندي مشتمل دے :

اول باب:

آيت ۱نه تر آيت ۱۵پوري په ديکښې تخويف اخروي ، زجر منکرينو د رسالت ته ، جواب د شبهي د دوی (د منکرينو د رسالت) او ترغيب توحيد او قرآن ته ورکوي .

دويم باب:

آيت ١٦ نه تر ۲۹ پوري په ديکښې اووه / ۷ خبري ذکر کوي:

(۱) دلائل عقليه په مسئلي د توحيد ، آيت ١٦ ، ۱۹.

(۲)دليل نقلي د ملائکو نه ، آيت ۱۹ ، ۲۰.

(۳) دليل نقلي اجماعي د انبياء عليهم السلام نه ، آيت ۲۵ .

(٤)رد په مشرکينو ، آيت ۲۱ ، ۲۲ ، ٢٤ ، ٢٦ ، ۲۸ .

(٥)ترغيب الى القرآن .آيت٢٤.

(٦)نفی د شفاعت قهريه ، آيت ۲۸ .

(۷)والالزام على المشركين " مشرکين ملزم کوي " ، آيت ۲۹ .

دريم باب:

آيت ۳۰ نه تر آيت ٤٧ پوري ، په ديکښې پنځه خبري ذکر کوي :

(۱) دلائل عقليه په ترقی سره د مخکښې باب ، آيت ۳۰ ، ۳۱ ، ۳۲ ، ٤٢ ، نه .

(۲) تخويف دنيوي ، آيت ٣٤ ، ۳۵، ٤٤ ، ٤٥ ، ٤٦

(۳) زجر منکرینو د رسالت او معرضینو د قرآن ته ، آیت ۳۶ ، ۳۷ دارنګه زجر منکرینو د توحید ته ورکوي، آیت ۴۳ .

(۴) تخویف اخروي ، آیت ۳۸ ، ۳۹ ، ۴۰ ، ۴۷ .

(۵) تسلي پیغمبرﷺ ته ، آیت ۴۱.

څلورم باب:

آیت ۴۸ نه آیت ۹۶ پوري په دیکښې پنځه خبري ذکر کوي :

(۱) اتلس / ۱۸ واقعات د انبیاءﷺ بطور دلائل نقلیه په مسئلي د توحید باندي . (۲) ترغیب الی القرآن آیت ۵۰ . (۳)دلیل د مشرکینو چې اتباع الاباء ده ، آیت ۵۳ . (۴) په دي باب کښې ۳ ځله دعوی د توحید ذکر کوي ، آیت ۷۳ ، ۹۰ ، ۹۲. (۵) اختلاف د خلقو پس د انبیاء علیهم السلام نه ، آیت ۹۳ .

پنځم باب:

آیت ۹۷نه تر آیت ۱۰۴ پوري ، په دیکښې دري خبري ذکر کوي .

(۱)زجر مشرکینو ته ، آیت ۹۷ تا ۱۰۰ . (۲)بشارت مؤمنانوته ، آیت ۱۰۱ تا ۱۰۳ .

(۳)اثبات د قیامت ، آیت ۱۰۴ .

شپږم باب:

آیت ۱۰۵نه تراخره پوري په دي کښې پنځه خبري ذکر کوي :

(۱) بشارت دنیویه ، آیت ۱۰۵ . (۲) ترغیب الی القرآن ، آیت ۱۰۶ . (۳) ترغیب اتباع د پیغمبرﷺ ته ، آیت ۱۰۷ .(۴) دعوی اصلي (توحید) ، آیت ۱۰۸ ، ۱۱۰ .

(۵) تخویف منکرینو د توحید ته ، آیت ۱۱۱ ، ۱۱۲ .

د سورت اول کښې تخویف وو منکرینو د توحید ته او آخر کښې هم تخویف دے منکرینو ته سورت چې ختموي نو د اول سره ئې تړي .

سورة الحج مدنية

نزولاً ۱۰۳ بعد النور مصحفاً ۲۲ بعد الانبياء

«ربط د ما سبق سره»

(۱) ما قبل آیت ۱ کښې ئي اوئیل چې عذاب راځي نو دلته آیت ۱ کښې نښه د عذاب ذکر کوي.

(۲) ما قبل آیت کښې ئي رد د شرک اعتقادي اوکړو نو دلته رد د شرک فعلي کوي.

(۳) ما قبل کښې ئي اثبات د توحید اوکړو نو دلته آیت ٥ کښې زجر (رټنه) هغه چاته ورکوي چې په توحید کښې جګړې کوي.

(٤) ما قبل آیت ٥ کښې ترغیب الی القرآن ذکر شو نو دلته آیت ۷۲ کښې حالت د هغه چاذکر کوي چې قرآن پرې بدلګی.

(٥) ما قبل آیت ۱۰۸ کښې مسئله توحید ذکر شوه: ﴿اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ﴾ نو دلته آیت ۳٤ کښې هم مسئله د توحید ذکر کوي: ﴿فَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ﴾.

(٦) ما قبل آیت ۱۱ کښې تخویف دنیوي وو نو دلته آیت ٤٥ کښې هم تخویف دنیوي دے په ترقی سره د ما سبق نه.

(۷) ما قبل دلائل ذکر شو په توحید باندې نو دلته په آیت ۸ کښې وائي چې مشرک سره په شرک باندې هیڅ دلیل نشته.

(۸) ما قبل کښې اثبات د توحید اوشو په عاجزی ذکر کولو د انبیاء علهم السلام سره نو دلته مثال ذکر کوي د پاره د وضاحت د مسئلې د توحید په عجز د الهو باطلو سره.

(۹) ما قبل آیت ۱۰۷ کښې اثبات د رسالت وو دلته آيت ٤٩ کښې هم اثبات د رسالت دے .

(۱۰) ما قبل کښې ئې نفي د شرک في الدعاء اوکړه دلته زجر (رټنه) هغه چاته ورکوي چې د الله نه بغير بل څوک رامدد کوي .

امتیازات:

(۱) داسورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په اوامرُ باندي حاجيانو ته ،آیت ۲۹.

(۲) په بيان د حالت د هغه چا چې قرآن پري بدلكي ،آیت ۷۲ .

(۳) په مثال د عجز د الهو باطلؤ سره ،آیت ۷۳ .

(٤) په حکم د الله تعالى باندي : ﴿فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ﴾ ،آیت ۳۰ .

(٥) په حکم د الله تعالى باندي : ﴿وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ﴾ ،آیت ۳۰ .

(٦) په مثال د مشرک باندي ،آیت ۳۱ .

(۷) په ذکر د صوامع ، بيع ، صلوت او مساجد باندي په يو آيت ٤٠ .

(۸) په حکم د اعلان کولو د حج باندي ابراهيمعليه السلام ته ،آیت ۲۷ .

(۹) په ذکر د مقامع (ګرزونو) باندي ،آیت ۲۱ .

(۱۰) په قول د الله تعالى باندي : ﴿لَنْ يَنَالَ اللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَاؤُهَا وَلَٰكِنْ يَنَالُهُ التَّقْوَىٰ﴾ ،آیت ۳۷ .

دعوى:

رد د شرک فعلي اوتشريح دځلورومسئلوباندي :

(۱)تحريمات الله (۲)تحريمات العباد (۳)نذور الله (٤) نذور العباد .

تقسيم د سورت:

دا سورت په ځلورو / ٤ بابونو باندي مشتمل دے :

اول باب:

تر آيت ۱۰ پوري ، په ديکښې : (۱) تخويف . (۲) زجر . (۳) دليل عقلي .
(٤) او اثبات د آخرت (قيامت) پري تفريع کوي .

دويم باب:

آيت ۱۱ نه تر آيت ۲۵ پوري په ديکښې شپږ خبري ذکر کوي :
(۱) زجر مشرکينو ته دوه ځله . (۲) مطالبه د دليل د مشرک نه . (۳) مثال د مشرک . (٤) بشارت مؤمنانوته۱۳ ، ۲۳ . (٥) ترغيب الى القرآن ۲٤.

دريم باب:

آيت ۲٦ نه ترآيت ۳۸ پوري ، په ديکښې دعوى د سورت (نفى د شرک فعلى) ذکر کوي .

څلورم باب:

آيت ۳۹ نه تر آخره پوري ، په ديکښې حکم د قتال ، امور مصلحه ، تسلي او هلاکت د اقوام مکذبۇ ذکر کوي .

سورة المؤمنون مكية

نزولاً ٧٤ بعد الانبياء — مصحفاً ٢٣ بعد الحج

«ربط د ما سبق سره»

(۱) ما قبل کښې تخلي وه (ځان نه ناكاره اخلاق لري کول) نو دلته تحلي ده (ځان په ښو اخلاقو باندي ښائسته کول) .
(۲) ما قبل آيت ٤٨ کښې تخويف دنيوي وو دلته آيت ٥٥ کښې هم تخويف دُنيوي ذکر کوي .

(۳) ما قبل سورتونو کښې رد د شرک مکمل اوشو نو په دې سورت کښې ادله ثلاثه په توحيد باندې ذکر کوي .

(٤) ما قبل کښې رد د شرک فعلي اوشو دلته رد د شرک اعتقادي او فعلي دواړو کوي .

(٥) ما قبل آيت ١ کښې ئې تخويف ورکړو نو دلته هغه اعمال ذکر کوي کومو باندې چې نجات حاصليږي .

(٦) ما قبل آيت ٧٢ کښې ئې حالت د هغه چا ذکر کړے وو چې قرآن پرې بد لګيده مخ به ئې روان کړے وو نو دلته آيت ١٠٤ کښې وائي : ﴿ تَلْفَحُ وُجُوهَهُمُ النَّارُ وَهُمْ فِيهَا كَالِحُونَ تَلْفَحُ وُجُوْهَهُمُ النَّارُ وَ هُمْ فِيْهَا كٰلِحُوْنَ﴾ هلته به هم بدشکله وي سزا به د جنس د فعل نه وي .

(٧) آيت ٧٢ کښې اوصاف د مشرکانو ذکر کړل نو دلته ابتداء کښې اوصاف د مومنانو ذکر کوي .

(٨) ما قبل سورتونو کښې زيات بيان د عقائدو اوشو نو دلته زيات بيان د اعمالو کوي .

(٩) ما قبل آيت ٥ کښې پيدائش د انسان ذکر کړے وو دلته آيت ١٢ ، ١٣ ، ١٤ کښې په هغې باندې ترقي ده .

(١٠) ما قبل آيت ٣٤ کښې مسئله د توحيد ذکر شوه نو دلته آيت ١ کښې وائي : ﴿قَدْاَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ﴾ چا چې دا مسئله اومنله نو هغوئ کامياب دي .

(١١) ما قبل آيت ٣٤ کښې مسئله د توحيد ذکر شوه نو دلته آيت ١١٧ کښې وائي : ﴿اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ﴾ چا چې دا مسئله اونه منله نوهغوئ کاميابيدے نه شي .

(۱۲) ما قبل کښې رد د شرک فعلي اوشو نو دلته آیت ۱٤ کښې مبدء د شرک فعلي (شرک في البرکت) رد کوي.

امیتازات:

1) دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په بیان د هغه وني (زیتون) چې طور سیناء نه راؤځي ،آیت ۲۰ .

2) په ذکر د فوائدو دزیتون باندي ،آیت ۲۰ .

3) په قول د الله تعالی جهنمیانو ته : ﴿قَالَ اخْسَئُوا فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونِ﴾ آیت ۱۰۸.

4) په کثرت دلایلو عقلیؤ اعترافیؤ باندي .

5) په دوه ځله په لفظ د : ﴿هَيْهَاتَ﴾ باندي ،آیت ۳٦ .

6) په قول د الله تعالی : ﴿وَإِنَّكَ لَتَدْعُوهُمْ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ﴾ ،آیت ۷۳.

7) په پناهي غوښتلو د وسوسو او حاضریدو د شیطان نه آیت ۹۷ ، ۹۸ .

8) ځان ته بدبخت وئیلو د کافرو باندي ،آیت ۱۰٦ .

9) ځان ته ګمراه وئیلو د کافرو باندي ،آیت ۱۰٦ .

10) په خطاب د الله تعالی پیغمبرانو ته : ﴿يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا﴾ ،آیت ۵۱ .

دعوی:

اثبات د توحید په دریو دلائلو سره (وحي ، عقلي ، نقلي) باندي ، اثبات توحید بالادلة الثلاثه و نفي الشرك اعتقادي والفعلي ،و اوصاف الموحدین اکرام المؤمنین .

تقسیم د سورت (خلاصه):

په سورت کښې پنځه بابونه دي .

اول باب:

آيت ۱ نه تر ۱۱ پوري په دي کښې اوصاف د مؤمنانو ذکر کوي چې د هغي بنيادي دري خبري دي :

(۱) الله تعالی ته عاجزي کول . (۲) ځان بچ کول د شرک نه . (۳) ظلم نه کول.

دويم باب:

آيت ۱۲ نه تر آيت ۲۲ پوري په دي کښې اول دليل عقلي ، نفي د شرک في البرکات دويم دليل عقلي او په هغي باندي تفريع د اثبات د قيامت او بيا نور دلائل عقليه ذکر کوي .

دريم باب:

آيت ۲۳ نه تر آيت ۵۰ پوري په ديکښې څلور دلائل نقليه ذکر کوي .

(۱) دليل نقلي د نوح عليه السلام نه اونفی د شرک في البرکات پري تفريع کوي .آيت ۲۳تا۳۰.

(۲) دليل نقلي اجماعي اجمالي آيت ۳۲ ، او تخويف دنيوي ورکوي

(۳) دليل نقلي اجماعي اجمالي آيت ٤٤ ، او بيا تخويف دنياوي ورکوي .

(٤) دليل نقلي په کتاب د موسیٰ عليه السلام سره آيت ٤۹ .

څلورم باب:

آيت ۵۱ نه تر ۷۷ پوري ، په دي کښې نفي د شرک فعلي ، زجر ، صفات د مؤمنانو ، تخويف دنيوي او زجر معرضينو د قرآن ته ذکر کوي .

پنځم باب:

آيت ۷۸ نه تر آخره پوري په ديکښې دلائل عقليه محضه بيا دلائل عقليه اعترافيه ، نفي داتخاذ الولد ، نفي د علم غيب عن غيره تعالی ، تخويف أخروي او په آخر کښې اثبات د توحيد او نفي د شرک في الدعاء کوي .

سورة النور مدنية

نزولاً ۱۰۲ بعد الحشر مصحفاً ۲۴ بعد المؤمنون

«ربط د ما سبق سره»

(۱) ما قبل کښې ئې هغه صفات ذکر کړل چې انسان پرې ښائسته کیږي نو اوس هغه صفات ذکر کوي چې انسان پرې بدرنګیږي لهذا دینه ځان ساتل پکار دي .

(۲) ما قبل آیت ۱۱٦ کښې ئې اوئیل : ﴿لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ﴾ نو دلته د توحید د وضاحت د پاره مثالونه ذکر کوي .

(۳) ما قبل آیت ۱ کښې ئې اوئیل چې مومنان کامیاب دي نو دلته علت د کامیابۍ (یعنې توحید) ذکر کوي.

(٤) سورت حج کښې اوصاف د مشرکینو اوسورت مومنون کښې اوصاف د مومنانو ذکر شو نو دې سورت کښې اوصاف د منافقینو ذکر کوي د پاره د تتمې د ما سبق .

(٥) ما قبل آیت ٥ کښې ئې د مومنانو صفت ذکر کړو : ﴿وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ﴾ نو دې سورت کښې د شرمګاهونو د حفاظت د پاره احکام او آداب ذکر کوي .

(٦) ما قبل ابتدائي آیاتونو کښې څه صفات د مومنانو ذکر شو نو دلته آیت ٥١، ٥٢ کښې نور صفات د مومنانو ذکر کوي .

(۷) ما قبل آیت ٥٥ کښې ئې زجر ورکړو مشرکینو ته دلته آیت ٥٠ کښې منافقینو ته زجر ورکوي .

(۸) ما قبل کښې اصلاح د عقیدې اوشوه دلته اصلاح د معاشرې کوي.

(۹) ما قبل آيت ۱۱۷ کښې ئي اوئيل : ﴿إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْكَافِرُونَ﴾ چې كافران نه كاميابيږي نو دلته آيت ۵۱ ، ۵۲ کښې كامياب خلق (مومنان) ښائي .

(۱۰) ما قبل آيت ۱۱ کښې ئي مومنانو ته بشارت اُخرويه ورکړو نو دلته آيت ۵۵ کښې مومنانو ته بشارت دنيويه ورکوي .

امتيازات:

(۱) دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په سزا د هغه چا چې بدنامه ئي پاکدامنو باندي اولګوله ، آيت ٤.

(۲) په سزا د زناکارو باندي ، آيت ۲ .

(۳) په بيان د څلورو قوانينو باندي د پاره د دفع د فحشاء.

(٤) په اوؤه آدابو باندي .

(۵) په براءت د عائشى رضى الله عنها باندي .

(٦) په شپږو اصولو باندي د پاره د برآءت د صحابه کرامو .

(۷) په واقعه د افك باندي .

(۸) په بيان دمثال د مسئلې د توحيد په (نور)سره : ﴿اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ﴾ ، آيت ۳۵ .

(۹) په بيان د دري قسمه ځناورو باندي ، آيت ٤۵ .

(۱۰) په بيان د دريؤ وعدو د الله باندي مومنانو سره ، آيت ۵۵ .

دعوى:

الاجتناب من الاوصاف المنكرة و رد الرسومات الباطلة ، بالفاظ ديګرڅلور قوانين او اووه آداب د پاره د دفع د فحشاء .

خلاصه:

دي سورت کښې اول څلور قوانين او بيا وۀ آداب د پاره د دفعې د فحشاء ذکر کوي څلور قوانين دا دي:

قانون ۱: زناکارو له سزا ورکړئ او رحم پري مه کوئ، آيت ۲.

قانون ۲: د ناکاره مجلس نه اجتناب کول، آيت ۳.

قانون ۳: چا چې پاک دامن بدنام کړل نو اتيا کوړي سزا ورکړئ، آيت ٤.

قانون ٤: طريقه د لعان آيت ٦ تا ۹ کښې ښائي.

بيا دينه پس ووۀ / ۷ آداب ذکر کوي.

ادب ۱: پردي کورونو ته بغير د اجازت نه مه ځئ: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَدْخُلُوا۟ بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّىٰ تَسْتَأْنِسُو﴾، آيت ۲۷.

ادب۲: سړی دِ پردو زنانو ته نه ګوري: ﴿قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا۟ مِنْ أَبْصَٰرِهِمْ﴾، آيت ۳۰.

ادب ۳: زنانه دِ پردو سړوته نه ګوري: ﴿وَقُل لِّلْمُؤْمِنَٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَٰرِهِنَّ﴾، آيت ۳۱.

ادب٤: زنانه دِ خپل زينت پردوسړو ته نه ښکاره کوي: ﴿وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ﴾، آيت ۳۱.

ادب ٥: بے ودونو (غير شادي شده سړو اوښځو) له نکاح (واده) اوکړئ: ﴿وَأَنكِحُوا۟ ٱلْأَيَٰمَىٰ مِنكُمْ وَٱلصَّٰلِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَآئِكُمْ﴾، آيت ۳۲.

ادب ٦: هغه غلامان چې عقد کتابت غواړي نوعقد کتابت ورسره اوکړئ: ﴿وَٱلَّذِينَ يَبْتَغُونَ ٱلْكِتَٰبَ مِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُمْ فَكَاتِبُوهُمْ إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ خَيْرًا﴾، آيت ۳۳.

ادب ۷ : جینکو باندي د بد عملی زور مه کوئ : ﴿وَلَا تُكْرِهُوا فَتَيَاتِكُمْ عَلَى الْبِغَاءِ﴾ ،آیت ۳۳ .

شيخ القرآن رحمه الله" سمط الدرر ص ۱۱۷ " کښې ليکلی دي : فمن ادب بهذه الآدب عصم من الفحشاء ، چا چې په دي آدابو باندي ځان مؤدب کړو نو د بے حيايئ نه به بچ شي .

سورة الفرقان مكية

نزولاً ۴۲ بعد يسين مصحفاً ۲۵ بعد النور

«ربط د ما سبق سره»

(۱) ما قبل کښې اصلاح د عمل اوشوه نو دلته اصلاح د عقيدي کوي .

(۲) ما قبل کی فحشاء دعمل ذکر شوه نو دلته فحشاء د عقيدي (اعتراضات د مشريکينو په توحيد) ذکر کوي .

(۳) ما قبل آيت ۴۲ کښې نفي د شرک في التصرف وه (چې د شرک اعتقادي يو قسم دے) نو دلته آيت ۱ کښې هم نفي د شرک في البرکات کوي .

(٤) ما قبل کښې په اثبات د توحيد دلائل ذکر شو نو دلته پري د هغي نه زيات دلائل ذکر کوي .

(٥) ما قبل آيت ٤٦ کښې ترغيب إلى القرآن وو نو دلته آيت ۱ کښې هم ترغيب الى القرآن دے .

(٦) ما قبل آيت ٤٦ کښې مسله د توحيد ذکر کړه نو دلته آيت ۲ کښې په هغي باندي طرقی ده .

(۷) ما قبل آيت ۳۹ کښې اوئيل چې د کافرانو عمل برباد دے نو دلته آيت ۲۳ کښې په نورو الفاظو باندي وائي چې د کافرانو عمل برباد دے .

(٨) ما قبل ۳٤ کښې ترغیب الی القرآن وو نو دلته آیت ۳۰ کښې ریورټ د پیغمبرﷺ ذکر کوي خلاف د هغه خلقو په قیامت کښې چې قرآن ئې پریخودے وو.

(۹) ما قبل آیت ۳۵ کښې ذکر شو چې زیتون ونه کښې خیر اچولے شوے دے نو دا خیر خوک اچوي دلته آیت ۱ کښې وائي چې خیر او برکت الله اچوي.

(۱۰) ما قبل کښې ئې مومنان د منافقانو د صفاتو نه منع کړل نو دلته مومنان د مشرکانو د صفاتو نه منع کوي.

(۱۱) ما قبل کښې عظمت الشان د پیغمبرﷺ ذکر شو نو دلته زجر ورکوي هغه چا ته چې پیغمبرﷺ پوري توقي کوي.

(۱۲) ما قبل کښې نفي د علم غیب اوشوه د نبيﷺ نه په واقعي د افك سره نو دلته نفي د تصرف د نبيﷺ نه کوي.

(۱۳) ما قبل ۳۵ آیت کښې مثال د توحید ذکر شو نو دلته رد د شبهاتو د مشرکینو دے په توحید باندي د پاره د زیات وضاحت د توحید.

(۱٤) ما قبل کښې صداقت د پیغمبرﷺ ذکر شو نو دلته آیت ۱ کښې د پیغمبرﷺ د رالیږلو حکمت ذکر کوي: ﴿لِيَكُوْنَ لِلْعٰلَمِيْنَ نَذِيْرَا﴾، آیت ۱.

(۱۵) ما قبل کښې اوصاف د منافقینو ذکر شو نو دلته آخر کښې اوصاف د مومنانو ذکر کوي.

امتیازات:

(۱) دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په دفع د هغه شبهاتو باندي چې مشرکینو په مقاصد اربعۀ باندي کول.

(۲) په خصوصي حالت دظالم په قیامت کښې: ﴿وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ عَلٰى يَدَيْهِ يَقُوْلُ يٰلَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُوْلِ سَبِيْلًا﴾، آیت ۲۷.

(۳) په ربوبت د نبي‌علیه السلام په قیامت کښې خلاف د مخالفینو د قرآن، آیت ۳۰.

(٤) په بیان د اوصافو د مومنانو باندي، آیت ٦٣.

(٥) په ذکر کولو د نسب او سخرکنی د انسانانو باندي، آیت ٥٤.

(٦) په دري ځله نفي د شرک في البرکت کولو باندي، آیت ۱، ۱۰، ٦١.

(۷) قرآن ته جهاد کبیر وئیلو باندي، آیت ٥۲.

(۸) په ذکر د ضلالت په کثرت سره تقریبا اوؤه ځله ذکر کوي آیت ۹، آیت ۱۷، آیت ۲۹، آیت، ۳٤، آیت ٤۲، آیت ٤٤.

(۹) په اعتراض د کافرو باندي: ﴿وَقَالُوْا مَالِ هٰذَا الرَّسُوْلِ يَأْكُلُ الطَّعَامَ وَيَمْشِيْ فِي الْأَسْوَاقِ﴾، آیت ۷.

(۱۰) په قول د الله تعالی باندي: ﴿اَلرَّحْمٰنُ فَسْئَلْ بِهٖ خَبِيْرًا﴾، آیت ٥۹.

دعوی:

اثبات د مقاصدو اربعه عالیه او رد دشبهاتو کوي او۳ ځله نفي د شرک في البرکت کوي ۱، ۱۰، ٦١ کښې.

خلاصه:

دې سورت کښې رد د هغه شبهاتو کوي چې واردیدل په مقاصدِ اربعو عالیو باندي (توحید، رسالت، صداقت الکتاب، او ایمان بالآخرة) او نفي د شرک في البرکت کوي دري ځله اول ځل آیت ۱ کښې دویم آیت ۱۰ کښې او دریم ځل آیت ٦١ کښې دارنګه دلائل ذکر کوي په توحید باندي او آخر د سورت کښې د مومنانو وصفات بنائي.

سورت الشعراء مكية

نزولاً ٤٧ بعد الواقعة   مصحفاً ٢٦ بعد الفرقان

«ربط د ما سبق سره»

(١) ما قبل كښې استهزاء د مشركينو ذكر شوه نبيﷺ پوري نو دلته نبيﷺ ته تسلي وركوي .

(٢) ما قبل آخري آيت كښې ئې اوئيل : ﴿فَقَدْ كَذَّبْتُمْ فَسَوْفَ يَكُونُ لِزَامًا﴾ نو دلته په اوؤه واقعاتوسره د هغې مثال ذكر كوي .

(٣) ما قبل آخري آيت كښې ترغيب الى القرآن وو دلته آيت ٢ كښې هم ترغيب الى القرآن وركوي .

(٤) ما قبل كښې اعتراضات د مشركينو ذكر شو نو دلته نبيﷺ ته تسلي وركوي.

(٥) ما قبل كښې د دې امت ضالين ذكر شو نو دلته د نورو امتونو ضآلين ذكر كوي .

(٦) ما قبل كښې اعتراضات د مشركينو ذكر شو نو دلته مشركينو ته تخويف وركوي .

(٧) ما قبل كښې ئې دا ذكر كړل چې بركت الله رب العزت اچوي نو دلته د هغې علت ذكر كوي دا څكه چې الله تعالى انبياء عليهم السلام او مومنانو ته نجات وركوي او مشركان تباه كوي .

(٨) ما قبل كښې ئې په نفي د شرک في البركات باندي عقلي دلائل پيش كړل نو دلته په توحيد باندي ادله نقليه پيش كوي .

(۹) ما قبل آیت ۸ کښې ئي ذکر کړل چې مشرکینو نبي الطَّلِيَّلا ته جادو کړ وئیلي رو نو دلته آیت ۳٤ کښې وائي چې خفه کیږه مه موسٰی الطَّلِيَّلا ته هم فرعون جادو کړ وئیلي وو.

(۱۰) ما قبل آیت ۵۷ کښې ئي نبي الطَّلِيَّلا ته حکم کړے وو : ﴿قُلْ مَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ﴾ نو دلته د پنځو پیغمبرانو واقعاتو کښې پنځه ځله دا الفاظ ذکر کوي : ﴿وَمَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ﴾ ترقي ده ما سبق باندي.

(۱۱) ما قبل کښې نفي د شرک في البرکت اوشوه نو دلته ۲۱۳ کښې نفي د شرک في الدعاء کوي .

(۱۲) ما قبل آیت، ۳۵ کښې ئي اجمالا د موسٰی الطَّلِيَّلا بیان کړے وو نو دلته آیت ۱۱ نه ۶۷ پورې آیاتونو کښې تفصیلي واقعه د موسٰی الطَّلِيَّلا ذکر کوي ، ترقي ده ما سبق باندي .

(۱۳) آیت ٤ کښې ئي د مشرکینو اعتراض ذکر کړے وو چې دا قرآن پیغمبر الطَّلِيَّلا د ځان نه جوړ کړے دے نو دلته ۱۹۲ کښې وائي چې دا قرآن د الله د طرف نه رالیږلے شوے دے او جبریل امین د دي وحي راوړی ده .

(۱٤) ما قبل آیت ۳ کښې ئي عجز د الهؤ با طلؤ ذکر کړے وو نو دلته آیت ۷۲ کښې هم د دوی عجز په واقعه دا براهیم الطَّلِيَّلا کښې ذکر کوي .

(۱۵) ما قبل کښې ئي اوصاف د مومنانو ذکر کړل نو دلته اوصاف د کافرانو ذکر کوي ، ځان او ملګری دِ اوپیژندل نو راشه اوس خپل دشمنان اوپیژنه .

امتیازات:

1) دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په ذکر د دي جملي باندي : ﴿وَمَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ﴾ پنځه ځله ۱۱۹ ، ۱۲۷ ، ۱٤۵ ، ۱٦٤ ، ۱۸۰ .

2) په بیان د حالت د سمندر باندي ، آیت ٦۳ .

3) د فرعون په دوؤه اعتراضونو باندي چې موسٰیعلیه السلام باندي ئې کړي وو آیت ۱۸ ، ۱۹ .

4) په ذکر د بنو شاعران نو اوناکاره شاعرانو باندي ، آیت ۲۲٤ تا ۲۲۷ .

5) په قول د ابراهیمعلیه السلام باندي : ﴿وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِيْنِ﴾ ، آیت ۸۰ .

6) په دعاګانو د ابراهیمعلیه السلام باندي ، آیت ۸۳ تا ۸٦ .

7) په بیان د حالت د دریاب باندي :﴿ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَالطَّوْدِ الْعَظِيْمِ﴾،آیت۶۳.

8) په قول د فرعون باندي : ﴿ إِنَّ هٰٓؤُلَآءِ لَشِرْذِمَةٌ قَلِيْلُوْنَ﴾ ، آیت ٥٤ .

9) په اته ځله ذکر کولو د دي الفاظو باندي : ﴿ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ﴾ په بیان د هر پیغمبر کښي دا ذکر کوي .

10) په قول د مشرکینو خپلو الهؤ ته په قیامت کښي : ﴿إِذْ نُسَوِّيْكُمْ بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ﴾ ، آیت ۹۸ .

11) په قول د لوطعلیه السلام خپل قوم ته : ﴿إِنِّي لِعَمَلِكُمْ مِنَ الْقَالِيْنَ﴾ ، آیت ۱۶۸.

12) په زجر کولو مشرکانو ته په مخصوص الفاظو باندي : ﴿ وَسَيَعْلَمُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا اَيَّ مُنْقَلَبٍ يَّنْقَلِبُوْنَ﴾ ، آیت ۲۲۷ .

13) په حکم د الله تعالٰی نبيعلیه السلام ته :﴿ وَاَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْاَقْرَبِيْنَ﴾،آیت ۲۱٤.

14) په په تخویف ورکولو مشرکینو ته په خصوصي الفاظو باندي : ﴿فَكُبْكِبُوْا فِيْهَا هُمْ وَالْغَاوٗنَ﴾ ، آیت ۹٤.

15) په قول د فرعون په باره د نبيعلیه السلام او د هغه دملګرو کښي : ﴿وَإِنَّهُمْ لَنَا لَغَآئِظُوْنَ﴾ ، آیت ٥٥ .

دعوی:

تسلي نبيعلیه السلام په اووۀ واقعاتو د انبیاء علیهم السلام باندي .

خلاصه:

سورت کښې نبيﷺ ته تسلي ده او دوه خبري ذکر کوي :

(۱) نجات المؤمنين . (۲) هلاک الجاحدين .

اووه واقعات د انبياءعليهم السلام ذکر کوي چې پکښې تسلي سره دغه دوه خبري هم ذکر کوي ، چا چې د پيغمبرانو ملګرتيا کړي وه نو هغوی له الله رب العزت نجات (خلاصے) ورکړو او چا چې ئي خلاف کړے وو نو هغوی الله تعالیٰ هلاک کړل .

سورة النمل مكية

نزولاً ۴۸ بعد الشعراء مصحفاً ۲۷ بعد الشعراء

«ربط د ما سبق سره»

1) سورت فرقان کښې ذکر شو : اَلْمُبارِكُ فِيْ كُلِّ شَيْئٍ هُوَ اللهُ نو سورت شعراء کښې ئي ذکر کړل : اَلْمُتَصَرِّفُ فِيْ كُلِّ شَيْئٍ هُوَ اللهُ اوس دلته دا مسئله ذکر کوي چې : اَلْعَالِمُ بِكُلِّ شَيْئٍ هُوَ اللهُ .

2) ما قبل کښې نجات د انبياء عليهم السلام او د مؤمنانو ذکر شو نو دلته آيت ۵۹ کښې وائي چې سلامتيا او بچاؤ الله ربّ العزت ورکوي .

3) ما قبل ابتداء کښې ترغيب الى القرآن وو دلته هم ابتداء کښې ترغيب الى القرآن دے

4) ما قبل کښې واقعه د موسیٰعليه السلام د تسلی د پاره ذکر شوه دلته په نفي د علم غيب باندي واقعه د موسیٰعليه السلام ذکر کوي .

5) ما قبل کښې ئي حالت د هغه چا بيان کړو چې د انبياء عليهم السلام دعوت ئي قبول نه کړو نو تباه شو دلته د هغه چا حالت بيانوي چې د پيغمبر خبره ئي اومنله او ايمان ئی پري راوړو لکه بلقيس.

6) ما قبل کښې ئي ذکر کړل چې د انبياء عليهم السلام سره د توحيد غم وو نو دلته وائي چې صرف د انبياؤ سره نه بلکه د مرغانو سره هم د توحيد غم وو لکه ملا چرکک.

7) ما قبل ۲۱۳ کښې نفي د شرک في الدعاء اوشوه نو دلته ئي علت ذکر کوي او نفي د شرک في العلم کوي په واقعي د موسٰیؑ او سليمانؑ باندي.

8) آخري آيت کښې ئي ذکر کړل : ﴿ وَ سَيَعْلَمُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا اَيَّ مُنْقَلَبٍ يَّنْقَلِبُوْنَ۠۲۲۷﴾ نو دلته د ظالمانو انجام ذکر کوي لکه قوم د صالح او قوم د لوطؑ اوګوره ظلم ئي کولو نوتباه شو.

9) ما قبل آيت ۲۱۳ کښې نفي د شرک في الدعاء اوشوه نو دلته وائي ما څخه رامدد کړئ چې زه سلامتياور کوم.

10) ما قبل آيت ۲۱٤ کښې ئي اوئيل : ﴿وَاَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْاَقْرَبِيْنَ﴾ کښې نو دلته وائي اوګوره هد هد (ملا چرکک) هم دغه مسئله بيان کړي ده.

11) ما قبل آيت ۳٤ کښې ذکر شو چې موسٰیؑ ته فرعون جادوګر وئيلي وو دلته آيت ۱۳ کښې ذکر کوي چې فرعون او د هغه ملګرو معجزوته جادو وئيلي وو.

12) ما قبل سورت کښې په توحيد باندي اووه دلائل نقليه ذکر شو نو دلته په مسئلې د توحيد باندي ادله عقليه او نقليه دواړه ذکر کوي ترقي ده على ما سبق.

13) ما قبل آيت ۱۹۲ کښې ترغيب الى القرآن وو نو دلته آيت ۹۲ کښې وائي: ﴿ وَاَنْ اَتْلُوَا الْقُرْاٰنَ﴾ ماته حکم شوے دے چې قرآن به لولم.

14) ما قبل کښې تخویف دنیوي وو په ذکر د هلاکت د اقوام مکذبؤ سابقو باندې نو دلته ٦٩ کښې هم تخویف دنیوي دے .
15) ما قبل کښې تخویف دنیوي وو نو دلته آیت ۸۷ کښې تخویف اخروي دے .

امتیازات:

1) دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په قول د میږي باندې : ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّمْلُ ٱدْخُلُوا۟ مَسَٰكِنَكُمْ﴾ ، آیت ۱۸ .
2) په تبسم او ضحک د سلیمانعليه السلام باندې ، آیت ۱۹ .
3) په دعا د سلیمانعليه السلام باندې ، آیت ۱۹ .
4) په قول د سلیمان عليه السلام باندې په باره د هد هد کښې ، آیت ۲۱ .
5) په خبرو د هدهد باندې ، آیت ۲۲ تا ۲٦ .
6) په ذکر د خط د سلیمانعليه السلام باندې : ﴿ٱذْهَب بِّكِتَٰبِى هَٰذَا﴾ ، آیت ۲۸ .
7) په اوامرو د سلیمانعليه السلام هد هد ته ، آیت ۲۸ .
8) په قول د بلقیس باندې : ﴿إِنِّىٓ أُلْقِىَ إِلَىَّ كِتَٰبٌ كَرِيمٌ﴾ ، آیت ۲۹ .
9) په مضمون د خط د سلیمانعليه السلام باندې ، آیت ۳۰ .
10) په ذکر د ﴿بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ﴾ باندې ، آیت ۳۰ .
11) په مشورې کولو د بلقیس باندې د خپل پارلیمنټ سره ، آیت ۳۲ .
12) په قول دبلقیس باندې چې هغه قاعده کلیه ده : ﴿قَالَتْ إِنَّ ٱلْمُلُوكَ إِذَا دَخَلُوا۟ قَرْيَةً أَفْسَدُوهَا وَجَعَلُوٓا۟ أَعِزَّةَ أَهْلِهَآ أَذِلَّةً﴾ ، آیت ۳٤ .
13) په ذکر د بنګلي د سلیمانعليه السلام باندې ، آیت ٤٤ .
14) په ذکر د پنځه ځله ذکر کولو د ﴿أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ﴾ باندې ، آیت ٦۰ تا٦٤ .

15) په دي الفاظو باندي : ﴿وَاَنْ اَتْلُوَا الْقُرْاٰنَ﴾ ، آيت ٩٢ .

دعوی:

بيان د دوؤ مسئلو : (١) عالم الغيب الله دے . (٢) سلامتيا (بچاؤ) الله تعالیٰ ورکوي .

خلاصه:

دي سورت کښي دوه مسئلي ذکر کوي : (١) عالم الغيب يو الله تعالیٰ دے . (٢) سلامتيا الله تعالیٰ ورکوي .

په دواړو مسئلو باندي واقعات د انبياء عليهم السلام ذکر کوي ، ړومبی مسئله (نفی د علم غيب) باندي دوه واقعات ذکر کوي :

1. واقعه د موسٰیؑ اوکوره موسٰی خبر نه شو د همسا .
2. واقعه د سلٰيمانؑ اوکوره سليمانؑ د مملکت د بلقيس نه خبر نه شو ، ملاچرګک ورته خبر راوړے دے خلاصه د دواړو واقعاتو : ﴿قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ﴾ ، آيت ٦٥.

(٢) السلامة من الله سلامتيا الله تعالیٰ ورکوي ، په دي باندي هم دوه واقعات ذکر کوي : (١) واقعه د صالحؑ . (٢) واقعه د لوطؑ .

خلاصه د دي واقعاتو آيت ٥٩ کښي ذکر کوي : ﴿وَسَلٰمٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى﴾.

سورة القصص مكية

نزولاً ٤٩ بعد النمل مصحفاً ٢٨ بعد النمل

«ربط د ما سبق سره»

1) ما قبل ختم شو په ترغيب الى القرآن: ﴿وَأَنْ أَتْلُوَ الْقُرْآنَ﴾ ۹۲ نو دا سورت شروع کوي په ترغيب الى لقرآن باندي، آيت ۲.

2) ما قبل کښې ئي اوئيل چې انبياء عليهم السلام لره ماسلامتيا ورکړې وه نو دلته وائي يواځې هغوی نه بلکه قومونه هم ماخلاص کړي دي.

3) ما قبل کښې دوه مسئلې بيان شوي : (۱) نجات المؤمنين (۲) هلاک الجاحدين نو دلته د هغه دواړومسئلو زيات وضاحت کوي.

4) ما قبل آخري آيت کښې ئي اوئيل : ﴿قُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ﴾ د الله حمدونه وايه نو دلته علت د حمد ذکر کوي چې هغه تباه کيدل د ظالمانو دي چې ظالم تباه شونو الحمد لله وايه لکه مؤمنون ۲۸، انعام ٤٥.

5) ما قبل کښې مسئله د توحيد بيان شوه نو دلته تحضيض (تيزي) ورکوي په تبليغ (رسولو) د توحيد باندي په واقعي د موسیٰ عليه السلام باندي.

6) آيت ٦٤ کښې مطالبه د دليل وه د مشرکانونه په دنيا کښې نو دلته آيت ٧٥ کښې د دوی نه مطالبه د دليل ذکر کوي په قيامت کښې.

7) ما قبل آخري آيت کښې ئي اوئيل : ﴿سَيُرِيكُمْ آيَاتِهِ﴾ نو دلته د بعض الايات بيان کوي دا سورت تشريح د هغه آيت ده.

8) ما قبل کښې ئي سبب د نجات او د خلاصی ذکر کړو چې قرآن دے دلته سبب د هلاکت او تباهی ښائي چې د مال سره محبت ذے.

9) ما قبل کښې ئي نفي د شرک في العلم اوکره په واقعي د موسیٰ عليه السلام او د سليمان عليه السلام سره دلته آيت ۸۸ کښې نفي د شرک في الدعاء کوي.

10) ما قبل کښې تخويف دنيوي وو په واقعي د قوم صالح او قوم لوط عليه السلام باندي نو دلته تخويف دنيوي ورکوي په واقعي د قارون سره.

11) ما قبل کښې هلاکت د فرعون ذکر شو چې سره د باد شاهئ تباه شو نو دلته هلاکت د قارون ذکر کوي چې سره د مالدارئ تباه شو.

12) ما قبل ایت۴۸ کښې په واقعه د صالح علیه السلام کښې ذکر شو چې: ﴿وَكَانَ فِي الْمَدِينَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ يُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ﴾ چې هغوی (ثمودیانو) فساد کولو نو دلته وائي: ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ﴾، آیت ۷۷.

امتیازات:

1) دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په واقعي د لونړو د شعیب علیه السلام باندي.

2) په مزدورئ د موسیٰ علیه السلام باندي.

3) په واقعه د قارون باندي.

4) په تفصیلي واقعه د موسیٰ علیه السلام باندي.

5) په قول د الله تعالیٰ باندي په باره د موسیٰ علیه السلام کښې: ﴿وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ الْمَرَاضِعَ﴾، آیت ۱۲.

6) په واقعه د هغه دوه سړو چې جنګ ئي کولو، آیت ۱۵.

7) په دعا د موسیٰ علیه السلام باندي، آیت۲۴.

8) په نفي د تصرف د نبي علیه السلام نه په دي الفاظو باندي: ﴿إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ﴾، آیت ۵۶.

9) په قول د قوم باندي قارون ته: ﴿وَأَحْسِنْ كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ﴾، آیت ۷۷

10) په قول د الله تعالیٰ باندي: ﴿وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ وَيَخْتَارُ مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ﴾، آیت ۶۸.

11) په ذکر د خزانو د قارون باندي ۷۶.

12) په تسلی ورکولو نبي ﷺ ته په خصوصي الفاظو باندي : ﴿إِنَّ الَّذِي فَرَضَ عَلَيْكَ الْقُرْآنَ لَرَادُّكَ إِلَىٰ مَعَادٍ﴾ ، آيت ٨٥ .

دعوی:

تسلي نبي ﷺ ته په واقعي د موسیٰ علیه السلام باندي .

خلاصه:

دا سورت دوه حصی دے :

اوله حصه:

آيت١ نه ترآيت ٤٣ پوري په دي کښې تفصيلي حالات د موسیٰ علیه السلام ذکر کوي ، اول شپږ آياتونه بطور تمهيد دي .

دريمه حصه:

آيت ٤٤نه ترآخره پوري ، په ديکښې مقاصد اربعه عاليه (توحيد ، رسالت ، صداقت الكتاب ، ايمان با لاخرة) ذکر کوي .

سورة العنكبوت مكية

نزولاً ٨٥ بعد الروم مصحفا ٢٩ بعد القصص

«ربط د ما سبق سره»

1) ما قبل کښې ابتلاء د انبياء عليهم السلام ذکر شوه نو دلته ابتلاء (امتحان) د مومنانو ذکر کوي .

2) ما قبل کښې نبي ﷺ ته تسلي وه نو دلته مومنانوله تسلي ورکوي .

3) ما قبل ٨٨ کښې نفي د شرک في الدعاء اومسئله د توحيد ذکر شوه نو دلته تحضيض(تيزي) ورکوي چې دا مسئله بيان کړه .

4) ما قبل کښې هلاکت د فرعون ذکر شو نو دلته د نورو کافرانو هلاکت ذکر کوي .

5) ما قبل کښې د منکرینو شبهات ذکر شو دلته دهغوی تباهي ذکر کوي .

6) ما قبل کښې ابتلاء د بني اسرائلو ذکر شوه د فرعون د طرف نه دلته ابتلاء د مومنانو ذکر کوي د نفس ، د مور او پلار ، او د ناکاره ملیانو د طرف نه

7) ما قبل کښې تخویف دنیوي وو په ذکر د هلاکت د فرعون ، قارون باندې دلته آیت ٤٠ کښې هم تخویف دنیوي دے په ذکر د نورو قومونوسره .

8) ما قبل آخري آیت کښې مسئله د توحید بیان شوه نو دلته تشجیع ورکوي په واقعي د نوح عليه السلام اود ابراهیم عليه السلام باندې .

9) ما قبل آیت ٨٥ کښې اشاره وه هجرت د نبي عليه السلام ته دلته آیت ٥٦ کښې مومنانو ته دهجرت ترغیب ورکوي .

10) ما قبل کښې ابتلاء په واقعي د موسیٰ عليه السلام سره ذکر شوه نو دلته ٦٩ کښې بشارت بالابتلاء ذکر کوي .

11) ما قبل کښې ابتلاء د موسیٰ عليه السلام وه په قسما قسم تکلیفونو سره نو دلته ابتلاء د ابراهیم عليه السلام ذکر کوي چې خلقو ئې د سیزلو بندوبست جوړ کړے وو.

12) ما قبل کښې تذهید من الدنیا وو په واقعي د قارون باندې دلته آیت ٦٤ کښې مختصر الفاظو باندې تذهید من الدنیا ذکر کوي : ﴿ وَمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا لَهْوٌ وَّلَعِبٌ ﴾

13) ما قبل ٦٤ کښې ئې مشرکینو ته زجر ورکړو او د دوی د الهٰؤ عاجزي ئې ذکر کړه نو دلته آیت ٤١ کښې ئې مثال سره زیات وضاحت کوي .

14) ما قبل آیت ٢ کښې ترغیب الی القرآن وو دلته آیت ٤٥ کښې هم ترغیب الی القرآن ذکر کوي .

15) ما قبل ۷۸ آيات کښې ئې قول د قارون ذکر کړو چې هغه وئيل : ﴿ قَالَ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلۡمٍ عِندِيٓ ﴾ دا مال ماته زما د قابليت د وجې ملاؤ شوے دے نو دلته ٦٢ کښې وائي : ﴿ ٱللَّهُ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ وَيَقۡدِرُ لَهُۥٓ ﴾ .

16) ما قبل آيت ۲۰ کښې ئې اوئيل چې فرعونيانو د موسٰیؑ د قتل پروګرام (بندوبست) جوړ کړے وو دلته آيت ٢٤ کښې وائي چې صرف دا نه بلکه د ابراهيمؑ قوم هم د هغه د وژلو بندوبست جوړ کړے وو.

امتيازات:

1) دا سورت ممتاز دے په ذکر د دريو امتحاناتو باندي .

2) په ښودلو د وخت د تبليغ د نوحؑ باندي ، آيت ١٤ .

3) په مثال د شرک سره په بيت العنکبوت ، آيت ٤١ .

4) په نجات ورکولو د اُور نه ابراهيمؑ ته ، آيت ٢٤ .

5) په دعا د لوطؑ باندي ، آيت ۳۰ .

6) په دفع کولو د وسوسو د شيطان باندي .

7) په قول د الله تعالٰی نبيؑ ته : ﴿ وَمَا كُنتَ تَتۡلُواْ مِن قَبۡلِهِۦ مِن كِتَٰبٖ وَلَا تَخُطُّهُۥ بِيَمِينِكَۖ إِذٗا لَّٱرۡتَابَ ٱلۡمُبۡطِلُونَ ﴾ ، آيت ٤٨ .

8) په بشارت ورکولو باندي هغه چا ته چې په وخت د امتحاناتو کښې کلک شو ، آيت ٦٩ .

9) په بيان د فائدي د مونځ باندي ، آيت ٤٥ .

10) په قول د الله تعالٰی باندي : ﴿ وَلَذِكۡرُ ٱللَّهِ أَكۡبَرُ ﴾ ، آيت ٤٥ .

11) په قول د لوطؑ خپل قوم ته : ﴿ وَتَقۡطَعُونَ ٱلسَّبِيلَ ﴾ ، آيت ٢٩ .

12) په قول د لوطؑ خپل قوم ته : ﴿ وَتَأۡتُونَ فِي نَادِيكُمُ ٱلۡمُنكَرَ ﴾ ، آيت ٢٩.

دعوى:

ابتلاء المؤمنين و هلاک الجاحدين .

خلاصه:

اول کښې تشجيع بيا دري امتحانات سره د مدّت او کيفيت د امتحان نه ذکر کوي :

اول امتحان : د نفس د طرف نه آيت ٦ کښې نفس به دي آرام غواړی خو ته به ورسره مقابلهٔ کوي .

دويم امتحان : د مور اوپلار د طرف نه آيت ٨ کښې کله به مور اوپلار په توحيد کښې رکاوټ جوړيږی نو د هغوی به بيا نه منی .

دريم امتحان : د ناکاره مليانو د طرف نه آيت ١٢ دوی به وائي توحيد مه بيانوه گناه دي زما په غاړه ، الله تعالى فرمائي : ﴿وَمَا هُمْ بِحٰمِلِيْنَ مِنْ خَطٰيٰهُمْ مِّنْ شَيْءٍ ۚ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ﴾ .

مدت " وخت" د امتحان به څومره وي ؟ په دي باندي واقعه د نوح‌عليه السلام ذکر کوي چې نه نيم سوه / ٩٥٠ کاله ئې مسئله بيان کړي وه : ﴿فَلَبِثَ فِيْهِمْ اَلْفَ سَنَةٍ اِلَّا خَمْسِيْنَ عَامًا﴾ ، آيت ١٤ .

کيفيت د امتحان به څه وي ؟ په دي باندي واقعه د ابراهيم‌عليه السلام ذکر کوي چې اور ته ئې غرځولي وو خو الله ورله نجات ورکړو ﴿فَاَنْجٰىهُ اللّٰهُ مِنَ النَّارِ﴾ آيت ٢٤ .

سورة الروم مكيه

نزولاً ۸۴ بعد الانشقاق　　　مصحفاً ۳۰ بعد العنكبوت

«ربط د ما سبق سره»

1) ما قبل كښې مصائب د مومنانو ذكر شو دلته آيت كښې ۳ مومنانو ته بشارت وركوي .

2) ما قبل كښې امتحانات ذكر شو نو دلته هغه مسئله "توحيد" ذكر كوي ، چې د هغې په وجه امتحانات راځي .

3) ما قبل آيت ۱۵ كښې ئې اوئيل چې نوح عليه السلام او د هغه ملګرو له م نجات رركړو نو دلته ٤٧ كښې په هغې باندې ترقي ده : ﴿وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ﴾ .

4) ما قبل آخري آيت كښې ئې ذكر كړل : ﴿وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ﴾ نو دلته آيت ٤٧ كښې هم تسلي ده : ﴿وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ﴾ .

5) ما قبل آيت ۹ كښې مومنانو ته بشارت ذكر شو نو دلته آيت ۱۵ كښې لږ تفصيلي بشارت ذكر كوي ترقي ده په ما سبق باندې .

6) ما قبل كښې امتحانات او مصائب ذكر شو نو دلته آيت ۶۰ كښې وائي چې صبر كوه يعني كلك شه په وخت د مصائبو كښې .

7) ما قبل آيت ٤١ كښې د وضاحت د توحيد او ترديد د شرك د پاره يو مثال ذكر شو نو دلته آيت ۲۸ كښې د دغه مقصد د پاره بل مثال ذكر كوي .

8) ما قبل آيت ٤١ كښې مسئله د توحيد ئې واضحه كړه په مثال سره دلته مسئله د توحيد په ۱۷ دلائل عقليؤ باندې ثابتوي .

9) ما قبل آيت ٦١ او ٦٣ كښې ادله عقليه اعترافيه ذكر شو نو دلته ١٧ كښې ادله عقليه محضه ذكر كوي .

10) ما قبل آخري آيت كښې بشارت وو دلته رومبنۍ آيت كښې بشارت دے ، اول د سورت مرتبط دے آخر د ما قبل سره .

11) ما قبل آيت ٢٠ كښې تخويف دنيوي وو دلته آيت ٩ كښې په هغې باندې زيادت كوي .

12) ما قبل آيت ١٦ ، ٣٦ كښې مسئله د توحيد په عنوان د عبادت ذكر شوه دلته آيت ١٦ ، ١٧ كښې مسئله د توحيد په دوؤ / ٢ عنواناتو (په عنوان د تسبيح او په عنوان د تحميد) باندې ذكر كوي .

13) ما قبل آيت ٦٢ كښې ئې ذكر كړل چې فراخي او تنګي د رزق الله راولي نو دلته ٣٧ كښې په هغې زيادت او ترقي ده .

14) ما قبل آيت ٢٥ كښې ذكر شو چې ابراهيمعليه السلام وئيلي وو : ﴿ثُمَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكْفُرُ بَعْضُكُمْ بِبَعْضٍ﴾ دلته ١٢-١٣ كښې د هغې تفصيل دے ﴿وَكَانُوا بِشُرَكَائِهِمْ كَافِرِينَ﴾

15) ما قبل آيت ٤٠ كښې تخويف دنيوي وو دلته ١٢-١٣ كښې تخويف اخروي دے .

امتيازات :

1) دا سورت ممتاز دے په واقعې د روميانو باندې .

2) په بيان د محبت د ښځې او خاوند باندې ، آيت ٢١ .

3) په كثرت د ادلۇ عقليۇ باندې .

4) په مثال د پاره د وضاحت د مسئلې په حال د مالک او غلام باندې ، آيت ٢٨ .

5) په ښودلو د سبب د ظهور د فساد چې هغه بد اعمال د خلقو دي ، آيت ٤١ .

6) په ذکر د پیدائش د انسان د کمزوري ځیز نه ، آیت ٥٤ .
7) په لفظ د روم باندي ، آیت ٢ .
8) په ذکر د وختونو د پنځو مونځونو باندي ، آیت ١٧ ، ١٨ .
9) په زجر ورکولو مشرکینو ته په خصوصي الفاظو باندي : ﴿أَمْ أَنزَلْنَا عَلَيْهِمْ سُلْطَانًا فَهُوَ يَتَكَلَّمُ بِمَا كَانُوا بِهِ يُشْرِكُونَ﴾ ، آیت ٣٥ .
10) په قول د الله تعالی باندي:﴿وَلَا يَسْتَخِفَّنَّكَ الَّذِينَ لَا يُوقِنُونَ﴾ ، آیت ٦٠.

دعوی:

البشارة للمؤمنين .

خلاصه:

سورت کښې دوه خبري ذکر کوي :
1) په عالم کښې فساد د شرک په وجه راځي .
2) فلاح او کامیابي په توحید حاصلیږي .

دارنګه په سورت کښې ١٧ ادله عقلیه ذکر کوي په توحید باندي ابتدائي آیتونه بطور تمثیل او بشارت دي .

سورة لقمن مکیه

نزولاً ٥٧ بعد الصفات مصحفاً ٣١ بعد الروم

«ربط د ما سبق سره»

1) ما قبل آیت ٣٥ کښې مشرکینو ته زجر وو دلته آیت ١١ کښې زیادت کوي په هغې باندي .
2) ما قبل کښې اثبات د توحید اوشو په ادله عقلیه دلته په ادله ثلاثه (عقلي ، نقلي ، وحي) سره اثبات د توحید کوي .

3) ما قبل کښې بشارت ذکر شو مؤمنانو ته دلته هغه مسئله (توحيد) ذکر کوي چې هغه سبب د بشارت دے.

4) ما قبل کښې بشارت وو مؤمنانو ته نو دلته صفات د مؤمنانو ذکر کوي چې په دي صفاتو څوک موصوف شو نو هغوی ته به د الله امداد نصيب شي.

5) ما قبل آيت ٦٠ کښې تسلي وه نبي ﷺ ته: ﴿فَاصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ اللهِ حَقٌّ﴾ دلته آيت ١٧ کښې تسلي د لقمان حکيم ذکر کوي خپل ځوي ته: ﴿وَاصْبِرْ عَلَىٰ مَا أَصَابَكَ﴾

6) ما قبل آيت ٥٨ کښې ترغيب الی القرآن وو دلته آيت ٢-٣ کښې هم ترغيب الی القرآن دے په ترقی سره د ما سبق نه.

7) ما قبل کښې مؤمنانو ته بشارت بالنصرت وو: ﴿وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ ۝ بِنَصْرِ اللهِ﴾، آيت ٤، ٥ کښې نو دلته آيت ٥ کښې مؤمنانو ته بشارت بالفلاح دے: ﴿وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾.

8) ما قبل آيت ٤٠ کښې رد د شرک اوشو دلته آيت ١٣ کښې قباحت د شرک ذکر کوي چې دا لوي ظلم دے: ﴿إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ﴾.

9) ما قبل کښې مسئله د توحيد ذکر شوه دلته په هغي باندي وصيت د لقمان حکيم ذکر کوي چې هغه هم د دي مسئلي وصيت کړے وو.

10) د ما قبل سورت آخري آيت کښې ذکر شو: ﴿وَلَا يَسْتَخِفَّنَّكَ الَّذِينَ لَا يُوقِنُونَ﴾ يعني په آخرت باندي د يقين نه کونکو ذکر اوشو نو دلته آيت ٤ کښې په آخرت باندي د يقين نه کونکو ذکر کوي: ﴿وَهُمْ بِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ﴾.

11)د ما قبل سورت آیت ۳۱ کښې ذکر شو : ﴿ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ ﴾ دلته آيت ١٦ کښې وائي چې لقمان حکیم خپل ځوي ته د مانځه حکم کړے وو .

12)د ما قبل سورت آیت ۳۱ کښې ئي ذکر کړل ﴿وَاتَّقُوْهُ ﴾ دلته آیت ۳۳ کښې په هغي زیادت او ترقي ده : ﴿يَاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمْ ﴾ .

امتيازات:

1) دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په واقعي د لقمان حکیم باندي .

2) په اوامرو او نواهیو د لقمان حکیم خپل ځوي ته .

3) په نوم د لقمان حکیم باندي .

4) په بیان د هغو پنځو مغیباتو باندي چې بغیر د الله نه يې بل چا ته پته نشته ،آیت ٣٤ .

5) په اثبات د قیامت په خصوصي الفاظو باندي : ﴿ مَا خَلْقُكُمْ وَلَا بَعْثُكُمْ اِلَّا كَنَفْسٍ وَّاحِدَةٍ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ﴾ ، آیت ۲۸ .

6) په بيان د عظمت شان د الله رب العزت باندي: ﴿وَلَوْ اَنَّ مَا فِي الْاَرْضِ مِنْ شَجَرَةٍ اَقْلَامٌ﴾ ، آیت ۲۷ .

7) په زجر ورکولو باندي مشرکينو ته په خصوصي الفاظو باندي : ﴿ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْتَرِيْ لَهْوَ الْحَدِيْثِ ﴾ آیت ٦ .

8) په قول د لقمان حکیم خپل ځوي ته : ﴿يٰبُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ ﴾، آیت ۱۳ .

9) په لوي ظلم وئیلو باندي شرک ته :﴿اِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ ﴾، آیت ۱۳ .

10)په بیان د وصیت سره انسان ته د والدينو باره کښې ،آیت ١٤ ، ١٥ .

11) په قول د لقمان حکیم باندي چې په آوازونو کښې ناکاره آواز د خر دے ،آیت ۱۹ .

12) په قول د الله تعالى باندي چې د هغه چا تابعداري کوه چې ما ته انابت (رجوع) کوي: ﴿وَاتَّبِعْ سَبِيْلَ مَنْ اَنَابَ اِلَيَّ﴾ آيت ١٥.

دعوى:

اثباة التوحيد بالادلة الثلاثة اي العقلي، والنقلي، والوحي.

خلاصه:

ابتداء كښې ترغيب الى القرآن، صفات المؤمنين او مشركينو ته زجر وركوي دا رنګه ادله عقليه او دليل نقلي د حكيم الدنيا نه ذكر كوي بيا دلائل سره د زواجر او تخويفاتو نه او آخر كښې نفي د علم غيب عن غيره تعالى كوي

سورة السجدة مكيه

نزولاً ٧٥ بعد المؤمنون مصحفاً ٣٢ بعد لقمان

«ربط د ما سبق سره»

1) ما قبل كښې دعوى د توحيد ثابته شوه بالادلة الثلاثة دلته آيت ٤ كښې د مشركينو شبهه رد كوي چې د دوى (الهؤ باطلؤ) سوال الله ښكته نه غور څوي او دوى له الله اختيار وركړے دے.

2) ما قبل آيت ٣٤ كښې ذكر شو چې عالم الغيب الله دے نو دلته آيت ٦ كښې په هغي باندې ترقي ده: ﴿عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ﴾ صرف په غيبو نه بلكه په ښكاره هم الله پوهه دے.

3) ما قبل آيت ٧ كښې ئې د قرآن نه د اعراض كونكي حالت ذكر كړو نو دلته آيت ٩ كښې وائي چې غوږونه، سترګي او زړونه ئې درله دركړي دي چې تاسو شكر اوباسئ؛ قرآن كښې سوچ اوكړئ.

4) ما قبل آيت ۷ کښې ئې ذکر کړل چې دوی د قرآن نه اعراض کوي نو دلته آيت ۳۰ کښې وائي : ﴿فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ﴾ د دوی نه مخ واړوه .

5) ما قبل ابتداء کښې ترغيب الى القرآن وو دلته هم ابتداء کښې ترغيب الى القرآن دے

6) ما قبل آيت ۷ کښې معرضينو د قرآن ته زجر وو دلته آيت ۲۲ کښې هم معرضينو د قرآن ته زجر ورکوي.

7) ما قبل آيت ۲۱ کښې ذکر شو چې کافران د قرآن تابعداري نه کوي نو دلته آيت ۹ کښې وائي چې مخ تري نه واړوه .

8) ما قبل کښې دليل نقلي وو د لقمان حکيم نو دلته دليل نقلي د موسیٰ عليه السلام نه ذکر کوي .

9) ما قبل آيت ۲۰ کښې ذکر شو : ﴿وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُ ظَاهِرَةً وَبَاطِنَةً﴾ چې الله تعالی در باندي ښکاره او پټ نعمتونه پوره کړي دي دلته آيت ۹ کښې وائي په تاسو کښې شکر يستونکی د نعمتونو ډير لږ دي.

10) ما قبل آيت ۱۰ کښې ذکر شو الله رب العزت وائي زه باران راوروم دلته آيت ۲۷ کښې په هغې باندي زيادت کوي .

11) ما قبل آيت ۱۳ کښې مذمت د شرک بيان شو : ﴿إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ﴾ نو مشرکينو اعتراض اوکړو چې مونږ خو يې شرکاء نه بلکه شفعاء ګڼړو نو دلته آيت ٤ کښې د دغه اعتراض دفع کوي : ﴿مَا لَكُم مِّن دُونِهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا شَفِيعٍ﴾ .

12) ما قبل آيت ۱۷ کښې د لقمان حکيم قول ذکر شو : ﴿وَاصْبِرْ عَلَىٰ مَا أَصَابَكَ﴾ دلته آيت ۲٤ کښې وائي چې بنی اسرائيلو ته په صبر کولو باندي مشري ملاو شوه .

امتيازات:

1) دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په ذکر د ائمه ګرځولو د بني اسرائیلو، آیت ۲٤.

2) په نفي د شفاعت قهریه په خصوصي الفاظو سره، آیت ٤.

3) په دلیل نقلي سره د کتاب موسیٰ علیه السلام نه په دعوې د سورت باندي.

4) په صفاتو د مؤمنانو باندي، آیت ۱۵، ۱٦.

5) په خصوصي بشارت ورکولو باندي مؤمنانو ته، آیت ۱۷.

6) په خصوصي حالت د مجرمانو باندي، آیت ۱۲.

7) په ذکر د سپارلو د ملک الموت باندي، آیت ۱۱.

8) په قول د منکرینو د قیامت :﴿ءَاِذَا ضَلَلْنَا فِي الْاَرْضِ اِنَّا لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ﴾، آیت ۱۰.

9) په تخویف ورکولو باندي فاسقانو ته په خصوصي الفاظو سره : ﴿وَلَنُذِيقَنَّهُمْ مِّنَ الْعَذَابِ الْاَدْنٰى دُوْنَ الْعَذَابِ الْاَكْبَرِ﴾ ، آیت ۲۱.

10) په ذکر د دوؤ اسبابو باندي د پاره د حصول د مشرئ :

(۱) صبر ، (۲) یقین ، آیت ۲٤

11) په قول د الله تعالٰی باندي : ﴿وَلَوْ شِئْنَا لَاٰتَيْنَا كُلَّ نَفْسٍ هُدٰىهَا﴾ ، آیت ۱۳.

12) په ذکر د شروع کولو باندي په پیدائش د انسان د ختي نه ، آیت ۷.

دعوی:

نفي د شفاعت قهریه ماخذ آیت ٤ او په هغي ادله.

خلاصه:

په دي سورت کښې جرړ د شرک کټ کوي یعني نفي د شفاعت قهریه کوي ځکه دا د شرک جرړه ده په اول کښې ترغیب الی القرآن بیا څلور آیتونو کښې

مشرکينو ته زجر او دعوی د سورت آيت ٤ کښې ذکر کوي بيا څلور ادله عقليه په دعوی د سورت باندي دارنګي دليل نقلي او مشرکينو ته تخويف او صفات د مؤمنينو او مشرکينو ذکر کوي .

سورة الاحزاب مدنية

نزولاً ۹۰ بعد آل عمران مصحفاً ۳۳ بعد السجدة

«ربط د ما سبق سره»

1) ما قبل سورت اجمال وو دا ئي تفصيل دے يعني دا سورت تشريح ، تکميل او تتمه د ما قبل ده .

2) ما قبل کښې رد د شبهې د مشرکينو اوشو او دا ثابته شوه چې بغير د الله نه بل حاجت روا نشته دے نو دلته تشريح د دي مسئلې بالامثلة الثلاثة ، تخصيص په رسولو د دي مسئلې ، او مومنانو ته ترغيب ورکوي .

3) ما قبل کښې رد د شرک اوشو دلته رد د رسم باطل کوي .

4) ما قبل آيت ٤ کښې ذکر شو چې الله تعالیٰ آسمانونه او زمکې پيدا کړي دي دلته آيت ۷۲ کښې هغه امانت ذکر کوي چې آسمانونه او زمکو ته حواله شوے دے .

5) ما قبل آيت ۳۰ کښې ئي ذکر کړل : ﴿فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ﴾ دلته آيت ۱ کښې وائي : ﴿وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ﴾ ترقي ده په ما سبق باندي .

6) ما قبل آيت ۲۲ کښې ئي ذکر کړل : ﴿إِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِيْنَ مُنْتَقِمُوْنَ﴾ دلته آيت ۲۶ کښې د هغې نمونه په واقعې د بنو قريظه سره ذکر کوي .

7) ما قبل آيت ۲٦ کښې د اقوام سابقۇ هلاکت ذکر شو دلته آيت ۲٦ ، ۲۷ کښې د دي امت د کفارو (بنو قريظه) هلاکت او تباهي ذکر کوي .

8) ما قبل کښې اثبات د توحید په نفي د شفاعت قهریه اوشو دلته اهمیت د توحید ذکر کوي چې په دي مسئله کلک اوسه اګر که د کفارو ډلي تا سره جنګ کوي .

9) ما قبل آیت ۲۰ کښې تخویف اخروي وو دلته تخویف دنیوي ورکوي په واقعي د بنو قریظه سره .

10) ما قبل آیت ۱٤ ، ۱٥ کښې صفات المؤمنین ذکر شو دلته آیت ۳٥ کښې په هغي باندي ترقي ده لس / ۱۰ صفات د مؤمنانو سړو او لس / ۱۰ صفات د مؤمنانو زنانو ذکر کوي للترغیب چې دا ځان کښې راوله .

11) ما قبل آیت ۱۹ کښې مؤمنانو ته بشارت وو دلته ۱۲ کښې خطابات ذکر کوي مؤمنانو ته چې دغه خطاباتو کښې کوم اوامر او نواهي دي دا اومنه نو دغه (جنت) به درته ملاؤ شي .

12) ما قبل آیت ۳ کښې د کافرو اعتراض ذکر شو په نبي‌عليه السلام چې دا قرآن د ځان نه جوړ کړے دے دلته آیت ٥۷ کښې د داسې خلقو سزا ذکر کوي .

امتیازات:

1) دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په ذکر د غزوه خندق ، آیت ۹ .

2) په دریو مثالونو د پاره د وضاحت د توحید ، آیت ٤ .

3) په ذکر د اصناف اربعه د زنانو کومي چې نبي‌عليه السلام لره جائز وي.

4) په نوم د زید رضي الله عنه باندي ، آیت ۳۷ .

5) په قول د نبي‌عليه السلام باندي زید رضى الله عنه ته : ﴿أَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَاتَّقِ اللَّهَ﴾ ، آیت ۳۷.

6) په ذکر د نکاح ورکولو د الله تعالٰی باندي حضرت زینب رضي الله عنها لره نبي‌عليه السلام ته : ﴿زَوَّجْنَٰكَهَا﴾، آیت۳۷.

7) په رد د رسم باطل باندي ، آيت ٤ .

8) په ذکر د متبنٰی باندي ، آيت ٤ .

9) په قول د الله تعالٰی باندي : ﴿اِنَّا عَرَضْنَا الْاَمَانَةَ عَلَى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَالْجِبَالِ فَاَبَيْنَ اَنْ يَّحْمِلْنَهَا وَاَشْفَقْنَ مِنْهَا﴾ ، آيت ۷۲.

10) په پنځو صفاتو د نبيﷺ باندي : (۱) شاهد (۲) مبشر (۳) نذير (٤) داعي الى الله (٥) سراج منير ، آيت ٤٥ ، ٤٦ .

11) په دولس / ۱۲ خطاباتو باندي نبيﷺ ته .

12) په دولس / ۱۲ خطاباتو باندي امت د نبيﷺ ته .

13) په لس / ۱۰ صفاتو د مؤمنانو باندي په يو آيت کښي ، آيت ۳٥ .

14) په ذکر د اقسامو د مجاهدينو باندي : ﴿فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰى نَحْبَهٗ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّنْتَظِرُ﴾ ، آيت۲۳ .

15) په خصوصي حالت د منافقانو باندي ، آيت ۱۸ ، ۱۹ .

دعوی:

التشجيع و التحضيض في التبليغ و رد الرسومات الباطلة .

خلاصه:

سورت کښي تحضيض في التبليغ رد د رسم باطل او په اثبات د توحيد او رسالت باندي دري مثالونه ذکر کوي آيت ٤

(۱) څنګه چې يو سينه کښي دوه زړونه نه شي کيدے دارنګه يو عالم کښي دوه اٰلِهَه نه شي کيدے (دا اثبات د توحيد شو) .

څنګه چې يو سينه کښي دوه زړونه نه شي کيدے دارنګه يو امت کښي دوه پيغمبران نه شي کيدے (د موسٰی او هارون عليهم السلام شريعت يو وو) (دا اثبات د رسالت شو) .

(۲) ځنګه چې ښځه مور نه شي کیدے نو دارنګه غیر اِله ، اِله نه شي کیدے او غیر نبي ، نبي نه شي کیدے

(۳) ځنګه چې پردے ځوے ځوے نه شي کیدے نو دارنګه غیر اله ، اله نشي کیدے ، آیت۲۳ .

دارنګه دولس (۱۲) خطابات نبيﷺ ته ذکر کوي :

خطاب ۱ : ﴿يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللهَ﴾ ،آیت ۱ .

خطاب ۲ : ﴿وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ﴾، آیت ۱ .

خطاب ۳ : ﴿وَاتَّبِعْ مَا يُوْحٰى اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ﴾، آیت ۲ .

خطاب ٤: ﴿وَتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ﴾ ، آیت ۳ .

خطاب٥ : ﴿وَاِذْ اَخَذْنَا مِنَ النَّبِيّٖنَ مِيْثَاقَهُمْ وَمِنْكَ﴾،آیت ۷ .

خطاب ٦: ﴿يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ اِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَزِيْنَتَهَا فَتَعَالَيْنَ اُمَتِّعْكُنَّ وَاُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيْلًا﴾، آیت ۲۸ .

خطاب ۷: ﴿وَاِذْ تَقُوْلُ لِلَّذِيْٓ اَنْعَمَ اللهُ عَلَيْهِ وَاَنْعَمْتَ عَلَيْهِ﴾، آیت ۳۷ .

خطاب۸ : ﴿وَتُخْفِيْ فِيْ نَفْسِكَ مَا اللهُ مُبْدِيْهِ﴾، آیت ۳۷ .

خطاب۹ : ﴿يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا﴾ ، آیت ٤٥ .

خطاب۱۰ : ﴿يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّآ اَحْلَلْنَا لَكَ اَزْوَاجَكَ الّٰتِيْٓ اٰتَيْتَ اُجُوْرَهُنَّ﴾، آیت۵۰ .

خطاب۱۱ : ﴿لَا يَحِلُّ لَكَ النِّسَآءُ مِنْۢ بَعْدُ﴾ ، آیت ۵۲ .

خطاب۱۲ : ﴿يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ وَبَنٰتِكَ وَنِسَآءِ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾، آیت ۵۹ .

دارنګه دولس (۱۲) خطابات امت ته ذکر دي :

خطاب ۱: ﴿اَلنَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ﴾، آیت ٦ .

حاصل دا دے : چې اے مؤمنانوا د قرآن او سنت تابع شئ .

خطاب ۲ : ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللهِ عَلَيْكُمْ﴾ ، آيت ۹ .
حاصل دا دے چې اے مؤمنانو! که په تاسو امتحان راځي نو انجام به مو د خوشحالۍ وي .
خطاب ۳ : ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ﴾ ، آيت ۲۱ .
خطاب ٤ : ﴿يٰنِسَاءَ النَّبِيِّ مَنْ يَأْتِ مِنْكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُبَيِّنَةٍ﴾ ، آيت ۳۰ .
خطاب ٥ : ﴿وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى﴾ ، آيت ۳۳.
خطاب ٦ : ﴿وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلَى فِي بُيُوتِكُنَّ مِنْ آيٰتِ اللهِ﴾ ، آيت ۳٤ .
خطاب ۷ : ﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللهُ وَرَسُولُهٗ أَمْرًا أَنْ يَّكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ﴾ ، آيت ۳٦.
خطاب ۸ : ﴿مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُولَ اللهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ﴾ ، آيت ٤۰ .
خطاب ۹ : ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا اذْكُرُوا اللهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا﴾ ، آيت ٤۱ .
خطاب ۱۰ : ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتَ النَّبِيِّ إِلَّا أَنْ يُّؤْذَنَ لَكُمْ إِلٰى طَعَامٍ غَيْرَ نٰظِرِيْنَ إِنٰىهُ﴾ ، آيت ۵۳ .
خطاب ۱۱ : ﴿وَمَا كَانَ لَكُمْ أَنْ تُؤْذُوْا رَسُوْلَ اللهِ﴾ ، آيت ۵۳ .
خطاب ۱۲ : ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوْا لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اٰذَوْا مُوْسٰى فَبَرَّاَهُ اللهُ مِمَّا قَالُوْا﴾ ، آيت ٦۹ .

سورة السباء مكيه

نزولاً ۵۸ بعد لقمان مصحفاً ۳۴ بعد الأحزاب

«ربط د ما سبق سره»

1) ما قبل آیت ٦٣ کښې ئي اوئیل چې د قیامت علم الله تعالی سره دے دلته آیت۳ کښې په هغې باندي ترقي ده .

2) ما قبل کښې رد د شرك اوشو مکمل په دریو مثالونو سره دلته ابتداء کښې وائي چې : ﴿ اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ﴾ په دي نعمت اوایه .

3) ما قبل آیت ٦٣ کښې تپوس د کفارو د قیامت باره کښې ذکر شو نو دلته آیت ۳ کښې وائي چې اصل کښې دوی د قیامت نه منکر دي .

4) ما قبل کښې عاجزي د پیغمبر ﷺ ذکر شوه دلته عاجزي د څلور / ٤ قسمه مخلوقاتو ذکر کوي : (۱) انبياء عليهم السلام . (۲) بادشاهان . (۳) جنات. (٤) ملائک .

5) ما قبل کښې مسئله د توحید په دریو مثالونو واضحه شوه دلته شبهه د مشرکینو په څلورو طریقو رد کوي آیت ۲۲ ، ۲۳ کښې .

6) ما قبل آیت ٦٤ کښې ذکر شو چې کافران الله رب العزت په لعنت کړي دي دلته آیت ۳۳ کښې وائي : ﴿ وَجَعَلۡنَا الۡاَغۡلٰلَ فِيۡۤ اَعۡنَاقِ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا﴾ څټونو د کافرانو کښې به غټ ځنزیرونه واچوو .

7) ما قبل کښې دولس / ۱۲ خطاباتو سره مؤمنانو ته ترغیب وو اطاعت د پیغمبر ﷺ ته دلته آیت ۷ کښې منکرینو د رسالت ته زجر ورکوي .

8) ما قبل آخري آیت کښې ذکر شو چې الله تعالیٰ منافقانو او مشرکانو ته عذاب ورکوي او مومنانو باندي مهرباني کوي ، دلته آیة ۱ کښې د دي علت

ذکر کوي : ﴿لَهُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ﴾ يعني دا حکه چې الله تعالی لره اختيار دے .

9) اختتام کښې ئې دوه صفات د الله تعالیٰ ذکرکړل : ﴿وَكَانَ اللّٰهُ غَفُورًا رَّحِيمًا﴾ دلته ابتداء (آيت ۲) کښې هم ذکر کوي : ﴿وَهُوَ الرَّحِيمُ الْغَفُورُ﴾ .

10) آيت ۷۰ کښې ئې اوئيل : ﴿وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا﴾ دلته تفصيل د اقوال سديده او غير سديده کوي .

11) آيت ٦٦ تا ٦٨ کښې تبريه د عابدينو او معبودينو ذکر شوه دلته آيت ۳۱ تا ۳۳ کښې هم دغه مضمون زيات وضاحت سره ذکر کوي .

12) آيت ٦۲ کښې ئې اوئيل : ﴿سُنَّةَ اللّٰهِ فِي الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ﴾ دلته هغه طريقه ښائي چې ظالمان او د هغوی ملکونه الله تباه کړي دي لکه سبا والؤ ته اوکوره .

امتيازات:

1) دا سورت ممتاز دے په واقعي دمرګ د سليمان عليه السلام باندي .
2) په معجزه د داؤد عليه السلام باندي .
3) په معجزه د سليمان عليه السلام باندي .
4) په نفي د علم غيب باندي د پيريانو نه په واقعي د سليمان عليه السلام سره .
5) په واقعي د قوم سبا باندي .
6) په نفي د شفاعت قهريه باندي بالوجوه الاربعة ، آيت ۲۲ ، ۲۳ .
7) په حلف اوقسم باندي په راتللو د قيامت ، آيت ۳ .
8) په عجز د شرفاء اربعؤ باندي .
9) په ذکر د همسا د سليمان عليه السلام باندي .
10) په کارونو د پيريانو باندي د پاره د سليمان عليه السلام ، آيت ۱۳ .

11) په قول د الله تعالیٰ باندي چې شکر کزار ډیر کم دي : ﴿وَقَلِيْلٌ مِّنْ عِبَادِيَ الشَّكُوْرُ﴾ آيت ۱۳ .

12) په ذکر د باغونو د قوم سبا باندي ، آيت ۱۵ .

13) په ذکر د نرمو لو د اوسپنی باندي د پاره د داؤدعليه السلام : ﴿وَاَلَنَّا لَهُ الْحَدِيْدَ﴾ ، آيت ۱۰ .

14) په قول د ناکاره مشرانو باندي خپلو کشرانو ته په قيامت کښې : ﴿اَنَحْنُ صَدَدْنٰكُمْ عَنِ الْهُدٰى بَعْدَ اِذْ جَآءَكُمْ بَلْ كُنْتُمْ مُّجْرِمِيْنَ﴾ ،آيت ۳۲ .

15) په قول د الله تعالیٰ باندي کافرانو ته چې ستاسو مالونه او اولاد تاسو ماته نه شي نزدي کولے ، آيت ۳۷.

دعوی:

نفی د شفاعت قهريه بالوجوه الاربعة آيت ۲۲ ، دارنګه عجز د شرفاء اربعه ذکر کوي .

(۱)جنات (۲) انبياء (۳) فرشتي (٤) بادشاهان ، ټول الله تعالیٰ ته محتاج دي .

تقسيم د سورت(خلاصه):

دا سورت دوه حصي دے:

اوله حصه:

آيت ۱ نه ترآيت ۲۱ پوري پۀ ديکښې دوه بابونه دي :

اول باب:

آيت ۱ نه ترآيت ۹ پوري په ديکښې مقاصد اربعه سره د زجر او تخويف نه ذکر کوي .

دويم باب:

آيت ۱۰ نه تر آخر ۲۱ پورې په ديکښې څلور خبرې ذکر کوي :

(۱) دلائل نقليه په نفي د شفاعت قهريه په ذکر د واقعاتو د داؤد او د سليمان عليهما السلام . (۲) د پيريانو نه نفي د علم غيب . (۳) تخويف دنيوي . (٤) دشمني د شيطان .

دويمه حصه:

آيت ۲۲ نه تر آخره پورې ، په ديکښې لس ۱۰ خبرې ذکر کوي :

(۱) په ديکښې لارې د شرک بندوي ، يعني معبود به يا مالک وي يا به د مالک سره حصه دار وي يابه د مالک مدګار وي يا به په مالک باندې غالب وي . او دا مذکوره خبرې ټولې مخلوق کښې نشته آيت ۲۲ کښې ئې وضاحت کوي .

(۲) شفاعت به د الله تعالى په اجازت کيږي .او عجز د ملائکو ذکر کوي ۲۳.

(۳)دليل عقلي :۲٤ .

(٤)صداقة القرآن ۳۱ .

(٥) اثبات د قيامت سره د زجر نه منکرينو د قيامت ته ۳۰ .

(٦) بائيکاټ د آلهؤ د مشرکينو د مشرکانو نه ۳۱ ،۳۳ .

(۷) پيغمبرﷺ ته تسلي ۳٤ .(۸) مالدارو ته زجر او سپکاوے د دنيا ۳٥ تا ۳۸ .

(۹) دلائل عقليه په توحيد او نفي د شفاعت قهريه ۳۹تا ٤۲ .

(۱۰) زجر منکرينو د رسالت او د قرآن ته ٤۳ تا آخر .

سورة الفاطر مكية

نزولاً ۴۳ بعد الفرقان   مصحفاً ۳۵ بعد سبا

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل كښې ئي اوئيل چې اختيار د الله تعالى دے نو دلته وائي چې په دي الحمد لله اوايه .

۲) ما قبل آيت ٤ كښې مومنانو ته بشارت وو دلته آيت ۷ كښې هم بشارت دے.

۳) ما قبل كښې ئي رد د شرک او کړو دلته اثبات د توحيد په دلائل عقليه باندي كوي .

٤) ما قبل كښې عجز د شرفاء اربعه ذكر شو دلته آيت ۱۵ كښې د هغي خلاصه ذكر كوي : ﴿يَآيُّهَا النَّاسُ اَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ اِلَى اللّٰهِ﴾ .

٥) ما قبل سورت شروع وو په الحمد لله دا سورت هم په الحمد لله شروع كوي.

٦) ما قبل آيت ٤٥ كښې تخويف دنيوي وو دلته آيت ٤٤ كښې په هغي باندي ترقي ده .

۷) ما قبل كښې ئي نفي د علم غيب او کړه د پيريانو نه دلته آيت ۳۸ كښې وائي پوهه په هر شي الله رب العزت دے .

۸) ما قبل كښې نفي د شفاعت قهريه او شوه دلته په نفي د شفاعت قهريه ديارلس ادله عقليه ذكر كوي داسورت تتمه د ما سبق ده .

۹) ما قبل آيت ۲۲ كښې ئي نفي د تصرف کړي وه دغير الله نه دلته آيت ۱۳ كښې هم نفي د تصرف عن غيره تعالى كوي .

۱۰) ما قبل كښې په نفي د شفاعت قهريه باندي ادله نقليه ذكر شو دلته په دغه مسئله ادله عقليه ذكر كوي .

۱۱) ما قبل كښې نفي د شفاعت قهريه اوشوه دلته آيت ١٤ كښې نفي د شرک في الدعاء كوي .چه شفارسيان نه دي نوولي ئې رامدد كوئ .

۱۲) ما قبل آيت ۲۲ كښې مشركينو ته زجر وو بالوجوه الاربعة دلته آيت ۱۳ ، ١٤ كښې هم زجر وركوي مشركينو ته بالوجوه الاربعة خو په بله طريقه باندي .

۱۳) ما قبل كښې ٤٩ كښې ئې اوئيل : ﴿قُلْ جَآءَ الْحَقُّ﴾ دلته آيت ٥ كښې د حق د راتلو تفصيل كوي : ﴿يَآأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ وَعْدَ اللهِ حَقٌّ﴾.

۱٤) ما قبل آخري آيت كښې د كافرانو باره كښې ئې اوئيل : ﴿وَحِيْلَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَا يَشْتَهُوْنَ﴾ دلته اول كښې وائي چې الحمد لله اوايه د دي سورت اول او په آخر د سورت سبا باندي تفريع دے .چه ظالم تباه شو نو الحمد لله وايه لكه سورت انعام كښې وائي : ﴿فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِينَ ظَلَمُوا﴾ آيت ٤٥ .

۱٥) ما قبل آيت ٣٤ كښې نبي ﷺ ته تسلي وه دلته آيت ٤ كښې هم تسلي ده : ﴿وَإِنْ يُّكَذِّبُوْكَ فَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ﴾.

امتيازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په ذكر د دريو/ ۳ اقسامو د مؤمنانو باندي ، آيت ۳۲ .

۲) په ذكر د رنكونو د غرونو باندي ، آيت ۲۷ .

۳) په يريدلو د عالمانو باندي د الله نه آيت ۲۸ .

٤) په حكم ددشمنئ كولو د شيطان سره ، آيت ٦ .

٥) په قول د جنتيانو باندي په جنت كښې : ﴿وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ﴾ آيت ٣٤ .

٦) په قول د الله تعالى باندي خلقوته: ﴿يَآأَيُّهَا النَّاسُ أَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ إِلَى اللهِ﴾ آيت ١٥ .

۷) په بيان د خصوصي حالت د فرشتو آيت ١ .

۸) په امثلؤ باندي د پاره د اثبات د توحيد او رد د شرک ۱۹ تا ۲۱ .
۹) په ذکر د دیارلس / ۱۳ دلائل عقليه باندي په نفي د شفاعت قهريه .
۱۰) په شرک وئيلو باندي بلني د غيرالله ته ، آيت ١٤ .

دعوی:

اثبات د توحيد او نفي د شفاعت قهريه په دیارلس دلائل عقليه باندي .

خلاصه د سورت:

په سورت کښي دري ځله دعوی د توحيد ذکر کوي آيت ۱ ، ۳ ، ۱۳ کښي ، دیارلس ادله عقليه په اثبات د توحيد او په نفي د شفاعت قهريه باندي آيت ۱ ، ۲ ، ۳ ، ۹ ، ۱۰ ، ۱۱ ، ۱۲ ، ۱۳ ، ۱۵ ، ۲۷ ، ۲۸ ، ۳۹ ، ٤۱ ، څلورو آيتونو کښي نبي عليه السلام ته تسلي آيت ٤ ، ۲۳ ، ۲٤ ، ۲۵ ، دارنګه سورت کښي منکرينو د مسئلي ته تخويف او منونکو ته بشارت ورکوي .
او په مشرکينو باندي دريو آياتونو (۱۳ ، ١٤ ، ٤۰) کښي رد کوي .

سورة يسين مكية

نزولا ٤١ بعد الجن مصحفا ٣٦ بعد الفاطر

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل کښي ادله عقليه وو په اثبات د توحيد دلته ادله عقليه او نقليه دواړه ذکر کوی .ترقی ده په ما سبق باندي .
۲) ما قبل آيت ۷ کښي مؤمنانو ته بشارت وو دلته آيت ۱۱ کښي هم بشارت دے.
۳) ما قبل آيت ٤۳ کښي ذکر شو : ﴿فَهَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا سُنَّتَ الْأَوَّلِينَ﴾ دلته آيت ۲۹ کښي ئي مثال ذکر کوي.

٤) ما قبل آيت ١٩ کښې ذکر شو : ﴿ وَمَا يَسْتَوِي الْأَعْمٰى وَالْبَصِيرُ ﴾ يعني مشرک او مؤحد نه دي برابر دلته آيت ٧ تا ١١ کښې د دوارو تفصيل کوي .

٥) ما قبل ٢٦ کښې ذکر شو چې کافرانو باندې م عذاب راؤستو دلته ٢٩ کښې ئې تفصيل کوي .

٦) ما قبل آيت ٤ کښې ذکر شو : ﴿ فَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ ﴾ستا نه مخکښې پيغمبرانو ته درغژن وئيلے شوي وو دلته آيت ١٤ کښې ئې مثال ذکر کوي .

٧) ما قبل آيت ١١ کښې ئې اوئيل : ﴿ وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ ﴾ دلته آيت ٧٧ کښې په هغې باندې زيادت او ترقي ده .

٨) ما قبل آيت ٩ کښې ئې اثبات د قيامت په مثال سره اوکړو دلته آيت ١١ کښې منکرينو د قيامت ته زجر ورکوي .

٩) ما قبل آيت ١٣ کښې ئې مشرکينو ته زجر ورکړو دلته آيت ٧٥ کښې هم دوی ته زجر ورکوي په زيادت او ترقی سره د ما سبق نه .

١٠) ما قبل آيت ١٠ کښې ذکر شو : ﴿ فَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ جَمِيعًا﴾ دلته آيت ٢٧ کښې د هغې نمونه ښائي چې اوګوره صاحب يسين له ئې عزت ورکړو .

١١) ما قبل ٦ کښې ئې اوئيل شيطان سره دشمني اوکړئ دا ستاسو دشمن دے دلته آيت ٦٠ کښې په هغې باندې زيادت او ترقي کوي" عَدُوٌّ" سره" مُّبِيْنٌ " هم وائي چې دا ستاسو ښکاره دشمن دے .

١٢) ما قبل کښې درې ځله مسئله د توحيد ذکر شوه دلته درې ځله لفظ د " صَيْحَةً " ذکر کوي د پاره د تخويف ورکولو منکرينو د توحيد ته .

١٣) ما قبل آيت ٩ کښې ئې اثبات د قيامت اوکړو ﴿ كَذٰلِكَ النُّشُورُ﴾ دلته ٥١ کښې زيادت او ترقي ده په ما سبق باندې .

۱٤) ما قبل کښې نفي د شفاعت قهريه او شوه په ادلۀ عقليۀ باندي دلته تشجيع ورکوي په تبليغ د دي مسئلي په واقعي د صاحب يسين سره چې دا مسئله خلقو ته اورسوه څنګه چې صاحب يسين رسولي وه.

۱٥) ما قبل کښې اثبات د توحيد اوشو په ادلۀ عقليۀ باندي دلته منکرينو د دي مسئلي ته تخويف دنيوي ورکوي په واقعي د قوم دصاحب يسين باندي چې هغوی انکار او کړو نو تباه شو.

۱٦) ما قبل آيت ٤٣ کښې ذکر شو : ﴿وَلَا يَحِيقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِ﴾ يعني د بد تدبير سزا هم هغه چاته ملاوېږي چې څوک بد تدبيرونه جوړوي دلته آيت ۲۹ کښې د هغي مثال ذکر کوي.

۱۷) ما قبل کښې نفي د شفاعت قهريه اوشوه دلته آيت ۲۳ کښې عجز د آلهۀ باطلۀ ذکر کوي .ترقی ده په ما سبق باندي.

۱۸) ما قبل کښې ادله عقليه څه اجمالا ذکر شو (يعنی تسخير د شمس، قمر، او فلک) دلته دغه ادله عقليه تفصيلا ذکر کوي.

۱۹) ما قبل آيت ٤ کښې نبيﷺ ته تسلي وه دلته ۳ کښې نبيﷺ ته تسلي ده په ترقی سره د ما سبق نه.

۲۰) ما قبل آيت ۷ کښې دوه ډلي ذکر شوي : (۱)﴿الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ يعني ډله د شيطان. (۲) ﴿وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ﴾، يعني ډله د رحمان دنيا کښې دواړه ډلي اوسيږي خو هلته به جدا شي آيت ٥۹ کښې وائي : ﴿وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُونَ﴾.

امتيازات:

۱) دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په واقعي د صاحب يسين باندي.

۲) په قول د الله تعالی باندي : ﴿وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُونَ﴾، آيت ٥۹.

۳) په قول د منکرینو د قیامت باندي : ﴿قَالُوْا يٰوَيْلَنَا مَنْۢ بَعَثَنَا مِنْ مَّرْقَدِنَا﴾ ، آیت ۵۲.

٤) په واقعي د دریو پیغمبرانو باندي ، آیت ١٤ .

٥) په دري ځله ذکر کولو دلفظ صیحة باندي ، آیت ۲۹ ، ٤۹ ، ۵۳ .

٦) په قول د صاحب یسین باندي : ﴿قَالَ يٰلَيْتَ قَوْمِيْ يَعْلَمُوْنَ ۝٢٦ بِمَا غَفَرَ لِيْ رَبِّيْ وَجَعَلَنِيْ مِنَ الْمُكْرَمِيْنَ﴾ ، آیت ٢٦ ، ٢٧ .

٧) په خصوصي بشارت باندي مؤمنانوته : ﴿اِنَّ اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ الْيَوْمَ فِيْ شُغُلٍ فٰكِهُوْنَ﴾ ، آیت ۵۵ .

٨) په قول د الله تعالیٰ باندي :﴿وَمَنْ نُّعَمِّرْهُ نُنَكِّسْهُ فِي الْخَلْقِ﴾ ، آیت ٦٨ .

٩) په جواب د اعتراض د کافرانو باندي چې هغوی وئیل دا پیغمبر عليه السلام شاعر دے : ﴿وَمَا عَلَّمْنٰهُ الشِّعْرَ﴾ ، آیت ٦٩.

١٠) په ذکر د : ﴿كَالْعُرْجُوْنِ الْقَدِيْمِ﴾ باندي ، آیت ۳۹ .

دعوی:

اثبات د توحید او نفي د شفاعت قهریه

خلاصه:

په دي سورت کښې نفي د شفاعت قهریه کوي په ادله عقلیو او نقلیۇ باندي . او آیت ۷۷ کښې حقیقت دانسان ذکر کوي ، دارنګه لفظ د " صَيْحَةً " دري ځله ذکر کوي مطلب دا چې اے انسانه پیدا ئې د نطفه دنیا ته راتلل دي په صیحة ، تلل دِ په صیحة پاځیدل دِ په صیحة نو ولې مستي کوي؟ .

او سورت کښې اثبات د مقاصد اربعه عالیه کوي .

سورة الصافات مكية

نزولاً ۵٦ بعد الانعام مصحفاً ۳۷ بعد يٰسٓين

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل آيت ۵۲ کښې د کافرو افسوس ذکر شو دلته آيت ۲۰ کښې هم د دوی افسوس ذکر کوي.

۲) ما قبل آيت ۷۸ کښې د کافرو انکار ذکر شو د قيامت نه دلته آيت ۱٦ کښې هم انکار د منکرينو د قيامت ذکر کوي په ترقی سره د ما سبق نه.

۳) ما قبل آيت ۷۵ کښې ذکر شو: ﴿لَا يَسْتَطِيعُوْنَ نَصْرَهُمْ﴾ دلته آيت ۲۵ کښې وائي چې آخرت کښې به هم د يو بل امداد نه شي کولے.

٤) ما قبل کښې عجز د نمر سپوږمۍ ذکر شو دلته عجز د مصطفينو (د چنړ شوي مخلوقات) ذکر کوي.

۵) ما قبل سورت په تسبيح باندي ختم شوے وو او دا سورت په تحميد باندې ختموي.

٦) ما قبل کښې دليل نقلي ذکر شو په ذکر د دريو انبياء عليهم السلام او د صاحب يسين باندي دلته دګنړو پيغمبرانو واقعات ذکر کوي په ترقی سره د ما سبق نه.

۷)ما قبل کښې تخويف دنيوي اجمالی وو دلته تخويف دنيوي تفصيلي ذکر کوي.

۸) ما قبل آيت ۵۸ کښې ذکر شو سلام د الله د طرف نه جنتيانو ته دلته آيت ۱۸۱ کښې په ټولو پيغمبرانو د الله سلام (سلامتيا) ذکر کوي.

۹) ما قبل آيت ۵۷ کښې بشارت وو دلته ٤۱ تا ٤۹ بشارت دے په زيادت او ترقی سره د ما سبق نه.

۱۰) ما قبل کښې نفي د شفاعت قهریه اوشوه دلته عجز د مصطفینو ذکر کوي چې دوی خپله عاجز دي نو بل څوک به څنګه خلاص کړي ؟

۱۱) ما قبل کښې مسئله د توحید په ادلۀ عقلیۀ سره ثابته شوه دلته مسئلې د توحید باندې ۷ ادله نقلیه د انبیاء علیهم السلام نه ذکر کوي .

۱۲) ما قبل آیت ۲٦ کښې بدله د صاحب یسین ذکر شوه : ﴿قِيلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ﴾ دلته آیت ٤٤ کښې حالت د جنتیانو ذکر کوي : ﴿عَلَىٰ سُرُرٍ مُّتَقَٰبِلِينَ﴾.

امتیازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په خوب د ابراهیم علیه السلام باندې ، آیت ۱۰۲ .

۲) په خصوصي عجز د ملائکو باندې ، آیت ۱ ، ۲ ، ۳ .

۳) په ذکر د اووه ۷ انبیاء علیهم السلام او په ذکر د سلام په هغوی باندې .

٤) په ذکر د ذبح کولو د ابراهیم علیه السلام خپل بچی لره .

٥) په خصوصي ذکر د عجز د جناتو باندې ، آیت ۹ .

٦) په قول د ناکاره مریدانو خپلو پیرانو ته : ﴿إِنَّكُمْ كُنتُمْ تَأْتُونَنَا عَنِ الْيَمِينِ﴾ ، آیت ۲۸ .

۷) په قول د الله تعالی باندې :﴿لِمِثْلِ هَٰذَا فَلْيَعْمَلِ الْعَٰمِلُونَ﴾ ، آیت ٦١ .

۸) په قول د ابراهیم علیه السلام باندې : ﴿وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ﴾، آیت ۹٦.

۹) په قول د الیاس علیه السلام باندې خپل قوم ته : ﴿أَتَدْعُونَ بَعْلًا وَتَذَرُونَ أَحْسَنَ الْخَٰلِقِينَ﴾، آیت ۱۲٥.

۱۰) په ذکر د بوټي د کدو باندې ، آیت ۱٤٦ .

۱۱) په ذکر د تعداد د قوم یونس ، آیت ۱٤۷ .

۱۲) په قول د ملائکو باندې ، آیت ۱٦٤ تا ۱٦٦ .

دعوی:

عجزالمصطفَین (عاجزی دچنړشوي مخلوقات).

خلاصه:

سورت کښې نفي د شفاعت قهریه کوي په ذکر د عجز د ملائکو او د انبیاء علیهم السلام سره عجز د ملائکو دري ځایه ذکر کوي او د دوی عجز په توحید باندي شاهد دے.

عجز د انبیاء علیهم السلام اووه /۷ ځله ذکر کوي، او دوه ځله ورسره عجز د جناتو هم ذکر کوي، اختتام د سورت په توحید باندي کوي.

سورة ص مکیة

نزولاً ۳۸ بعد القمر مصحفاً ۳۸ بعد الصافات

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل کښې عجز د مصطفینو ذکر شو دلته په هغې باندي ترقي ده ابتلوا بالمصائب چې هغوی باندي مصیبتونه راغلي وو ځان نه ئې مصیبتونه نهٔ شو لري کولے.

۲) ما قبل کښې د اووه /۷ پیغمبرانو ذکر اوشو دلته د نهو /۹ پیغمبرانو ذکر کوي، دري مفصل او شپږ /۶ تفریعا ذکر کوي.

۳) ما قبل آیت ۳۵ کښې انکار د مشرکینو د توحید نه ذکر شو دلته آیت ۵ کښې هم د دوی دغه انکار ذکر کوي.

٤) ما قبل آیت ۳۵ کښې انکار د مشرکینو د توحید نه ذکر شو دلته د هغې علت ذکر کوي دا څکه چې دوی قرآن نه مني، آیت ۸.

٥) ما قبل ١٦٨ كښې ذکر شول : ﴿لَوْ اَنَّ عِنْدَنَا ذِكْرًا مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ﴾ دلته آيت ١ کښې وائي : ﴿وَالْقُرْاٰنِ ذِي الذِّكْرِ﴾ دوی د پند او نصيحت آرزو کوله نو قرآن کښې دوی ته پند او نصيحت راغے خو دوی ترينه انکار اوکړو .

٦) ما قبل سورت ئې په توحيد باندي ختم کړے وو دلته په توحيد باندي ادله نقليه ذکر کوي په احوالو د انبياء عليهم السلام باندي .

٧) ما قبل آيت ٣٥ کښې استکبار د مشرکينو ذکر شو د توحيد نه دلته آيت ٧٤ کښې استکبار د شيطان ذکر کوي .

٨) ما قبل کښې جګړه د مشرکينو په خپل مينځ کښې ذکر شوه دلته جګړه د مشرکينو د انبياء عليهم السلام سره ذکر کوي .

٩) ما قبل آيت ١٥ کښې ذکر شو چې کافرو معجزي ته جادو وئيل دلته آيت ٤ کښې په هغې باندي ترقي ده : ﴿وَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا سٰحِرٌ كَذَّابٌ﴾ پيغمبر عليه السلام ته ئې جادوګر درغژن وئيل .

١٠) ما قبل آخر کښې توحيد ذکر شو نو دلته آيت ٦٧ کښې وائي چې دا توحيد لوئې خبر دے .

١١) ما قبل کښې عاجزي د ملائکو ذکر شوه دلته آيت ٧٣ کښې ئې نمونه ذکر کوي :﴿فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ﴾ .

١٢) ما قبل آيت ٤٨ کښې ذکر شو : ﴿وَعِنْدَهُمْ قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ عِيْنٌ﴾ دلته آيت ٥٢ کښې په هغې باندي ترقي ده .

١٣) ما قبل آيت ٦٣ تا ٦٨ کښې تخويف اخروي وو دلته ٥٥ تا ٦٤ کښې هم تخويف اخروي دے په زيادت او ترقی سره ما سبق نه .

١٤) ما قبل آيت ٣٦ کښې ذکر شو چې کافرانو نبي عليه السلام ته شاعر او ليونے وئيل دلته آيت ٤ کښې په هغې باندي ترقي ده .

۱۵) ما قبل آیت ۳٦ کښې د کافرانو اعتراضونه ذکر شو په نبي عليه السلام باندې دلته آیت ۱۷ کښې نبي عليه السلام ته تسلي ورکوي : ﴿وَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ﴾.

۱٦) ما قبل آیت ۳٦ کښې ذکر شو چې نبي عليه السلام ته ئي شاعر او مجنون وئيل دلته آیت ٦٥ کښې جواب د پيغمبر عليه السلام ذکر کوي : ﴿قُلْ اِنَّمَآ اَنَا مُنْذِرٌ﴾.

۱۷) ما قبل آیت ۱۷۲ کښې ئي د انبياء عليهم السلام باره کښې وئيلي وو : ﴿اِنَّهُمْ لَهُمُ الْمَنْصُوْرُوْنَ﴾ دلته د الله د امداد نموني ذکر کوي .

۱۸) ما قبل آیت ٤ کښې مسئله د توحید ذکر شوه : ﴿اِنَّ اِلٰهَكُمْ لَوَاحِدٌ﴾ دلته آیت ٦٥ کښې ترقي ده په هغې باندې : ﴿وَمَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّا اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ﴾.

۱۹) ما قبل کښې جګړه د عابدینو او معبودینو ذکر شوه دلته ٥۹ تا ٦۱ کښې هم د دوی جګړه ذکر کوي په ترقی سره د ما سبق نه .

۲۰) ما قبل آیت ۳۲ کښې قول د ناکاره مشرانو خپلو کشرانو ته ذکر شو چې قیامت کښې به ورته وائي : ﴿فَاَغْوَيْنٰكُمْ اِنَّا كُنَّا غٰوِيْنَ﴾ دلته آیت ۸۲ کښې وائي چې دوی شیطان ګمراه کړي وو ځکه هغه قسم خوړلے وو چې دوی به ګمراه کوم : ﴿فَبِعِزَّتِكَ لَاُغْوِيَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ﴾.

امتیازات:

۱)دا سورت ممتاز دے په خصوصي ابتلاء د داؤد عليه السلام باندې، آیت ۲٤.

۲) په امر او نهي باندې داؤد عليه السلام ته ، امر : ﴿فَاحْكُمْ بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ﴾، نهي : ﴿وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوٰى﴾ ، آیت ۲٦ .

۳) په دوؤ حکمتونو د نزول د قرآن باندې په یو آیت کښې ، آیت ۲۹ .

٤) په ذکر د پیش کولو د کره (عمده) اسونو باندې سلیمان عليه السلام ته ، آیت ۳۱.

٥) په قول د سليمان عليه السلام باندي : ﴿إِنِّيٓ أَحۡبَبۡتُ حُبَّ ٱلۡخَيۡرِ عَن ذِكۡرِ رَبِّي﴾، آيت ٣٢.

٦) په خصوصي دعا د سليمان عليه السلام باندي :﴿رَبِّ ٱغۡفِرۡ لِي وَهَبۡ لِي مُلۡكٗا لَّا يَنۢبَغِي لِأَحَدٖ مِّنۢ بَعۡدِيٓ﴾، آيت ٣٥ .

٧) په ذكر د احوالو د هغه پيريانو چې د سليمان عليه السلام تابع وو ، آيت ٣٧ ، ٣٨.

٨) په ابتلاء د ايوب عليه السلام باندي ، آيت ٤١ .

٩) په قول د الله تعالى باندي ايوب عليه السلام ته : ﴿ٱرۡكُضۡ بِرِجۡلِكَۖ هَٰذَا مُغۡتَسَلُۢ بَارِدٞ وَشَرَابٞ﴾، آيت ٤٢.

١٠) په ذكر د خصوصي مهربانۍ د الله رب العزت په ايوب عليه السلام باندي :﴿وَوَهَبۡنَا لَهُۥٓ أَهۡلَهُۥ وَمِثۡلَهُم مَّعَهُمۡ رَحۡمَةٗ مِّنَّا﴾، آيت ٤٣.

١١) په دوؤ حكمونو او يو نهي باندي ايوب عليه السلام ته : ﴿وَخُذۡ بِيَدِكَ ضِغۡثٗا فَٱضۡرِب بِّهِۦ وَلَا تَحۡنَثۡ﴾، آيت ٤٤ .

١٢) په جګړه د عابدينو او معبودينو باندي ، آيت ٥٩ تا ٦٣ .

١٣) په ذكر د قسم د شيطان باندي او د الله د طرفه نه د هغي په جواب باندي ، آيت ٨٢ تا٨٤ .

١٤) په قول د الله تعالى باندي داؤد عليه السلام ته :﴿يَٰدَاوُۥدُ إِنَّا جَعَلۡنَٰكَ خَلِيفَةٗ فِي ٱلۡأَرۡضِ﴾، آيت ٢٦.

١٥) په قول د كافرانو باندي قيامت كښې په باره د مؤمنانو كښې :﴿وَقَالُواْ مَا لَنَا لَا نَرَىٰ رِجَالٗا كُنَّا نَعُدُّهُم مِّنَ ٱلۡأَشۡرَارِ﴾، آيت ٦٢.

١٦) په قول د داؤد عليه السلام باندي : ﴿وَإِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلۡخُلَطَآءِ لَيَبۡغِي بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٍ﴾، آيت ٢٤.

۱۷) په " ذَا الْاَيْدِ " (همت والا) وئيلو باندي داؤد ﷺ ته، آيت ۱۷ .

۱۸). په قول د الله عَزَّوَجَلَّ باندي په باره د داؤد ﷺ کښې:﴿وَشَدَدْنَا مُلْكَهُ وَاٰتَيْنٰهُ الْحِكْمَةَ وَفَصْلَ الْخِطَابِ﴾:۲۰).

۱۹) په خصوصي زواجرو باندي کافرانوته، آيت ۹ ، ۱۰.

۲۰) په ذکر د لفظ د " فَوَاقٍ " باندي، آيت ۱۵ .

دعوی:

الترق على ما سبق ابتلاء المصطفين بعد بيان تضرعهم الى الله تعالى .

خلاصه:

دي سورت کښې ترقي ده په مخکښې سورت باندي مخکښې ئي اوئيل چې څنړ شوي مخلوقات الله تعالى ته عاجز وو نو صرف عاجز نه بلکه مصيبتونه پري راغلي وو او د ځان نه ئي مصيبتونه نه شو لري کولے، عاجزي د دري قسمه مخلوقاتو ذکر کوي :

(۱) انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ . (۲) ملائک . (۳)جنات .

سورة الزمر مكية

نزولا ۵۹ بعد سبا مصحفا ۳۹ بعد ص

«ربط د ما سبق سره»

۱) سورت صافات کښې ئي عجز د مخلوقاتو ذکر کړو سورت ص کښې په هغي باندي ترقي وه چې ابتلوابالمصائب اوس دا سورت تفريع کوي په ما سبق باندي او عاجزی د مخلوقاتو الله تعالى ته ثابتوي : ﴿فَاعْبُدِ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ﴾، آيت ۲ .

۲) ما قبل آیت ۵۰ کښې مؤمنانو ته بشارت وو دلته آیت ۷۳ کښې په هغې باندي ترقي ده.

۳) ما قبل اخر۸۷ کښې ترغیب الی القرآن وو او دلته په اول کښې ترغیب الی القرآن دے ، اول د دے سورت د اخر د مخکښي سورت سره مرتبط دے .

٤) ما قبل ٦٥ کښې مسئله د توحید ذکر شوه : ﴿وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا اللَّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ﴾ دلته په هغې باندي ادله عقلیه ذکر کوي .

۵) ما قبل ۷۱ کښې بیان د پیدائش د آدم ﷺ وو نو دلته ٦ کښې بیان د اولاد د آدم ﷺ کوي .

٦) ما قبل سورت شروع وو په ترغیب الی القرآن او دا سورت هم شروع کوي په ترغیب الی القرآن باندي.

۷) ما قبل ۵۵ کښې تخویف اخروي وو او دلته ۷۱ کښې په هغې باندي زیادت او ترقي کوي .

۸) ما قبل کښې په مسئلي د توحید باندي ادله نقلیه ذکر شو نو دلته پري ادله عقلیه ذکر کوي .

۹) ما قبل ۲۹ کښې ذکر شو : ﴿وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُوا الْأَلْبَابِ﴾ نو دلته ۱۸ کښې تعریف د "أُولُوا الْأَلْبَابِ" کوي .

۱۰) ما قبل آیت ۱ کښې عظمت د قرآن ذکر شو دلته آیت ۵۵ کښې اتباع د قرآن کریم ته ترغیب ورکوي .

۱۱) ما قبل ۲۸ کښې ذکر شو : ﴿أَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِينَ كَالْفُجَّارِ﴾ دلته اخر د سورت کښې د دوارو ډلو انجام ذکر کوي چې متقیان به جنت ته او کافران به جهنم ته بوتلے شي .

۱۲) ما قبل ٦٥ کښې مسئله د توحيد ذکر شوه : ﴿ وَمَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّا اللهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ﴾ نو دلته ٤٥ کښې حالت د منکرينو ذکر کوي چې دا مسئله ورته بيانيږی نو زړونه ئې تنک شي .

۱۳) ما قبل آيت ٦ ، ۷ کښې اعتراضونه د کافرو ذکر شو په نبي ﷺ باندي نو دلته ۳٦_۳۷ کښې نبي ﷺ ته تسلي ورکوي .

١٤) ما قبل آيت ۳ کښې تخويف دنيوي وو نو دلته ۲٥ ، ۲٦ کښې تخويف دنيوي او اخروي دے ترقي ده على ما سبق .

١٥) ما قبل آيت ۲۸ کښې ذکر شو چې متقيان او بدکار يو شان نه دي نو دلته ۲۹ کښې مثال د دوارو ذکر کوي د زيات وضاحت د پاره .

امتيازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په رد د شبهې د مشرکينو باندي چې هغوی به وئيل : ﴿مَا نَعْبُدُهُمْ اِلَّا لِيُقَرِّبُوْنَا اِلَى اللهِ زُلْفٰى﴾، آيت ۳ .

۲) په قول د الله عَزَّوَجَلَّ باندي : ﴿اَلَا لِلّٰهِ الدِّيْنُ الْخَالِصُ﴾ ، آيت ۳ .

۳) په ذکر د شرافت د اهل علمو باندي : ﴿قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ﴾ ، آيت ۹ .

٤) په خصوصي زجر ورکولو باندي مشرکينو ته : ﴿ فَاعْبُدُوْا مَا شِئْتُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ﴾ ، آيت ١٥ .

٥) په عقلمند وئيلو باندي قرآن والو ته په خصوصي الفاظو سره ، آيت ١٨ .

٦) په پنځو نومونو د قرآن ذکر کولو باندي په يو آيت کښې : ۱) احسن الحديث. ۲) کتاب . ۳) متشابها . ٤) مثاني . ٥) ذکر الله ، آيت ۲۳ .

۷) په بيان د مثال د مؤحد او د شرک باندي ، آيت ۲۹.

۸) په قول د الله تعالى نبي ﷺ ته : ﴿ اِنَّكَ مَيِّتٌ وَّاِنَّهُمْ مَّيِّتُوْنَ﴾ ، آيت ۳۰.

۹) په قول د الله تعالی نبي ﷺ ته : ﴿أَلَيْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ عَبْدَهُ﴾ ، آيت ۳٦ .

۱۰) په بيانولو د خصوصي حالت د مشرکينو باندي په وخت د بيان د توحيد کښې:٤٥.

۱۱) په ذکر د دوه قسمه روحونو باندي ، آيت ٤٢ .

۱۲) په قول د الله تعالی باندي : ﴿ قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ﴾ ، آيت ٥٣ .

۱۳) په قول د الله تعالی باندي : ﴿ اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا﴾ ، آيت ٥٣ .

۱٤) په خصوصي قباحت ذکر کولو د شرک باندي ، آيت ٦٥ .

۱۵) په قول د الله تعالی باندي : ﴿ وَالْاَرْضُ جَمِيْعًا قَبْضَتُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَالسَّمٰوٰتُ مَطْوِيّٰتٌۢ بِيَمِيْنِهٖ﴾ ، آيت ٦٧.

۱٦) په خصوصي ذکر د جهنميانو باندي ، آيت ۷۱ .

۱۷) په خصوصي ذکر د جنتيانو باندي ، آيت ۷۳ .

۱۸) په خصوصي حالت ذکر کولو د فرشتو باندي : ﴿ وَتَرَى الْمَلٰٓئِكَةَ حَآفِّيْنَ مِنْ حَوْلِ الْعَرْشِ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ﴾ ، آيت ۷٥.

۱۹) په قول د جنتيانو باندي په جنت کښې، آيت ۷٤.

۲۰) په قول د الله عَزَّوَجَلَّ باندي : ﴿ لَهٗ مَقَالِيْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾ ، آيت ٦٣.

دعوی:

نفی د شرک في العبادة ، آيت ۲.

خلاصه:

په سورت کښې اووۀ بابونه دي .

اول باب:

د آيت ۱ نه تر آيت ۲۰ پوري دے په ديکښې اووه /۷ خبري ذکر کوي :

۱) ترغیب الی القرآن . ۲) دعوی د توحید تفریعا علی ما سبق . ۳) رد د شبهې د مشرکینو . ٤) دلائل عقلیه او ثمره د هغي . ٥) تخویف اوزجر . ٦)ترغیب الی الاسلام او بشارت . ۷) دلیل وحي بیا تخویف او بشارت.

دويم باب:

د آیت ۲۱ نه تر آیت ۳۷ پوري دے او په دیکښې شپږ/٦ خبري ذکر کوي :

۱) دلیل عقلي . ۲) ترغیب الی القرآن . ۳) معرضینو د قرآن ته تخویف او زجر. ٤) مثال د موحد او مشرک بطور ثمره علی ما سبق . ٥) زجر مشرکینو ته او دلیل نقلي په توحید باندي . ٦) تسلي نبيﷺ ته .

دريم باب:

د آیت ۳۸ نه تر ٤٥ پوري دے .پدیکښې پنځه / ٥ خبري ذکر کوي :

(۱) دلیل عقلي اعترافي او رد په الهؤ د مشرکینو. (۲) اظهار د عقیدي پس د بیان نه.

(۳) ترغیب الی القرآن . (٤) دلیل عقلي. (٥) زجرمشرکینو ته .

څلورم باب:

د آیت ٤٦ نه تر آیت ٦٢ پوري دے په دیکښې شپږ / ٦ خبري ذکر کوي:

(۱) دلیل وحي . (۲) تخویف . (۳) زجر او تخویف . (٤) دلیل عقلي . (٥) ترغیب الی الاعمال الصالحة او ترغیب الی القرآن . (٦) تخویف زجر او بشارت .

پنځم باب:

د آیت ٦۳ نه تر آخره پوري دے په دیکښې پنځه /٥ خبري ذکر کوي:

(۱) ثمره د دلائلو . (۲) دلیل وحي او توحید بطور ثمره په ما سبق باندي . (۳)زجر مشرکینو ته او ثمره د توحید . (٤) تخویف . (٥) بشارت .

سورة المؤمن مكية

نزولاً ٦٠ بعد الزمر مصحفاً ٤٠ بعد الزمر

«ربط د ما سبق سره»

١) ما قبل آيت٧٥ كښې ذكر شو: ﴿وَتَرَى الْمَلَٰٓئِكَةَ حَآفِّينَ مِنْ حَوْلِ الْعَرْشِ﴾ دلته ٧ كښې په هغې باندې ترقي ده .

٢) ما قبل آيت ١ كښې ترغيب الى القرآن وو دلته آيت ٢ كښې هم ترغيب الى القرآن دے .

٣) ما قبل آيت ٥٩ كښې معرضينو د قرآن ته زجر وو دلته آيت ٤ كښې ترقي ده په هغې باندې .

٤) ما قبل آيت ٦٦ كښې ذكر شو : ﴿بَلِ اللهَ فَاعْبُدْ﴾ نو دلته آيت ١٤ كښې په هغې باندې ترقي ده .

٥) ما قبل آيت ٥٤ كښې تخويف وو دلته ١٨ كښې په هغې باندې ترقي ده .

٦) ما قبل آيت ٣٧ كښې ئې ذكر كړل﴿أَلَيْسَ اللهُ بِعَزِيزٍ ذِي انْتِقَامٍ﴾ نو دلته آيت ٤٥ كښې د هغې نمونه ذكر كوي .

٧) ما قبل آيت ٧٤ كښې ذكر شو چې جنتيان به په جنت كښې د الله حمد وائي نو دلته آيت ٧ كښې د ملائكو حمد ذكر كوي .

٨) مخكښې سورتونو كښې عجز او ابتلاء د مصطفينو ذكر شوه او په سورة الزمر كښې ئې پرې دلائل پيش كړل نو دلته پرې مسئله د توحيد تفريع كوي چې الله تعالى په حاجتونو كښې رامدد كړئ : ﴿فَادْعُوا اللهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ﴾ ، آيت ١٤ .

۹) ما قبل آخري آيت کښې د الله تعالی حمد ذکر شو : ﴿وَقِيْلَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ﴾ نو دلته ۲ کښې علت دحمدذکر کوي چې هغه رالیږل د قرآن دي قرآن د الله تعالی نعمت دے نو پدي الحمد لله اوایه .

۱۰) ما قبل آیت ۳ ، ٤ کښې شبهه د مشرکینو رد شوه نو دلته ۱۱ کښې دلیل وحي ذکر کوي په مسئلې د توحید باندي : ﴿ قُلْ اِنِّيْٓ اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ﴾ .

۱۱) ما قبل ۷۱ کښې ذکر شو : ﴿ وَسِيْقَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِلٰى جَهَنَّمَ زُمَرًا﴾ نو دلته آیت ٤۷ کښې د جهنمیانو خپل مینځ کښې جګړه ذکر کوي .

۱۲) ما قبل آیت ۱۸ کښې ذکر شوچه قرآن والؤ ته الله تعالی هدایت کړے دے او دوی عقل مند دي نو دلته ۷ کښې ترقي ده په هغي باندي چې ملائک دوی لره د دوی پلارانو بیبیانو او اولاد لره دعاګاني غواړی.

۱۳) ما قبل کښې مسئله د توحید دري ځله (۲ ، ۳ ، ۱۱ کښې) ذکر وه دلته مسئله د توحید ووه / ۷ ځله ذکر کوي :

1) ﴿لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ﴾ ، آیت ۳ .

2) ﴿فَادْعُوا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ﴾ ، آیت ١٤ .

3) ﴿ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ ۘ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ﴾ ، آیت ٦۲ .

4) په عنوان د برکت : ﴿فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ﴾ ، آیت ٦٤ .

5) ﴿ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ﴾ ، آیت ٦٥ .

6) ﴿ فَادْعُوْهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ﴾ ، آیت ٦٥ .

7) په عنوان د تحمید ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ﴾ ، آیت ٦٥ .

سورت کښې په ما سبق باندي ترقي ده .

۱٤) ما قبل ۲ کښې نفي د شرک (فی العبادة) اوشوه نو دلته ۱٤ کښې نفي د شرک في الدعاء کوي.

۱۵) ما قبل کښې مسئلي د توحيد بيان شوه نو دلته د مسئلي د بيانولو طريقه ښائي په واقعي د رجل مؤمن سره.

۱٦) ما قبل کښې ئي ذکرکړل چې لائق د عبادت صرف اوصرف الله تعالی دے نو دلته وائي چې لائق د رامدد کولو هم صرف الله تعالیٰ دے.

۱۷) ما قبل کښې ئي حال د دوو/ ۲ ډلو (مؤمنانو او کافرانو) ذکر کړو نو دلته آيت ۱۲ کښې د هغې علت ذکر کوي چې دا دوه ډلي د توحيد په وجه جوړې شوي دي.

۱۸) ما قبل کښې نفي د شرک في العبادة وه نو دلته ٦٦ کښې هم نفي د شرک في العبادة کوي.

۱۹) ما قبل کښې په مسئله د توحيد باندي ادله عقليه ذکر شو نو دلته په توحيد باندي نقلي دلائل پيش کوي

۲۰) ما قبل آيت ۸ کښې ذکر شو چې مشرک انسان الله رب العزت لره شريکان جوړوي او هغوی رامدد کوي نو دلته آيت ۲۰ کښې د دوی د الهو عاجزي ذکر کوي.

امتيازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په ذکر د رجل مؤمن باندي.

۲) په دعا غوښتلو د ملائکو باندي د قرآن والؤ د پاره، آيت ۷.

۳) په قول د فرعون باندي: ﴿ ذَرُوْنِيْٓ اَقْتُلْ مُوْسٰى وَلْيَدْعُ رَبَّهٗ﴾، آيت ۲٦.

٤) په قول د فرعون باندي په باره د موسیٰ عليه السلام کښې: ﴿اِنِّيْٓ اَخَافُ اَنْ يُّبَدِّلَ دِيْنَكُمْ﴾، آيت ۲٦.

٥) په دعا د موسیٰ علیه السلام باندي، آیت ٢٧ .

٦) په قول د رجل مؤمن باندي: ﴿اَتَقْتُلُوْنَ رَجُلًا اَنْ يَّقُوْلَ رَبِّيَ اللّٰهُ﴾، آیت ٢٨ .

٧) په قول د فرعون خپل قوم ته:﴿وَمَآ اَهْدِيْكُمْ اِلَّا سَبِيْلَ الرَّشَادِ﴾، آیت٢٩.

٨) په قول د فرعون باندي: ﴿يٰهَامٰنُ ابْنِ لِيْ صَرْحًا لَّعَلِّيْٓ اَبْلُغُ الْاَسْبَابَ﴾،آیت٣٦.

٩) په قول د رجل مؤمن باندي:﴿يٰقَوْمِ اتَّبِعُوْنِ اَهْدِكُمْ سَبِيْلَ الرَّشَادِ﴾،آیت٣٨.

١٠) په قول د رجل مؤمن باندي: ﴿فَسَتَذْكُرُوْنَ مَآ اَقُوْلُ لَكُمْ ۭ وَاُفَوِّضُ اَمْرِيْٓ اِلَى اللّٰهِ﴾، آیت ٤٤ .

١١) په بچ کولو د الله تعالی رجل مؤمن لره د تدبير د فرعونيانو نه، آیت ٤٥ .

١٢) په راتلو د بدِ عذاب په فرعونيانو باندي، آیت ٤٥ ، ٤٦ .

١٣) په قول د ناکاره مريدانو خپلو پيرانو ته: ﴿اِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ اَنْتُمْ مُّغْنُوْنَ عَنَّا نَصِيْبًا مِّنَ النَّارِ﴾٤٧ .

١٤) په قول د ناکاره پيرانو مريدانو خپلو ته: ﴿اِنَّا كُلٌّ فِيْهَآ﴾، آیت ٤٨ .

١٥) په خصوصي بشارت باندي پيغمبرانو او مؤمنانو ته، آیت ٥١ .

١٦) په قول د الله تعالی باندي: ﴿اُدْعُوْنِيْٓ اَسْتَجِبْ لَكُمْ﴾، آیت ٦٠ .

١٧) په داسي آیت باندي چې په دري عنواناتو پکښې مسئله د توحيد ذکر ده: په عنوان د اِله، په عنوان د دُعَا په عنوان د تَحْمِيْد، آیت ٦٥ .

١٨) په خصوصي سزا د جهنميانو باندي، آیت: ٧١ ، ٧٢ .

١٩) په خصوصي زجر ورکولو منکرينو د قرآن ته، آیت ٤ ، ٣٥ ، ٥٦ وغيره .

٢٠) په ذکر د خصوصي حالت د رجل مؤمن باندي: ﴿وَقَالَ رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ ۖ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ اِيْمَانَهٗٓ﴾٢٨ .

دعوى:

نفي د شرک في الدعاء آيت ١٤ ، ٦٢ ، ٦٤ .

خلاصه:

په سورت کښې اول عظمت د قرآن ذکر کوي بيا زجر او تخويف دنيوي او اخروي معرضينو د قرآن ته بيا دعا د ملائکو قرآن والؤ ته او تشجيع د پاره د مبلغ ذکر کوي په واقعې د رجل مؤمن سره چې اوکوره رجل مؤمن ته په نرمه خبره کوي " يٰقوم يٰقوم " کلک ولاړ دے او حق په ډاګه بيانوي نو الله تعالى ورله د دشمن په ډله کښې ملګرے پيدا کړو.

نه مسئله بيان کړه نو الله تعالى به درله د دشمن په کور کښې ملګرے پيدا کړي .

﴿وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْهُدٰى﴾ آيت ٥٣ نه دليل نقلي ذکر کوي تسلي نبي عليه السلام ته بيا ادله عقليه او اقسام د شرک رد کوي يعني سورت کښې اقسام اربعه د شرک اعتقادي (شرک في العلم ، في التصرف ، في الدعاء ، في العبادة) او شرک فعلي رد کوي .

سورة حم السجدة

نزولاً ٦١ بعد المؤمن مصحفاً ٤١ بعد المؤمن

«ربط د ما سبق سره»

١) ما قبل آيت ٤ کښې ذکر شو چې کافران د الله تعالى په ايتونو کښې جګړې کوي نو دلته ٢٦ کښې ترقي ده په هغې باندې .

٢) ما قبل آيت ٧٢ کښې تخويف اخروي ذکر شو نو دلته ١٥ کښې تخويف دنيوي دے .

۳) ما قبل آیت ۳۱ کښې تخویف دنیوي وو نو دلته ۱۵ کښې هم تخویف دنیوي دے په ترقي سره د ما سبق نه.
٤) ما قبل کښې مسئله د توحید اووه ځله ذکر شوه نو دلته په توحید باندي د مشرکانو اعتراضونه او د هغي جوابونه ذکر کوي.
٥) ما قبل کښې عذاب د باطل پرستو ذکر شو نو دلته شبهات د هغوی ذکر کوي.
٦) ما قبل آیت ۲ کښې ترغیب الی القرآن وو نو دلته ۲ کښې هم ترغیب الی القرآن دے.
۷) ما قبل آیت ۲ کښې ترغیب الی القرآن وو نو دلته ۲٦ کښې معرضینو د قرآن ته زجرورکوي.
۸) ما قبل ۸۲ کښې تخویف دنیوي وو په هلاکت د پخوانو سره نو دلته ۱۵ کښې ئي وجه د هلاکت ذکر کوي.
۹) ما قبل ٦٤ کښې ذکر شو: ﴿فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ﴾ نو دلته ۱۰ کښې هم وائي چې برکت الله اچوي.
۱۰) ما قبل کښې ذکر شو چې رجل مؤمن مقابلې د کافرانو ته کلک ولاړ وو نو الله تعالی ئي امداد اوکړو: ﴿فَوَقٰىهُ اللّٰهُ سَيِّاٰتِ مَا مَكَرُوْا﴾، آیت ٤٥ نو دلته ۳۰ کښې هغه چاته بشارت ورکوي چې په دین کلک ولاړ روي.
۱۱) ما قبل آیت ٥۳ کښې ذکر شو: ﴿وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْهُدٰى﴾ نو دلته ٤٥ کښې په هغي باندي زیادت کوي: ﴿وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ فَاخْتُلِفَ فِيْهِ﴾.
۱۲) ما قبل آیت ۳ کښې ذکر شو: ﴿شَدِيْدِ الْعِقَابِ ذِى الطَّوْلِ﴾ نو دلته ئي نمونې ذکر کوي په واقعاتو د هلاک شوو کافرانو باندي.
۱۳) ما قبل کښې ناکاره اعمال د کافرانو ذکر شو نو دلته ۲٥ کښې وائي چې شیطانانو ورته دا بد اعمال ښائسته ښکاره کړي دي.

۱٤) ما قبل آيت ۲ كښې عظمت د قرآن ذكر شو نو دلته ٥ كښې منكرينو د قيامت ته زجر وركوي .

۱٥) ما قبل آيت ٥١ كښې ذكر شو : ﴿ وَيَوْمَ يَقُوْمُ الْاَشْهَادُ﴾ نو دلته ۲۰ ، ۲۱ كښې ئې وضاحت كوي ترقي ده په ما سبق .

امتيازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په رد د څلورو شبهاتو د مشركينو باندي .

۲) په خصوصي ګواهی د اندامونو په انسان باندي ، آيت ۲۰ ، ۲۱ .

۳) په ترغيب الى الاستقامة او خصوصي بشارت باندي ، آيت ۳۰ .

٤) په قول د آسمان او زمكي باندي : ﴿ قَالَتَاۤ اَتَيْنَا طَآئِعِيْنَ ﴾ ، آيت ۱۱ .

٥) په قول د كافرانو باندي په دنيا كښې : ﴿لَا تَسْمَعُوْا لِهٰذَا الْقُرْاٰنِ﴾ ۲٦ .

٦) په قول د كافرانو باندي په قيامت كښې : ﴿ رَبَّنَاۤ اَرِنَا الَّذَيْنِ اَضَلّٰنَا مِنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ نَجْعَلْهُمَا تَحْتَ اَقْدَامِنَا لِيَكُوْنَا مِنَ الْاَسْفَلِيْنَ ﴾ ۲۹ .

۷) په دري خصوصي صفتونو د مبلغ باندي يو آيت كښې : ﴿ وَمَنْ اَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَاۤ اِلَى اللّٰهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَّقَالَ اِنَّنِيْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴾ ، آيت ۳۳ .

۸) په خصوصي زجر كافرانو ته : ﴿ اِعْمَلُوْا مَا شِئْتُمْ ﴾ ، آيت ٤۰ .

۹) په خصوصي تسلي وركولو نبي ﷺ ته ، آيت ٤۳ .

۱۰) په تفريع كولو د استقامت او د استغفار په مسئلي د توحيد باندي : ﴿ يُوْحٰۤى اِلَىَّ اَنَّمَاۤ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ فَاسْتَقِيْمُوْۤا اِلَيْهِ وَاسْتَغْفِرُوْهُ ﴾ ، آيت ٦ .

۱۱) په اعتراض د كافرانو په خپلو څرمنو باندي چې كله په دوی ګواهي اوكړي : ﴿ وَقَالُوْا لِجُلُوْدِهِمْ لِمَ شَهِدْتُّمْ عَلَيْنَا ﴾ ، آيت ۲۱ .

۱۲) په جواب د ځرمنو باندي کافرانوته : ﴿ قَالُوٓا اَنۡطَقَنَا اللّٰهُ الَّذِیۡۤ اَنۡطَقَ كُلَّ شَیۡءٍ ﴾ ، آیت ۲۱ .

۱۳) په قول د الله تعالی باندي : ﴿ وَقَیَّضۡنَا لَهُمۡ قُرَنَآءَ فَزَیَّنُوۡا لَهُمۡ مَّا بَیۡنَ اَیۡدِیۡهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ ﴾ ، آیت ۲۵ .

۱٤) په قول د الله تعالی باندي : ﴿ لَا تَسۡجُدُوۡا لِلشَّمۡسِ وَلَا لِلۡقَمَرِ ﴾ ، آیت ۳۷ .

۱۵) په ذکر د خصوصي عظمت د قرآن: ﴿ لَّا یَاۡتِیۡهِ الۡبَاطِلُ مِنۡۢ بَیۡنِ یَدَیۡهِ ﴾، آیت ٤۲.

دعوی:

دفع د څلورو شبهاتو د مشرکينو په توحيد باندي .

خلاصه:

په دي سورت کښې څلور شبهي او د هغي جوابونه دي او د هري شبهي نه بعد دليل او زجر ذکر کوي .

اوله شبهه : ﴿ وَقَالُوۡا قُلُوۡبُنَا فِیۡۤ اَکِنَّةٍ مِّمَّا تَدۡعُوۡنَاۤ اِلَیۡهِ ﴾ ، آیت ٥ .

حاصل د اعتراض دا دے چي دوی به وائي ستا په خبره نه پوهيږو ؟

جواب : ﴿ قُلۡ اِنَّمَاۤ اَنَا بَشَرٌ مِّثۡلُکُمۡ ﴾ ، آیت ٦ زه ستاسو غونده بنده یم او بنده د بنده په خبره پوهيږی فرق زما او ستاسو مينځ کښې دا دے : ﴿ یُوۡحٰۤی اِلَیَّ ﴾ چي ما ته وحي کيږي او تاسو ته نه کيږي داسي خبره درته کوم چي تاسو پري پوهيږئ : ﴿ اَنَّمَاۤ اِلٰـهُکُمۡ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ﴾ .

دويمه شبهه : ۲۵ کښې چي بيګاه خوب کښې يريدلے ووم فلانکے بابا راغلے وو او په ما باندي ئې کټ الته کولو چي ته وائي چي باباګان څه نه شي کولے.

جواب : ﴿ وَقَیَّضۡنَا لَهُمۡ قُرَنَآءَ فَزَیَّنُوۡا لَهُمۡ مَّا بَیۡنَ اَیۡدِیۡهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ ﴾ ، آیت ۲۵ دا شيطانان دي باباګان نه دي عقيده درله خرابوي .

دريمه شبهه : دا قرآن په عجمی ژبه کښې ولے نۀ راتلو؟

جواب : ﴿ءَاَعۡجَمِيٌّ وَّ عَرَبِيٌّ﴾، آيت ٤٤ حاصل د جواب دا دے چې که قرآن په عجمي ژبۀ کښې راغلے وے نو بيا به ئي اعتراض کولو چې آيا دا قرآن عجمي دے او پيغمبر عربي دے ؟

خلورمه شبهه :دا قرآن تول په يو ځل ولے نه راتلو ؟

جواب : ﴿وَلَقَدۡ اٰتَيۡنَا مُوۡسَى الۡكِتٰبَ فَاخۡتُلِفَ فِيۡهِ﴾، آيت ٤٥ چې موسیٰ عليه السلام ته هم په يو ځل کتاب ورکړے وو نو هغې کښې هم اختلاف شوے وو.

تقسيم د سورت:

دا سورت دري بابونه دے :

اول باب:

د آيت ١ نه تر ٢٤ پوري دے په ديکښې پنځه خبري ذکر کوي :

1) صداقة الکتاب .

2) اول اعتراض او د هغې جواب ، تخويف او بشارت .

3) دليل عقلي په توحيد .

4) تخويف دنيوي په هلاکت د عاديانو او ثموديانو باندي .

5) بشارت او تخويف اخروي .

دويم باب:

آيت ٢٥ نه تر آيت ٤٣ پوري دے او په ديکښې شپږ/٦ خبري ذکر کوي :

(١) د دويم اعتراض جواب . (٢) زجراوتخويف . (٣) الترغيب الى الاستقامة على التوحيد او بشارت . (٤)الترغيب في التبليغ . (٥) دلائل عقليه .

(٦) تخويف ، صداقة الکتاب او تسلي پيغمبر عليه السلام ته .

دريم باب:

د آيت ٤٤ نه تر آخره پوري دے په ديکښې د دريم او څلورم اعتراض جوابونه بيا دلائل عقليه ، زجر مشرکينو ته په سبب د شرک او په مخ اړولو د قرآن نه او په سبب د انکار کولو د آخرت نه .

سورة الشورى

نزولا بعد حم السجدة ٦٢ مصحفا ٤٢ بعد حم السجدة

«ربط د ما سبق سره»

١) ما قبل آيت ٣٩ کښې اثبات د قيامت اوشو نو دلته آيت ٩ کښې هم اثبات د قيامت کوي .

٢) ما قبل آيت ٩ کښې ذکر شو : ﴿ذٰلِكَ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ﴾ هلته تعميم وو نو دلته آيت ١٠ کښې تخصيص بعد التعميم دے : ﴿ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبِّيْ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ﴾ .

٣) ما قبل آيت ٣١ کښې مؤمنانو ته بشارت وو نو دلته آيت ٢٢ کښې هم مؤمنانو ته بشارت ورکوي .

٤) ما قبل کښې د مشرکينو څلور اعتراضو نه په توحيد او د هغې جوابونه ذکر شو نو دلته دري نور اعتراضونه د مشرکينو او د هغې جوابونه ذکر کوي .

٥) ما قبل آيت ٦ کښې په صيغې د جمعي سره امر بالاستقامة ذکر شو نو دلته آيت ١٥ کښې په صيغه د واحد سره امر بالاستقامة دے : ﴿وَاسْتَقِمْ كَمَآ اُمِرْتَ﴾.

٦) ما قبل آيت ٣٠ کښې بشارت وو نو دلته ٢٣ کښې هغه خلق ذکر کوي د چا د پاره چې دا بشارت دے.

۷) ما قبل ٤٤ كښې د قرآن دوه ۲/ نومونه ذکر شو : (۱)هُدًى (۲) شِفَاءٌ نو دلته ۵۲ کښې نور دوه نومونه ذکر کوي : (۱) روح ؛ ځکه قرآن د روح علاج دے .
(۲) نور.
۸) ما قبل آیت ۸ کښې مسئله د توحید ذکر شوه نو دلته آیت ٤٨ کښې نبي ﷺ ته تسلي ورکوي که دوی دا مسئله نه مني اومخ ترینه اړوي نو ته مه خفه کیږه.
۹) ما قبل آیت ۹ کښې ذکر شو : ﴿خَلَقَ الْأَرْضَ﴾ چې الله آیت زمکه پیدا کړے ده نو دلته ٤٩ کښې په هغې باندي ترقي ده .
۱۰) ما قبل آیت ۳۰ کښې بشارت ذکر شو نو دلته د آیت ۳٦ نه تر آیت ٤١ پورې صفات د هغه خلقو ذکر کوي چې د هغوی د پاره دا نعمتونه دي .
۱۱) ما قبل آیت ٤ کښې ذکر شو : ﴿فَأَعْرَضَ أَكْثَرُهُمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ﴾ اکثر خلق د قرآن نه مخ اړوي او قرآن نه اوري نو دلته آیت ٤٨ کښې نبي ﷺ ته تسلي ذکر کوي .
۱۲) ما قبل ابتداء کښې عظمت او صداقت د قرآن کريم وو دلته هم په اول کښې دغه دواړه خبري ذکر کوي.
۱۳) ما قبل آیت ٤٩ کښې ذکر شو چې انسان د مال په غوښتلونه ستړے کیږي یعني د مال سره ئي مینه ډیره ده نو دلته آیت ۳٦ کښې د دنیا نه بے رغبتي ورکوي : ﴿فَمَا أُوتِيتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا﴾ .
۱٤) ما قبل آیت ٤٩ کښې ذکر شو چې انسان د مال په غوښتلونه ستړے کیږي یعني د مال سره ئي مینه ډیره ده نو دلته آیت ۲۷ کښې دفع د وهم کوي : ﴿وَلَوْ بَسَطَ اللَّهُ الرِّزْقَ لِعِبَادِهِ لَبَغَوْا فِي الْأَرْضِ﴾
۱۵) ما قبل آیت ۱۹ کښې تخويف اخروي وو نو دلته آیت ۱٦ کښې تخويف اخروي دے .

امتيازات:

۱) دا سورت ممتاز دے پۀ دريو شبهو او د هغي په جوابونو باندي ، آيت ۳ ، آيت ۱۰ ، آيت ، ۱٤ .

۲) پۀ ذکر د : ﴿عٓسٓقٓ﴾ باندي ، آيت ۲ .

۳) پۀ ذکر د : ﴿فَلِذٰلِكَ فَادْعُ﴾ باندي ، آيت ۱۵ .

٤) پۀ لفظ د : ﴿رَوَاكِدَ﴾ باندي ، آيت ۳۳ .

۵) پۀ خصوصي تزهيد من الدنيا او ترغيب الى الاخرة باندي ، آيت ۳٦ .

٦) پۀ خصوصي صفت د مومنانو باندي : ﴿وَأَمْرُهُمْ شُورٰى بَيْنَهُمْ﴾ آيت ۳۸.

۷) پۀ خصوصي تخويف اخروي باندي ، آيت ٤٤ تا ٤٦ .

۸) پۀ الفاظو د : ﴿أَلَآ إِلَى اللّٰهِ تَصِيرُ الْأُمُورُ﴾ آيت ۵۳

۹) پۀ قول د الله تعالى نبي عليه السلام ته : ﴿مَا كُنْتَ تَدْرِي مَا الْكِتَابُ وَلَا الْإِيمَانُ﴾ آيت ۵۲ .

۱۰) پۀ ترغيب الى القرآن باندي پۀ خصوصي الفاظو سره آيت ۵۲

۱۱) پۀ قول د الله تعالى باندي : ﴿اللّٰهُ الَّذِي أَنْزَلَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ وَالْمِيزَانَ﴾ آيت ۱۷ .

۱۲) پۀ قول د الله تعالى باندي : ﴿وَلَوْ بَسَطَ اللّٰهُ الرِّزْقَ لِعِبَادِهِ لَبَغَوْا فِي الْأَرْضِ﴾ ، آيت ۲۷ .

دعوى:

اثبات د توحيد او دفع د نورو دريو/ ۳ شبهاتو کوي .

خلاصه:

په دي سورت کښي دري/ ۳ اعتراضونه او د هغي جوابونه ذکر کوي :

اول اعتراض : داخبره صرف ته کوي ستانه مخکښې چانه ده کړې .

جواب : دوه ځایه جواب کوي ۲ ، ۱۳ کښې د دې مسئلې (توحید) وحې ټولو انبیاء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ ته شوې وه او هغوی دا مسئله بیان کړې ده .

دویم اعتراض : چې عام کتابونه ستا خلاف دې نو د دې پنځه / ٥ جوابونه کوي :

جواب ۱ : ﴿وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِن شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ﴾ ، آیت ۱۰ .

جواب ۲ : ﴿وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ﴾ ، آیت ۱٥ .

جواب ۳ : ﴿اللَّهُ الَّذِي أَنزَلَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ وَالْمِيزَانَ﴾ ، آیت ۱۷ .

جواب ٤ : ﴿اسْتَجِيبُوا لِرَبِّكُم﴾ ، آیت ٤٧ .

جواب ٥ : ﴿وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَا﴾ ، آیت ٥٢ .

دریم اعتراض : عام علماء (ملیان) ستا خلاف دې نو د دې درې / ۳ ځایه جواب کوي :

جواب ۱ : ﴿شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِ نُوحًا﴾ ، آیت ۱۳ .

جواب ۲ : ﴿أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ شَرَعُوا لَهُم مِّنَ الدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَن بِهِ اللَّهُ﴾، آیت ۲۱ .

جواب ۳ : خلاصه د جوابونو آیت ۱٤ کښې ذکر کوي : ﴿وَمَا تَفَرَّقُوا إِلَّا مِن بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ﴾ مطلب دا چې دوی ضدیان دي د ضد د وجې نه خلاف کوي .

سورة الزخرف مكية

نزولاً ٦٣ بعد الشورى مصحفاً ٤٣ بعد لشورى

«ربط د ما سبق سره»

١) د ما قبل آخر كښې ترغيب الى القرآن وو دلته اول كښې ترغيب الى القرآ
دے.

٢) ما قبل كښې دري اعتراضونه او جوابونه د مشركينو ذكر شو دلته آيت
كښې بل اعتراض او د هغې جواب ذكر كوي حٰمٓ سجده كښې ٤ اعتراضو
شورى كښې دري / ٣ اعتراضونه او دلته يو اعتراض ترقي ده د أعلى نه أدنى ته

٣) ما قبل ٢١ كښې ئي مشركينو ته زجر وركړو دلته په ټولو اقسامو د شرك
باندي رد كوي.

٤) ما قبل ٢١ كښې ذكر شو: ﴿حُجَّتُهُمْ دَاحِضَةٌ﴾ د مخكښينو دليل كمزور
دے دلته آيت ٢٠ كښې ئي نمونه ذكر كوي: ﴿وَ قَالُوْا لَوْ شَآءَ الرَّحْمٰنُ مَا
عَبَدْنٰهُمْ﴾

٥) ما قبل كښې اثبات د توحيد په دلائلو عقليو باندي اوشو دلته په ادله عقليه
او نقليه سره توحيد ثابتوي ترقي ده على ما سبق.

٦) ما قبل ابتداء كښې صداقت د قرآن ذكر شو دلته ابتدا د سورت كښې
صداقت د قرآن ذكر دے.

٧) ما قبل آيت ٢٢ كښې بشارت اخرويه وو دلته آيت ٧٠ تا ٧٣ كښې په هغې
باندي ترقي ده.

٨) ما قبل آيت ٥٢ كښې ترغيب الى لقرآن وو دلته آيت ٤٤ كښې وائي چې تاسو نه
به د قرآن باره كښې تپوس كيږي.

۹) مخکښې آیت ٤٨ کښې ئې اوئیل : ﴿ فَاِنَّ الْاِنْسَانَ كَفُوْرٌ﴾ دلته آیت ١٥ کښې ترقي ده په هغې باندې : ﴿ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَكَفُوْرٌ مُّبِيْنٌ﴾ .

١٠) مخکښې آیت ٢٨ کښې ذکر شو : ﴿ وَيَنْشُرُ رَحْمَتَهٗ﴾ دلته آیت ١١ کښې د دغه جملې تفصیل کوي ترقي ده ما سبق باندې .

١١) مخکښې آیت ٣٦ کښې تَذْهِيْد من الدنيا يعني د دنيا نه بې رغبتي ورکول ذکر شو دلته ٣٣ تا٣٥ کښې په هغې باندې ترقي ده .

١٢) مخکښې آیت ٥٢ کښې ئې ترغیب قرآن کریم ته ورکړو اوقرآن ته ئې رڼرا اوئیله نو دلته آیت ٣٦ کښې سزا د هغه خلقو ذکر کوي چې د قرآن نه شمکور او راندهٔ شو .

١٣) مخکښې آیت ٣ کښې ذکر شو چې تا ته الله وحي کوي نو دلته آیت ٤٣ کښې هغې باندې ترقي ده : ﴿ فَاسْتَمْسِكْ بِالَّذِيْٓ اُوْحِيَ اِلَيْكَ﴾

١٤) مخکښې آیت ٢٧ کښې ئې دفع د وهم کړي وه وهم دا چې الله تعالیٰ ټول خلق مالدار پیدا کړے وے نوبښه به وه جواب ئې اوکړو چې بیابه خلق سرکشه شوي وو دلته آیت ٣٥ کښې پرې زیادت کوي : ﴿ وَاِنْ كُلُّ ذٰلِكَ لَمَّا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَالْاٰخِرَةُ عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِيْنَ﴾ .

١٥) ما قبل آیت ٧ کښې حکمت د نزول د قرآن ذکر شو دلته آیت ٣٢ کښې ترغیب الی القرآن دے : ﴿ وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ﴾ .

امتیازات:

١) دا سورت ممتاز دے په رد دشبهې د مشرکینو باندې ، آیت ٨٦ کښې

٢) په تزهید من الدنیا باندې خصوصي الفاظو سره ٣٣ ، ٣٤ .

٣) په خصوصي درخواست د نبي عليه السلام باندې : ﴿ وَقِيْلِهٖ يٰرَبِّ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ قَوْمٌ لَّا يُؤْمِنُوْنَ﴾ ، آیت ٨٨ .

٤) په دعا د سورلی باندي ، آیت ١٣، ١٤

٥) په قول د الله تعالی باندي : ﴿ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَكَفُوْرٌ مُّبِيْنٌ﴾ ، آیت ١٥ .

٦) په ذکر د کمزورۍ د زنانو چې خپله مدعی څرګندولے نه شي : ﴿وَهُوَ فِي الْخِصَامِ غَيْرُ مُبِيْنٍ﴾، آیت ١٨ .

نوټ: چونکه آیت کښې : ﴿ اَوَ مَنْ يُّنَشَّؤُا فِي الْحِلْيَةِ ﴾دینه مخکښې ذکر دے نوضمیر د مزکر "هو" د دغه "من" په اعتبار راوړے شوے دے مراد ترینه زنانه ده .

٧) په اعتراض د کافرانو په نبي عليه السلام باندي ، آیت ٣١ .

٨) په جواب د دغه اعتراض باندي ، آیت ٣٢ .

٩) په خصوصي سزا دمعرضینو د قرآن باندي ، آیت ٣٦ .

١٠) په قول د الله تعالی چې تاسونه به قرآن باره کښې تپوس کیږي ، آیت ٤٤.

١١) په اعتراض د فرعون په موسیٰ عليه السلام باندي : ﴿ فَلَوْ لَآ اُلْقِيَ عَلَيْهِ اَسْوِرَةٌ مِّنْ ذَهَبٍ﴾ ، آیت ٥٣ .

١٢) په فریاد کولو د جهنمیانو " مالک " فرښتي ته ، آیت ٧٧ .

دعوی:

جواب د اتمی شبهی د مشرکینو چې د دوی (زمونږ داﻟﻬو)لاس الله تعالی تش(خالی)نه پریږدي ، آیت ٨٦ .

خلاصه:

سورت دري بابه دي .

اول باب:

آیت ١ نه تر آیت ٤٠ پوري دیکښې مختلف مضامین ذکر کوي صداقت د قرآن ، زجر معرضینو د قرآن ته ، تسلي نبي عليه السلام ته ، تخویف دنیوي دلائل عقلیه

د مشركينو خباثت استدلال بالأباء او هغوی ته زجر ، دليل نقلي ، زجر منكرينو د رسالت ته ، تذهيدمن الدنيا ، زجر او تخويف منكرينو د قرآن ته .

دويم باب:

آيت ٤١ نه ترآيت ٦٧پوري په ديكښې اووهٔ خبري ذكر كوي :

١/ تسلي. ٢ / ترغيب الى القرآن . ٣ / زجر مفتريينو (دروغ جوړونكو) ته په نيكانو خلقوباندي ، آيت ٤٥ . ٤ / تخويف دنيوي . ٥ / دفع د شبهي . ٦ / دليل نقلي پهٔ توحيد باندي . ٧ / زجر او تخويف .

دريم باب:

آيت ٦٧ نه ترآخره پوري ديكښې دري خبري ذكر كوي : ١ / بشارت للمؤمنين ، تخويف للكافرين . ٢ / زجر مشركينو ته . ٣ / دعوی د توحيد په هغي ادله او دفع د مشركينو چې هغوی وئيل دا زمونږ سفارشيان دي .

سورة الدخان مكية

نزولاً ٦٤ بعد الزخرف مصحفاً ٤٤ بعد الزخرف

«ربط د ما سبق سره»

١) ماقبل آيت ٨٦ كښې شبهه د مشركينو رد شوه چې مشركينو وئيل د دوی لاس الله تش نه پريږدي دلته آيت ٦ كښې بله شبهه د مشركينو رد كوي چې دوی وائي دا مونږ چې څوک رامدد كوؤ شاهد چې زمونږ آواز واوري ؟ جواب : ﴿إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ﴾

٢) مخكښې سورت په صداقة القرآن شروع وو دا سورت هم په صداقة القرآن شروع دے .

۳) مخکنبي آيت ٥٤ کنبي ذکر شو چې فرعون خلق (بنی إسرائيل) غلامان کړي وو دلته آيت ۱۸ کنبي ذکر کوي چې موسی علیه السلام ورته وئيل: ﴿اَنْ اَدُّوْۤا اِلَيَّ عِبَادَ اللّٰهِ ؕ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ﴾ ماسره د الله بندګان راپرېږدئ.

٤) مخکنبي آيت ٤٤ کنبي ذکر شو چې قرآن د نصيحت او شرافت کتاب دے دلته آيت ۳ کنبي د هغې شپې شرافت ذکر کوي په کومه کنبي چې قرآن نازل شوے دے.

٥) مخکنبي آيت ٦٧ کنبي ذکر شو چې مشرکين به د قيامت په ورځ د يو بل دشمنان وي دلته ٤١ کنبي په هغې باندې زيادت او ترقي کوي.

٦) مخکنبي آيت ۳۰ کنبي د کافرانو اعتراض په قرآن ذکر شو چې قرآن ته ئې جادو وئيل دلته آيت ١٤ کنبي د دوی اعتراض په نبي علیه السلام باندې ذکر کوي چې دوی وئيل دا پيغمبر علیه السلام ليونے دے.

۷) مخکنبي آيت ٦٧ کنبي ذکر شو چې متقيان به قيامت کنبي د يو بل دشمنان نه بلکه دوستان به وي دلته آيت ٥١ کنبي متقيانو ته بشارت ورکوي.

۸) مخکنبي آخري آيت کنبي ذکر شو: ﴿فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ﴾ يعني تخويف دنيوي وو دلته آيت ۱۰، ۱۱ کنبي په هغې باندې زيادت کوي.

٦) مخکنبي آخري آيت کنبي تخويف دنيوي وو دلته هم آخري آيت کنبي تخويف دنيوي دے.

۱۰) مخکنبي آيت ٤٤ کنبي ذکر شو چې دا قرآن ستا او ستا د قوم د پاره نصيحت دے دلته آيت ٥٨ کنبي وائي چې دا قرآن مې ستا په ژبه آسان کړے دے چې دا خلق نصيحت واخلي.

١١) مخکښې آيت ٥٥ کښې د فرعونيانو هلاکت ذکر شو دلته آيت ٦٩ کښې په هغې باندې زيادت او ترقي ده : ﴿فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَآءُ وَالْأَرْضُ وَمَا كَانُوْا مُنْظَرِيْنَ﴾ .

١٢) مخکښې آيت ١٠ کښې ذکر شو چې الله زمکه فرش کړځولے ده دلته آيت ٣٨ کښې په هغې زيادت او ترقي ده .

١٣) مخکښې آيت ٦٨ تا ٧٣ کښې مؤمنانو ته بشارت ذکر شو دلته ٥١ تا ٥٦ کښې په هغې باندې زيادت او ترقي ده .

١٤) مخکښې آيت ٧٤ تا ٧٨ کښې تخويف اخروي وو دلته آيت ٤٣ تا ٥٠ کښې هم تخويف اخروي ورکوي بالترقي علی ما سبق .

١٥) مخکښې بشارت ذکر شو دلته آيت ٨ کښې هغه مسئله ذکر کوي چې د هغې په منلو دغه بشارت موقوف دے .

امتيازات:

١) دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په جواب خصوصي د شبهې د مشرکينو باندې ، آيت ٦ .

٢) ليلة القدر ته په " ليلة مبركة " وئيلو باندې ، آيت ٤.

٣) په خصوصي تخويف دنيوي ورکولو باندې ، آيت ١٠؛ تا ١٦.

٤) په اعتراض د کافرانو باندې : ﴿وَقَالُوْا مُعَلَّمٌ مَّجْنُوْنٌ﴾ ، آيت ١٤ .

٥) په قول د الله تعالی باندې : ﴿يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرٰى ۚ اِنَّا مُنْتَقِمُوْنَ﴾، آيت ١٦ .

٦) په قول د موسی عليه السلام باندې :﴿ اَنْ اَدُّوْٓا اِلَيَّ عِبَادَ اللّٰهِ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ﴾، آيت ١٨ .

٧) په حكم د الله تعالٰى باندي موسٰى‌عليه السلام ته : ﴿وَاتْرُكِ الْبَحْرَ رَهْوًا ۖ إِنَّهُمْ جُنْدٌ مُّغْرَقُوْنَ﴾، آيت ٢٤.

٨) په نه ژړلو د آسمانونو او زمكو په هلاكت د فرعونيانو باندي : ﴿فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَآءُ وَالْاَرْضُ وَمَا كَانُوْا مُنْظَرِيْنَ﴾، آيت ٢٩ .

٩) په ذكر د خصوصي تخويف اخروي باندي ٤٣ تا ٥٠ .

١٠ـ په ذكر د خصوصي بشارت اخرويه باندي ٥١ تا ٥٦ .

١١ـ په تقسيم د رزقونو او نيتو باندي په ليلة مبركة كښې ، آيت ٤ .

١٢ـ په قول د الله تعالٰى باندي : ﴿يَوْمَ لَا يُغْنِيْ مَوْلًى عَنْ مَّوْلًى شَيْـًٔا وَّلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ﴾، آيت ٤١ .

دعوى:

جواب د شبهې د مشركينو چې دوی وئيل ؛؛ شاهد چې {دغه باباګان} زمونږ خبره واوري : ﴿إِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ﴾، آيت ٦.

خلاصه:

سورت كښې پنځه خبري ذكر كيږي :

{١}صداقة القرآن.

{٢} جواب د شبهې د مشركينو او دعوٰی د توحيد ، آيت ٦ تا ٣٨ .

{٣} تخويف دنيوي په هلاكت د فرعون او قوم تبع سره .

{٤}تخويف اخروي منكرينو د توحيد ته .

{٥} بشارت منونكو د توحيد ته .

آخر د سورت متعلق دے اول د سورت سره ؛ اول كښې ترغيب الى القرآن وو آخر كښې هم ترغيب الى القرآن دے .

سورة الجاثية مكية

نزولاً ٦٥ بعد الدخان مصحفاً ٤٥ بعد الدخان

«ربط د ما سبق سره»

١) ماقبل ابتداء كښې ترغيب الى القرآن وو دلته ابتداء كښې هم ترغيب الى القرآن دے.

٢) ما قبل آيت ٦ كښې يو شبهه د مشركينو رد شوه دلته آيت ١٨ كښې بله شبهه د مشركينو رد كوي چې دوى وئيل مونږ مشرانو پسي روان يو.

٣) ما قبل آيت ٥٨ كښې قرآن كريم ته ترغيب وو دلته آيت ٣١ كښې معرضينو د قرآن ته زجر وركوي.

٤) ما قبل آيت ٨ كښې مسئله د توحيد په عنوان د اله ذكر شوه دلته آيت ٣٦ كښې ئې په عنوان د حمد ذكر كوي.

٥) ما قبل آيت ٨ كښې مسئله د توحيد بيان شوه دلته آيت ٣ تا ٥ وغيره كښې دلائل عقليه په توحيد باندي پيش كوي.

٦) ما قبل آيت ٥٨ كښې ترغيب الى القرآن وو دلته آيت ١١ كښې مختصر الفاظو باندي قرآن ته ترغيب وركوي.

٧) ما قبل كښې واقعه د موسیٰ عليه السلام ذكر شوه دلته د هغي خلاصه سره د وضاحت نه ذكر كوي.

٨) ما قبل كښې تخويف دنيوي ذكر شو په واقعي د فرعونيانو سره دلته آيت ٢٨ كښې تخويف اخروي ذكر كوي.

٩) ما قبل آيت ٤٣ تا ٥٠ عذابونه د آخرت ذكر شو دلته آيت ٣٥ كښې ئې علت ذكر كوي چې دوى ته به دا عذاب ولي وركولي شي.

۱۰) ما قبل كښې ئی مؤمنانو ته د جنت زيري ورکړو دلته آيت ۳۰ كښې وائي : ﴿ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْمُبِيْنُ﴾ دا ښکاره کاميابي ده .

۱۱) ما قبل آيت ٥٧ كښې ئي جنت كښې داخليدو ته : ﴿ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ﴾ وئيلي وو دلته آيت ۳۰ کښې ورته: ﴿ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْمُبِيْنُ﴾ وائي.

۱۲) ما قبل آخر كښې ترغيب الى القرآن وو دلته اول كښې ترغيب الى القرآن دے اول د دي سورت آخر د ما قبل سره مرتبط دے .

امتيازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په ترغيب الى القرآن باندي مرارًا (بيا بيا).

۲) په خصوصي زجر معرضينو د قرآن ته ، آيت ۷ تا ۸ .

۳) په نفي دمساوات بين المؤمنين و المجرمين ، آيت ۲۱.

٤ په جواب د خصوصي شبهي د مشركينو باندي ، آيت ۱۸.

٥) په حکم د تابعدارئ کولو د شريعت باندي ، آيت ۱۸.

٦) په خصوصي حالت د منکرينو باندي ، آيت ۲۸ .

۷) په قول د الله تعالیٰ باندي : ﴿اِنَّا كُنَّا نَسْتَنْسِخُ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ﴾ ، آيت ۲۹.

۸) په قول د منکرينو د قيامت باندي : ﴿اِنْ نَّظُنُّ اِلَّا ظَنًّا وَّ مَا نَحْنُ بِمُسْتَيْقِنِيْنَ﴾ ، آيت ۳۲ .

۹) په قول د الله تعالیٰ باندي : ﴿وَتَرٰى كُلَّ اُمَّةٍ جَاثِيَةً كُلُّ اُمَّةٍ تُدْعٰٓى اِلٰى كِتٰبِهَا﴾ ، آيت ۲۸.

۱۰) په قول د الله تعالیٰ باندي : ﴿هٰذَا كِتٰبُنَا يَنْطِقُ عَلَيْكُمْ بِالْحَقِّ﴾ ، آيت ۲۹.

۱۱) په قول د کافرانو باندي : ﴿وَمَا يُهْلِكُنَآ اِلَّا الدَّهْرُ﴾ ، آيت ۲٤.

۱۲) په دي دريو نومونو د قرآن باندي، آيت ۲۰ کښې : ۱/ بصائر. ۲/ هدًی.
۳/ رحمة.

دعوی:

رد د شبهي د مشرکينو چې هغوی وئيل مونږ خپلو مشرانو پسې روان يو
آيت ۱۸.

خلاصه:

دې سورت کښې دلسمې شبهي جواب کوي چې دوی وئيل مونږ مشرانو
پسې روان يو آيت ۱۸ کښې : ﴿ثُمَّ جَعَلْنٰكَ عَلٰى شَرِيْعَةٍ مِّنَ الْاَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَ لَا
تَتَّبِعْ اَهْوَآءَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ﴾، آيت ۱۸.

دارنګه مشرکينو ته تخويف او زجر ورکوي، ترغيب الى القرآن او بشارت
مؤمنانو ته او په مسئلي د توحيد باندي دلائل پيش کوي.

سورة الاحقاف مكية

نزولاً ٦٦ بعد الجاثية مصحفاً ٤٦ بعد الجاثية

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل آخري آيت کښې د الله رب العزت دوه نومونه ذکر شو : ﴿وَهُوَ الْعَزِيْزُ
الْحَكِيْمُ﴾ دلته آيت ۲ کښې ئي هم ذکر کوي يعني اول د سورت آخر د ما قبل
سره مرتبط دے.

۲) ما قبل آيت ۲۳ کښې ئي مشرک ته ګمراه اوئيل ﴿وَاَضَلَّهُ اللّٰهُ عَلٰى عِلْمٍ﴾ دلته
آيت ۵ کښې په هغي باندي ترقي ده لوئي ګمراه ورته وائي : ﴿وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ
يَّدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ﴾.

۳) د ما قبل ابتداء کښې ترغیب الی القرآن وو دلته هم ابتداء کښې ترغیب الی القرآن دے .

٤) ما قبل آیت ۱۸ کښې شبهه د مشرکینو رد شوه دلته آیت ۲۸ کښې بله شبهه د مشرکینو رد کوي .

٥) ما قبل آیت ۲۲ کښې ئي د آسمانونو او د زمکو د پیدائش ذکر اوکړو دلته آیت ۳ کښې په هغې باندې زیادت او ترقي ده .

٦) د ما قبل اختتام په توحید باندي وو د دي سورت اختتام په تسلی باندي کوي ځکه د دې مسئلې بیان کښې به تکلیف راځي نو په هغې باندي به صبر کوي : ﴿فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُولُوا الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ وَلَا تَسْتَعْجِل لَّهُمْ﴾ ، آیت ۳۵.

۷) ما قبل آیت ۲۳ کښې ذکر شو چې د مشرکینو په غوږونو او سترګو باندي الله تعالیٰ مهر وهلے دے او په سترګو ئي ورله پردې راوستي دي دلته آیت ۲٦ کښې په هغې باندي زیادت کوي .

۸) ما قبل آیت ۳۱ کښې تخویف اخروي وو دلته آیت ۳٤ کښې په هغې باندي زیادت او ترقي ده .

۹) ما قبل کښې په توحید باندي عقلي دلائل ذکر شو چې د دي دلائلو باوجود هم څوک توحید نه مني او د الله تعالیٰ نه بغیر بل څوک رامدد کوي نو دلته آیت ٥ کښې پرې فتوٰی لګوي چې دا لوئی ګمراه دے .

۱۰) ما قبل آیت ۲۰ کښې ترغیب الی القرآن وو دلته آیت ۲۹ کښې په واقعي د جناتو سره قرآن کریم ته ترغیب ورکوي .

۱۱) ما قبل آیت ۱۹ کښې ذکر شو : ﴿وَاللَّهُ وَلِيُّ الْمُتَّقِينَ﴾ دلته آیت ۱۳ کښې د متقیانو صفتونه او د هغوی بدله او انعام ذکر کوي .

۱۲) ما قبل آيت ۱٦ كښې ذكر شو : ﴿وَلَقَدْ اٰتَيْنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْكِتٰبَ﴾ دلته آيت ۱۲ كښې په هغې باندې زيادت او ترقي ده : ﴿وَمِنْ قَبْلِهٖ كِتٰبُ مُوْسٰٓى اِمَامًا وَّرَحْمَةً﴾، آيت ۱۲.

امتيازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په ذكر د لفظ احقاف باندي، آيت ۲۱.

۲) مشرك ته په {اضلّ} وئيلو او په عاجزى د دوى د الهؤ باندي، آيت ٥.

۳) په قول د پيغمبر ﷺ باندي : ﴿مَا كُنْتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ وَمَآ اَدْرِيْ مَا يُفْعَلُ بِيْ وَلَا بِكُمْ﴾، آيت ۹.

٤) دا سورت ممتاز دے په قول د كافرانو باندي : ﴿لَوْ كَانَ خَيْرًا مَّا سَبَقُوْنَآ اِلَيْهِ﴾، آيت ۱۱.

٥) د حمل او فصال د پاره ديرش مياشتي ذكر كولو باندي : ﴿وَحَمْلُهٗ وَفِصٰلُهٗ ثَلٰثُوْنَ شَهْرًا﴾، آيت ۱٥.

٦) په دعا كولو د ولد صالح باندي : ﴿رَبِّ اَوْزِعْنِيْٓ اَنْ اَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتَ عَلَيَّ﴾، آيت ۱٥.

۷) په بد دعائى د ولد عاصي (نافرمان) باندي : ﴿اُفٍّ لَّكُمَآ اَتَعِدٰنِنِيْٓ اَنْ اُخْرَجَ وَقَدْ خَلَتِ الْقُرُوْنُ مِنْ قَبْلِيْ﴾، آيت ۱۷.

۸) په خصوصي تخويف اخروي باندي : ﴿وَيَوْمَ يُعْرَضُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَلَى النَّارِ اَذْهَبْتُمْ طَيِّبٰتِكُمْ فِيْ حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا وَاسْتَمْتَعْتُمْ بِهَا﴾، آيت ۲۰.

۹) په قول د عاديانو باندي : ﴿هٰذَا عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا﴾، آيت ۲٤.

۱۰) په رد د شبهې د مشركينو باندي : ﴿فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ قُرْبَانًا اٰلِهَةً ۭ بَلْ ضَلُّوْا عَنْهُمْ ۚ وَذٰلِكَ اِفْكُهُمْ وَمَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ﴾، آيت ۲۸.

۱۱) په واقعي د جناتو په خصوصي الفاظو باندي : ﴿وَاِذْ صَرَفْنَآ اِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُوْنَ الْقُرْاٰنَ﴾، آيت ۲۹ .

۱۲) په قول د جناتو باندي : ﴿يٰقَوْمَنَآ اَجِيْبُوْا دَاعِيَ اللّٰهِ وَاٰمِنُوْا بِهٖ﴾ ، آيت ۳۱ .

دعوی:

رد د شبهي د مشرکينو چې د دوی خنګ کښې زمونږ خير دے آيت ۲۸.

خلاصه:

دې سورت کښې دولس / ۱۲ خبري ذکر کوي : {۱} الترغيب الى القرآن، آيت ۲. {۲} الدليل العقلي ، آيت ۳ .{۳} مطالبه د دليل د مشرکانو نه ، آيت ٤. {٤} نفي د شرک في الدعاء ، زجر بالشرک او زجر باعراض القرآن، آيت ٥ تا ۷. {٥} الافتراء على الرسول ﷺ ، آيت ۸ . {٦} اثبات د رسالت ، آيت ۹ . {۷}دليل نقلي په مسئلي د توحيد باندي ، ۱۰ تا ۱۲ . {۸} الترغيب الى الاعمال الصالحة، بشارت ، الترغيب الى الاستقامة في الدين ، الزجر للمعرضين ۱۳ تا ۱۹ . {۹}التزهيد من الدنيا ، آيت ۲۰ .{۱۰} دليل نقلي په توحيد باندي سره د تخويف دنيوي نه په هلاکت د مشرکينو سره ،آيت ۲۱ . {۱۱} جواب د يولسمي شبهي آيت ۲۸ ، ترغيب الى القرآن ۲۹ تا ۳۲ او دليل عقلي په توحيد باندي ،آيت ۳۳ . {۱۲} تسلي نبي عليه السلام ته آيت ۳٤.

سورة محمد مدنية

نزولاً ۹۵ بعد الحدید مصحفاً ۴۷ بعد الاحقاف

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل کښې اثبات د توحید اوشو مکمل چې اوس ئې هم څوک نه مني نو دلته ترغیب الی الجهاد ورکوي چې جنګ ورسره اوکړئ .

۲) مخکښې آیت ۳٤ کښې تخویف اخروي کا فرانو ته دلته آیت ۱ کښې د عذاب علت ذکر کوي : ﴿اَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ﴾ اعمال ئې برباد دي ځکه به جهنم ته ځي.

۳) ما قبل آیت ۲۵ کښې د عادیانو ذکر اوشو دلته آیت ۱۹ کښې هغه اصل مسئله {توحید} ښائي چې د هغې په انکار قومونه تباه شوي دي .

٤) ما قبل آخري آیت کښې ذکر شو : ﴿فَهَلْ يُهْلَكُ اِلَّا الْقَوْمُ الْفٰسِقُوْنَ﴾ دلته آیت ۱ کښې هغه فاسقان ښائي : ﴿اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَ صَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللهِ﴾ .

۵) ما قبل آخري آیت کښې ترغیب في التبلیغ وو دلته آیت ٤ کښې ترغیب الی الجهاد دے ځکه جهاد ذریعه د تبلیغ ده .

٦) ما قبل ۲ کښې ترغیب الی القرآن وو دلته آیت ۱ کښې وائي چې قرآن نه منکر وي نو اعمال ئې برباد دي .

۷) د ما قبل اختتام بالتهدید وو د دي سورت افتتاح بالتهدید ده .

۸) ما قبل کښې توصیف الجنات ذکر شو په ادب د قرآن سره دلته آیت ۲٤ کښې منا فقانو ته په اعراض د قرآن او عدم تدبر د قرآن زجر او رټنه ورکوي .

۹) ما قبل کښې ذکر شو چې عادیان د الله د دین د مخالفت په وجه تباه شو دلته آیت ۱۰ کښې وائي چې د الله د دین مدد کول سبب د الله تعالی د امداد او د نجات دے .

۱۰) ما قبل آيت ۱٦ كښې د جنتيانو ذكر اوشو دلته آيت ۱۵ كښې د هغه نعمتونو ذكر كوي كوم چې به جنتيانو ته ملاويږي.

امتيازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په بيان د علل كثيره د جهاد باندې.

۲) په څلور قسمه نهرونو د جنت باندې، آيت ۱۵.

۳) په ترغيب الى القتال او په احوالو د منافقينو سره په وخت د قتال كښې.

٤) په تقابل د صفاتو د مشركينو او موحدينو باندې.

۵) په ذكر د غفلت د هغه چا باندې چې مجلس علمى كښې خبره په توجه نه اوري، آيت ۱٦.

٦) په هلاكت ذكر كولو باندې د پاره د كافرانو: ﴿وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَتَعْسًا لَّهُمْ﴾، آيت ۸.

۷) په قول د الله تعالى باندې چې د كافرو څټونه په توره باندې اوهئ: ﴿فَضَرْبَ الرِّقَابِ﴾، آيت ٤.

۸) په قول د الله تعالى باندې: ﴿فَاِمَّا مَنًّاۢ بَعْدُ وَاِمَّا فِدَآءً﴾، آيت ٤.

۹) په خصوصي خطاب كولو باندې مؤمنانو ته، آيت ۷.

۱۰) په ذكر د راتلو د علاماتو د قيامت باندې، آيت ۱۸.

۱۱) په ذكر د بزدلۍ د منافقينو باندې، آيت ۲۰.

۱۲) په ذكر د اوصاف قبيحه د منافقانو او په سزا د هغوی باندې آيت ۲۲، ۲۳.

۱۳) په خصوصي زجر وركولو باندې منافقينو ته: ﴿اَمْ عَلٰى قُلُوْبٍ اَقْفَالُهَا﴾، آيت ۲٤.

۱٤) په سزا وركولو د ملائكو منافقانو ته په وخت د روح اغستلو كښې او په بيان د اسبابو د سزا باندې، آيت ۲۷، ۲۸.

۱۵) په ذکر د تکړې تکړې کیدو د ګلمو د کافرانو باندې په جهنم کښې، آیت۱۵.

دعوی:

الترغیب الی القتال والزجر للمتکاسلین. د دې ځائ نه ۳ سورتونو کښې محمد، فتح، حجرات، کښې بیان د جهاد دے .

خلاصه:

دا سورت دوه حصې دے :

اوله حصه:

آیت ۱ نه تر آیت ۱۹ پورې دیکښې ووه / ۷ خبرې ذکر کوي : {۱} کافرانو ته تخویف او مؤمنانو ته بشارت . {۲} کافرانو سره د جنګ کولو علتونه . {۳}تیزي ورکوي مؤمنانو ته جهاد باندې سره د بشارت نه . {٤} په یولسو آیتونو کښې قبائح د کافرانو چې هغه موجب د دوی د قتل دے . {٥} مؤمنانو ته بشارت . {٦} زجر کافرانو او معرضینو د قرآن ته ، مؤمنانو ته بشارت او کافرانو ته تخویف . {۷} په دعوٰی د سورت باندې مسئله د توحید تفریع کوي چې قتال د دې مسئلې د پاره دے : ﴿فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ﴾ ،آیت ۱۹ .

دویمه حصه:

آیت ۲۰. نه تر آخره پورې دیکښې پنځه / ٥ خبرې ذکر کوي : {۱} زجر منافقینو ته او ذکر د اوصاف قبیحه د دوی . {۲}ترغیب الی القتال . {۳}تشجیع او ترغیب اطاعت د الله او پیغمبر ﷺ ته .{٤} تزهید من الدنیا .

{٥} ترغیب الی الانفاق .

سورة الفتح مكية

نزولاً ۱۱۱ بعد الجمعة مصحفاً ۴۸ بعد سورة محمد

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل کښې ترغيب الى الجهاد وو دلته آيت ۲ کښې بشارت د فتح مؤمنانو ته ورکوي.

۲) ما قبل کښې منافقينو ته زجر وو دلته آيت ٦ کښې د دوی سزاګانې ذکر کوي.

۳) ما قبل آيت ۱۹ کښې مسئله د توحيد ذکر شوه: ﴿فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ﴾ دلته آيت ۹ کښې په هغې باندې ترقي ده: ﴿وَتُسَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا﴾.

٤) ما قبل کښې منافقينو ته زجر وو په سستی کولو باندې دلته ۱۵ کښې هم منافقينو ته زجر دے.

٥) ما قبل آيت ۱۵ کښې د جنت د نعمتونو ذکر اوشو نو دې جنت ته به څوک ځي؟ دلته آيت ٥ کښې وائي چې مؤمنان سړی او زنانه به ورته ځي.

٦) ما قبل ابتداء يعني آيت ۲ کښې مؤمنانو ته بشارت وو دلته آخري آيت ۲ کښې مؤمنانو ته بشارت ورکوي.

۷) ما قبل آيت ۳۳ کښې مؤمنانو ته د اطاعت د الله او د پيغمبر عليه السلام حکم اوشو نو دلته آيت ۱۸، ۱۹ کښې اطاعت کوونکو د پاره انعامات ذکر دي.

۸) ما قبل کښې صفات د منافقينو ذکر شو دلته آيت ۲۹ کښې صفات د مؤمنانو ذکر کوي.

٩) ما قبل آيت ٣٣ كښې ذكر شو : ﴿يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَطِيْعُوا اللهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ﴾ ، دلته آيت ١٧ كښې هغه چاته بشارت وركوي چې د الله او پيغمبرﷺ تابعداري ئې اوكړه .

١٠) ما قبل آيت ٢ كښې ذكر شو : ﴿وَاَصْلَحَ بَالَهُمْ﴾ الله تعالٰى به د مؤمنانو حالت ښه كړي دلته آيت ١٧ تا ٢١ كښې د هغې تفصيل كوي .

١١) مخكښې آيت ٣٢ كښې زجر او تخويف هغه چاته ذكر شو چې د الله د پيغمبر ﷺ خلاف كوي دلته بشارت د هغې خلقو د پاره ذكر كوي چې د الله د پيغمبر ﷺ ملګرتيا ئې كړي وه .

١٣) ما قبل آيت ٨ كښې تخويف ذكر شو : ﴿وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَتَعْسًا لَّهُمْ﴾ دلته آيت ١٣ كښې په هغې باندې زيادت او ترقي ده .

امتيازات:

١) دا سورت ممتاز دے په ذكر دبيعة الرضوان باندې .

٢) په ذكر د فتوحاتو او غنائمو باندې .

٣) په قول د الله تعالٰى باندې په باره د صحابه كرامو كښې: ﴿وَاَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوٰى وَكَانُوْٓا اَحَقَّ بِهَا وَاَهْلَهَا﴾ ، آيت ٢٦ .

٤) په مثال د جماعت د موحدينو باندې ، آيت ٢٩ .

٥) په ذكر د خوب د نبي ﷺ باندې ، آيت ٢٧ .

٦) په خصوصي صفاتو د مؤمنانو باندې : ﴿اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ تَرٰىهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا﴾ ، آيت ٢٩ .

٧) په قبائحو د منافقينو باندې .

٨) په ذكر د خصوصي بشاراتو باندې نبي ﷺ ، ١ ته ٦.

۹) په هغه آیت باندي چې بغیر د حدیث ذکر کولو نه نۀ حل کیږي ﴿كَذٰلِكُمْ قَالَ اللّٰهُ مِنْ قَبْلُ﴾، آیت ۱۵ .

۱۰) په قول د الله تعالٰی باندي : ﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ يُبَايِعُوْنَكَ اِنَّمَا يُبَايِعُوْنَ اللّٰهَ ﴾

دعوی:

البشارة للمجاهدين يا البشارة للمؤمنين باالفتح .

خلاصه:

دا سورت دري بابه دے :

اول باب:

آیت ۱ نه تر آیت ۱۰ پوري په دیکښې پنځه / ۵ خبري ذکر کوي : {۱}مومنانو ته د فتح بشارت او ذکر د انعاماتو د پاره د دوی۱ تا ٤ . {۲} بشارت اخرويه مؤمنانو ته ،آیت ۵ . {۳} تخويف اخروي کافرانو ته ، آیت ٦ . {٤}دعوٰی د توحید او اثبات د رسالت ، آیت ۷ تا ۹ . {۵} الترغيب الى الجهاد ، آیت ۱۰.

دويم باب :

آیت ۱۱ نه تر آیت ۱۷ پوري په دیکښې زواجر منافقانو ته او جهاد نه مستثنیٰ افراد ذکر کوي .

دريم باب:

آیت ۱۸ نه تر آخره پوري دیکښې ترغیب الى الجهاد ، بشارت او تحضیض مؤمنانو ته ، اوصاف د مؤمنانو او سورت په بشارت باندي ختموي .

سورت شروع هم په بشارت دے او ختميږي هم په بشارت باندي .

سورة الحجرات مدنية

نزولاً ۱۰۲ بعد المجادلة مصحفاً ۴۹ بعد الفتح

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل کښې د فتح بیان اوشو نو دلته مؤمنانو ته وائي چې دا فتح به هله کیږي چې تاسو منظم یئ.

۲) مخکښې آیت ۲۶ کښې ذکر شو : ﴿وَأَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوٰى﴾دلته آیت ۱۳ کښې په هغې باندې زیادت او ترقي ده : ﴿إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللهِ أَتْقٰكُمْ﴾.

۳) ما قبل آیت ۱۲. ۱۳. کښې منافقانو ته زجر وو دلته آیت ۱ کښې مؤمنانو ته وائي چې تاسو د دوی غوندې نه شئ : ﴿ يٰأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيِ اللهِ وَرَسُوْلِهٖ﴾.

٤) ما قبل کښې بشارت د فتح ذکر شو دلته ووه / ۷ آداب ذکر کوي د پاره د اصلاح د معاشرې او د ازالې د فساد چې پدې آدابو عمل اوکړئ نو هله به د بشارت مستحق کرځئ.

٥) ما قبل آیت ۹ کښې ذکر شو چې د پیغمبرعَلَيْهِ السَّلَامُ توقیر او عزت اوکړئ دلته آیت ۲ کښې کیفیت د توقیر ذکر کوي : ﴿لَا تَرْفَعُوْآ أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ﴾.

٦) ما قبل آیت ۹ کښې ذکر شو : ﴿وَتُوَقِّرُوْهُ﴾ د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ عزت اوکړئ دلته آیت ٤ کښې هغه چاته زجر ورکوي چې توقیر د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه کوي.

۷) ما قبل کښې بیان د فتح اوشو نو دلته اوه ۷ آداب ذکر کوي چې فتح نه پس د دې آدابو خیال ساتئ.

٨) ما قبل په ذکر د مؤمنانو ختم شوے وو نو دا سورت په ذکر د مؤمنانو باندي شروع کوي .

٩) ما قبل کښې دعوٰی د توحید تفریعاً ذکر وه : ﴿وَتُسَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا﴾، آیت ٩ دلته آیت ١٨ کښې هم دعوٰی د توحید تفریعاً ذکر کوي : ﴿اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ غَيْبَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾ .

١٠) ما قبل کښې بیان د قتال وو د کفارو سره دلته آیت ٩ کښې حکم د قتال دے باغیانو سره .

١١) ما قبل کښې منافقانو ته زجر وو دلته آیت ١٤ کښې هم دوی ته زجر ورکوي.

١٢) ما قبل آیت ٢٦ کښې ذکر شو : ﴿وَاَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوٰى﴾ دلته آیت ٣ کښې په هغې باندي زیادت او ترقي ده : ﴿اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ امْتَحَنَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ لِلتَّقْوٰى﴾.

١٣) ما قبل اختتام کښې بشارة للمؤمنین وو دلته آخري آیت کښې هغه مسئله د توحید ذکر کوي چې د هغې په منلو باندي دغه بشارت موقوف دے.

١٤) ما قبل آیت ١٨ تا٢١ کښې د الله تعالٰی انعامات په مؤمنانو باندي ذکر شو دلته آیت ٧، ٨ کښې نور انعامات په دوی باندي ذکر کوي .

امتیازات:

١ـ دا سورت ممتاز دے په آداب سبعه لاصلاح المعاشره .

٢) په زجر ورکولو باندي هغه چاته چې توقیر د نبي عليه السلام نه کوي ، آیت ٤.

٣) په ذکر د حجرات د امهات المؤمنین باندي ، آیت ٤.

٤) په خصوصي بشارت باندي د پاره د توقیر کوونکو د پیغمبر عليه السلام : ﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ يَغُضُّوْنَ اَصْوَاتَهُمْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ امْتَحَنَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ لِلتَّقْوٰى لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ عَظِيْمٌ﴾، آیت ٣ .

٥) په جنګ کولو باندي د باغیانو سره ، آیت ٩ .

٦) په قول د الله تعالی باندي چې مؤمنان رونړه دي : ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ﴾، آیت ۱۰ .

۷) په منع کولو د جاسوسی نه : ﴿وَلَا تَجَسَّسُوا﴾، آیت ۱۲ .

۸) په منع کولو د غیبت نه : ﴿وَلَا يَغْتَبْ بَّعْضُكُمْ بَعْضًا﴾، آیت ۱۲ .

۹) په زجر ورکولو باندي غیبت کونکو ته : ﴿أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ﴾، آیت ۱۲.

۱۰) په ذکر د معیار د عزت مند کیدلو باندي په نزد د الله رب العزت چې هغه تقوی ده : ﴿إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللهِ أَتْقٰكُمْ﴾ ، آیت ۱۳ .

۱۱۔ په ذکر د حکمت دشعوب او قبائلو باندي چې هغه تعارف{یوبل پیژندل دي}﴿وَجَعَلْنٰكُمْ شُعُوْبًا وَّقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوْا﴾ ، آیت ۱۳ .

۱۲) په بربادیدلو د اعمالو د هغه چا چې توقیر د نبي عليه السلام نه کوي ، آیت ۲ .

دعوی:

الامورالمنتظمة للجماعة .

مقصدالسورة:

الآداب السبعة لاصلاح المعاشرة .

خلاصه:

دا سورت ذوه حصي دے :

اوله حصه :

آیت ۱. نه تر ۱۳. پوري په دیکښې مؤمنانو ته اووه آداب ذکر کوي:

اول ادب : آیت ۱ کښې خپل شهرت نه بلکه د پیغمبر عليه السلام د سنتو شهرت اوکړئ .

دویم ادب: آیت ۲ کښې تعظیم د پیغمبر ﷺ اوکړئ .

دریم ادب : آیت ٦ کښې چې په بے اعتباره یقین مه کوه .

څلورم ادب: آیت ۹ کښې "الاصلاح بین ارکان الجماعة" یعني د جنګ کونکو مسلمانانو مینځ کښې صلح اوکړئ " ، او کوم چې زیاتے کوي هغوی سره مقابله اوکړئ .

پنځم ادب : آیت ۱۱ کښې "توقیر الارکان والتحذیر من اهانتهم" یعني یو بل پوري توقې مه کوئ " .

شپږم ادب : آیت ۱۲ کښې " النهی عن الاسباب المفضیة الی النزاع والبغضاء "بدګمانی په یو بل مه کوئ " .

ووم ادب : آیت ۱۳ کښې " الفضیلةُ و الکرامةُ لِلْارکان اِنَّمَا هي بالتقوٰی لا بالنسب " حق د فضیلت ،کرامت او امارت د الله تعالٰی په نزد تقوٰی باندې موقوف دے نه په نسب باندې " .

دویمه حصه:

آیت ١٤ نه تر آخره پورې ، په دې کښې زجر منافقینو نه ، صفات د مؤمنانو او آخر کښې مسئله د توحید تفریعًا ذکر کوي .

سورة ق مكية

نزولاً ۳۴ بعد المرسلت مصحفاً ۵۰ بعد الحجرات

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل آيت ۱۳ کښې ذکر شو : ﴿إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ﴾ دلته آيت ۳۳، ۳٤ کښې منزل د متقی ښائي .

۲) ما قبل آيت ۱۸ کښې ذکر شو چې عالم الغيب يوالله دے دلته آيت ۱٦ کښې په هغې زيادت او ترقي کوي .

۳) ما قبل کښې آداب د اصلاح د معاشرے ذکر شو نو دلته اثبات د قيامت کوي چې معاشره په دي آدابو صحيح کړه نو الله تعالى به درله قيامت کښې اجر درکړي .

٤) ما قبل آيت ۲ کښې ذکر شو چې د پيغمبر عليه السلام بے ادبي مه کوئ دلته آيت ۱٤ کښې وائي چا چې د انبياء عليهم السلام تکذيب او خلاف کړے دے نو الله تعالى تباه کړي دي .

٥) ما قبل آخري آيت کښې مسئله د توحيد تفريعاً ذکر شوه دلته په هغې باندي دلائل عقليه ذکر کوي .

٦) ما قبل آيت ۱۲ کښې ذکر شو : ﴿وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا﴾ د غيبت کولو نه ئې منع کړي وه دلته آيت ۱۸ کښې تنبيه ورکوي انسان ته چې ملائک د ده هره خبره ليکي : ﴿مَا يَلْفِظُ مِن قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ﴾.

۷) ما قبل آيت ۱۵ کښې د مؤمنانو صفات ذکر شو سره د مختصر بشارت نه دلته آيت ۳۱ تا ۳۵ کښې مؤمنانو ته تفصيلي بشارت ورکوي .

۸) ما قبل آیت ١٤ کښې ذکر شو چې منافقانو به دروغ وئیل چې مونږ ایمان راوړے دے دارنګي آیت ۱۷ کښې ذکر شو چې دوی پیغمبر ﷺ باندي اسلام زبادلو نو دلته آیت ۳۹ کښې نبي ﷺ ته تسلي ورکوي .

۹) ما قبل کښې بیان د جهاد او آدابو د معاشري اوشو دلته اثبات د قیامت کوي او آخرت ته ترغیب ورکوي چې دنیا کښې د آخرت د پاره تیارے اوکړه .

۱۰) ما قبل آیت ۱۵ کښې صفات د مؤمنانو ذکر شو دلته آیت ۳۲ ، ۳۳ کښې نور صفات د مؤمنانو سره د بشارت نه ذکر کوي .

امتیازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په ذکر د مثالونو باندي د پاره د اثبات د قیامت .

۲) په ذکر د راتلو د سختئ د مرګ باندي آیت ۱۹ .

۳) په دي قول ذ الله تعالى : ﴿وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيْدِ﴾ ، آیت ١٦ .

٤) په قول د الله تعالى : ﴿وَجَآءَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّعَهَا سَآئِقٌ وَّشَهِيْدٌ ۝٢١﴾ ، آیت ۲۱ .

٥) په قول د الله تعالى :﴿فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَآءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيْدٌ﴾، آیت ۲۲.

٦) په تپوس کولو د الله تعالى جهنم نه : ﴿هَلِ امْتَلَأْتِ﴾ ، آیت ۳۰ .

۷) په جواب د جهنم باندي : ﴿هَلْ مِنْ مَّزِيْدٍ﴾ ، آیت ۳۰ .

۸) په خصوصي بشارت باندي مؤمنانو ته ، آیت ٣٤ ، ٣٥ .

۹) په خصوصي آدابو د متعلم او سامع باندي : ﴿اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى لِمَنْ كَانَ لَهٗ قَلْبٌ اَوْ اَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيْدٌ﴾ ، آیت ۳۷ .

۱۰) په قول د الله تعالى باندي : ﴿فَذَكِّرْ بِالْقُرْاٰنِ مَنْ يَّخَافُ وَعِيْدِ﴾ ، آیت ٤٥ .

دعوی:

اثبات القيامة والدلائل العقلية عليها تنويرا لها والتوحيد تفريعا

، يعني اثبات د قيامت کوي او دلائل عقليه په اثبات د قيامت باندي بطور تنوير او مسئله د توحيد تفريعا ذکر کوي .

تقسيم د سورت { خلاصه }

دا سورت دوه بابه دے :

اول باب:

آيت ۱ نه تر آيت ۱۵ پوري ، په ديکښې ترغيب الى القرآن او زجر معرضينو د قرآن ته ، دلائل عقليه او په هغي باندي دعوٰى د سورت تفريع کوي : ﴿كَذٰلِكَ الْخُرُوْجُ﴾ ، دارنګې تخويف دنيوي په ذکر د اقوام مهلکو مکذبو باندي او دا ذکر کوي چې خالق د کائناتو الله رب العزت دے .

دويم باب:

آيت ۱۶ نه تر آخره پوري په ديکښې ووۀ / ۷ خبري ذکر کوي :

{۱} اَلْعَالِمُ بِكُلِّ شَيْءٍ هُوَ اللّٰهُ ﴿وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهٖ نَفْسُهٗ﴾ ، آيت ۱٦ .

{۲} تخويف اخروي منکرينو ته او دا چې شرک سبب د عذاب دے .

{۳} مؤمنانو ته بشارت ۳۱ تا ۳۵ او تخويف دنيوي ، آيت ۳٦ .

{۴} الترغيب الى القرآن ، آيت ۳۷ . {۵} الدليل العقلي ، آيت ۳۸ . {٦} پيغمبر عليه السلام ته تسلي ، آيت ۳۹ .

{۷} په دويم ځل دعوٰى د توحيد او په دويم ځل تخويف اخروي .

سورت شروع هم په ترغيب الى القرآن وو او ختموي ئې هم په ترغيب الى القرآن باندي .

سورة الذاريات مكية

نزولاً ٦٧ بعد الاحقاف مصحفاً ٥١ بعد ق

«ربط د ما سبق سره»

١) ما قبل کښې اثبات د قيامت وو دلته په هغې باندې ترقي ده.

٢) ما قبل آخري آيت کښې ترغيب الى القرآن وو دلته آيت ٥٥ کښې په هغې باندې ترقي ده .

٣) ما قبل آيت ١٦ کښې ذکر شو چې خالق د انسان الله تعالىٰ دے دلته آيت ٤٩ کښې په هغې زيادت او ترقي ده .

٤) ما قبل آيت ٧ کښې ذکر شو : ﴿وَالْأَرْضَ مَدَدْنٰهَا﴾ دلته آيت ٤٨ کښې په هغې باندې ترقي ده : ﴿وَالْأَرْضَ فَرَشْنٰهَا فَنِعْمَ الْمٰهِدُوْنَ﴾ .

٥) ما قبل آيت ٥ کښې ذکر شو : ﴿اَفَلَمْ يَنْظُرُوْٓا اِلَى السَّمَآءِ فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنٰهَا وَزَيَّنّٰهَا﴾ دلته آيت ٧ کښې دغه خبره مختصر الفاظو باندې ذکر کوي : ﴿وَ السَّمَآءِ ذَاتِ الْحُبُكِ﴾ .

٦) ما قبل آيت ٦ کښې ئې اوئيل : ﴿فَهُمْ فِيْٓ اَمْرٍ مَّرِيْجٍ﴾ دوی په يو کار کډوډ کښې دي دلته آيت ٨ کښې په هغې زيادت کوي : ﴿اِنَّكُمْ لَفِيْ قَوْلٍ مُّخْتَلِفٍ﴾ .

٧) ما قبل آيت ٧ کښې ذکر شو : ﴿وَالْأَرْضَ مَدَدْنٰهَا﴾ دلته آيت ٢٠ کښې وائي : ﴿وَ فِي الْاَرْضِ اٰيٰتٌ لِّلْمُوْقِنِيْنَ﴾ ترقي ده على ماسبق .

٨) ما قبل آيت ١٦ کښې ذکر شو : ﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ﴾ دلته آيت ٢١ کښې په هغې باندې ترقي ده : ﴿وَفِيْٓ اَنْفُسِكُمْ ۚ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ﴾ .

٩) ما قبل آيت ١٢ تا ١٤ کښې مختصر تخويف دنيوي وو دلته آيت ٢٤ تا ٤٦ کښې تفصيلي تخويف دنيوي دے .

۱۰) ما قبل آیت ۲٦ کښې ذکر شو : ﴿ اِلَّذِیۡ جَعَلَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَاَلۡقِيٰهُ فِي الۡعَذَابِ الشَّدِيۡدِ﴾ دلته آیت ۵۱ کښې په هغې باندي ترقي ده : ﴿وَلَا تَجۡعَلُوۡا مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ﴾

۱۱) ما قبل آیت ۱٦ کښې پیدائش د انسان ذکر شو دلته آیت ۵٦ کښې په هغي باندي ترقي ده ، مقصد د پیدائش د انسان ښائي چې هغه عبادت دے .

۱۲) ما قبل آیت ۱۲ کښې تکذیب د قوم نوح او د هغوی هلاکت ذکر شو دلته د هغوی هلاکت سره د علت نه ذکر کوي ترقي ده علی ما سبق .

۱۳) ما قبل آیت ۹ کښې ذکر شو : ﴿وَنَزَّلۡنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً مُّبٰرَكًا فَاَنۡۢبَتۡنَا بِهٖ جَنّٰتٍ وَّحَبَّ الۡحَصِيۡدِ﴾ دلته آیت ۲۲ کښې د هغي تفصیل کوي ﴿وَفِي السَّمَآءِ رِزۡقُكُمۡ وَمَا تُوۡعَدُوۡنَ﴾ .

۱٤ـ ما قبل آیت ۵ کښې ذکر شو : ﴿بَلۡ كَذَّبُوۡا بِالۡحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمۡ فَهُمۡ فِيۡۤ اَمۡرٍ مَّرِيۡجٍ﴾ دلته آیت ٦۰ کښې په هغي ترقي ده : ﴿فَوَيۡلٌ لِّلَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا مِنۡ يَّوۡمِهِمُ الَّذِيۡ يُوۡعَدُوۡنَ﴾ .

۱۵) ما قبل آیت ۱۳ کښې د عادیانو تکذیب ذکر شو دلته آیت ٤۱ کښې د هغوی هلاکت ذکر کوي ترقي ده ماسبق باندي .

۱٦) ما قبل ابتداء کښې یو شاهد ذکر شوے وو : ﴿ وَالۡقُرۡاٰنِ الۡمَجِيۡدِ﴾ دلته ابتداء کښې څلور شواهد ذکر کوي بالترقي علی ماسبق .

۱۷) ما قبل کښې تخویف او زجر للمنکرین وو دلته هم تخویف او زجر دے منکرینو ته په ترقی سره د ماسبق نه .

۱۸) ما قبل آیت ۳۱ کښې مؤمنانو ته بشارت وو دلته آیت ۱۵ کښې هم بشارت دے په ترقی سره د ماسبق نه .

۱۹) ما قبل ۲٤ تا ۲٦ کښې مذمت د شرک بیان شو چې دا سبب د عذاب دے دلته آیت ٥١ کښې د شرک کولو نه منع کوي : ﴿وَلَا تَجۡعَلُوۡا مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ﴾.

۲۰ ـ ما قبل آیت ۳۹ ، ٤٠ کښې ترغیب الی التوحید وو : ﴿وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ﴾ دلته آیت ٥٠ کښې هم ترغیب الی التوحید دے : ﴿فَفِرُّوۡۤا اِلَى اللّٰهِ﴾ .

امتیازات:

۱) دا سورت مُمتاز دے په شواهد اربعه باندي د پاره د اثبات د قیامت .

۲) په خصوصي صفاتو د مؤمنانو باندي ، آیت ۱۷ تا ۱۹ .

۳) په حکم د الله باندي : ﴿فَفِرُّوۡۤا اِلَى اللّٰهِ﴾ ، آیت٥٠ .

٤) په مقصد د پیدائش د انس و جن باندي ، آیت ٥٦ .

٥) په لفظ د "الۡحُبُكِ" باندي ، آیت ۷ .

٦) په خصوصي تخویف اخروي باندي ، آیت ۱۲ تا ۱٤ .

۷) په ذکر د{عجل سمین} باندي ۲٦ .

۸) په ذکر د تس ورکولو د بي بي د ابراهیم علیه السلام خپل تندي لره : ﴿فَصَكَّتۡ وَجۡهَهَا﴾ ، آیت ۲۹ .

۹) په خصوصي تخویف دنیوي ورکولو سره ، آیت ۳۲ تا ٤٦ .

۱۰) په قول د الله تعالی : ﴿وَالسَّمَآءَ بَنَيۡنٰهَا بِاَيۡىدٍ وَّاِنَّا لَمُوۡسِعُوۡنَ﴾ ، آیت ٤٧ .

۱۱) په قول د الله تعالی : ﴿وَالۡاَرۡضَ فَرَشۡنٰهَا فَنِعۡمَ الۡمٰهِدُوۡنَ﴾ ، آیت ٤٨ .

۱۲) په ذکر داستغناء د الله رب العزت د مخلوق نه : ﴿مَاۤ اُرِيۡدُ مِنۡهُمۡ مِّنۡ رِّزۡقٍ وَّمَاۤ اُرِيۡدُ اَنۡ يُّطۡعِمُوۡنِ﴾ ، آیت ٥٧ .

۱۳) په ذکر د پنځو نومونو د الله تعالی باندي په مختصر آیت کښې : ﴿اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الۡقُوَّةِ الۡمَتِيۡنُ﴾ :

(١) الله . (٢) هو (اسم ضمير) . (٣) الرزاق . (٤) ذوالقوة . (٥) المتين ، آيت ٥٨.

١٤) په خصوصي تسلي ورکولو باندي نبي ﷺ ته ، آيت ٥٢ .

١٥) په بد دعایئ باندي اټکلیانو ته : ﴿قُتِلَ الْخَرّٰصُوْنَ﴾ ، آيت ١٠.

دعوى:

اثبات د قيامت بالترقي على ماسبق .

خلاصه:

په دیکښې لس / ١٠ خبري ذکر کوي :

{١} شواهد اربعه په اثبات د قيامت باندي ، آيت ١ تا ٦ .

{٢} ښائسته کیدل د آسمان په ستورو باندي او دلالت د ستورو په یو نا آشنا نظام باندي ، آيت ٧ .

{٣} زجر منکرینو د قيامت ته ٨ ، ٩ .

{٤} تخويف منکرینو د قيامت ته ، ١٠ تا ١٢.

{٥} بشارت مؤمنانو ته او څلور صفات حسنه د مؤمنانو .

{٦} ادله عقليه اول ځل ٢٠ تا ٢٣ .

{٧} تخويف دنيوي په ذکر د هلاکت د پنځو اقوام مکذبو باندي ٢٤ تا ٤٦ او په دويم ځل ادله عقليه ، آيت ٤٧ تا ٤٩ .

{٨} الترغيب الى التوحيد ، آيت ٥٠ ، ٥١ .

{٩} تسلي نبي ﷺ ته او زجر منکرینو د رسالت ته ٥٢ تا ٥٨ .

{١٠} تخويف اخروي آيت ٥٩ ، ٦٠ .

سورت چې ختموي نو اول سره ئې تړي ، اول کښې وو : ﴿إِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَصَادِقٌ﴾ او آخر کښې وائي : ﴿الَّذِيْ يُوْعَدُوْنَ﴾ .

سورة الطور مكية

نزولاً ٧٦ بعد السجدة مصحفاً ٥٢ بعد الذاريات

«ربط د ما سبق سره»

١) ما قبل كښې شواهد په اثبات د قيامت وو دلته هم شواهد په اثبات د قيامت ذكر كوي .

٢) ما قبل آيت ٥ كښې ذكر شو : ﴿إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَصَادِقٌ﴾ دلته آيت ٧ كښې وائي : ﴿إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ﴾ يعني هلته هم اثبات د قيامت وو او دلته هم اثبات د قيامت دے بالترقي علی ماسبق .

٣) ما قبل آيت ٤٧ كښې د آسمان جوړولو ذكر وو دلته آيت ٩ كښې د آسمان د ختمولو ذكر دے : ﴿يَوْمَ تَمُورُ السَّمَاءُ مَوْرًا﴾ .

٤) ما قبل آيت ٢١ كښې زجر ذكر شو : ﴿وَفِي أَنفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُونَ﴾ نو دلته آيت ٣٥ كښې هم زجر وركوي .

٥) ما قبل آيت ١٧ كښې د مؤمنانو صفت ذكر شو چې د شپې لږ خوب كوي دلته آيت ٤٩ كښې نبي عليه السلام ته الله رب العزت وائي : ﴿وَمِنَ اللَّيْلِ فَسَبِّحْهُ﴾ چې په څه حصه د شپې كښې د الله پاكی بيانوه .

٦) ما قبل آخري آيت ٦٠ كښې زجر وو منكرينو د قيامت دلته آيت ١١، ١٦ كښې هم دوی ته زجر وركوي په ترقی سره د ماسبق نه .

٧) ما قبل آيت ٢٤ تا ٤٦ كښې تخويف دنيوي وو دلته آيت ٤٥ تا ٤٧ كښې تخويف اخروي ذكر كوي .

٨) ما قبل كښې په اثبات د توحيد ادله عقليه ذكر شو دلته پري ادله ثلاثه { عقلي ، نقلي ، وحي } ذكر كوي .

۹) ما قبل آیت ۱٦ تا ۱۹ کښې صفات المؤمنین ذکر شو دلته آیت ۱۷ تا ۲۸ کښې مؤمنانو ته بشارت ورکوي .

۱۰) ما قبل آیت ۵۵ کښې ذکر شو : ﴿وَذَكِّرْ فَإِنَّ الذِّكْرٰى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ دلته آیت ۲۹ کښې هم وائي : ﴿فَذَكِّرْ﴾ پند ورکوه بیا بیا باب تفعیل د پاره د مبالغې راځي په فعل کښې یعني بیا بیا پند ورکوه .

۱۱) ما قبل آیت ۱۵ کښې مختصر بشارت وو دلته آیت ۱۷ تا ۲۸ کښې تفصیلي بشارت ورکوي .

۱۲) ما قبل آیت ۵۳ کښې کافرانو ته زجر ذکر شو دلته په لفظ د " أَمْ " باندې دوۍ ته زواجر ورکوي په زیادت سره د ماسبق نه .

۱۳) ما قبل آیت ۵۲ کښې نبي عليه السلام ته تسلي وه دلته آیت ٤۸ کښې د هغې نه تفصیلي تسلي ورکوي .

۱٤) ما قبل آیت ۵٦ کښې مقصد د پیدائش د انس وجن ذکر شو چې هغه عبادت د الله دے دلته آیت ۲۸ کښې وائي چاچې دنیا کښې د الله عبادت کړے وو الله ئې رامدد کړے وو نوهلته به پدے باندې خوشحاله وي .

۱۵) ما قبل آیت ۵۹ کښې ذکر شو : ﴿فَإِنَّ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ذَنُوْبًا مِّثْلَ ذَنُوْبِ أَصْحٰبِهِمْ فَلَا يَسْتَعْجِلُوْنِ﴾ دلته آیت ٤۷ کښې وائي : ﴿وَإِنَّ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا عَذَابًا دُوْنَ ذٰلِكَ﴾ یعني مخکښې ظلم د ظالمانو ذکر شو دلته ئې سزا ذکر کوي .

۱٦) ما قبل آیت ۵۱ کښې ذکر شو : ﴿وَلَا تَجْعَلُوْا مَعَ اللّٰهِ إِلٰهًا اٰخَرَ﴾ دلته آیت ٤۳ کښې وائي : ﴿سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ﴾.

۱۷) ما قبل آیت ۵۰ کښې ترغیب الی التوحید وو دلته آیت ۱۷ تا۲۸ کښې توحید والؤ د پاره بشارتو نه ذکر کوي .

۱۸) ما قبل آیت ۱۰ کښې ذکر شو : ﴿قُتِلَ الْخَرّٰصُوْنَ﴾ په لعنت د شي اټکلیان دلته آیت ۳۰ تا ۳۳ کښې د دوی هغه اټکلي خبري ذکر کوي .

۱۹) ما قبل آیت ۲٤ کښې د ابراهیم علیه السلام د میلمنو تذکره اوشوه دلته آیت ۱۷ تا ۲۸ کښې د الله تعالیٰ د میلمنو تذکره کوي .

۲۰ ـ ما قبل آیت ٤۹ کښې ذکر شو چې خالق الله رب العزت دے ، دلته آیت ۳۵ کښې هغه چاته زجر ورکوي چې الله تعالیٰ خالق نه مني .

امتیازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په بیان د شواهد خمسه باندي ، آیت ۱ تا٦ .

۲) په ذکر د لفظ د " اَمْ " پنځلس ځله د پاره د زجر .

۳) په ذکر د : ﴿الْبَيْتِ الْمَعْمُوْرِ﴾ باندي ، آیت ٤ .

٤) په خصوصي بشارت باندي مؤمنانو ته ، آیت ۷ تا ۲۸ .

٥) په خصوصي خبرو د جنتیانو دباندي یو بل سره ، آیت ۲٥ تا۲۸ .

٦) په قول د الله تعالیٰ باندي جهنمیانو ته : ﴿اِصْلَوْهَا فَاصْبِرُوْٓا اَوْ لَا تَصْبِرُوْا سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ﴾ ، آیت ۱٦.

۷) په ذکر د خصوصي انعام د الله تعالیٰ په هغه اولاد د مؤمنانو باندي چې تابعدار د والدینو وو ، آیت ۲۱ .

۸) په قول د جنتیانو باندي : ﴿اِنَّا كُنَّا قَبْلُ فِيْٓ اَهْلِنَا مُشْفِقِيْنَ﴾ ، آیت ۲٦ .

۹) په قول د الله تعالیٰ : ﴿اَمْ خُلِقُوْا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ اَمْ هُمُ الْخٰلِقُوْنَ﴾ ، آیت۳٥ .

۱۰) په تسلی ورکولو باندي نبی علیه السلام ته په خصوصي الفاظو : ﴿وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَاِنَّكَ بِاَعْيُنِنَا﴾ ، آیت ٤۸ .

دعوی:

اثبات القيامة باالادلة العقلية والنقلية والوحية بالترقي علیٰ ماسبق

خلاصه:

اول کښې ادله ثلاثه په اثبات د قیامت ذکر کوي

۱: دلیل نقلي: ﴿وَالطُّوْرِۙ۝ وَكِتٰبٍ مَّسْطُوْرٍ﴾ "الطُّوْرِ" نه مراد هغه مقام چې موسٰی علیه السلام ته پکښې وحي شوي وه.

۲: دلیل عقلي: ﴿وَالسَّقْفِ الْمَرْفُوْعِ۝ وَالْبَحْرِ الْمَسْجُوْرِ﴾ دا دواړه عقلي دلائل دي.

۳: دلیل وحي: ﴿وَّالْبَيْتِ الْمَعْمُوْرِ﴾ یعني هغه مقام چې محمد علیه السلام ته پکښې وحي شوي وه.

یا دا پنځه شواهد دي په اثبات د قیامت باندي. بیا آیت ۱۶ پوري منکرینو د آخرت ته زجر او تخویف ورکوي بیا البشارة العظمیٰ لوئي زیرے د پاره د متقیانو او دا ذکر کوي چې دا کامیابی به په توحید میلاویږي، بیا آیت ۲۹ کښې اثبات د رسالت آیت ۳۰ تا ۳۳ کښې زجر منکرینو د رسالت او معرضینو د قرآن ته آیت ۳٤، ۳۵ کښې ادله الزامیه بیا زجر او تخویف ورکوي مشرکینو ته او سورت په توحید باندي ختموي.

سورة النجم مكية

نزولاً ۲۳ بعد الاخلاص مصحفاً ۵۳ بعد الطور

«ربط د ما سبق سره»

۱ـ ما قبل کښې انکار د منکرينو د رسالت ذکر شو دلته ابتداء کښې اثبات د رسالت ذکر کوي .

۲) ما قبل ختم شو بالتسبيح يعني بالتوحيد باندي دلته په الهؤ باطلؤ باندي رد او د هغوی نه نفي د شفاعت قهريه کوي .

۳) ما قبل آيت ۴۳ کښې مشرکينو ته زجر وو دلته آيت ۲۳ کښې هم دوی ته زجر ورکوي په ترقی سره د ماسبق نه : ﴿إِنْ يَتَّبِعُوْنَ إِلَّا الظَّنَّ وَ مَا تَهْوَى الْأَنْفُسُ﴾.

٤) ما قبل کښې استهزاء د مشرکينو ذکر شوه پيغمبر ﷺ پوري دلته اثبات د رسالت کوي .

٥) ما قبل ختم شوے وو په لفظ د " نجوم " باندي دا سورت شروع کوي په لفظ د " نجم " باندي .

٦) ما قبل آيت ٢٦ او ٢٨ کښې اعمال د مؤمنانو ذکر شو دلته آيت ۲۳ او ٢٤ کښې اعمال د کافرانو ذکر کوي .

۷) ما قبل آخري آيت کښې أمر بالتسبيح وو دلته آخري آيت کښې أمر بالسجدة او أمر بالعبادة دے بالترقی علیٰ ماسبق .

۸) ما قبل د توحيد په يو عنوان ختم وو چې عنوان د تسبيح دے دا سورت د توحيد په بل عنوان ختموي چې هغه عنوان د عبادت دے .

۹) ما قبل ابتداء کښې اثبات د قیامت اوشو دلته آیت ۱۹ کښې رد د شرک کوي ځکه دا سبب د عذاب دے په آخرت کښې.

۱۰) ما قبل آیت ۳٤ ، ۳۵ کښې دلائل عقلیه الزامیه ذکر شو دلته ٤۳ تا ٤۸ کښې نور دلائل عقلیه ذکر کوي.

۱۱) ما قبل آیت ۷ کښې اثبات د قیامت وو : ﴿اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ﴾ یعني مستحق د عذاب خلاصیدے نه شي دلته آیت ۵۷ کښې وائي : ﴿اَزِفَتِ الْاٰزِفَةُ﴾ یعني وخت دمستحق د عذاب نزدي دے.

۱۲) ما قبل ۳۰ کښې زجر بانکار الرسالة وو دلته آیت ۱۲ کښې هم منکرینو د رسالت ته زجر ورکوي : ﴿اَفَتُمٰرُوْنَهٗ عَلٰى مَا يَرٰى﴾.

۱۳) ما قبل ۳۰ کښې زجر بانکار الرسالة وو دلته ابتداء کښې اثبات د رسالت کوي.

۱٤) ما قبل آیت ٤۳ کښې زجر بانکار التوحید وو دلته آیت ۱۸ کښې اثبات د توحید کوي په رد د الهؤ باطلؤ سره.

۱۵) ما قبل آیت ۲۱ کښې فائده ورکول د عمل د مؤمنانو خپل اولاد ته ذکر شو : ﴿اَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ﴾ دلته آیت ۳۹ کښې وائي چې عمل د کافر بل چاته فائده نه شي ورکولے : ﴿وَاَنْ لَّيْسَ لِلْاِنْسَانِ اِلَّا مَا سَعٰى﴾.

امتیازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په واقعي د معراج باندي په اعتبار د دویمي حصي د معراج چې هغه آسمان او سدرة المنتهیٰ ته تلل دي ، آیت ۱٤.

۲) په لیدلو د نبي ﷺ جبرائیل امین لره د سدرة المنتهیٰ څخه ، آیت ۱۳ ، ۱٤.

۳) په ذکر د نومونو د الهؤ د مشرکینو باندي ، آیت ۱۹ ، ۲۰.

٤) په رد د الهؤ ارضیؤ او سماویؤ باندي ۱۹ تا۲۸.

٥) په شاهد کرځولو د نجم باندي ، آیت ۱.

٦) په بیان د صحف سابقو باندي ، آیت ۳۸ وغیره .

۷) په ذکر د سدرة المنتهٰی باندي ، آیت ۱٤ .

۸) په اثبات د رسالت باندي په خصوصي الفاظو سره ، آیت ۱ تا ۸ .

۹) په قول د الله تعالٰی باندي : ﴿مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوٰى﴾ ، آیت ۲.

۱۰) په قول د الله تعالٰی باندي : ﴿وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى﴾ ، آیت ۳ .

۱۱) په ذکر د دوؤ صفتونو د جبرئیل امین باندي ، آیت ٥ ، ٦ .

{ ۱ }﴿شَدِيْدُ الْقُوٰى﴾ { ۲ }﴿ذُوْ مِرَّةٍ﴾

۱۲) په لیدلو د نبي ﷺ لویو معجزو لره آیت ۱۸ .

۱۳) په دوه ځله ذکر کولو د دي جملې باندي : ﴿اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ﴾ یو ځل آیت ۲۳ ، دویم ځل آیت ۲۸ کښې .

۱٤) په خصوصي زجر اعراض کوونکي د قرآن ته ، آیت ۳۳ تا ۳٦ .

۱٥) په ذکر د " شعرٰی " ستوري باندي ، آیت ٤۹ کښې .

دعوی:

نفي الشفاعة القهرية يعني د الله تعالٰی نه څوک په زوره خلاصول نشي کولے.

خلاصه:

دا سورت دوه حصي دے :

اوله حصه:

آیت ۱ نه تر ۲٥ پوري ، په دیکښې اول اثبات د رسالت او بیا رد په مشرکین بالعباد الصالحین یعني رد په اٰلهۀ ارضیو کوي .

دویمه حصه:

آیت ۲٦ نه تر آخره پوري ، په دیکښې نفي د شفاعت قهریه په عجز د ملائکو سره یعني رد د الهؤ سماویؤ کوي ، زجر منکرینو د مقاصد اربعؤ او معرضینو د قرآن ته ورکوي دارنګې تخویف دنیوي او اخروي ذکر کوي او اختتام د سورت په توحید باندي کوي .

سورة القمر مكية

نزولاً ۳۷ بعد الطلاق مصحفاً ۵۴ بعد النجم

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل کښې اقسام د مشرکینو ذکر شو دلته انجام د مشرکینو ذکر کوي
۲) ما قبل آیت ۵۳ کښې د پخوانو قومونو مختصر ذکر وو دلته ئې تشریح کوي .
۳) ما قبل ابتداء کښې اثبات د رسالت وو دلته وائي چا چې د پیغمبرانو د رسالت نه انکار کړے دے نو هغوی تباه شوي دي .
٤) ما قبل آیت ۵۷ کښې اثبات د قیامت اوشو : ﴿أَزِفَتِ الْأٰزِفَةُ﴾ دلته آیت ۱ کښې اثبات د قیامت کوي ﴿اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ﴾.
۵) ما قبل آیت ۱۹ کښې رد د شرک اعتقادي اوشو دلته آیت ٤۹ کښې رد د شرک فعلي کوي : ﴿اِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنٰهُ بِقَدَرٍ﴾ چي د الله نه بغیر بل څوک برکت نشي اچولے .
٦) ما قبل ابتداء کښې اثبات د رسالت وو دلته آیت ٦ کښې نبي عليه السلام ته تسلي ورکوي .

٧) ما قبل آیت ۲۳ او ۲۸ کښې ذکر شو : ﴿اِنۡ یَّتَّبِعُوۡنَ اِلَّا الظَّنَّ﴾ چې مشركان گمان پسې روان دي دلته آیت ۳ کښې وائي چې دوی خواهشاتو پسې روان دي : ﴿وَ اتَّبَعُوۡۤا اَهۡوَآءَهُمۡ﴾

٨) ما قبل کښې شبهات د مشرکينو او د هغوی اعراض ذکر شو دلته حالت د مشرکينو او نموني د عذاب ذکر کوي .

٩) ما قبل کښې نفي د شفاعت قهريه اوشوه د الٰهۇ ارضيۇ او سماويۇ نه، دلته آيت ٤٩ کښې د هغي علت ذکر کوي .

١٠ـ ما قبل ابتداء کښې بيان د معجزي د معراج وو۔دلته ابتداء کښې بيان د معجزي د انشقاق القمر ذکر کوي .

امتيازات:

١) دا سورت ممتاز دے په بيان د انشقاق القمر باندي ، آیت ١.

٢) په ذکر د آسانو لو د قرآن باندي څلور ځله : ﴿وَلَقَدۡ یَسَّرۡنَا الۡقُرۡاٰنَ لِلذِّکۡرِ﴾ ، آیت ١٧ ، ٢٢ ، ٣٢ ، ٤٠ کښې.

٣) په لفظ د : ﴿فَهَلۡ مِنۡ مُّدَّکِرٍ﴾ باندي شپږ ځله آيت ١٥، ١٧، ٢٢، ٣٢، ٤٠، ٥١ کښې.

٤) په دي قول د الله تعالى باندي : ﴿اِنَّا کُلَّ شَیۡءٍ خَلَقۡنٰهُ بِقَدَرٍ﴾ ، آيت ٤٩ .

٥) په دعا د نوح عليه السلام باندي په خصوصي الفاظو سره، آیت ١٠ .

٦) په تشبيه ورکولو د خلقو، ملخانو سره په وخت د راوتلو کښې د قبرونو نه : ﴿یَخۡرُجُوۡنَ مِنَ الۡاَجۡدَاثِ کَاَنَّهُمۡ جَرَادٌ مُّنۡتَشِرٌ﴾ ، آیت ٧ .

٧) کشتۍ د نوح عليه السلام ته په : ﴿ذَاتِ اَلۡوَاحٍ وَّ دُسُرٍ﴾ وئيلو باندي ، آیت ١٣.

٨) په اعتراض د ثموديانو په صالح عليه السلام باندي چې دا غټ دروغژن او شرارتي دے ، آیت ٢٥ .

۹) په قول د الله تعالیٰ باندي په باره د ثمودیانو کښې: ﴿فَنَادَوْا صَاحِبَهُمْ فَتَعَاطٰى فَعَقَرَ﴾، آيت ۲۹.

۱۰) په تشبيه ورکولو د ثمودیانو د وښو سوزولے شوؤ سره پس د هلاکت د دوی نه، آيت ۳۱.

۱۱) په قول د الله تعالیٰ باندي: ﴿وَالسَّاعَةُ اَدْهٰى وَاَمَرُّ﴾، آيت ٤٦.

۱۲) په قول د الله تعالیٰ باندي په باره د قيامت کښې: ﴿وَمَآ اَمْرُنَآ اِلَّا وَاحِدَةٌ كَلَمْحٍ بِالْبَصَرِ﴾، آيت ۵۰.

۱۳) په قول د الله تعالیٰ باندي: ﴿وَكُلُّ صَغِيْرٍ وَّكَبِيْرٍ مُّسْتَطَرٌ﴾، آيت ۵۳.

۱٤) په خصوصي بشارت باندي د پاره د متقيانو، آيت ٥٤، ٥٥.

۱۵) په بيان د هلاکت د امم سابقه مکذبؤ باندي.

دعوى:

نفي د شرکِ فعلي ماخذ آيت ٤٩ او سورت کښې تفصيل د سورت نجم کوي.

خلاصة:

سورت کښې اثبات د قيامت، ترغيب الى القرآن، پيغمبر ﷺ ته تسلي، تخويف دنيوي په هلاکت د امم خمسه باندي، آخر کښې بيا اثبات د قيامت ﴿وَمَآ اَمْرُنَآ اِلَّا وَاحِدَةٌ كَلَمْحٍ بِالْبَصَرِ﴾، او سورت په بشارت باندي ختموي.

سورة الرحمن مكية

نزولاً ۹۷ بعد الرعد مصحفاً ۵۵ بعد القمر

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل کښې عذاب د مجرمينو ذکر شو دلته انعام په مکرمينو ذکر کوي.

۲ـ ما قبل آيت ۱ کښې د الله د قدرت کرشمه ذکر شوه دلته نورمثالونه ذکر کوي.

۳) ما قبل آيت ٤۹ کښې ذکر شو: ﴿إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَٰهُ بِقَدَرٍ﴾ دلته د هغې وضاحت کوي.

٤) ما قبل آيت ٤۹ کښې اثبات د الوهيت د الله تعالیٰ اوشو دلته په هغې باندې دلائل عقليه ذکر کوي.

٥) ما قبل کښې تخويف دنيوي تفصيلي وو دلته تخويف اخروي تفصيلي دے.

٦) ما قبل آخري آيت ٥٤، ٥٥ کښې مختصر بشارت ذکر وو دلته آيت ٤٦ تا ۷۷ کښې تفصيلي بشارت دے.

۷) ما قبل آيت ٤۹ کښې ذکر شو: ﴿إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَٰهُ بِقَدَرٍ﴾ دلته آيت ۷۸ کښې پرې مسئله د توحيد تفريع کوي ﴿تَبَٰرَكَ ٱسْمُ رَبِّكَ ذِى ٱلْجَلَٰلِ وَٱلْإِكْرَامِ﴾ يعني دا سورت ثمره د ماسبق ده.

۸) ما قبل کښې ترغيب الى القرآن وو بيا بيا دلته هم عظمت د قرآن او ترغيب الى القرآن دے.

۹ـ د ما قبل اختتام بالبشارة وو د دي سورت اختتام هم بالبشارة دے.

۱۰) ما قبل آيت ٤۷، ٤۸ کښې تخويف اخروي اجمالی وو دلته آيت ٤۱ تا ٤٤ کښې تخويف اخروي تفصيلي دے.

۱۱) ما قبل آیت ۱ کښې انشقاق القمر ذکر شو دلته آیت ۳۷ کښې انشقاق القمر ذکر کوي په وخت د راتلو د قیامت کښې.

۱۲) مخکښې آیت ٤٤ کښې قول د کافرو ذکر شو: ﴿نَحْنُ جَمِيعٌ مُّنْتَصِرٌ﴾ دلته آیت ۳۵ کښې د هغې رد دے: ﴿فَلَا تَنْتَصِرٰنِ﴾.

امتیازات:

۱) دا سورت ممتازدے په بیان د انعامات دنیویه او اخرویه باندي.

۲) په ذکر د ﴿ فَبِأَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ﴾ مراراً

۳) په ذکر د دوه قسمه جنت سره د پاره دمقربینو او د پاره داصحٰب الیمین.

٤) په ترغیب الی القرآن باندي په خصوصي الفاظو باندي.

٥) په ذکر د کثرت لفظ د میزان باندي.

٦) په خصوصي ذکر د خلقت د اِنس وجَان باندي، آیت ۱٤، ۱۵.

۷) په ذکر د راوتلو دملغلرو باندي د دریابونو نه: ﴿يَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ وَ الْمَرْجَانُ﴾، آیت ۲۲.

۸) په تزهید منَ الدنیا خصوصي الفاظو سره: ﴿كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ﴾، آیت ۲٦.

۹) په تخویف اخروي باندي خصوصي الفاظو سره.

۱۰) په ذکر د څلور قسمه جنتونو باندي دوه آیت ٤٦ او دوه آیت ٦۲ کښې ذکر کوي.

۱۱) په خصوصي الفاظو د بشارت باندي آخري رکوع کښې ذکر کوي.

۱۲) په قول د الله تعالیٰ باندي. چې د توحید بدله جنت ده، آیت ٦۰.

۱۳) په ذکر د خیرات حسان باندي: ﴿فِيهِنَّ خَيْرٰتٌ حِسَانٌ﴾، آیت ۷۰.

۱٤) په خصوصي حالت د جنتیانو باندي: ﴿مُتَّكِـِٔينَ عَلٰى رَفْرَفٍ خُضْرٍ وَّ عَبْقَرِيٍّ حِسَانٍ﴾ ۷٦.

۱۵) په ذکر د،ذوالجلال والاکرام، باندي دوه ځله آیت ۲۷، ۷۸، کښې.

دعوی:

اَلْمُبَارِكُ فِيْ كُلِّ شَيْءٍ هُوَ اللّٰهُ ، آیت ۷۸.

خلاصه:

سورت کښې دري رکوع او دري مسئلې دي ؛ اوله رکوع کښې دلائل عقلیه په دي چې اَلْخَالِقُ لِكُلِّ شَيْءٍ هُوَ اللّٰهُ . دویمه رکوع کښې تخویف اخروي . دریمه رکوع کښې بشارت ذکر کوي .

سورة الواقعة مكية

نزولاً ۴۶ بعد سورة طٰه مصحفاً ۵۶ بعد سورة الرحمٰن

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل کښې تخویف او بشارت ذکر شو دلته تفصیل د تخویف او د بشارت او دي دوارو وخت ښائي آیت ۱. کښې چې دابه کله وي ﴿إِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ﴾.

۲) ما قبل کښې بشارت ذکر شو نو دا بشارت به د چا د پاره وي دلته آیت ۱۳، ۱٤ کښې هغه خلق ذکر کوي .

۳) ما قبل کښې عذابونه د جهنم ذکر شو دلته آیت ٤۵ تا ٤۸ کښې علتونه د عذاب د دوی ذکر کوي .

٤) ما قبل کښې مؤمنانو ته بشارت ذکر شو دلته آیت ۲٤ کښې د هغي علت ښائي : ﴿جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ﴾.

۵) ما قبل آیت ۵۸ کښې ئې تشبیه د حورو د یاقوت او مرجان سره ورکړې وه دلته آیت ۲۳ کښې تشبیه د ملغلرو صدف شؤو سره ورکوي .

٦) ما قبل کښې بشارت ذکر شو دلته آیت ۷٤ او ۹٦ کښې وائي : ﴿فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ﴾ يعني د توحید په منلو باندي دغه بشارت دے .

٧) ماقبل ابتداء کښې ترغیب الی القرآن وو دلته آیت ۷۷ تا ۸۰ کښې هم ترغیب الی القرآن دے .

٨) ماقبل ابتداء کښې ترغیب الی القرآن ذکر شو دلته آیت ۷۹ کښې ادب د قرآن ذکر کوي .

٩) ماقبل آیت ٤٤ کښې ذکر شو : ﴿يَطُوْفُوْنَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيْمٍ اٰنٍ﴾ دلته آیت ۹۳ کښې په هغي باندي زیادت دے : ﴿فَنُزُلٌ مِّنْ حَمِيْمٍ وَّتَصْلِيَةُ جَحِيْمٍ﴾ .

١٠) ما قبل آیت ٤٦ ، کښې بشارت ذکر شو : ﴿وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ﴾ دلته آیت ۸۹ کښې په هغي باندي زیادت اوترقي ده : ﴿فَرَوْحٌ وَّرَيْحَانٌ ۙ وَّجَنَّتُ نَعِيْمٍ﴾

١١) ما قبل آیت ٥٦ کښې ذکر شو : ﴿فِيْهِنَّ قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ اِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَآنٌّ﴾ ، دلته آیت ۳٤ تا ۳۷ کښې په هغي باندي زیادت او ترقي ده .

١٢) ما قبل کښې نفي د شرک فعلي اوشوه چې برکت صرف الله تعالی اچوي بل څوک برکت نه شي اچولے دلته آیت ۷٤ او ۹٦ کښې پري مسئله د توحید په عنوان د تسبیح سره تفریع کوي .

١٣) ما قبل کښې تخویف اخروي ذکر شو دا سورت تتمه او تفصیل د تخویف اخروي دے کوم چې مخکښې ذکر شو .

١٤) ما قبل کښې بشارت ذکر شو دلته تفصیل د بشارت دارنګي احوال اواقسام د متقیانوذکر کوي .

١٥) ما قبل کښې تخویف دنیوي وو نو سورت رحمٰن کښې تخویف اخروي ذکر شواوس دلته آیت ٤٦ کښې علت د عذاب ذکر کوي چې هغه شرک دے .

امتيازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په ذکر دنوم د قیامت چې " الْوَاقِعَةُ " دے ، آیت ۱.

۲) په بیان د ډیرو نعمتونو د جنت باندي .

۳) په شاهد کولو " مَوٰقِعِ النُّجُوْمِ "لره په عظمت د قرآن باندي ، آیت ۷۵.

٤) په ذکر داحوالو او اقسامو د متقیانو باندي ، آیت ۷.

٥) په ذکر د دوه قسمه خلقو باندي : ۱ / اَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ . ۲ / اَصْحٰبُ الْمَشْئَمَةِ، آیت ۸ ، ۹ .

٦) په ذکر د : ﴿وَالسّٰبِقُوْنَ السّٰبِقُوْنَ﴾ باندي ، آیت ۱۰ .

۷) په خصوصي بشارت باندي سابقینو ته ، آیت ۱۱ تا ۲٦ .

۸) په ذکر د : ﴿سُرُرٍ مَّوْضُوْنَةٍ﴾ باندي ، آیت ۱۵.

۹) په ذکر د : ﴿بِاَكْوَابٍ وَّاَبَارِيْقَ ۙ وَكَاْسٍ﴾ باندي یو آیت کښې ، آیت ۱۸ .

۱۰) په ذکر د : ﴿سَلٰمًا سَلٰمًا﴾ باندي ، آیت ۲٦ .

۱۱) په خصوصي بشارت باندي د پاره داصحاب الیمن آیت ۲۸ ، تا ۳۷ .

۱۲) په ذکر د اصحب الیمین باندي په یوآیت کښې دوه ځله آیت ۲۷ .

۱۳) په ذکر دبیرو بے ازغو باندي ، آیت ۲۸.

۱٤ـ په ذکر د : ﴿وَّطَلْحٍ مَّنْضُوْدٍ﴾ باندي ، آیت ۲۹.

۱۵) په ذکر د : ﴿وَّظِلٍّ مَّمْدُوْدٍ﴾ باندي ، آیت ۳۰ .

۱٦) په ذکر داوبو فواره وهونکو باندي ، آیت ۳۱.

۱۷) په فاکهة سره لفظ دکثیرة ذکر کولو باندي : ﴿وَّفَاكِهَةٍ كَثِيْرَةٍ﴾ ، آیت ۳۲.

۱۸) په صفت د میوؤ د جنت باندي چې نه به ختمیږي او نه به ترینه دوی منع کولے شي : ﴿لَّا مَقْطُوْعَةٍ وَّلَا مَمْنُوْعَةٍ﴾ ، آیت ۳۳ .

۱۹) په ذکر د : ﴿لَّا مَقْطُوْعَةٍ وَّلَا مَمْنُوْعَةٍ﴾ باندي ، آيت ۳٤.

۲۰- په ذکر د : ﴿عُرُبًا اَتْرَابًا﴾ باندي ، آيت ۳۷.

۲۱) په خصوصي تخويف باندي د پاره د اصحاب الشمال ، آيت ٤۱ تا ٤٤ .

۲۲) په ذکر د : ﴿الْحِنْثِ الْعَظِيْمِ﴾ باندي ، آيت ٤٦ .

۲۳) په ذکر د جرائمو داصحاب الشمال باندي ، آيت ٤٥ تا ٤۸ .

۲٤) په ذکر د : ﴿فَشٰرِبُوْنَ شُرْبَ الْهِيْمِ﴾ باندي ، آيت ٥٥ .

۲٥) په قول د الله تعالیٰ باندي : ﴿نَحْنُ خَلَقْنٰكُمْ فَلَوْلَا تُصَدِّقُوْنَ﴾ ، آيت ٥۷ .

۲٦) په خصوصي زجر باندي منکرينو د قيامت ته ، آيت ٥۸ ، ٥۹ .

۲۷) په قول د الله تعالیٰ باندي : ﴿اَفَرَءَيْتُمْ مَّا تَحْرُثُوْنَ﴾ ، آيت ٦۳.

۲۸) په قول د الله تعالیٰ باندي : ﴿اَفَرَءَيْتُمُ الْمَآءَ الَّذِيْ تَشْرَبُوْنَ﴾ ، آيت ٦۸.

۲۹) په قول د الله تعالیٰ باندي : ﴿اَفَرَءَيْتُمُ النَّارَ الَّتِيْ تُوْرُوْنَ﴾، آيت ۷۱.

۳۰- په ذکر د : ﴿فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ﴾ باندي دوه ځله آيت ۷٤ ، آيت ۹٦ کښې .

۳۱) په ذکر د : ﴿مِنَ الْمُزْنِ﴾ يعني سپينې وريځې باندي ، آيت ٦۹.

۳۲) په ذکر د فائدو د اُور باندي : ﴿نَحْنُ جَعَلْنٰهَا تَذْكِرَةً وَّ مَتَاعًا لِّلْمُقْوِيْنَ﴾ ، آيت ۷۳.

۳۳) په ذکر د : ﴿اِنَّهٗ لَقُرْاٰنٌ كَرِيْمٌ﴾ باندي ، آيت ۷۷.

۳٤) په ذکر دادب د قرآن باندي : ﴿لَّا يَمَسُّهٗٓ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ﴾، آيت ۷۹ .

۳٥) په رټلو د هغه د چا باندي چې د قرآن په زده کړه او ښودنه کښې سستي کوي ، آيت ۸۱ .

۳٦) په قول د الله تعالی باندي : ﴿وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْكُمْ وَلٰكِنْ لَّا تُبْصِرُوْنَ﴾ چې مونږ دي قریب الموت ته ستاسو نه نزدي یو ، آیت ۸۵ .

۳۷) په قول د الله تعالی باندي اصحاب الیمین ته : ﴿فَسَلٰمٌ لَّكَ مِنْ اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ﴾ ، آیت ۹۱ .

۳۸) په تخویف باندي مکذبینو او ضالینو ته ، آیت ۹۲ تا ۹٤.

۳۹) په قول د الله تعالی باندي : ﴿ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ حَقُّ الْيَقِيْنِ﴾، آیت ۹۵ .

٤۰) په ذکر د خیتي ډکولو د جهنمیانو د زقوم نه : ﴿فَمَالِئُوْنَ مِنْهَا الْبُطُوْنَ﴾، آیت ۵۳ .

دعوی:

اثبات التوحید تفریعًا علی ما سبق ماخذ آیت ۷٤ ، ۹٦ .

خلاصة:

سورت کښې څلور خبري ذکر کوي :

{۱} ـ اثبات د قیامت سره دعلاماتو د قیامت نه .

{۲} دوه قسمونه د خلقو : ۱) متقین . ۲) مجرمین . او د دواړو ډلو اوصاف ذکر کوي .

{۳}دلائل عقلیه .

{٤} دوه ځله دعوی د سورت ، آیت ۷٤ ، ۹٦.

د سورت اول او آخر دواړو کښې تخویف دے .

سورة الحديد مدنية

نزولاً ۹۴ بعد الزلزال مصحفاً ۵۷ بعد الوقعة

تنبيه: دے ځائې نه تر سورة التحريم پورې لسو سورتو نو کښې دوه مسئلې ذکر کړې:

۱۔ جهاد ۲) انفاق . پدې لسو سورتونو کښې پنځه مُصَدَّر دي په توحيد {سبح يسبح} باندې او پنځه پرې قياس کوې مطلب دا چې جهاد او انفاق د توحيد د پاره کوه .

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل ختم بالتسبيح وو دا سورت بالتسبيح شروع کوې .

۲) ما قبل آيت ۹۶ کښې مسئله د توحيد ذکر شوه دلته ترغيب الى القتال والانفاق اوزجر متکاسلينو د جهادته ورکوې .

۳) ما قبل کښې دا ذکر شو چې برکتونه الله رب العزت اچوې دلته ترغيب الى الانفاق ورکوې چې مال د الله په لاره کښې خرج کړئ الله به درله مالونو کښې برکت واچوې .

٤) ما قبل آيت ۹۶ کښې امر بالتسبيح وو : ﴿فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ﴾ دلته آيت ۱ کښې علت د تسبيح ذکر کوې .

۵) ما قبل کښې اوصاف د مؤمنانو ذکر شو دلته دوه نور صفتونه د مؤمنانو ذکر کړې :

(۱) جهاد .(۲) انفاق ، آيت ۱۰ کښې .

٦) ما قبل كښې بشارت ذکر شو مؤمنانو ته دلته آیت ۲۱ کښې مؤمنانو ته امر بالمسابقة دے په طرف د مغفرت او د جنت باندي يعني د مغفرت او د جنت اعمالوته د يو بل نه مخکښې شئ .

٧) ما قبل آيت ٤٥ کښې د مجرمينو حالت ذکر شو : ﴿إِنَّهُمْ كَانُوْا قَبْلَ ذٰلِكَ مُتْرَفِيْنَ﴾ چې دوی دنیاکښې مستي کوله دلته آیت ۲۰ کښې د دنيا سپکاوے ذکر کوي .

٨) د ما قبل اختتام وو په : ﴿فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ﴾ باندي د دي سورت اختتام دے په : ﴿وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ﴾ باندي .

٩) ما قبل کښې مؤمنانو ته بشارت ذکر شو دلته آیت ۱۲ کښې هم مؤمنانو ته په خصوصي الفاظو باندي بشارت ورکوي .

١٠) ما قبل کښې مشرکينو ته زواجر ذکر شو دلته آيت ۱۳، ۱٤، کښې د منافقينو حالت سره دزجر نه ذکر کوي .

١١) ما قبل آيت ٩٦ کښې د الله تعالى دوه نومونه ذکر شو : رب او عظيم دلته آيت ۱ تا ۳ کښې د الله رب العزت ګڼړ نومونه ذکر کوي .

١٢) ما قبل کښې د جنت نعمتونه ذکر شو دلته آیت ۲۱ کښې هغه خلق ښائي چې دا جنت ورله تيار شوے دے : ﴿أُعِدَّتْ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِه﴾.

امتيازات:

١) دا سورت ممتازد ے په ترغيب الى الانفاق بالوجوه الخمسة .

٢) په ذکر د ديوال باندي په مينځ د مؤمنانو او منافقانو کښې ، آیت ۱۳ .

٣) په وينا د منافقانو باندي مؤمنانو ته :﴿انْظُرُوْنَا نَقْتَبِسْ مِنْ نُّوْرِكُمْ﴾، آیت۱۳.

٤) په پنځو نومونو د الله تعالی باندي يو آيت کښې : ﴿هُوَ الْأَوَّلُ وَالْأٰخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ﴾ آيت ٣.

٥) په قول د الله تعالی باندي : ﴿لَا يَسْتَوِي مِنْكُمْ مَّنْ اَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ وَ قٰتَلَ﴾، آيت ١٠.

٦) په خصوصي بشارت باندي مؤمنانو ته ، آيت ١٢.

٧) په قول د مؤمنانو باندي منافقانو ته : ﴿وَلٰكِنَّكُمْ فَتَنْتُمْ اَنْفُسَكُمْ وَتَرَبَّصْتُمْ وَارْتَبْتُمْ وَغَرَّتْكُمُ الْاَمَانِيُّ﴾، آيت ١٤.

٨) په قول د الله تعالی باندي : ﴿ اَلَمْ يَاْنِ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللّٰهِ﴾، آيت ١٦ .

٩) ايمان والؤ ته صديقين او شهداء وئيلو باندي : ﴿وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖٓ اُولٰٓئِكَ هُمُ الصِّدِّيْقُوْنَ وَالشُّهَدَآءُ عِنْدَ رَبِّهِمْ﴾، آيت ١٩.

١٠) په خصوصي تزهيدمن الدنياباندي ، آيت ٢٠ .

١١) په ذکر د حکمت دارسال الرسل او انزال الکتب باندي : ﴿لِيَقُوْمَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ﴾، آيت ٢٥ .

١٢) په قول د الله تعالی باندي : ﴿وَاَنْزَلْنَا الْحَدِيْدَ﴾، آيت ٢٥ .

١٣) په ذکر د فائدو د اوسپني : ﴿فِيْهِ بَاْسٌ شَدِيْدٌ وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ﴾، آيت ٢٥ .

١٤) په جوړولو د نصارؤ رهبانيت لره د ځان نه : ﴿وَرَهْبَانِيَّةَ ِۨابْتَدَعُوْهَا مَا كَتَبْنٰهَا عَلَيْهِمْ﴾، آيت ٢٧ .

١٥) په قول د الله تعالی باندي چې دوی {نصاریٰ} درهبانيت لحاظ اونه کړو ﴿فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا﴾، آيت ٢٧ .

١٦) په ذکر د کفلين باندي : ﴿يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِنْ رَّحْمَتِهٖ﴾، آيت ٢٨ .

دعوى:

التر غيب الى الجهاد و الإنفاق

خلاصه:

سورت دوه حصي دے :

اوله حصه:

آيت ۱ نه تر ۲٤ پورې ، په ديکښې اول مسئله د توحيد بيا ترغيب الى الانفاق بالوجوه الخمسه ذکر کوي .

اوله وجه: ﴿وَأَنْفِقُوْا مِمَّا جَعَلَكُمْ مُّسْتَخْلَفِيْنَ فِيْهِ﴾ ، آيت ۷ دا مال ستا نه بلکه د الله دے ته ئې پرې يو څو ورځو له کينولے ئې نوخرچ ئې کړه .

دويمه وجه : ﴿وَمَا لَكُمْ اَلَّا تُنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلِلّٰهِ مِيْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾ ، آيت ۱۰ دا مال به هسې الله ته پاتې کيږي تاسو به ترينه ځئ نو خرچ ئې کړئ.

دريمه وجه : ﴿مَنْ ذَا الَّذِيْ يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا﴾ ، آيت ۱۱ دا مال الله له قرض ورکړئ الله رب العزت به ئې درله دوچند کړي .

څلورمه وجه : ﴿اِعْلَمُوْٓا اَنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَّ لَهْوٌ وَّ زِيْنَةٌ وَّ تَفَاخُرٌۢ بَيْنَكُمْ وَ تَكَاثُرٌ فِي الْاَمْوَالِ وَالْاَوْلَادِ﴾ ، آيت ۲۰ حقيقت د مال اوکوره لوبې او عبث دي .

پنځمه وجه: ﴿مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ﴾، آيت ۲۲ که مال تاسو دي له ساتلے وي چې مصيبت به درنه لرې کړي نو مصيبت درنه لرې کولے نه شي .

بيا آيت ۲٤ کښې بخلاؤ ته زجر او توبيخ ورکوي .

دويمه حصه:

آيت ۲۵ نه تر آخره پوري ، ديکښې ترغيب الى الجهاد او زجر قاعدينو د جهاد او اختيارؤنکو د رهبانيت ته ورکوي .

سورة المجادلة مدنية

نزولاً ۱۰۵ بعد المنافقون مصحفاً ۵۸ بعد الحديد

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل کښې ترغيب الى الانفاق ذکر شو دلته آيت ۱۲ کښې ځائي د انفاق ښائي .

۲) ما قبل کښې ئې احوال د منافقينو ذکر کړل دلته دوی له زواجر ورکوي.

۳) ما قبل کښې ترغيب الى الانفاق و الجهاد ذکر شو دلته زجر بخلاؤ او متکاسلينو د جهاد ته ورکوي .

٤) ما قبل آيت ۲۷ کښې رسم باطل د نصارؤ ذکر شو يعني اختيار الرهبانية چې هغوی رهبانيت اختيار کړے وو دلته آيت ۲ تا ٤ کښې رد د رسم جاهليت کوي .چې هغه د خپل ښځې نه ظهار کول او په ځان باندي هميشه د پاره حرام کرځول وو.

۵) ما قبل آيت ٤ کښې ذکر شو چې عالم الغيب يو الله رب العزت دے دلته آيت ۷ کښې په هغي باندي ترقي ده .

٦) ما قبل کښې ترغيب وو انفاق ته او د انفاق د پاره تنظيم ضروري وي نو دلته تنظيم ته ترغيب ورکوي .

۷) ما قبل آخري آيت کښې ذکر شو : ﴿وَاللّٰهُ ذُوالْفَضْلِ الْعَظِيْمِ﴾دلته آيت ۳ ، ٤ کښې د الله تعالى د فضل نمونه ذکر کوي چې هغه کفاره دظهار ده .

۸) ما قبل آيت ۲۸ کښې صرف يوخطاب وو مؤمنانو ته په لفظ د : ﴿يَاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوا﴾ سره دلته آيت ۹، ۱۱، ۱۲ کښې دري خطابات مؤمنانو ته ذکر کوي په لفظ د : ﴿يَاَيُّهَا الَّذِيۡنَ﴾ سره ترقي د ماسبق باندي .

۹) ما قبل آيت ۲۰ کښې تزهيدمن الدنيا يعني سپکاوے د دنيا ذکر شو دلته آيت ۱۷ کښې وائي چې مال د الله د عذاب نه مدافعت نه شي کولے .

۱۰) ما قبل آيت ۱۳ کښې ذکر شو چې د مؤمنانو او منافقانو مينځ کښې به ديوال اوهلے شي دلته آيت ۱۹ او ۲۲ کښې ئې وجه ذکر کوي چې دا يو ډله {منافقان} د شيطان ډله ده او دا بله ډله {مؤمنان} د الله تعالیٰ ډله ده .

۱۱) ما قبل آيت ۱۳ کښې بيان د دوؤ ډلو {مؤمنانو او منافقانو} اوشو دلته د دوارو ډلو حکم اخروي ذکر کوي ، د منافقانو حکم اخروي : ﴿اَلَاۤ اِنَّ حِزۡبَ الشَّيۡطٰنِ هُمُ الۡخٰسِرُوۡنَ﴾ د مؤمنانو حکم اخروي : ﴿اَلَاۤ اِنَّ حِزۡبَ اللّٰهِ هُمُ الۡمُفۡلِحُوۡنَ﴾ .

۱۲) ما قبل آيت ۱۲ کښې مؤمنانو ته بشارت ذکر شو دلته آيت ۲۲ کښې په هغې باندي ترقي ده : ﴿رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُوۡا عَنۡهُ﴾.

امتيازات:

۱) دا سورت ممتازدے په واقعي د خوله بنت حکيم رضي الله عنها باندي ،آيت۱.

۲) په " مُنۡكَر " او " زُوۡر " وئيلو باندي ظهارته : ﴿وَاِنَّهُمۡ لَيَقُوۡلُوۡنَ مُنۡكَرًا مِّنَ الۡقَوۡلِ وَزُوۡرًا﴾ ، آيت ۲.

۳) په کفاری د ظهار باندي ،آيت ۳ ، ٤ .

٤) په زواجر ورکولو باندي منافقينو ته په دري ځله لفظ د الم ،آيت ۷ ، ۸ ، ۱٤.

٥) په منع کولو باندي مؤمنانو لره د غلطو جرګو نه : ﴿يَاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اِذَا تَنَاجَيۡتُمۡ فَلَا تَتَنَاجَوۡا بِالۡاِثۡمِ وَالۡعُدۡوَانِ﴾ ، آيت ۹.

٦) په حکم کولو مؤمنانو ته په صحيح جرګو باندي : ﴿وَ تَنَاجَوْا بِالْبِرِّ وَ التَّقْوٰى﴾، آيت ۹ چې د اشاعت د توحيد او سنت د پاره جرګي کوئ.

٧) په قول د الله تعالیٰ باندي چې غلطي جرګي د شيطان کار دے : ﴿اِنَّمَا النَّجْوٰى مِنَ الشَّيْطٰنِ﴾، آيت ۱۰.

٨) په آدابو د مجلس باندي، آيت ۱۱.

٩) په فضيلت د اهل علمو باندي : ﴿وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ﴾، آيت ۱۱.

١٠) په حکم د الله تعالیٰ مؤمنانو ته : ﴿يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نَاجَيْتُمُ الرَّسُوْلَ فَقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوٰىكُمْ صَدَقَةً﴾، آيت ۱۲.

١١) په ذکر د حانت د منافقانو باندي:﴿فَيَحْلِفُوْنَ لَهٗ كَمَا يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ﴾،آيت۱۸.

١٢) په ذکر کولو د دوؤ ډلو باندي : (۱) حزب الشيطان، آيت ۱۹. (۲) حزب الله، آيت ۲۲.

١٣) په بيان د حکم د حزب الشيطان او حزب الله باندي.

حکم د حزب الشيطان : ﴿اَلَآ اِنَّ حِزْبَ الشَّيْطٰنِ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ﴾، آيت ۱۹.

اوحکم د حزب الله : ﴿اَلَآ اِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ﴾، آيت ۲۲.

١٤) په قول د الله تعالیٰ باندي : ﴿كَتَبَ اللّٰهُ لَاَغْلِبَنَّ اَنَا وَرُسُلِيْ﴾، آيت ۲۱.

١٥) په توصيف د صحابه کرامو باندي، آيت ۲۲.

دعوى:

زجرمنافقينو ته اورد درسم باطل.

خلاصه:

دي سورت کښې رد د رسم باطل کوي ځکه رسم باطل سره په جماعت کښې افتراق راځي په عربو کښې دا رسم وو چې ښځې ته به ئې : 'انت عليّ

کظهر امیّ ' اوئیل نو هغه به ئې همیشه په ځان حرامه ګڼړله او دري ځله
لفظ د الم سره آیت ۷ ، ۸ ، ۱٤ کښې منافقانو ته زجر ورکوي او دري قاعدي د
پاره د جماعت ذکر کوي په لفظ د : ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوْٓ﴾ سره :
اوله قاعده آیت ۹ . دویمه قاعده آیت ۱۱ . دریمه قاعده آیت ۱۲ کښې .
تفصیل د دري واړو قواعدو :
اوله قاعده :آیت ۹ کښې ذکر کوي ، چې غلطي جرګي مه کوئ : ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا تَنَاجَيْتُمْ فَلَا تَتَنَاجَوْا بِالْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ﴾
دویمه قاعده : آیت ۱۱ کښې ،چې مجلس کښې ملګرې ته ځائي پریږدئ :
﴿يَاأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قِيْلَ لَكُمْ تَفَسَّحُوْا فِي الْمَجٰلِسِ فَافْسَحُوْا﴾
دریمه قاعده آیت ۱۲ کښې چې امیر جماعت ته مخکښې دجرګې نه
صدقه{تحفه} پیش کړئ : ﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نَاجَيْتُمُ الرَّسُوْلَ فَقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوٰىكُمْ صَدَقَةً﴾ .
چونکه منافقین د مؤمنانو مینځ کښې فساد او روانے کوي دي وجې نه دري
قاعدي ذکر کوي د پاره د ویستلو د منافقینو د جماعت د مؤمنانو نه .

سورة الحشر مدنية

نزولاً ۱۰۱ بعد البينة مصحفاً ۵۹ بعد المجادلة

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل کښې منافقانو ته زواجر ذکر شو دلته حال د منافقانو ذکر کوي.
۲) ما قبل آیت ۲۰ کښې ذکر شو چې څوک د الله تعالیٰ اودپیغمبر عليه السلام خلاف
کوي نوهغوی به ذلیلو خلقو کښې وي نو دلته واقعه د بنو نظیر بطور مثال ذکر
کوي چې اوګوره هغوی خلاف اوکړو نو الله تعالیٰ ذلیله کړل .

۲) ما قبل آیت ۲۱ کښې ذکر شو : ﴿ لَاَغْلِبَنَّ اَنَا وَرُسُلِیْ ﴾ دلته نمونه د غلبې ذکر کوي په واقعې د بنو نظیر سره .

٤) ما قبل آیت ۱۹ کښې ذکر شو چې منافقانو باندې شیطان مسلط شوے دے دلته آیت ۱٦ کښې د شیطان د ملکرتیا مثال ذکر کوي .

۵) ما قبل آیت ۲۲ کښې ذکر شو چې د الله تعالیٰ ډله کامیابه ده دلته د هغې مثال ذکر کوي ، چې الله تعالیٰ مؤمنانو لره د بنو نظیر مقابله کښې کامیابی ورکړه .

٦) ما قبل کښې منافقانو ته زواجر ذکر شو دلته دوی له تخویف دنیوي ورکوي.

۷) ما قبل آیت ۲۰ کښې سزا د خلاف کونکو د الله او پیغمبر ﷺ ذکر شوه ، دلته آیت ٤ کښې هم د داسې خلقو سزا ذکر کوي .

۸) ما قبل کښې قواعد د تنظیم ذکر شو دلته آیت ۸ تا ۱۰ صفات د ارکانو د تنظیم ذکر کوي .

۹) ما قبل کښې منافقینو ته زواجر وو دلته آیت ۱۱ کښې هم منافقینو ته زجر ورکوي .

۱۰) ما قبل آیت ۱٦ وغیره کښې د منافقینو صفات ذکر شو دلته آیت ۱۱ تا ۱٤ کښې د دوی نور صفات ذکر کوي .

۱۱) ما قبل آیت ۵ کښې صداقت د قرآن ذکر شو دلته آیت ۲۱ کښې عظمت د قرآن ذکر کوي.

۱۲) ما قبل آیت ۲۱ کښې د الله رب العزت دري نومونه ذکر شو {۱} الله {۲} قوي{۳} عزیز ، دلته آیت ۲۳ کښې وائ چه صرف دغه نه ډیر نومونه د الله رب العزت ذکر کوي .

۱۳) ما قبل آخري آیت کښې ذکر شو : ﴿اَلَاۤ اِنَّ حِزْبَ اللهِ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ﴾ دلته آیت ۹ کښې هم د صحابه کرامو باره کښې وائي : ﴿فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ﴾

امتیازات:

۱) دا سورت ممتازد ے په واقعي د بنو نظير باندي ، آيت ۲ .

۲) په ذکر دجلا وطنی دیهودو سره ، آیت ۳ .

۳) په ذکر د " لينة " کهجوري باندي ، آيت ٥ .

٤) په ذکر د مال فیٔ باندي ، آیت ٦.

٥) په مصارفو د مال فیٔ باندي ، آیت ۷ .

٦) په قول د الله تعالی باندي : ﴿وَمَآ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ ۚ وَمَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا﴾ ، آيت ۷ .

۷) په توصيف د مهاجرينو صحابؤ باندي : ﴿ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا وَّيَنْصُرُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ﴾ ، آیت ۸ .

۸) په خصوصي صفت د صحابه کرامو باندي : ﴿ وَيُؤْثِرُوْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ﴾ ، آیت ۹ .

۹) په دعا د صحابه کرامو باندي آيت ۱۰ .

۱۰) په بعض اقوالود منافقينو باندي ، آيت ۱۱ ، ۱۲ .

۱۱) په ذکر د حالت د منافقینو : ﴿تَحْسَبُهُمْ جَمِيْعًا وَّقُلُوْبُهُمْ شَتّٰى﴾ ، آيت ١٤ .

۱۲ـ په مثال د ملکرتیا د شیطان باندي ، آيت ١٦.

۱۳ـ په قول د الله تعالی باندي : ﴿وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ﴾ ، آیت ۱۸.

١٤) په ذکر د عدم تسويه د جنتيانو او جهنميانو باندي ، آيت ۲۰ .

١٥) په عظمت د قرآن باندي خصوصي الفاظو سره ، آيت ۲۱ .

١٦) په کثرت اسماء د باری تعالی باندي ، آيت ۲۲ تا ٢٤ .

دعوی:

الزجر والتخويف و حال المنافقين

خلاصه:

په سورت کښې پنځه خبري ذکر کوي {۱} دعوٰی د توحید ، آیت ۱ .
{۲}تخویف دنیوي او د هغي مثال سره د وجي د جلاوطني نه آیت ۲ تا ٤ بیا
مصارف د مال فئ بنایئ او ترغیب الى الانفاق ورکوي ، آیت ٦ تا ۱۰ . {۳} زجر
منافقانو ته او د هغوي اوصاف قبیحه {یعني بغض کول د یو بل سره ، خپل
مینځ کښې افتراق ، یو بل سره دهوکه کول اوبزدلي کول } ذکر کوي آیت ۱۱ تا
۱۷. {٤} تزهیدمن الدنیا او ترغیب الى الآخرة ، آیت ۱۸ ، ۲۰ . {٥} عظمت د قرآن
دپاره د ترغیب الى القرآن او توحید سره د دلائلو نه ذکر کوي .
ځنګه چي سورت په توحید او دلائلو شروع وو نو دارنګه په توحید او دلائلو
باندي ئي ختموي .

سورة الممتحنة مدنية

نزولاً ۹۱ بعد الاحزاب مصحفاً ٦۰ بعد الحشر

«ربط د ما سبق سره»

۱- ما قبل کښې حالت د هغه قوم ذکر شو چي د کافرانو سره ئي معاونت کړے
وو دلته تهدید ورکوي مؤمنانو ته چي تاسو هم هغه کار مه کوئ چي د هغي نه
د کافرو سره دوستی معلومیږي .
۲) ما قبل کښې توحید او په هغي باندي دلائل ذکر شو دلته الله تعالٰی خپلو
بندګانوته حکم کوي چي د مشرکانو نه بیرته شئ ځکه چي دوی د الله تعالٰی
دشمنان دي .
۳) ما قبل کښې بیان د معاهدینو د اهل کتابو وو دلته بیان د معاهدینو د
مشرکینو کوي .

٤) ما قبل کښې زجر وو منافقينو ته دلته مؤمنانو ته زجر ورکوي.
٥) د ما قبل آيت ٧ کښې ترغيب الى اتباع الرسول وو دلته آيت ٤ کښې هم اتباع د پيغمبرته ترغيب ورکوي .
٦) ما قبل آيت ١٨ کښې مؤمنانو ته يو خطاب وو دلته مؤمنانو ته دري خطابات ذکر کوي په ترقۍ سره د ماسبق نه آيت ١ ، ١٠ ، ١٣ ، کښې.
٧) ما قبل کښې حالت د هغه چا ذکر شو چې کافرو سره ئې دوستي کړي وه، دلته آيت ١٣ کښې مؤمنان د موالات د کافرانو نه منع کوي .
٨) ما قبل کښې نمونه د عذاب ذکر شوه دلته په افعال قبيحه باندي زجر اورټنه ورکوي .
٩) ما قبل آيت ١٠ کښې دعا د مؤمنانو ذکر شوه دلته آيت ٥ کښې مؤمنانو ته د بلي دعا تعليم ورکوي .
١٠) ما قبل آخري آيت کښې ذکر شو : ﴿وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ﴾ دلته آيت ٥ کښې په هغې باندي زيادت او ترقي ده : ﴿ إِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴾ .
١١) ما قبل آيت ١٨ کښې ذکر شو : ﴿ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ﴾ دلته آيت ١١ کښې په هغې باندي زيادت او ترقي ده : ﴿وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ اَنْتُمْ بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ﴾ .
١٢) ما قبل کښې د هغه کافرو ذکر اوشو چې د مؤمنانو سره ئې جنګ کولو دلته آيت ٨ ، ٩ ، کښې دوه قسمه کافران ذکر کوي : {١} جنګ کونکي مؤمنانو سره. {٢} جنګ نه کونکي د مؤمنانوسره ، يعني سورت کښې ترقي ده په ماسبق باندي .

امتيازات:

١ـ دا سورت ممتاز دے په قول د الله تعالٰى باندي : ﴿قَدْ كَانَتْ لَكُمْ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِيْٓ اِبْرٰهِيْمَ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ﴾ ، آيت٤.

٣) په خصوصي تسلي باندي مؤمنانو ته آيت ٧.

٤) په ذکر د دوه قسمه کافرانو باندي ، آيت ٨ ، ٩ .

٤) په حکم د امتحان کولو په مهاجراتو مؤمناتو باندي ، آيت ١٠ .

٥) په نه واپس کولو د مؤمنانو زنانؤ کافرانو ته ، آيت ١٠.

٦) په قول د الله تعالی باندي : ﴿ وَاتَّقُوا اللهَ الَّذِيٓ اَنْتُمْ بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ﴾ ، آيت ١١.

٧) په حکم د بيعت کولو نبي عليه السلام ته د مؤمنانو زنانؤ سره ، آيت ١٢ .

٨) په منع کولو مؤمنانو لره د دوستی د کافرانو نه : ﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّيْ وَعَدُوَّكُمْ اَوْلِيَآءَ ﴾ ، آيت ١ .

٩) په قول دابراهيم عليه السلام او د هغه د ملګرو باندي: ﴿اِنَّا بُرَءٰٓؤُا مِنْكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللهِ ﴾، آيت ٤.

١٠) په شپږو خبرو د مابه البيعة باندي ، آيت ١٢ .

دعوی:

التباعد من الکافرين والزجر لمن تولهم .

خلاصه:

دا سورت دوه حصي دے :

اوله حصه:

آيت ١ نه تر ٦ پوري په ديکښې هغه چا ته زجر ورکوي چې د کافرانو سره دوستي کوي ، او دوی نه د بائيکاټ کولو علتونه ذکر کوي او واقعه د ابراهيم عليه السلام او د هغه دملګرو بطور تمثيل او تنوير ذکر کوي چې اوګوره هغوی د کافرانو نه بائيکاټ کړے وو نو تاسو هم د هغوی اقتداء اوکړئ او د کافرانو نه بائيکاټ اوکړئ ، او که دينه يريګئ چې دوی به راته تکليف اورسوي نو په الله باندي ځان اوسپارئ او د الله تعالی نه دعاګاني غواړئ .

دويمه حصه:

آيت ۷ نه ترآخره پوري، په ديکښې د مؤمنانو د پاره ضروري امور ذکر کوي اول کښې تسلي بيا د کافرانو {مشرکانو} دوه قسمونه ذکر کوي :

{۱} هغه کافران چې هغوی سره د مؤمنانو لين دين روا دے چې هغه معاهدين دي، آيت ۸.

{۲} هغه کافران چې هغوی سره لين دين جائز نه دے چې هغه محاربين دي، آيت ۹.

بيا دوه قاعدي ذکر کوي :

اوله قاعده : د پاره د مؤمنانو په باره د معاشرت مع الکفار او په باره د مهاجرو زنانو کښې ده، آيت ۱۰.

دويمه قاعده : د پاره د نبي عليه السلام او د امير جماعت په باره د کيفيت او شرائطو د بيعت کښې.

او آخر د سورت اول د سورت سره مرتبط دے اول کښې هم براءت عن الکفار وو سره د بيان د عللو نه او آخر کښې هم براءت عن الکفار دے سره د بيان د عللو نه.

سورة الصف مدنية

نزولاً ١٠٩ بعد التغابن مصحفاً ٦١ بعد الممتحنة

«ربط د ما سبق سره»

١) ما قبل آيت ٤ كښې د ابراهيم عليه السلام او د هغه د ملګرو قول ذکر شو دلته آيت ٤ کښې وائي چې څوک د الله دشمنانو سره جنګ کوي نوهغوی د الله محبوب دي

٢) ما قبل آيت ١ کښې ذکر شو په افعال غير مرضيه باندي دلته آيت ٢، ٣ کښې زجر ورکوي په اقوال غير مرضيه باندي .

٣) ما قبل آيت ١ کښې ئې هغه چا ته زجر ورکړو چې کافرو سره ئې تعلق ساتلو دلته آيت ٢ کښې متکاسلينو د جهاد ته زجر ورکوي .

٤) ما قبل کښې بيان د هغه کافرو ذکر اوشو چې هغوی محاربين وو دلته آيت ٤ کښې جهاد ته ترغيب ورکوي .

٥) ما قبل کښې مؤمنانو ته په لفظ د : ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا﴾ سره دري خطابات اوشو آيت ١، ١٠، ١٣ کښې، دلته آيت ٢، ١٠، ١٤ کښې هم مؤمنانو ته دري خطابات ذکر کوي او مؤمنانو ته پکښې د جهاد ترغيب ورکوي .

٦) ما قبل کښې ذکر د بيعت او د شرائطو د بيعت اوشو دلته آيت ١ کښې هغه مسئله د توحيد ذکر کوي : ﴿سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ﴾ چې د هغي دپاره بيعت کيږي .

٧) ما قبل آيت ٧ کښې اوئيل : ﴿وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾ دلته آيت ١٠ کښې هغه اعمال ښائي چې په هغي باندي الله تعالى دګناهونو ښښنه کوي .

۸) ما قبل کښې براءت عن الکفار ذکر شو چې د هغوی سره تعلقات مه ساتئ دلته آیت ۱۴ کښې وائي : ﴿فَاَيَّدْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا عَلٰى عَدُوِّهِمْ فَاَصْبَحُوْا ظٰهِرِيْنَ﴾ د ښځوانو مؤمنانو امداد م کړي وو د هغوی د دشمنانو خلاف نو ستاسو امداد به هم اوکړم .

۹) ما قبل آیت ۱۳ کښې د موالات {دوستی} د کافرانو نه منع اوشوه : ﴿ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ﴾ دلته آیت ۸ کښې د هغي وجه ذکر کوي دا څکه چې: ﴿يُرِيْدُوْنَ لِيُطْفِـُٔوْا نُوْرَ اللّٰهِ بِاَفْوَاهِهِمْ﴾.

۱۰) ما قبل آیت ۱۲ کښې ذکر شو : ﴿اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ﴾ دلته آیت ۱۰ ، ۱۱ کښې وائي چې ایمان په الله او پیغمبر ﷺ باندي راوړئ او جهاد اوکړئ دلته " يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ " نمونه د " غَفُوْرٌ " او " وَيُدْخِلْكُمْ " نمونه د "رَحِيْمٌ " ذکر کوي .

امتیازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په اسم گرامي د نبي ﷺ باندي چې احمد دے، آیت ٦.

۲) په خصوصي خطاب باندي مؤمنانو ته : ﴿ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَا لَا تَفْعَلُوْنَ﴾.

۳) په توصیف د مجاهدینو باندي ، آیت ٤ .

٤) په ذکر د بنیان مرصوص باندي ، آیت ٤ .

٥) په قول د موسٰی علیه السلام باندي خپل قوم ته : ﴿ يٰقَوْمِ لِمَ تُؤْذُوْنَنِيْ وَقَدْ تَّعْلَمُوْنَ اَنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ﴾ ، آیت ٥ .

٦) په زیري ورکولو د عیسٰی علیه السلام په راتلو د نبي آخرالزمان باندي ، آیت ٦.

۷) په ترغیب الی الجهاد باندي په خصوصي انداز سره چې پکښې تجارت ، ما به التجارة ، او ثمره د تجارت ذکر ده .

٨) په خصوصي تسلی ورکولو باندي مؤمنانو ته : ﴿ نَصْرٌ مِّنَ اللهِ وَ فَتْحٌ قَرِيبٌ ۚ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ﴾ ، آیت ۱۳ .

۹) په ذکر د دوؤ ډلو د بني اسرائیلو باندي : ﴿ فَاٰمَنَتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْۢ بَنِيٓ اِسْرَآءِيْلَ وَكَفَرَتْ طَّآئِفَةٌ﴾ ، آیت ١٤ .

۱۰ـ په خصوصي خطاب باندي مؤمنانو ته : ﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُوْنُوْٓا اَنْصَارَ اللهِ﴾ ، آیت ١٤ .

دعوی:

الزجر للمؤمنین الذین یقولون مالا یفعلون والترغیب الی الجهاد

خلاصه:

سورت کښې دري خطابات مؤمنانو ته ذکر کوي د پاره دترغیب الی الجهاد او د پاره دزجر ورکولو متکاسلینو د جهاد ته ،

اول خطاب :آیت ۲ کښې په دیکښې زجرمتکاسلینو د جهاد ته ورکوي او واقعه دبنی اسرائیلو پري بطور تنویر ذکر کوي ، چې بني اسرائیلو بزدلی اوسستی کړي وه د الله او د پیغمبر‌علیه السلام په حکم کښې نو تاسو هغه شان مه کیږئ .

دویم خطاب آیت ۱۰ ، او دریم خطاب آیت ١٤ کښې په دي دوارو خطابونو کښې ترغیب الی الجهاد دے .

دویم خطاب :کښې وائي چې اے مؤمنانو د عذاب نه دخلاصون اعلیٰ سبب پس د ایمان نه جهاد دے او د دینه مخکښې قول د عیسیٰ علیه السلام ذکر کوي چې هغه ددي پیغمبر علیه السلام زیرے ورکړے وو او دا پیغمبرعلیه السلام د الله تعالیٰ په لاره کښې جهاد کوي نو تاسو هم دده ملګرتیا کښې جهاد اوکړئ اوسستی مه کوئ نو الله به درله فتح درکړي .

دريم خطاب : کښې هم ترغيب الى الجهاد دے او ذکر د حوارييـنو بطور تنوير کوي چې اوګوره حوارييـنو په لاره د الله تعالیٰ کښې جهاد اوکړو نو الله تعالیٰ ئې مدد اوکړو او په دشمنانو باندې غالب شو تاسو هم جهاد اوکړئ الله رب العزت به ستاسو هم مدد اوکړي او په دشمنانو باندې به مو غالب کړي .

سورة الجمعة مدنية

نزولاً ١١٠ بعد الصف مصحفاً ٦٢ بعد الصف

«ربط د ما سبق سره»

١) ما قبل په صيغې د ماضي " سبّح " باندې شروع وو دا سورت په صيغې د مضارع " يسبّح " باندې شروع کوي او ماضي مقدم وي په مضارع باندې .

٢) ما قبل آيت ٦ کښې ذکر شو چې عيسىٰ ؑ د نبي ﷺ د راتللو زيرے ورکړے وو دلته آيت ٢ کښې د هغه د بشارت رښتيا کيدل ذکر کوي .

٣) ما قبل په آيت ٢ کښې زجر ذکر شو هغه چاته چې خبره کوي اوعمل پرې نه کوي : ﴿ لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَالَا تَفْعَلُوْنَ﴾ دلته آيت ٥ کښې دداسې خلقو مثال ذکر کوي : ﴿ كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ اَسْفَارًا﴾ .

٤) ما قبل کښې ترغيب الى الجهاد ذکر شو چونکه جهاد کښې مال هم لګي نو دلته ترغيب الى الانفاق ورکوي په اول د سورت کښې مسئله د توحيد د پاره د شروع د بل بنيادي څيز " انفاق" کښې ذکر کوي .

٥) ما قبل آيت ٦ کښې بشارت د عيسىٰ ؑ په راتللو د نبي آخر الزمان ذکر شو دلته آيت ٢ کښې د نبي آخرالزمان ډيوټي او ذمه داري ذکر کوي .

٦) ما قبل کښې ترغیب الی الجهاد وو دلته آیت ۱۱ کښې تزهید من الدنیا یعني د دنیا نه بے رغبتي ذکر کوي ځکه د دنیا محبت سړے د جهاد نه پاتي کوي .

۷) ما قبل آیت ٤ کښې د صفونو د جهاد ذکر وو دلته آیت ۱۰ کښې د صفونو د صلوٰة اشارةً ذکر دے ځکه چې دلته ذکر د مونځ د جمعې دے او جمعه بغیر د صف نه جائز نه ده ؛ حاصل دا دے : چې د صف جوړولو ځائي څنګه چې جهاد دے نو دارنګې مونځ د جمعې هم دے .

۸) ما قبل په توحید " سبح " باندې شروع وو او دا سورت هم په توحید " یسبح " باندې شروع کوي .

۹) ما قبل کښې ترغیب الی الجهاد وو دلته آیت ۹ کښې ترغیب الٰی صلوٰة الجمعة دے .

۱۰) ما قبل آیت ٥ کښې حال د موسٰی علیه السلام او د هغه د قوم ذکر شو دلته آیت ۲ کښې حال د نبي علیه السلام او د هغه دامت ذکر کوي .

۱۱) ما قبل آیت ۱ کښې د الله تعالٰی دوه نومونه ذکر شو : {۱} العزیز ، {۲} الحکیم ، دلته آیت ۱ کښې په هغې باندې ترقي ده څلور نومونه د الله رب العزت ذکر کوي : {۱} الملك . {۲} القدّوس . {۳} العزیز . {٤} الحکیم .

۱۲) ما قبل آیت ۱۰ کښې اخروي تجارت ذکر شو دلته آیت ۱۱ کښې دنیوي تجارت ذکر کوي .

۱۳) ما قبل آیت ۱۲ کښې ذکر شو : ﴿ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ﴾ جنت ته تلل لویه کامیابۍ ده دلته آیت ۱۰ کښې د کامیابی د پاره اصول ذکر کوي : {۱} د مونځ نه پس خوریدل په زمکه کښې . {۲} حلال رزق طلب کول . {۳}الله تعالٰی ډیر ډیر یادول .

۱٤) ما قبل آيت ۲ کښې زجر وو په اقوال غير مرضيه باندي دلته آيت ۱۱ کښې زجر په افعال غير مرضيه باندي ورکوي .

۱٥) ما قبل آيت ۱٤ کښې مؤمنانو ته خطاب وو او په هغي کښې يو امر : ﴿كُوْنُوْٓا اَنْصَارَ اللّٰهِ﴾ ذکر شو دلته آيت ۹ کښې هم مؤمنانو ته خطاب کوي او دوه حکمونه : ۱ / فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ . ۲ / ﴿وَ ذَرُوا الْبَيْعَ﴾ذکر کوي ترقي ده ماسبق باندي .

امتيازات:

۱ـ دا سورت ممتاز دے په ذکر د بعثت د نبي ﷺ في الامّيين او په خصوصي فرائضو د هغه باندي ، آيت ۲ .

۲) په مثال د هغه چا باندي چې علم باندي عمل نه کوي : ﴿ كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ اَسْفَارًا ﴾ ، آيت ٥ .

۳) په مباهلې باندي دعلماء سوء سره ، آيت ٦.

٤) په ترغيب ورکولو باندي مونځ دجمعي ته ، آيت ۹ .

٥) په ذکر کولو د لفظ د " الجمعة " باندي ، آيت ۹ .

٦) په ادب ورکولو باندي صحابه کرامو ته ، آيت ۱۱.

۷) په بيان دطلب دررزق حلال باندي پس د مونځ د جمعي نه ، آيت ۱۰ .

۸) په پريخودلو د بيع باندې پس د اذان د جمعي نه ، آيت ۹ .

۹) په قول د الله تعالى باندي : ﴿ مَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ مِّنَ اللَّهْوِ وَ مِنَ التِّجَارَةِ ؕ وَ اللّٰهُ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴾، آيت ۱۱.

۱۰) په خصوصي تخويف ورکولو باندي يهودو ته : ﴿اِنَّ الْمَوْتَ الَّذِىْ تَفِرُّوْنَ مِنْهُ فَاِنَّهٗ مُلٰقِيْكُمْ ثُمَّ تُرَدُّوْنَ اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ وَ الشَّهَادَةِ.﴾ ، آيت ۸ .

دعوى:

الترغيب الى الانفاق و اتباع الرسول .

خلاصة:

اول د سورت کښې اثبات د توحید ، اثبات د رسالت ، زجر منکرینو د رسالت اومعرضینو د دین ته ، ورکوي ،بیا ترغیب جهاد انفاق او قرآن ته ورکوي اوآخر د سورت کښې هغه چا ته زجر ورکوي چې دین پریږدي او دنیا اخلي.

سورة المنافقون مدنية

نزولاً ۱۰۴ بعد الحج مصحفاً ٦٣ بعد الجمعة

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل په توحید باندي شروع وو د دي سورت ابتداء کښې هغه خلق ښائي چې دغه مسئله دزړه نه نه مني یعني منافقان .

۲) ما قبل کښې ترغیب الی الانفاق وو دلته آیت ۷ کښې منکرینو د انفاق ته زجر ورکوي .

۳) ما قبل آیت ۲ کښې اثبات د رسالت اوشو دلته آیت ٤ کښې منکرینو د رسالت ته زجر ورکوي .

٤) ما قبل آخر کښې ترغیب الی الانفاق وو دلته هم آیت ۱۰ کښې ترغیب الی الانفاق ذکر کوي .

٥) ما قبل کښې احوال د مؤمنانو ذکر شو دلته احوال د منافقانو ذکر کوي " لانّ الاشياء تعرف باضدادها " .

٦) ما قبل آیت ٥ کښې مثال د علماء سوء ذکر شو دلته آیت ٤ کښې مثال د منافقانو ذکر کوي .

۷) ما قبل آيت ۱۰ کښې ذکر شو : ﴿وَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا﴾ دلته آيت ۹ کښې په هغې باندې ترقي ده : ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُلْهِكُمْ اَمْوَالُكُمْ وَلَآ اَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ﴾

۸) ما قبل کښې ترغیب الی الانفاق وو دلته آيت ۷ کښې د هغه چابیان کوي چې د انفاق په لار کښې رکاوټ جوړيږي چې هغه منافقين دي ، نو د دوی به نه مني .

۹) ما قبل آيت ۲ کښې بيان د هغه چا اوشو چې نبي ﷺ ئې د زړه نه پیغمبر منلو دلته آيت ۱ کښې بيان د هغه چاکوي چې صرف په خلې ئې نبي ﷺ پیغمبر منلو .

۱۰) ما قبل آيت ٥ کښې علماء سوء ته زجر وو دلته آيت ٤ کښې منافقانوته زجر او رټنه ورکوي .

امتیازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په اوصاف قبیحه د منافقانو باندې .

۲) په مثال د منافقینو باندې : ﴿كَاَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ﴾ ، آيت ٤.

۳) په ذکر د غټو جسمونو اوچالاکی د منافقینو:﴿ تُعْجِبُكَ اَجْسَامُهُمْ ۚ وَاِنْ يَّقُوْلُوْا تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ﴾ ، آيت ٤.

٤) په منع کولو د منافقانو مؤمنانولره د انفاق نه : ﴿ لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ﴾ آيت ۷ .

٥) په قول د منافقینو باندې : ﴿لَيُخْرِجَنَّ الْاَعَزُّ مِنْهَا الْاَذَلَّ﴾ ، آيت ۸ .

٦ـ په ترغیب الی الانفاق باندې خصوصي انداز سره ، آيت ۱۰ .

۷) په قول د الله تعالی باندې : ﴿ وَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ﴾ ، آيت ۸ .

۸) په قول د الله تعالی باندې : ﴿وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَكٰذِبُوْنَ﴾ ، آيت ۱ .

۹) په ذکر د : ﴿خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ﴾ باندي ، آيت ٤.
۱۰) په خصوصي زواجرو باندي منافقينو ته .

خلاصه:

دا سورت دوه رکوع دے :
اوله رکوع : کښې اوصاف قبيحه د منافقينو او دوی د پاره زواجر ذکر دي ، (اوصاف قبيحه) د دوی په دروغه قسمونه خوړل ، کفر کول ، فهم او عقل نه لرل ، د حق نه اعراض او استکبار کول او په بخل باندي جرګي کول دي دارنګه د دوی سزا ذکر کوي : ﴿فَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ﴾ چې د دوی په زړونو باندي مهر وهلے شوے دے .
دويمه رکوع : کښې مؤمنانو ته د انفاق ترغيب ، او د محبت د دنيا نه تحذير ورکوي .

سورة التغابن

نزولاً ۱۰۸ بعد التحريم مصحفاً ٦٤ بعد المنافقون

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل کښې ترغيب الى الجهاد والانفاق وو دلته هغه مقاصد اربعه ذکر کوي چې د هغي د پاره جهاد کيږي .
۲) ما قبل آيت ۹ کښې مؤمنانو ته خطاب کښې اوئيلے شو چې د مال اواولاد په وجه د الله د ذکرنه تاسو مه غافل کيږئ ، دلته آيت ١٤ کښې په هغي باندي زيادت او ترقي ده .

۳) ما قبل آيت ۷ كښې ذكر شو چې منافقانو مؤمنان د انفاق نه منع كول : ﴿لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﴾ دلته آيت ۱٦ كښې وائي :﴿وَ اَنْفِقُوْا خَيْرًا لِّاَنْفُسِكُمْ﴾ مال خرچ كړئ فائده ئې ستاسو د پاره ده .

٤) ما قبل آيت ۱۰ كښې ترغيب الى الانفاق وو : ﴿وَاَنْفِقُوا مِنْ مَّا رَزَقْنَاكُمْ﴾ دلته آيت ۱٦ كښې هم ترغيب الى الانفاق دے : ﴿وَاَنْفِقُوا خَيْرًا لِّاَنْفُسِكُمْ﴾ .

٦) ما قبل كښې منافقانو ته زجر وو په نه كولو د تابعدارۍ د پيغمبر عليه السلام دلته آيت ۱۲ كښې مؤمنانو ته ترغيب الى اتباع الرسول وركوي .

٥) ما قبل كښې منافقانوته زجر وو په نه كولو د تابعدارۍ د پيغمبر عليه السلام باندي دلته آيت ۱۲ كښې مؤمنانو ته ترغيب الٰى اتباع الرسول وركوي .

۷) ما قبل كښې منافقانو ته زجر ذكر شو په وجه د انكار كولو د انفاق نه دلته مؤمنانو ته ترغيب الى الا نفاق وركوي .

۸) ما قبل آيت ۱۰ كښې په يو عنوان ترغيب الى الانفاق وو دلته آيت ۱۷ كښې دوه فائدې د انفاق كولو ذكر كوي : (۱) الله به درله مال دو چند كړي . (۲) بخنه به درته اوكړي .

۱۰) ما قبل آيت ۹ كښې ذكر شو چې د الله د ذكر " كتاب " نه د مال او اولاد په وجه مه غافل كيږئ ، دلته آيت ۱۵ كښې د هغې علت ذكر كوي .

۱۱ـ ما قبل آيت ۱۰ كښې ترغيب الى الانفاق وو دلته آيت ۱۱ كښې وائي : ﴿ مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ﴾ كه تا مال دي له ساتلے وي چې مصيبت به رانه لرې كړي نو نه ئې شي لرے كولے .

۱۲) ما قبل آيت ۱۱ آخر كښې ذكر شو : ﴿ وَاللّٰهُ خَبِيْرٌ بِمَا تَعْمَلُوْنَ﴾ دلته آيت ۲ كښې وائي : ﴿ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ﴾ ستاسو عملونو نه خبر دار ځكه دے چې ستاسو عملو نه وينې .

امتیازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په قول د الله تعالی باندي: ﴿فَمِنۡكُمۡ كَافِرٌ وَمِنۡكُمۡ مُّؤۡمِنٌ﴾ ، آیت ۲.

۲) په ذکر د حسن صورت د انسان باندي: ﴿فَأَحۡسَنَ صُوَرَكُمۡ﴾ ، آیت ۳ .

۳) په تسمیه د قیامت په نوم د تغابن سره : ﴿ذَٰلِكَ يَوۡمُ ٱلتَّغَابُنِ﴾ ، آیت ۹ .

۴) په تحذیر د میني د اولاد او بیبیانو باندي: ﴿إِنَّ مِنۡ أَزۡوَٰجِكُمۡ وَأَوۡلَٰدِكُمۡ عَدُوًّا لَّكُمۡ فَٱحۡذَرُوهُمۡ﴾ ، آیت ۱۴.

۵) په تقسیم د خلقو باندي دوه قسمونوته پس د دلیل نه: ﴿هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ فَمِنۡكُمۡ كَافِرٌ وَمِنۡكُمۡ مُّؤۡمِنٌ﴾ ، آیت ۲ .

۶) په قول د الله تعالی باندي: ﴿فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُمۡ﴾ ، آیت ۱۶.

۷) په قول د الله تعالی باندي: ﴿وَمَن يُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ يَهۡدِ قَلۡبَهُۥ﴾ ، آیت ۱۱.

۸) په یوآیت کښې دري مضامین ذکر کولو باندي خصوصي اندازه سره :
{۱} اثبات د قیامت . {۲} تخویف . {۳} بشارت ، آیت ۹ کښې .

۹) په کامیاب وئیلو باندي هغه چاته چې زړه ئې د بخل نه اوساتلے شو: ﴿وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفۡسِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ﴾ ، آیت ۱٦ .

۱۰) په قول د کافرانو باندي په باره د انبیاء کښې: ﴿أَبَشَرٌ يَهۡدُونَنَا﴾ ، آیت ٦ .

دعوی:

ترغیب الی الجهاد والانفاق او بیان د مقاصد اربعه عالیه

خلاصه:

دا سورت دوه حصي دے :

اوله حصه:

آيت ۱ نه تر آيت ۱۰ پوري په ديکښې اثبات د مقاصد اربعه عاليه کوي ، اثبات د توحيد په ادله عقليه باندي کوي ، يعني الله تعالیٰ خالق د هر يو شي دے او عالم په هر يو شي دے د دغه الله پاکي بيان کړئ ، او دے يو اوګنړئ ، چونکه دا آخري سورت دے د هغه سورتونو نه کوم چې په تسبيح باندي شروع کيدل دي وجې نه ديکښې په توحيد دلائل او د هغي نه پس تخويف دنيوي ورکوي ، بيا زجر منکرينو د رسالت ته ورکوي او اثبات د قيامت کوي دينه پس صداقت د قرآن او ترغيب الى القرآن او په آخر د حصي کښې منونکو د توحيد ته بشارت او نه منونکو ته تخويف ورکوي .

دويمه حصه:

آيت ۱۱نه ترآخره پوري ،په ديکښې اول ترغيب الى القتال بيا ترغيب اطاعت د الله او پيغمبر ﷺ ته ، زجر سستی کؤنکو او بخل کؤنکو ته ، مؤمنانو ته تشجيع بالجهاد چې د مصائبو نه مه يريږئ که څه مصيبت درته اورسيده نو دا به ستاسو تقدير کښې ليک وو ، بيا مؤمنانو ته تحذير ورکوي د محبت د مال او د محبت د هغه خپلوانو نه چې د الله تعالیٰ او د پيغمبر ﷺ دا طاعت نه سرے بندوي دينه بعد ترغيب الى الانفاق اوآخر د سورت داول د سورت سره په توحيد د باري تعالیٰ کښې مرتبط دے .

تمت سورة التغابن بفضله ومنه تعالیٰ

سورة الطلاق مدنية

نزولاً ٩٩ بعد الدهر مصحفاً ٦٥ بعد التغابن

«ربط د ما سبق سره»

)ما قبل آخر کښې ترغيب الى الجهاد والانفاق وو دلته ابتداء کښې بيان د ور انتظاميه د جهاد کوي .

)ما قبل اول کښې اثبات د مقاصد اربعه او بيا ترغيب الى الجهاد وو دلته ؛ مضامين په عکس د ماسبق ذکر کوي ، يعني اول بيان د جهاد او د انفاق ر بيا بيان د مقاصد اربعه کوي .

)ما قبل آيت ٨ کښې ئې قرآن ته رڼړا وئيلي وه دلته آيت ١٠ ، ١١ کښې په هغې يادت او ترقي ده .

)ما قبل آيت ١٦ کښې امر بالتقوى وو چې الله نه اوېرېږئ دلته آيت ٢ ، ٣ کښې نړائد د تقوى ذکر کوي : ﴿وَمَنْ يَتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا ۝ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ﴾

)ما قبل آيت ١٤ کښې عداوت د ازواجو ذکر شو : ﴿ اِنَّ مِنْ اَزْوَاجِكُمْ وَ اَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَّكُمْ﴾ دا عداوت کله کله طلاق ته مفضى کيږي ، نو دي سورت کښې احکام د طلاق ذکر کوي .

)ما قبل آيت ٩ کښې مؤمنانو ته بشارت ذکر شودلته آيت ١١ کښې دوی ته بشارت ورکوي .

)ما قبل آخري آيت کښې ذکر شو چې عالم الغيب الله دے دلته هم آخري آيت کښې دغه مسئله په نورو الفاظو باندي ذکر کوي : ﴿ وَاَنَّ اللّٰهَ قَدْ اَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا﴾

۸) ما قبل آیت ٥ کښې تخویف دنیوي وو دلته آیت ۸ ، ۹ کښې هم تخویف دنیوي دے په زیادت سره د ماسبق نه .

۹) ما قبل ۱۰ کښې تخویف اخروي وو دلته آیت ۱۰ کښې هم تخویف اخروي دے .

۱۰) ما قبل آیت ۱۳ کښې ذکر شو : ﴿وَعَلَى اللهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ﴾ دلته آیت ۳ کښې وائي : ﴿ وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ فَهُوَ حَسْبُهٗ ﴾ یعني فائده د توکل کولو ذکر کوي .

۱۱) ما قبل آیت ۱٦ کښې امر بالتقوٰی وو : ﴿فَاتَّقُوا اللهَ﴾ دلته آیت ۱۰ کښې هم امر بالتقوٰی دے :﴿فَاتَّقُوا اللهَ يٰٓاُولِي الْاَلْبَابِ ۚ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا﴾.

۱۲) ما قبل آیت ۱۲ کښې ترغیب الٰی طاعة الرسول وو دلته کار د پیغمبر ذکر کوي : ﴿ يَتْلُوْا عَلَيْكُمْ اٰيٰتِ اللهِ مُبَيِّنٰتٍ.﴾ آیت ۲۱ .

امتیازات:

۱) دا سورت ممتازد ے په فوائدو د تقوٰی باندي ، آیت ۲ تا ٥ .

۲) په عدت د هغه زنانوٴ چې حیض ئې نه راځي ، آیت ٤ .

۳) په عدت د حمل والا زنانوٴ باندي ، آیت ٤ .

٤) په حکم د خرج کولو په حاملو زنانوٴ باندي وضع د حمل پوري ، آیت ٦ .

٥) په قول د الله تعالٰی باندي : ﴿ سَيَجْعَلُ اللهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُّسْرًا﴾ ، آیت ۷ .

٦) په تخویف دنیوي باندي په خصوصي الفاظو سره ، آیت ۸ .

۷) په بیان د طریقې د طلاق باندي ، آیت ۱.

۸) په تمثیل د زمکې د آسمانونو سره په تعداد کښې ، آیت ۱۲ .

۹) په قول د الله تعالٰی باندي : ﴿ وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ فَهُوَ حَسْبُهٗ﴾ ، آیت ۳ .

۱۰) په دؤو فائدو د تقوىٰ باندي يو آيت كښې : ﴿وَمَنْ يَتَّقِ اللّٰهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّاٰتِهٖ وَيُعْظِمْ لَهٗٓ اَجْرًا﴾، آيت ٥.

دعوى:

دا سورت تتمه د ماسبق ده، په دېكښې بيان د امور انتظاميو سره د بيان د مقاصداربعؤ.

خلاصه:

دا سورت دوه حصي دے، د اولې حصي تعلق آخر د سورت تغابن سره او د دوېمې حصي تعلق اول د سورتِ تغابن سره دے.

اوله حصه:

آيت ۱ نه تر ۷ پوري، په دېكښې امور انتظاميه د تهذيب الاخلاق او تدبير المنزل ذكر كوي دي د پاره چې مؤمنان تس نس او د يو بل دشمنان نه شئ كني په جهاد كښې به كمزوري شئ، او ذكر د تقوىٰ دري / ۳ ځله او پنځه / ٥ فوائد د تقوىٰ ذكر كوي چې مؤمنان د دي احكامو پابند اوګرځي.

دريمه حصه:

آيت ۸ نه تر آخره پوري، په دېكښې تخويف منكرينو ته لكه څنګه چې اوله حصه د سورت تغابن كښې وو او بيان د مقاصد اربعؤ كوي:

{۱} اثبات د قيامت ﴿ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا﴾. {۲} اثبات د رسالت : ﴿رَسُوْلًا يَّتْلُوْ﴾. {۳} صداقة القرآن ﴿يَتْلُوْا عَلَيْكُمْ اٰيٰتِ اللّٰهِ﴾. {٤} اثبات د توحيد آخري آيت كښې :﴿وَاَنَّ اللّٰهَ قَدْ اَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا﴾.

تمت سورة الطلاق بفضله ومنه تعالى

سورة التحريم مدنية

نزولاً ۱۰۷ بعد الحجرات مصحفاً ٦٦ بعد الطلاق

«ربط د ما سبق سره»

۱) مخکښې آیت ۱۱ کښې ذکر شو: ﴿لِيُخْرِجَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ﴾ دلته آیت ۸ کښې د رنړا حالت او دعا د مؤمنانو د پاره د اتمام د رنړا ذکر کوي: ﴿نُوْرُهُمْ يَسْعٰى بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اَتْمِمْ لَنَا نُوْرَنَا﴾

۲) ما قبل کښې بیان د امورو د تدبیر المنزل وو په بیان د طلاق او په بیان د اقسامو د عدت سره دلته هم امور د تدبیر المنزل ذکر کوي چې من جمله د هغې نهي د تحریم د حلال ده په قسم باندې، آیت ۱ کښې: ﴿يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ﴾

۳) ما قبل آیت ۱۱ کښې ترغیب الی اطاعة الرسول وو دلته آیت ٤ کښې هم ترغیب الی اطاعة الرسول دے.

٤) ما قبل شروع وو په: ﴿يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ﴾ باندې دا سورت هم په دغه الفاظو باندې شروع کوي.

٥) ما قبل آیت ۱ کښې ذکر د عامو زنانؤ اوشو دلته ۱ تا ٥ ذکر د ازواجو د نبي عليه السلام کوي.

٦) ما قبل کښې بیان د جهاد او د انفاق ذکر شو دلته هم دغه دواړه مسئلې ذکر کوي.

۷) ما قبل آیت ۱۱ کښې مؤمنانو ته بشارت وو دلته آیت ۸ کښې مؤمنانو ته بشارت ورکوي.

۸) ما قبل آيت ۷ کښې د ښځو حقوق ذکر شو په خاوندانو باندي دلته آيت ۳ ، ٤ کښې حق د خاوندانو ذکر کوي په ښځو باندي هغه دا چې ښځي به د خاوند راز نه ښکاره کوي .

۹) ما قبل آيت ۸ کښې تخويف دنيوي وو دلته هم آيت ۱۰ کښې تخويف دنيوي ورکوي .

۱۰) ما قبل کښې د عامو زنانؤ ذکر اوشو دلته آيت ۱۲ کښې ذکر د حضرت مريم کوي ، تخصيص بعد التعميم دے .

۱۱) ما قبل کښې يو خطاب وو نبي ﷺ ته آيت ۱ کښې دلته دوه خطابه دي نبي ته آيت ۱، ۹ کښې ترقي ده ماسبق باندي .

۱۲) ما قبل آيت ۱۱ کښې ذکر د پيغمبر ﷺ او د مؤمنانو اوشو دلته آيت ۸ کښې پيغمبر ﷺ او مؤمنانو ته تسلي ورکوي .

امتيازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په دي خطاب باندي نبي ﷺ ته : ﴿يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللهُ لَكَ﴾ ، آيت ۱ .

۲) په قول د الله تعالى باندي : ﴿قَدْ فَرَضَ اللهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ أَيْمَانِكُمْ﴾ ، آيت ۲ .

۳) په پټ وئيلو د نبي ﷺ خبري لره حضرت حفصة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته : ﴿وَإِذْ أَسَرَّ النَّبِيُّ إِلَىٰ بَعْضِ أَزْوَاجِهِ حَدِيثًا﴾ ، آيت ۳.

٤) په تنبيه ورکولو باندي بيبيانو د نبي ﷺ ته آيت ۳ ، ٤ .

۵) په ذکر د خصوصي شان د نبي ﷺ باندي : ﴿فَإِنَّ اللهَ هُوَ مَوْلَاهُ وَجِبْرِيلُ وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِينَ ۖ وَالْمَلَائِكَةُ بَعْدَ ذَٰلِكَ ظَهِيرٌ﴾ ، آيت ٤ .

٦) په خصوصي خطاب باندي مؤمنانو ته : ﴿يَاَيُّهَاالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَ اَهْلِيْكُمْ نَارًا﴾ ، آيت ٦ .

٧) په ذكر دځلور صفاتو د ملائكو باندي ، آيت ٦.

٨) په ترغيب وركولو باندي مؤمنانو ته د توبي : ﴿ يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا تُوْبُوْٓا اِلَى اللّٰهِ﴾ ، آيت ٨ .

٩) په ذكر د : ﴿ تَوْبَةً نَّصُوْحًا ﴾ باندي ، آيت ٨ .

١٠) په ذكر د فوائو د توبي باندي : ﴿عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ يُّكَفِّرَ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَ يُدْخِلَكُمْ جَنّٰتٍ﴾ .

١١) په خصوصي تسلى وركولو باندي نبي عليه السلام اومؤمنانو ته : ﴿لَا يُخْزِى اللّٰهُ النَّبِيَّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ﴾ ، آيت ٨ .

١٢) په ذكر د حالت د نور باندي : ﴿نُوْرُهُمْ يَسْعٰى بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَ بِاَيْمَانِهِمْ﴾ ، آيت ٨ .

١٣) په دعا د مؤمنانو باندي : ﴿ رَبَّنَآ اَتْمِمْ لَنَا نُوْرَنَا وَاغْفِرْ لَنَا ۚ اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ﴾ ، آيت ٨ .

١٤) په بيان د مثال د ښځي د نوح عليه السلام او د ښځي د لوط عليه السلام باندي : ﴿ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوا﴾ ، آيت ١٠ .

١٥) په ذكر د مثال د ښځي د فرعون باندي آيت ١١ .

١٦) په دعادښځي د فرعون باندي : ﴿ رَبِّ ابْنِ لِيْ عِنْدَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ وَنَجِّنِيْ مِنْ فِرْعَوْنَ وَعَمَلِهٖ وَنَجِّنِيْ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ﴾ ، آيت ١١.

١٧) په ذكر د مثال د حضرت مريم عليهاالسلام باندي ، آيت ١٢ .

دعوی:

دا سورت خلاصه او تتمه د هغه سورتونو ده کوم چې د سورت محمد نه تر سورت طلاق پورې دي {په داسې شان چې محمد، فتح، حجرات کښې ترغيب الى القتال ق، ذاريات، طور، نجم کښې اثبات د قيامت قمر، رحمن، واقعه کښې نفي د شرک في البرکات، بيا نهه سورتونو حديد تا طلاق کښې ترغيب الى القتال والانفاق، زجرمتکاسلينو ته او اثبات د توحيد وو نو دا سورت د دغه په سورتونوخلاصه ده}.

خلاصه:

اول د سورت کښې نبي عليه السلام او امت د نبي عليه السلام ته د ماتولو د قسمونو {که چې د جائز څيز د نه استعمالولو قسم شوے وي} او په حلالو کښې د نوع کولو تعليم دے، دارنګې تحذير مؤمنانو ته د هغه کارونو چې پيغمبرعليه السلام پرې خفه کيدۀ، او ترغيب اطاعت او نصرت د پيغمبر عليه السلام ته ورکوي چې په دين {قتال او انفاق} کښې د ده سره مدد اوکړئ، بيا بيان د قيامت او هيبتي شان د قيامت او تخويف منکرينو ته دارنګې جهاد او انفاق کوونکو مؤمنانو ته بشارت، دوه قسمه جهاد: {۱} کفارو سره. {۲} منافقينو سره او دا ذکر کوي چې قرابت فائده نه ورکوي کله چې په يو دين نه وي، په دې باندې مثال د نوح عليه السلام د ښځې او د لوط عليه السلام د ښځې ذکر کوي، او قرابت نقصان هم نه ورکوي کله چې مؤمنان د کافرانو د کفرنه تباعد{لرې والے، بائيکاټ} اختيارکړي، په دې باندې مثال د فرعون د ښځې ذکر کوي، دارنګې مؤمنانو ته تشجيع ورکوي په برداشت کولو د مصائبو باندې په ذکر د ښځې د فرعون او په ذکر د حضرت مريم عليها السلام باندې.

سورة الملك مكية

نزولاً ٧٧ بعد الطور مصحفاً ٦٧ بعد التحريم

«ربط د ما سبق سره»

١) ما قبل كښې ترغيب الى الانفاق وو دلته وائي كه مال دي خرج كړو نو الله تعالى به درله مال كښې بركت واچوي .

٢) ما قبل آيت ٦ كښې ذكر شو : ﴿عَلَيْهَا مَلٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ﴾ دلته آيت ٨ كښې قول د دغه ملائكو ذكر كوي : ﴿سَاَلَهُمْ خَزَنَتُهَآ اَلَمْ يَاْتِكُمْ نَذِيْرٌ﴾ .

٣) ما قبل آيت ٩ كښې تخويف اخروي : ﴿وَمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ﴾ وو دلته آيت ٦ كښې هم تخويف اخروي دے : ﴿وَلِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ﴾

٤) ما قبل آيت ٧ كښې ذكر شو : ﴿اِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ﴾ دلته آيت ٩ كښې د دوی عمل ذكر كوي چې قرآن ئي نه منلو .

٥) ما قبل كښې ترغيب الى الانفاق وو دلته وائي بركت د بل چا نه مه ګڼړئ شرك مه كوئ د غيرالله په نوم نذراني مه پيش كوئ الله تعالى به درله مالونو كښې بركت واچوي .

٦) ما قبل آيت ١ كښې بيان د تحريمات العباد وو : ﴿لِمَ تُحَرِّمُ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ﴾ ، دلته رد د نذور العباد دے چې بركت اچونكے صرف الله تعالى دے نو لائق د نذر و نياز هم صرف هغه ذات دے .

٧) ما قبل كښې ترغيب الى اطاعة الرسول وو دلته آيت ١ كښې ترغيب الى التوحيد دے : ﴿تَبٰرَكَ الَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ﴾ .

۸) ما قبل آیت ٦ کښې ذکر شو : ﴿قُوٓا اَنۡفُسَكُمۡ وَاَهۡلِيۡكُمۡ نَارًا﴾ دلته آیت ۱ کښې هغه مسئله ذکر کوي چې په هغې سره بچاؤ حاصلیږی د اُور د جهنم نه هغه مسئله د توحید ده : ﴿ تَبٰرَكَ الَّذِيۡ بِيَدِهِ الۡمُلۡكُ﴾.

۹) ما قبل کښې اصلاح د معاشري اوشوه دلته اصلاح د عقیدي کوي.

۱۰) ما قبل آیت ۸ کښې ذکر شو : ﴿ اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَيۡءٍ قَدِيۡرٌ﴾ دلته آیت ۱ کښې په هغې باندي ترقي ده : ﴿ تَبٰرَكَ الَّذِيۡ بِيَدِهِ الۡمُلۡكُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيۡءٍ قَدِيۡرُ﴾.

۱۱) ما قبل آیت ٦ کښې فعل د ملائکو ذکر شو : ﴿ لَّا يَعۡصُوۡنَ اللّٰهَ مَاۤ اَمَرَهُمۡ وَ يَفۡعَلُوۡنَ مَا يُؤۡمَرُوۡنَ﴾ دلته آیت ۸ کښې قول د ملائکو ذکر کوي چې جهنمیانو ته به وائي : ﴿ اَلَمۡ يَاۡتِكُمۡ نَذِيۡرٌ﴾.

۱۲) ما قبل آیت ۷ کښې ذکر شو چې کافران به اعتذار پیش کوي نو ورته به اوئیلے شي : ﴿لَا تَعۡتَذِرُوا الۡيَوۡمَ﴾ دلته آیت ۱۱ کښې اعتراف د کافرو ذکر کوي : ﴿فَاعۡتَرَفُوۡا بِذَنۡۢبِهِمۡ﴾.

۱۳) ما قبل آیت ۸ کښې بشارت وو : ﴿ وَيُدۡخِلَكُمۡ جَنّٰتٍ تَجۡرِيۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ﴾ دلته آیت ۱۲ کښې هم مؤمنانو ته بشارت دے : ﴿لَهُمۡ مَّغۡفِرَةٌ وَّاَجۡرٌ كَبِيۡرٌ﴾.

۱۴) ما قبل آیت ٦، ۷ کښې تخویف اخروي ذکر شو کافرانو ته دلته آیت ۱۰ کښې جهنم ته د تلو وجه ذکر کوي چې هغه قرآن نه اوریدل او قرآن باندي ځان نه پوهه کول دي.

۱۵) ما قبل آیت ۹ کښې ذکر شو : ﴿وَمَاۡوٰىهُمۡ جَهَنَّمُ﴾ دلته آیت ۷ ، ۸ کښې حالت د جهنم ذکر کوي : ﴿سَمِعُوۡا لَهَا شَهِيۡقًا وَّهِيَ تَفُوۡرُ ۝ تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ الۡغَيۡظِ﴾.

امتيازات:

١) دا سورت ممتاز دے په د نفي د شرک في البرکة باندي په يؤلسو دلائلو سره.

٢) په قول د جهنميانو په جهنم کښې: ﴿وَقَالُوْا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ اَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِيْٓ اَصْحٰبِ السَّعِيْرِ﴾، آيت ١٠.

٣ـ په حالت د جهنم باندي: ﴿سَمِعُوْا لَهَا شَهِيْقًا وَّ هِيَ تَفُوْرُ ۝ تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ الْغَيْظِ﴾، آيت ٧، ٨.

٤) په خبرود ملائکو او د جهنميانو باندي، آيت ٨، ٩.

٥) په قول د الله تعالى باندي: ﴿فَسُحْقًا لِّاَصْحٰبِ السَّعِيْرِ﴾، آيت ١١.

٦) په خصوصي صفت د مارغانو باندي: ﴿صٰٓفّٰتٍ وَّيَقْبِضْنَ﴾، آيت ١٩.

٧) په قول د الله تعالى باندي: ﴿مَا يُمْسِكُهُنَّ اِلَّا الرَّحْمٰنُ﴾، آيت ١٩.

٨) په دي چې قرآن ته غوږ نهٔ کيخودل او پهٔ دي ځان نه پوهه کول سبب د دخول في الجهنم دے، آيت ١٠.

٩) په قول د کافرانو باندي: ﴿مَا نَزَّلَ اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ﴾، آيت ٩.

١٠) په قول د الله تعالى باندي: ﴿فَارْجِعِ الْبَصَرَ ۙ هَلْ تَرٰى مِنْ فُطُوْرٍ﴾، آيت ٤.

دعوى:

نفى د شرک في البرکة آيت ١ کښې

خلاصه:

دې سورت کښې نفي د شرک في البرکة په يولسؤ دلائلو عقليؤ باندي کوي مشرکينو، منکرينو د رسالت، معرضينو د قرآن او منکرينو د آخرت ته زجر ورکوي، دارنګي تخويف اخروي او دنيوي، اثبات د مقاصد اربعه او دا ذکر کوي چې مالک د نفع او نقصان صرف او صرف الله تعالى دے، او عجز د نبي عليه السلام د پاره د نفي د شرک في التصرف او في العلم ذکر کوي.

سورة القلم مكية

نزولاً ۲ بعد العلق مصحفاً ٦٨ بعد الملك

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل آيت ۲۹ كښې ذكر شو : ﴿فَسَتَعْلَمُوْنَ مَنْ هُوَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ﴾ دلته آيت ۷ كښې وائي : ﴿ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيْلِهٖ﴾ .

۲) ما قبل آيت ۹ كښې ذكر شو : ﴿فَكَذَّبْنَا﴾ چې كافرو تكذيب كولو دلته آيت ۸ كښې وائي : ﴿ فَلَا تُطِعِ الْمُكَذِّبِيْنَ﴾ د دوی مه منۀ.

۳) ما قبل آيت ۲۷ كښې ذكر شو : ﴿ فَلَمَّا رَاَوْهُ زُلْفَةً سِيْٓـَٔتْ وُجُوْهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ﴾ دلته آيت ۴۳ كښې په هغې باندې ترقي ده﴿ خَاشِعَةً اَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ﴾ .

۴) ما قبل آيت ۱۱ كښې اعتراف د جهنميانو په ګناهونو باندې ذكر شو : ﴿ فَاعْتَرَفُوْا بِذَنْۢبِهِمْ﴾ دلته آيت ۳۱ كښې افسوس د مشركانو ذكر كوي په خپلو ګناهونو باندې .

۵) ما قبل آيت ۱۰ كښې جهنم ته د تلو سبب ذكر شو قرآن ته غوږ نه كيخودل او قرآن باندې ځان نه پوهه كول دلته آيت ۲۹ كښې د عذاب دنيوي سبب ظلم كول او آيت ۳۱ كښې د عذاب دنيوي سبب سركشي كول ذكر كوي.

٦) ما قبل كښې نفي د شرک في البركة اوشوه دلته تحضيض وركوي پيغمبر عليه السلام ته په اشاعت د دې مسئلې باندې .

۷) ما قبل ابتداء كښې اثبات د توحيد وو په عنوان د بركت سره دلته ابتداء كښې مقاصد اربعه نه بل مضمون يعني اثبات د رسالت ذكر كوي .

۸) ما قبل ابتداء كښې نفي د شرک في البركات اوشو دلته انجام د هغه چا ذكر كوي چې شرک في البركات ئې كړے وو واقعه د باغ والا بطور مثال ذكر كوي.

٩) ما قبل آيت ١٢ كښې بشارت اخرويه وو مؤمنانو ته دلته آيت ٣٤ كښې هم مؤمنانو ته بشارت ورکوي .

١٠) ما قبل آيت ٦ كښې تخويف اخروي وو دلته تخويف دنيوي او تخويف اخروي دواړه ذكر كوي آيت ١٧ تا ٣٣ كښې ترقي ده ماسبق باندي .

١١) ما قبل آيت ١٩ كښې مشركينو ته زجر وو دلته آيت ٤١ كښې هم مشركينو ته زجر ورکوي .

١٢) ما قبل آيت ٢٥ ،٢٦ كښې اعتراض د مشركينو او جوا ب د نبي عليه السلام ذكر شو دلته آيت ٤٨ كښې نبي عليه السلام ته تسلي ورکوي : ﴿فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ﴾ .

١٣) ما قبل آيت ٩ كښې انكار د مشركينو د قرآن نه ذكر شو دلته آيت ٥٢ كښې صداقت د قرآن ذكر كوي : ﴿ وَمَا هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ﴾

١٤) ما قبل آيت ١٨ كښې تخويف دنيوي اجمالي وو دلته آيت ١٧ تا ٣٣ كښې تخويف دنيوي تفصيلي دے .

١٥) ما قبل آيت ٢٥ كښې د كافرو اعتراض ذكر شو : ﴿وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ﴾ دلته آيت ٥١ كښې د كافرو بل اعتراض ذكر كوي : ﴿وَيَقُوْلُوْنَ اِنَّهٗ لَمَجْنُوْنٌ﴾.

امتيازات:

١) دا سورت ممتاز دے په شاهد کرځولو د قلم باندي آيت ١ .

٢) په لس دفعاتو په هغه چا باندي چې مبلغ کښې سستي راوستل غواړي آيت ٨ تا ١٣ .

٣) په تسلی ورکولو باندي نبي عليه السلام ته په خصوصي الفاظو باندي : ﴿ مَآ اَنْتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُوْنٍ﴾ آيت ٢ .

٤) په قول د الله تعالى باندي نبي ته : ﴿ وَاِنَّ لَكَ لَاَجْرًا غَيْرَ مَمْنُوْنٍ﴾ ، آيت ٣ .

٥) په قول د الله تعالى باندي نبي ته : ﴿وَاِنَّكَ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيْمٍ﴾ ، آيت ٤ .

۱) په ذکر د خرطوم باندي ، آيت ۱۶.

۲) په داغ ورکولو دشمن د قرآن ته په شند باندي : ﴿سَنَسِمُهٗ عَلَى الْخُرْطُوْمِ﴾ آيت ۱۶ .

۸) په واقعي د هغه باغ والا باندي چې شرک فعلي ئې کولو آيت ۱۷ تا ۳۳ .

۹) په ذکر د : ﴿ كَالصَّرِيْمِ﴾ باندي ، آيت ۲۰ .

۱) په وئيلو د صاحب الحوت باندي يونس ﷺ ته آيت ٤٨ .

۱۱) په خصوصي حالت د کافرانو باندي : ﴿وَاِنْ يَّكَادُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَيُزْلِقُوْنَكَ بِاَبْصَارِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا الذِّكْرَ﴾ ، آيت ٥١ .

۱۲) په خصوصي حالت دحضرت يونس ﷺ باندي ، آيت ٤٨ تا ٥٠ .

دعوى

التحضيض في التبليغ و التحذير من المداهنة

خلاصه:

دا سورت دوه حصې دے :

اوله حصه:

آيت ۱ نه تر آيت ۳۳ پورې ، پديکښې صداقت د پيغمبر ﷺ او د هغه اوصاف حميده ذکر کوي بيا زجر منکرينو د رسالت ته ، رد په مثال دباغ والؤ سره کله چې هغوی شرک اوکړو نوځنکه عذاب پرې راغے اوآخري آيت کښې ورسره تخويف اخروي هم ذکر دے : ﴿ ولَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَكْبَرُ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ﴾.

دوهمه حصه:

آيت ۳٤ نه تر آخره پورې ، په ديکښې اول بشارت د پاره د متقيانو بيا تخويف اخروي د : ﴿اَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِيْنَ كَالْمُجْرِمِيْنَ﴾ نه او آيت ٤١ کښې

مشركينو ته زجر : ﴿أَمْ لَهُمْ شُرَكَآءُ﴾ په ديكښې دليل د دي خبري دے چې عذاب د شرک په وجه باندي راځي ، بيا زجر دشمنانو د پيغمبر ﷺ اومعرضينو د قرآن ته ورکوي ، او آخر د سورت اول د سورت سره مرتبط دے ، اول کښې ئې وئيلي وو : ﴿مَآ أَنْتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُوْنٍ﴾ نو آخر کښې وائي : ﴿إِنَّهُ لَمَجْنُوْنٌ﴾ ، آيت ٥ .

سورة الحاقة مكية

نزولاً ٧٨ بعد الملك — مصحفاً ٦٩ بعد القلم

«ربط د ما سبق سره»

١) ما قبل کښې اوئيلے شو چې باغ تباه شو دلته آيت ٩ کښې په هغي باندي ترقي دہ باغ څه ؟ چې ټولي تباه شوي دي .

٢) ما قبل آيت ٤٤ کښې تخويف دنيوي ذکر شو دلته آيت ٣ تا ١٢ کښې زيات وضاحت کوي بالترقي علیٰ ماسبق .

٣) ما قبل آيت ٥ کښې ذکر شو : ﴿ فَسَتُبْصِرُ وَيُبْصِرُوْنَ﴾ ته به خپل انجام اوينې او دوی به خپل انجام اويني دلته آيت ١٩ تا ٣٢ کښې د دوارو انجام ذکر کوي .

٤) ما قبل آيت ٢٤ کښې ذکر شو : ﴿أَنْ لَّا يَدْخُلَنَّهَا الْيَوْمَ عَلَيْكُمْ مِّسْكِيْنٌ﴾ دلته آيت ٣٤ کښې وجه د عذاب د جهنمي ذکر کوي : ﴿ وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ﴾ .

٥) ما قبل آيت ٣٣ کښې تخويف اخروي ذکر شو دلته آيت ٢٥ تا ٣٢ کښې د هغي تفصيل کوي .

۶) ما قبل آخري آيت کښې ترغيب الى القرآن وو دلته هم آخر کښې ترغيب الى القرآن دے : ﴿وَإِنَّهُ لَتَذْكِرَةٌ لِّلْمُتَّقِينَ﴾

۷) ما قبل آخري آيت کښې تعميم وو : ﴿وَمَا هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَٰلَمِينَ﴾ دلته آيت ۴۸ کښې تخصيص کوي : ﴿وَإِنَّهُ لَتَذْكِرَةٌ لِّلْمُتَّقِينَ﴾.

۸) ما قبل آيت ۲۸ کښې ذکر شو : ﴿لَوْلَا تُسَبِّحُونَ﴾ دلته آخري آيت کښې وائي : ﴿فَسَبِّحْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلْعَظِيمِ﴾

۹) ما قبل آخري آيت کښې ترغيب الى القرآن وو : ﴿وَمَا هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَٰلَمِينَ﴾ دلته آيت ۵۰ کښې وائي : ﴿وَإِنَّهُ لَحَسْرَةٌ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ﴾ چاچې د قرآن سره تعلق نه وو ساتلے نو قرآن به پرې افسوس وي.

۱۰) ما قبل آخري آيت کښې صداقت د قرآن ذکر شو : ﴿وَمَا هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَٰلَمِينَ﴾ دلته آيت ۴۳ کښې هم د قرآن صداقت ذکر کوي : ﴿تَنزِيلٌ مِّن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ﴾

۱۱) ما قبل آيت ۳۳ کښې تخويف اخروي اجمالي وو : ﴿وَلَعَذَابُ ٱلْءَاخِرَةِ أَكْبَرُ﴾ دلته آيت ۲۵ تا ۳۷ کښې تخويف اخروي تفصيلي او علل د عذاب ذکر کوي : ﴿إِنَّهُۥ كَانَ لَا يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ ٱلْعَظِيمِ ۝ وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلْمِسْكِينِ﴾

۱۲) ما قبل آيت ۳۴ کښې بشارت اجمالي ذکر شلو دلته آيت ۱۹ تا ۲۴ کښې بشارت تفصيلي ذکر کوي.

۱۳) ما قبل آيت ۸ کښې ذکر شو : ﴿فَلَا تُطِعِ ٱلْمُكَذِّبِينَ﴾ دلته آيت ۴۹ کښې مکذبينو ته تخويف ورکوي : ﴿وَإِنَّا لَنَعْلَمُ أَنَّ مِنكُم مُّكَذِّبِينَ﴾

۱۴) ما قبل آيت ۲ کښې اثبات د رسالت وو دلته آيت ۴۰ تا ۴۲ کښې هم اثبات د رسالت دے په ترقي سره مناسبة.

١٥) ما قبل کښي د باغ والا محبت د مال سره ذکر شو دلته آيت ٢٨ ، ٢٩ کښې حالت د هغه چا ذکر کوي چې د مال سره ئې محبت وو او دين ئې پرېخودے وو ، دغه کس به چغې وهي : ﴿مَآ أَغْنَىٰ عَنِّى مَالِيَهْ ۜ ۝٢٨ هَلَكَ عَنِّى سُلْطَٰنِيَهْ﴾ .

امتيازات:

١) دا سورت ممتاز دے په ذکر د نومونو د قيامت باندي چې حاقة ، قارعة ، واقعة ، دي .

٢) په مده د عذاب د عاديانو باندي : ﴿ سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ وَثَمَٰنِيَةَ أَيَّامٍ حُسُومًا﴾ ، آيت٧ .

٣) په ذکر د حکمت د هلاکت د قوم نوح عليه السلام باندي : ﴿ لِنَجْعَلَهَا لَكُمْ تَذْكِرَةً وَتَعِيَهَآ أُذُنٌ وَٰعِيَةٌ﴾ ، آيت ١٢ .

٤) آسمان ته په "وَاهِيَةٌ" وئيلو باندي ، آيت ١٦ .

٥) په خصوصي حالت د فرښتو باندي : ﴿وَٱلْمَلَكُ عَلَىٰٓ أَرْجَآئِهَا﴾ ، آيت ١٧ .

٦) په قول د الله تعالیٰ باندي : ﴿وَيَحْمِلُ عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمَٰنِيَةٌ﴾ ، آيت ١٧ .

٧) په خصوصي حالت داصحاب اليمين باندي ، آيت ١٩ تا ٢٤ .

٨) په خصوصي حالت داصحاب الشمال باندي ، آيت ٢٥ ، ٣٧ .

٩) په خصوصي سزا داصحاب الشمال باندي ، آيت ٣٠ ، ٣٢ .

١٠) په ذکر کولو د صفت د سلسلة يعني د زنځير باندي : ﴿ثُمَّ فِى سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُونَ ذِرَاعًا﴾ ، آيت ٣٢ .

١١) په خصوصي ارمان د اصحاب الشمال باندي : ﴿ يَٰلَيْتَنِى لَمْ أُوتَ كِتَٰبِيَهْ﴾ ، آيت ٢٥ تا ٢٧ .

۱۲) په ذکر د : " غِسْلِيْنٍ " باندي ، آيت ۳٦.
۱۳) په ذکر د : " الْوَتِيْنَ " باندي ، آيت ٤٦.
۱٤) په قول د الله تعالیٰ باندي : ﴿وَاِنَّهٗ لَحَسْرَةٌ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ﴾ ، آيت ٥٠ .
۱٥) په ۳ ځله ذکر کولو د " الْحَآقَّةُ " باندي ، آيت ۱ تا ۳ .

دعوی:

التخويف الاخروي للمنكرين باتيان القيامة

خلاصه:

اول کښې اثبات د قيامت بيا تخويف دنيوي په هلاکت د اقوام خمسه مکذبؤ باندي {يعنی قوم عاد ، قوم ثمود ، قوم نوح ، قوم لوط ، قوم فرعون ، بيا فناء د عالم ذکر کوي او دري احوال د قيامت ذکر کوي ، يو حالت د وقوع د قيامت ، دويم حالت د حساب او کتاب ، دريم حالت د مأب چې جنتيان به جنت ته لاړشي او جهنميان به جهنم ته لاړشي ، او دوه قسمه خلق ذکر کوي :{۱} اصحاب اليمين . {۲} اصحاب الشمال او د دواړو دلو اوصاف ذکر کوي دکوم چې دنيا کښې د دوی صفتونه وو ، او په آخر د سورت کښې باقي دري مقاصد ، يعني اثبات د رسالت ، صداقت د قرآن او ثمره د توحيد ذکر کوي .

سورة المعارج مكية

نزلاً ۷۹ بعد الحاقة مصحفاً ۷۰ بعد الحاقة

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل کښې نزول د عذاب ذکر شو دلته آيت ۲ کښې وائي : ﴿لَيْسَ لَهٗ دَافِعٌ﴾.
۲) ما قبل آيت ۱٦ کښې ذکر شو : ﴿وَانْشَقَّتِ السَّمَآءُ فَهِيَ يَوْمَئِذٍ وَّاهِيَةٌ﴾ دلته آيت ۸ کښې وائي : ﴿يَوْمَ تَكُوْنُ السَّمَآءُ كَالْمُهْلِ﴾ ترقي ده په ما سبق باندي.

۳) ما قبل آیت ١٤ کښې ذکر شو : ﴿ وَحُمِلَتِ الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةً وَاحِدَةً﴾ دلته آیت ۹ کښې په هغې باندې ترقي ده : ﴿ وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ﴾.

٤) ما قبل آیت ۳٥ کښې ذکر شو : ﴿ فَلَيْسَ لَهُ الْيَوْمَ هٰهُنَا حَمِيمٌ﴾ دلته آیت ۱۰ کښې ئې تفصیل کوي : ﴿وَلَا يَسْئَلُ حَمِيمٌ حَمِيمًا﴾.

٥) ما قبل آیت ۳۱ کښې ذکر شو : ﴿ ثُمَّ الْجَحِيمَ صَلُّوهُ﴾ دلته آیت ١٥ تا ١٧ کښې په هغې باندې زیادت او ترقي ده.

٦) ما قبل آیت ٣٤ کښې ذکر شو : ﴿وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ الْمِسْكِينِ﴾ دلته آیت ١٩ کښې ئې علت ذکر کوي دا څکه چې انسان تر ډیر "حریص" دے : ﴿إِنَّ الْإِنسَانَ خُلِقَ هَلُوعًا﴾.

٧) ما قبل آیت ٤٧ کښې ذکر شو : ﴿ فَمَا مِنكُم مِّنْ أَحَدٍ عَنْهُ حَاجِزِينَ﴾ دلته ٢٨ کښې په هغې باندې زیادت او ترقي ده : ﴿إِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمْ غَيْرُ مَأْمُونٍ﴾.

٨) ما قبل آیت ٢١ ، ٢٢ کښې بشارت ذکر شو : ﴿ فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ ۝٢١ فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٍ﴾ دلته آیت ٣٥ کښې هم بشارت دے : ﴿ أُولَٰئِكَ فِي جَنَّاتٍ مُّكْرَمُونَ﴾.

٩) ما قبل آیت ٤٠ کښې صداقت د پیغمبر عليه السلام ذکر شو چونکه خلقو ورته شاعر وغیره وئیل نو دلته آیت ٥ کښې پیغمبر عليه السلام ته تسلي ورکوي که خلق بدي ردي کوي نو ته مه خفه کیږه.

١٠) ما قبل آیت ٣٣ ، ٣٤ کښې ئې اوصاف د کفارو ذکر کړل دلته آیت ١٧ تا ٢١ کښې زیادت کوي په هغې باندې.

١١) ما قبل آیت ٢٠ کښې د مؤمنانو یو صفت ذکر شو دلته آیت ٢٢ تا ٣٤ کښې د مؤمنانو صفات کثیره ذکر کوي.

١٢) ما قبل آيت ٤٣ او آيت ٤٨ كښې ترغيب الى القرآن وو دلته آيت ٣٦، ٣٧ كښې د قرآن نه نفرت د كافرانو ذكر كوي .

١٣) د ما قبل اختتام د مقاصد اربعه نه په توحيد باندې وو : ﴿فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ﴾ د دي سورت اختتام كوي د مقاصد اربعه نه په اثبات د قيامت باندي : ﴿ ذَٰلِكَ الْيَوْمُ الَّذِي كَانُوا يُوعَدُونَ﴾

١٤) ما قبل كښې منكرينو ته تخويف ذكر شو په راتلو د عذاب سره دلته ابتداء د سورت كښې زجر منكرينو ته په مطالبې د عذاب باندي وركوي .

١٥) ما قبل آيت ٢٥ تا ٣٢ كښې منكرينو ته تخويف اخروي ذكر شو دلته آيت ٤٣، ٤٤ كښې هم تخويف آخراوي ذكر كوي خو دا د ابتدائي وخت حالات دي .

امتيازات:

(١) دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په ذكر كولو د طول (اوږدوالي) د وخت د عذاب باندي ، آيت ٤ .

(٢) په خصوصي تسلي وركولو باندي نبي ﷺ ته ، آيت ٥ .

(٣) په خصوصي اوصافو د جهنم باندي ، آيت ١٥ تا ١٧ .

(٤) په خصوصي اوصافو د جهنميانو باندي ، آيت ١٧ تا ١٨ .

(٥) په اوصاف قبيحه د انسان باندي ، آيت ١٩ تا ٢١ .

(٦) په ذكر د فناء د عالم باندي خصوصي الفاظو سره ، آيت ٨ ، ٩ .

(٧) په خصوصي حالت د مجرم باندي په ورځ د قيامت ، آيت ١١ تا ١٤ .

(٨) په خصوصي وصف د الله تعالى چې ذي المعارج دے ، آيت ٣ .

(٩) په خصوصي اوصافو د مؤمنانو باندي ، آيت ٢٢ تا ٣٤ .

(١٠) په خصوصي بشارت باندي مؤمنانو ته ، آيت ٣٥ .

(١١) په خصوصي زجر باندي كافرانو ته ، آيت ٣٦ تا ٣٩ .

(۱۲) په تخويف دنيوي باندي خصوصي الفاظو سره ، آيت ٤٠ تا ٤١ .

(۱۳) په تخويف اخروي باندي خصوصي الفاظو سره ، آيت ٤٢ تا ٤٤ .

(١٤) په لفظ د "هَلُوْعًا" باندي ، آيت ١٩ .

(١٥) په افتتاح د سورت په "سَاَلَ سَآىِٕلٌ" سره ، آيت ١ .

دعوی:

الزجر و التخويف لمنكري القيامة .

خلاصه:

دا سورت تنوير دے ماسبق باندي ، ما قبل کښې چې کوم مضامين {اثبات د قيامت ، اثبات د رسالت ، ترغيب الى القرآن ، اوصاف د اصحاب اليمين او اصحاب الشمال ، تخويف کافرانو ته او بشارت مؤمنانو ته} ذکر شو نو دلته د هغي تفصيل او وضاحت کوي .

سورة نوح مكية

نزولاً ٧١ بعد النحل   مصحفاً ٧١ بعد المعارج

«ربط د ما سبق سره»

١) ما قبل سورت آيت ٣٦ کښې ذکر شو : ﴿فَمَالِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا قِبَلَكَ مُهْطِعِيْنَ﴾ دلته آيت ٦ کښې وائي چې د نوح عليه السلام نه هم خلق تختيدل .

٢) ما قبل آيت ٣٩ کښې ذکر شو : ﴿اِنَّا خَلَقْنٰهُمْ﴾ دلته آيت ١٤ کښې وضاحت کوي : ﴿ وَقَدْ خَلَقَكُمْ اَطْوَارًا﴾ .

٣) ما قبل آيت ١٤ کښې ذکر شو : ﴿ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا ثُمَّ يُنْجِيْهِ﴾ دلته آيت ٢٥ کښې د قوم نوح عليه السلام باره کښې وائي : ﴿ فَلَمْ يَجِدُوْا لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَنْصَارًا﴾ .

٤) ما قبل آيت ١٧ تا ٢١ کښې اوصاف قبيحه د کافرانو ذکر شو دلته آيت ٢١ تا ٢٤ کښې نوراوصاف قبيحه د کافرانو ذکر کوي .

٥) ما قبل ابتداء او اختتام کښې اثبات د قيامت اوشو دلته آيت ١٥ تا ٢٠ کښې دا مسئله په دلائلو باندي ثابتوي .

٦) ما قبل اختتام کښې د مقاصد اربعه نه اثبات د قيامت ذکر شو دلته ابتداء کښې د مقاصد اربعه نه بل مضمون يعني اثبات د توحيد ذکر کوي : ﴿أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ ﴾.

٧) ما قبل آيت ٥ کښې تسلي ذکر شوه نبي عليه السلام ته : ﴿فَاصْبِرْ صَبْرًا جَمِيلًا﴾ دلته په دي باندي واقعه د نوح عليه السلام ذکر کوي .

٨) ما قبل آيت ١٩ کښې ذکر شو : ﴿إِنَّ الْإِنسَانَ خُلِقَ هَلُوعًا﴾ دلته آيت ٢١ کښې وائي چي محبت د مال او اولاد سبب دتاوان د آخرت دے : ﴿ وَاتَّبَعُوا مَن لَّمْ يَزِدْهُ مَالُهُ وَوَلَدُهُ إِلَّا خَسَارًا﴾ .

٩) ما قبل آخر کښې تخويف اخروي ذکر شو دلته آيت ٢٥ کښې تخويف دنيوي ذکر کوي .

١٠) ما قبل آيت ٣٥ کښې بشارت اخرويه وو : ﴿أُولَٰئِكَ فِي جَنَّاتٍ مُّكْرَمُونَ﴾ دلته آيت ١٢ کښې بشارت دنياويه دے : ﴿وَيَجْعَل لَّكُمْ جَنَّاتٍ﴾ .

١١) ما قبل آيت ٤٠ کښې پيغمبر عليه السلام ته "رسول کريم" وئيلي وو دلته آيت ٢ کښې د نوح عليه السلام قول ذکر کوي : ﴿ قَالَ يَا قَوْمِ إِنِّي لَكُمْ نَذِيرٌ مُّبِينٌ﴾ نو پيغمبر عليه السلام ته ئي "رسول کريم" وئيلي وو او نوح عليه السلام ته "رسول مبين" .

١٢) ما قبل آيت ١٧ ، ١٨ کښې افعال قبيحه د کافرانو ذکر شو دلته آيت ٢٣ کښې قول قبيح د کافرانو ذکر کوي .

امتیازات:

١) داسورت ممتاز دے په واقعي د نوح عليه السلام باندي په خصوصي انداز سره.

٢) په ذکر د فوائدو د عبادت، تقوی، او اطاعت باندي: ﴿ يَغْفِرْ لَكُمْ مِّنْ ذُنُوبِكُمْ وَيُؤَخِّرْكُمْ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى ﴾، آيت ٣، ٤.

٣) په قول د نوح عليه السلام باندي: ﴿ إِنَّ أَجَلَ اللَّهِ إِذَا جَاءَ لَا يُؤَخَّرُ ﴾، آيت ٤.

٤) په قول د نوح عليه السلام باندي: ﴿ رَبِّ إِنِّي دَعَوْتُ قَوْمِي لَيْلًا وَنَهَارًا ﴾، آيت ٥.

٥) په فوائدو داستغفار باندي، آيت ١١، ١٢.

٦) په قول د نوح عليه السلام باندي: ﴿ مَّا لَكُمْ لَا تَرْجُونَ لِلَّهِ وَقَارًا ﴾، آيت ١٣.

٧) په قول د كافرانو باندي: ﴿ لَا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ ﴾، آيت ٢٣.

٨) په ذكر د نومونو د الهو د مشركينو باندي، آيت ٢٣.

٩) په خصوصي خالت د قوم نوح عليه السلام باندي، آيت ٢٥.

١٠) په خيرو {بد دعائی} د نوح عليه السلام باندي، آيت ٢٦.

١١) په دعا د نوح عليه السلام باندي، آيت ٢٨.

١٢) په ذكر د: ﴿ وَلَا تَزِدِ الظَّالِمِينَ إِلَّا ضَلَالًا ﴾، آيت ٢٤ او په ذكر د: ﴿ وَلَا تَزِدِ الظَّالِمِينَ إِلَّا تَبَارًا ﴾، آيت ٢٨.

دعوى:

دليل نقلي د نوح عليه السلام نه سره د تخويف دنيوي او تسلى نه.

خلاصه:

سورت كښې په مسئلې د توحيد باندي واقعه د نوح عليه السلام بطور دليل نقلي او دلائل عقليه ذكر كوي، او د ارنګي طريقه د دعوت او رد په مشركين بالعباد الصالحين، تخويف دنيوي او تحضيض بالتبليغ ذكر كوي.

سورة الجن مكية

نزولاً ٤٠ بعد الاعراف مصحفاً ٧٢ بعد نوح

«ربط د ما سبق سره»

١) ما قبل کښې دليل نقلي ذکر شو د نوح عليه السلام نه دلته دليل نقلي من الجنات ذکر کوي.

٢) ما قبل آيت ٢٣ کښې رد په مشرکين بالعباد الصالحين وو دلته رد په مشرکين بالجن باندي کوي.

٣) ما قبل آيت ١١، ١٢ کښې ذکر شو چې استغفار سبب د فراختيا د رزق دے دلته آيت ١٦ کښې وائي چې استقامت سبب د فراختيا د رزق دے.

٤) ما قبل آيت ١٤ کښې ذکر شو: ﴿وَقَدْ خَلَقَكُمْ أَطْوَارًا﴾ دلته آيت ١١ کښې دجناتو قول ذکر کوي: ﴿كُنَّا طَرَآئِقَ قِدَدًا﴾.

٥) ما قبل آيت ٢٥ کښې ذکر شو: ﴿فَلَمْ يَجِدُوا لَهُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَنْصَارًا﴾ دلته آيت ٢٢ کښې په هغې باندي ترقي ده: ﴿إِنِّي لَنْ يُجِيرَنِي مِنَ اللَّهِ أَحَدٌ وَلَنْ أَجِدَ مِنْ دُونِهِ مُلْتَحَدًا﴾.

٦) ما قبل کښې تحضيض او تشجيع في التبليغ وه، په واقعي د نوح عليه السلام سره دلته تحضيض او تشجيع في التبليغ په واقعي د جناتو سره ذکر کوي.

٧) ما قبل کښې رسالت د نوح عليه السلام بيان شو دلته علامات د رسالت د نبي عليه السلام ذکر کوي.

٨) ما قبل کښې عقلي دلائل ذکر شو په مسئلي د توحيد باندي دلته دليل نقلي د جناتو نه په مسئلي د توحيد باندي ذکر کوي.

۹) ما قبل آيت ۷ کښې اوصاف قبيحه د قوم نوح ذکر شو دلته آيت ٤ تا ۷ کښې اوصاف قبيحه د جناتو ذکر کوي .

۱۰) ما قبل آيت ٦ کښې ذکر شو چې قوم د نوح دغه دعوت اونه مانهٔ دلته آيت ۱۳ کښې وائي چې پيريانو د نبي ﷺ بيان واريده نو هغوئ ايمان راوړو .

۱۱) ما قبل آيت ۱۳ کښې ذکر شو چې نوح ﷺ قوم ته اوئيل : ﴿ مَا لَكُمْ لَا تَرْجُونَ لِلّٰهِ وَقَارًا﴾ يعني تاسو ولې د الله تعالیٰ د عزتمندۍ عقيده نه ساتئ دلته آيت ۳ کښې وائي چې اوګوره پيريانو د الله د عزت مندۍ عقيده ساتله .

۱۲) ما قبل آيت ۲۲ کښې ذکر شو : ﴿ وَمَكَرُوْا مَكْرًا كُبَّارًا﴾ دلته آيت ۱۹ کښې تفصيل کوي : ﴿وَّاَنَّهٗ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللّٰهِ يَدْعُوْهُ كَادُوْا يَكُوْنُوْنَ عَلَيْهِ لِبَدًا﴾.

۱۳) ما قبل آيت ۲۱ کښې نفي د تصرف اوشوه د نوح ﷺ نه دلته آيت ۲۱ کښې نفي د تصرف د نبي ﷺ نه کوي .

۱٤) ما قبل کښې ذکر د صالحينو او طالحينو (اوشو) اوشو د انسانانو نه دلته آيت ۱۱ کښې د جناتو د صالحينو او طالحينو بيان کوي .

۱۵) ما قبل آيت ۲۸ کښې ذکر شو : ﴿وَلَا تَزِدِ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا تَبَارًا﴾ دلته آيت ۱۵ کښې د ظالمانو سزا ذکر کوي : ﴿وَاَمَّا الْقٰسِطُوْنَ فَكَانُوْا لِجَهَنَّمَ حَطَبًا﴾

امتيازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په قول د جِنّاتو باندي :﴿اِنَّا سَمِعْنَا قُرْاٰنًا عَجَبًا﴾،آيت ۱.

۲) په دي قول د جناتو باندي : ﴿ وَلَنْ نُّشْرِكَ بِرَبِّنَآ اَحَدًا﴾، آيت ۲ .

۳) په دي قول د جناتو باندي : ﴿وَّاَنَّهٗ تَعٰلٰى جَدُّ رَبِّنَا مَا اتَّخَذَ صَاحِبَةً وَّلَا وَلَدًا﴾،آيت ۳ .

٤) په قول د جناتو باندي : ﴿ وَاَنَّا ظَنَنَّآ اَنْ لَّنْ تَقُوْلَ الْاِنْسُ وَ الْجِنُّ عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا﴾، آيت ٥.

٥) په قول د جناتو باندي : ﴿ وَاَنَّهٗ كَانَ يَقُوْلُ سَفِيْهُنَا عَلَى اللّٰهِ شَطَطًا﴾ ، آيت ٤ .

٦) په پناه غوښتلو د انسانانو په سرو د پيريانو سره ، آيت ٦.

٧) په ذكر دعلاماتو د رسالت د نبي عليه السلام باندي ، آيت ٩.

٨) په ذكر د صاليحنو او طالحينو د پيريانو باندي ، آيت ١١.

٩) په دي قول د جناتو باندي : ﴿كُنَّا طَرَآئِقَ قِدَدًا﴾ ، آيت ١١ .

١٠) په دي قول د جناتو باندي : ﴿ وَّاَنَّا ظَنَنَّآ اَنْ لَّنْ نُّعْجِزَ اللّٰهَ فِي الْاَرْضِ وَلَنْ نُّعْجِزَهٗ هَرَبًا﴾ ، آيت ١٢ .

١١) په دي قول د جناتو باندي : ﴿ فَمَنْ يُّؤْمِنْ بِرَبِّهٖ فَلَا يَخَافُ بَخْسًا وَّ لَا رَهَقًا﴾،آيت١٣ .

١٢) په دي قول د الله تعالٰى باندي : ﴿ وَّ اَنَّ الْمَسٰجِدَ لِلّٰهِ فَلَا تَدْعُوْا مَعَ اللّٰهِ اَحَدًا﴾،آيت ١٨ .

١٣) په اعلان د نبي عليه السلام باندي : ﴿اِنَّمَآ اَدْعُوْا رَبِّيْ وَلَآ اُشْرِكُ بِهٖٓ اَحَدًا﴾ ، آيت ٢٠.

١٤) په نفي د تصرف د نبي عليه السلام نه خصوصي الفاظو باندي ، آيت ٢١ ، ٢٢ .

١٥) په دي باندي چي استقامت سبب د فراختيا د زرق دے :﴿وَّاَنْ لَّوِ اسْتَقَامُوْا عَلَى الطَّرِيْقَةِ لَاَسْقَيْنٰهُمْ مَّآءً غَدَقًا﴾.

دعوى:

نفي د شرک اعتقادي او واقعه دجناتو بطور دليل نقلي په مسئلې د توحيد باندي.

خلاصه:

ابتداء د سورت کښې ترغيب الى القرآن او نفي د شرک په واقعې د جناتو سره بيا رد په مشرکين بالجن ، اثبات د رسالت په علاماتو د رسالت آيت ۸ (تا ۱۲ ، ترغيب توحيد او قرآن ته ، بيان د دوؤ دلو د جناتو ، ادخال الٰهي د پاره د تخويف ، ترغيب او د پاره د نفي د شرک في الدعاء او په آخر د سورت کښې رد د اشراک ثلاثه {شرک في التصرف ، شرک في الدعاء ، او شرک في العلم} کوي د پاره د رد په مشرکينو باندې

سُوْرَةُ الْمُزَّمِّلِ مَكِّيَّةٌ

نزولاً ۳ بعد القلم — مصحفاً ۷۳ بعد الجن

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل کښې رد د شرک اوشو مکمل دلته آيت ۹ کښې قرآن کريم ته ترغيب ورکوي چې قرآن د دې مسئلې : "لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ" د پاره رالیږلے شوے دے .

۲) ما قبل کښې اثبات د توحيد اوشو دلته آيت ۲۰ کښې وائي د دې مسئلې د اشاعت د پاره تنظيم جوړ کړه .

۳) ما قبل آيت ۲۳، ۲۴ کښې تخويف اخروي ذکر شو دلته آيت ۱۲ تا ۱٤ کښې هم تخويف مجرمينو ته ورکوي .

٤) ما قبل کښې ترغيب الى القرآن وو په واقعې د جناتو سره دلته هم ترغيب الى القرآن دے .

۵) ما قبل کښې اثبات د رسالت د نبي ﷺ وو دلته آيت ۱۵ کښې هم دغه مضمون ذکر کوي .

٦) ما قبل آيت ١٩ كښې او د ريډل د نبي عليه السلام ذكر شو د پاره دعوت ﴿وَأَنَّهُ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللَّهِ يَدْعُوهُ﴾ دلته آيت ٢ كښې او د ريډل د نبي عليه السلام د پاره دلوستلو د قرآن ذكر كوي.

٧) ما قبل كښې آيت ٢٠، ٢١ وغيره كښې نبي عليه السلام ته اوامر ذكر شو دلته ابتداء د سورت كښې نور اوامر نبي عليه السلام ته ذكر كوي.

٨) ما قبل ٢٢ كښې ذكر شو: ﴿وَلَنْ أَجِدَ مِن دُونِهِ مُلْتَحَدًا﴾ دلته آيت ٩ كښې وائي: ﴿لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَاتَّخِذْهُ وَكِيلًا﴾.

٩) ما قبل آيت ٢ كښې ذكر شو: ﴿يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ﴾ دلته آيت ١٩ كښې وائي: ﴿إِنَّ هَٰذِهِ تَذْكِرَةٌ﴾.

١٠) ما قبل آيت ٢٦ كښې ذكر شو چې عالم الغيب الله تعالى دے دلته آيت ٢٠ كښې هم دغه مسئله په نورو الفاظو باندې ذكر كوي.

١١) ما قبل آيت ٢٣ كښې تخويف اخروي وو دلته آيت ١٦ كښې تخويف دنيوي دے.

١٢) ما قبل كښې ترغيب الى القرآن وو كله چې قرآن بيانوي نو خلق به بدي ردي كوي نو دلته آيت ١٠ كښې تسلي وركوي: ﴿وَاصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ﴾

١٣) ما قبل آيت ٢٣ كښې تخويف ذكر شو نافرمانو د الله تعالى او د پيغمبر عليه السلام ته دلته آيت ٢٠ كښې تابعدارو د الله او پيغمبر عليه السلام ته بشارت وركوي.

١٤) ما قبل آيت ١، ٢ كښې قرآن كريم ته ترغيب ذكر شو دلته آيت ١٦ كښې په واقعې د فرعون مبغوضينو د قرآن او مغرضينو د حكم الهي ته تخويف وركوي

١٥) ما قبل كنبې مسئله د توحيد ثابته شوه په رد د اشراكو باندي دلته آيت ٩ كنبې مختصر او واضح الفاظو باندي مسئله د توحيد ذكر كوي : ﴿ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ﴾.

يا مخكنبې مسئله د توحيد په رد د اشراكو باندي ثابته شوه دلته په دليل عقلي ﴿رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ ﴾ باندي مسئله د توحيد ثابتوي .

امتيازات:

١) په خصوصي خطاب باندي نبي ﷺ ته : ﴿يٰٓاَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ﴾، آيت ١ .

٢) په ترغيب الى قيام الليل باندي ، آيت ٢.

٣) په دري اقسامو د اركانو د جماعت باندي : {١} معلمين (مدرسين) . {٢}مجاهدين . {٣} منفقين ، آيت ٢٠ .

٤) په امر د الله تعالى باندي نبي ﷺ ته : ﴿وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلًا﴾، آيت ٤ .

٥) په قول د الله تعالى باندي : ﴿اِنَّا سَنُلْقِيْ عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيْلًا﴾، آيت ٥ .

٦) په قول د الله تعالى باندي : ﴿اِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ سَبْحًا طَوِيْلًا﴾، آيت ٧ .

٧) په قول د الله تعالى باندي : ﴿وَتَبَتَّلْ اِلَيْهِ تَبْتِيْلًا﴾، آيت ٨ .

٨) په قول د الله تعالى باندي : ﴿ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَاتَّخِذْهُ وَكِيْلًا﴾ ، آيت ٩ .

٩) په قول د الله تعالى باندي : ﴿ وَاهْجُرْهُمْ هَجْرًا جَمِيْلًا﴾ ، آيت ١٠ .

١٠) په ذكر د : ﴿ وَّطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ﴾ باندي ، آيت ١٣.

١١) په خصوصي تخويف دنيوي باندي : ﴿فَعَصٰى فِرْعَوْنُ الرَّسُوْلَ فَاَخَذْنٰهُ اَخْذًا وَّبِيْلًا﴾ ، آيت ١٦ .

١٢) په خصوصي تخويف اخروي باندي:﴿يَوْمًا يَّجْعَلُ الْوِلْدَانَ شِيْبًا﴾،آيت١٨،١٧.

۱۰) په تقسیم داوقاتو دقیام اللیل باندي : ﴿ اِنَّ رَبَّكَ يَعۡلَمُ اَنَّكَ تَقُوۡمُ اَدۡنٰى مِنۡ ثُلُثَيِ الَّيۡلِ﴾ ، آیت ۲۰ .

۱۱) په ذکر د : ﴿ فَاقۡرَءُوۡا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الۡقُرۡاٰنِ﴾ باندي ، آیت ۲۰.

۱۲) په ذکر د : ﴿ كَثِيۡبًا مَّهِيۡلًا﴾ باندي ، آیت ۱٤ .

دعوى:

الترغیب الی القرآن مع بیان مسئلة التوحید .

خلاصه:

سورت کښې ترغیب الی القرآن او تحضیض (تیزي ورکول) په لوستلو د قرآن باندي د ورځي او شپي او ترغیب قراءت اللیل ته ورکوي ځکه چي ستا ملګري به غریبانان وي د ورځي به اوزګار نه وي دارنګه د الله د حکم او د الله د کتاب نه مخ اړونکوته په واقعي د فرعون سره تخویف ورکوي ، چونکه په سورت کښې ترغیب الی القرآن او ذکر د توحید دے نو آخر کښې ترغیب الی الجهاد و الانفاق د پاره د دي مسئلي او د پاره د جوړولو د جماعت ذکر کوي.

سورة المدثر مكية

نزولاً ۴ بعد المزمل   مصحفاً ۷۴ بعد المزمل

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل کښې ترغیب الی القرآن وو دلته ابتداء کښې تحضیض ورکوي په تبلیغ د قرآن باندي .

۲) ما قبل آیت ۱٦ کښې د موسٰی علیه السلام د دشمن (فرعون)حالت ذکر شو دلته آیت ۱٦تا ۲۵ کښې د نبي علیه السلام د دشمن حالات ذکر کوي .

٣) ما قبل آيت ۲۰ کښي ذکر شو : ﴿وَمَا تُقَدِّمُوا لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ﴾ دلته د خير تفصيل کوي چې هغه تبليغ او قراءت د قرآن دے .

٤) ما قبل آيت ۱۳، ۱٤ کښي تخويف اخروي ذکر شو دلته آيت ۲٦ تا ۳۱ کښي په هغي باندي زيادت او ترقي ده .

٥) ما قبل ابتداء کښي ترغيب الى القرآن وو دلته آيت ٤۹ ، تا ٥۱ کښي معرضينو د قرآن ته زجر ورکوي .

٦) ما قبل آيت ۱۱ کښي ذکر شو : ﴿ وَذَرْنِي وَالْمُكَذِّبِينَ أُولِي النَّعْمَةِ﴾ دلته آيت ۱۱ کښي وائي : ﴿ذَرْنِي وَمَنْ خَلَقْتُ وَحِيدًا ۝ وَجَعَلْتُ لَهُ مَالًا مَّمْدُودًا ۝ وَبَنِينَ شُهُودًا﴾ ترقي ده ماسبق باندي .

٧) ما قبل آيت ۱۰ کښي امر بالصبر تسلي وه نبي ﷺ ته ﴿ وَاصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ﴾ دلته آيت ۷ کښي هم (تسلي) ده امر بالصبر دے : ﴿وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ﴾ .

٨) ما قبل آيت ۱۵ کښي اثبات د رسالت اوشو : ﴿إِنَّا أَرْسَلْنَا إِلَيْكُمْ رَسُولًا﴾ دلته آيت ۲ کښي فريضه د رسالت ذکر کوي چې هغه دعوت دے ﴿قُمْ فَأَنذِرْ﴾ .

٩) ما قبل آخري آيت ۲۰ کښي ذکر شو : ﴿وَاسْتَغْفِرُوا اللَّهَ﴾ دلته آخري آيت کښي وائي : ﴿هُوَ أَهْلُ التَّقْوَىٰ وَأَهْلُ الْمَغْفِرَةِ﴾ ترقي علی ما سبق ده .

۱۰) ما قبل ابتداء کښي څه اوامر ذکر شو دلته ابتداء کښي نور اوامر ذکر کوي .

۱۱) ما قبل ابتداء کښي صرف اوامر ذکر شو دلته ابتداء کښي اوامرو سره يو نهي هم ذکر کوي : ﴿وَلَا تَمْنُن تَسْتَكْثِرُ﴾ ترقي ده ماسبق باندي .

۱۲) ما قبل کښي ترغيب الى القرآن ذکر شو دلته آيت ٦ (تا ۵۰ کښي احوال د دشمن د قرآن ذکر کوي .

۱۳) ما قبل آیت ۱۹ کښې صداقت د قرآن ذکر شو : ﴿ اِنَّ هٰذِهٖ تَذْكِرَةٌ ﴾ دلته آیت ٥٤ کښې هم وائي : ﴿كَلَّآ اِنَّهٗ تَذْكِرَةٌ﴾.

۱٤ـ ما قبل آیت ۱۹ کښې ترغیب الی القرآن وو دلته آیت ٤٩ کښې حالت د معرضینو د قرآن ذکر کوي.

۱٥) ما قبل د نبي ﷺ په یو نوم " الْمُزَّمِّلُ " باندې شروع وو دا سورت د نبي ﷺ په بل نوم " الْمُدَّثِّرُ " باندې شروع کوي .

امتیازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په خصوصي خطاب باندې نبي ﷺ ته : ﴿يٰٓاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ﴾، آیت ۱ .

۲) په تحضیض في التبلیغ او په کیفیت د تبلیغ باندې، آیت ۲ تا ۷ .

۳) په احوالو د معرض عن القرآن باندې، آیت ۱٦ تا ۲٥ .

٤) په سزا د معرض عن القرآن باندې، آیت ۲٦ .

٥) په ذکر د سقر او د حالاتو د سقر باندې، آیت ۲٦ تا ۲۹ .

٦) په ذکر د تعداد د ملائکو کومي چې په جهنم مقرر دي : ﴿عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ﴾، آیت ۳۰ .

۷) په حکم د الله تعالی باندې : ﴿ قُمْ فَاَنْذِرْ﴾، آیت ۲ .

۸) په حکم د الله تعالی باندې : ﴿ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ﴾، آیت ۳ .

۹) په حکم د الله تعالی باندې : ﴿ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ﴾، آیت ٤ .

۱۰) په حکم د الله تعالی باندې : ﴿وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ ﴾ ، آیت ٥ .

۱۱) په نهی د الله تعالی باندې : ﴿وَلَا تَمْنُنْ تَسْتَكْثِرُ﴾ ، آیت ٦ .

۱۲) په حکم د الله تعالی باندې : ﴿وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ﴾، آیت ۷ .

۱۳) په قول د الله تعالیٰ باندي : ﴿ فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُوْرِ ﴾ ، آیت ۸ .

۱٤) په ذکر د : ﴿النَّاقُوْرِ﴾ باندي ، آیت ۸ .

۱۵) په قول د الله تعالیٰ باندي : ﴿وَالصُّبْحِ اِذَآ اَسْفَرَ﴾ ، آیت ۳٤ .

۱٦) په قول د الله تعالیٰ باندي : ﴿ كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ رَهِيْنَةٌ﴾ ، آیت ۳۸ .

۱۷) په تپوس دٰ اصحاب اليمين باندي د مجرمانونه : ﴿مَا سَلَكَكُمْ فِيْ سَقَرَ﴾ ، آیت ٤۲ .

۱۸) په اوصاف قبيحه د مجرمانو باندي او په عللو د دخول د دوی جهنم ته آیت ٤۳ تا ٤٦ .

۱۹) په خصوصي زجر باندي معرضينو د قرآن ته آیت ٤۹ تا ۵۱ .

۲۰) په ذکر د : ﴿ قَسْوَرَةٍ﴾ باندي ، آیت ۵۱ .

۲۱) په قول د الله تعالیٰ باندي : ﴿هُوَ اَهْلُ التَّقْوٰى وَاَهْلُ الْمَغْفِرَةِ ﴾ ، آیت ٥٤ .

۲۲) په شاهد ګرځولو د سپوږمۍ په حالت د نبي ﷺ باندي : ﴿ كَلَّا وَالْقَمَرِ﴾ ، آیت ۳۲ .

دعوی:

تحضيض في التبليغ او تسلي نبي ﷺ ته .

خلاصه:

سورت کښې وره / ۷ خبري ذکر کوي :

{۱} تحضيض في التبليغ او تسلي نبي ﷺ ته آیت ۱ تا ۷ . {۲} تخویف اخروي آیت ۸ تا ۱۰ . {۳} اوصاف د معاند د قرآن او احوال د ده په وخت د لوستلو د قرآن کښې ، آیت ۱۱ تا ۳۱ . {٤} صداقت د پيغمبر ﷺ او مثال ورکوي د ده د سپوږمۍ سره د پاره د تسلی د ده يعني څنګه چې سپوږمۍ اول وره وي بيا رو

رو غتېږي تر دي پوري چې څوارلسمي ته ورسيږي نو هر څوک ئې ويني دارنګه ستا درجه به اوچته کړے شي ، آيت ۳۲ تا ۳٦ . {٥} تخويف اخروي ثانياً او علت د دوی تکذيب وو چې قيامت ئې نۀ مانۀ آيت ۳۷ تا ٤۷ . {٦}نفي د شفاعت قهري ، آيت ٤۸ . {۷} زجرمعرضينو د قرآن ته او سورت په بشارت د موحدينو ختموي ، آيت ٤۹ تا آخر .

سورة القيامة مكية

نزولاً ۳۱ بعد القارعة مصحفاً ۷۵ بعد المدثر

د دي ځائي نه دولس سورتونو کښې اثبات د قيامت بالترقي دے ، دارنګي احوال د آخرت او دلائل په اثبات د قيامت باندي د عالم علوي او سفلي ختميدل ذکر کوي .

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل کښې ترغيب الى القرآن وو دلته اثبات د قيامت او تخويف معرضينو د قرآن ته ورکوي .

۲) ما قبل آيت ٤۳ کښې ذکر شو : ﴿قَالُوْا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّيْنَ﴾ دلته وائي چې بيا به ځان ملامته کوي :﴿وَلَآ اُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ﴾، آيت ۲ .

۳) ما قبل آيت ۲۲ کښې ذکر شو : ﴿عَبَسَ وَبَسَرَ﴾دلته آيت ۲٤ کښې وائي : ﴿وَوُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍۢ بَاسِرَةٌ﴾ .

حاصل د ربط دا دے : چې دنيا کښې ئې شکل روان کړے وو نو هلته به هم بد رنګ وي .

٤) ما قبل آيت ۲۳ کښې ذکر شو : ﴿ثُمَّ اَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ﴾ دلته آيت ۳۲ کښې په معني باندي ترقي ده : ﴿وَلٰكِنْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى﴾

٥) ما قبل آيت ٥٣ کښې ذکر شو چې دوی د آخرت نه نه يريږي : ﴿ كَلَّا ۖ بَل لَّا يَخَافُونَ الْآخِرَةَ﴾ دلته آيت ٢٠ کښې وائي دا ځکه چې دنيا سره ئې مينه ده او دلته ئې مخاطب کوي .

٦) ما قبل آيت ٢٦ تا ٣١ کښې تخويف اخروي ذکر شو دلته آيت ٧ تا ١٥ کښې تفصيلي تخويف اخروي ذکر کوي .

٧) ما قبل ٥٤ کښې ترغيب الى القرآن وو : ﴿ كَلَّا إِنَّهُ تَذْكِرَةٌ﴾ دلته آيت ١٨ کښې هم ترغيب الى القرآن دے : ﴿ فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ﴾

٨) ما قبل آيت ٥٤ کښې ترغيب الى القرآن وو دلته آيت ١٦ تا ١٨ کښې آداب متعلم د قرآن ته ذکر کوي .

٩) ما قبل آيت ٥٠ کښې ذکر شو : ﴿كَأَنَّهُمْ حُمُرٌ مُّسْتَنفِرَةٌ ۝٥٠ فَرَّتْ مِن قَسْوَرَةٍ﴾ دلته آيت ١٠ کښې وائي چې هلته به هم وائي : ﴿أَيْنَ الْمَفَرُّ﴾

١٠) ما قبل آيت ١٨ تا ٢٥ کښې احوال د معاند د قرآن ذکر شو دلته آيت ٣١ تا ٣٣ کښې نور احوال د معاند د قرآن ذکر کوي .

١١) ما قبل کښې تخويف وو منکرينو ته دلته اثبات د قيامت کوي د پاره د تخويف د منکرينو .

١٢) ما قبل آيت ٤٩ تا ٥٣ کښې معرضينو د قرآن ته زجر وو دلته آيت ١٦ تا ١٨ کښې ترغيب الى القرآن او عظمت د قرآن ذکر کوي .

١٣) ما قبل کښې مقاصد ثلاثه (توحيد ، رسالت ، صداقة الكتاب) ذکر شو دلته مقصد رابع " اثبات د قيامت " ذکر کوي د پاره د اتمام د مقاصد اربعه عاليه .

۱٤) ما قبل آیت ۳۷ کښې ذکر شو : ﴿لِمَنْ شَآءَ مِنْكُمْ اَنْ يَّتَقَدَّمَ اَوْ يَتَاَخَّرَ﴾ دلته آیت ۱۳ کښې وائي : ﴿ يُنَبَّؤُا الْاِنْسَانُ يَوْمَىِٕذٍۭ بِمَا قَدَّمَ وَاَخَّرَ﴾ ترقي ده ماسبق باندې .

۱۵) ما قبل آیت ۳۹ او ٤۱ کښې دوه قسمه خلق ذکر شو {۱}اصحاب اليمين . {۲} اصحاب الشمال دلته آیت ۲۲ تا۲۵ کښې د دوارو حالات ذکر کوي اوله ډله : ﴿وُجُوْهٌ يَّوْمَىِٕذٍ نَّاضِرَةٌ﴾ او دویمه ډله : ﴿وَوُجُوْهٌ يَّوْمَىِٕذٍۭ بَاسِرَةٌ﴾ .

۱٦) ما قبل آیت ٥٤ کښې ترغیب الی القرآن ذکر شو دلته آیت ۱٦ تا ۱۹ کښې حرص د نبي عليه السلام په زده کولو د قرآن ذکر کوي .

۱۷) ما قبل آیت ٤۳ کښې جرم د مجرمانو ذکر شو مونځ نه کول دلته آیت ۳۱ کښې هم د دوی دغه جرم ذکر کوي : ﴿ فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلّٰى﴾

۱۸) ما قبل آیت ۲۳ کښې د معاند د قرآن دوه جرمونه ذکر شو : ﴿ثُمَّ اَدْبَرَ وَ اسْتَكْبَرَ﴾ دلته آیت ۳٦ تا ۳۹ کښې زجر ورته ورکوي چې دے قرآن ته شا کوي نو د ده څه خیال دے ؟ چې ګني دے مهمل پیدا دے : ﴿اَيَحْسَبُ الْاِنْسَانُ اَنْ يُّتْرَكَ سُدًى﴾ او دویم دے تکبر کوي نو دهٔ خپل حقیقت ته سوچ کړي دے چې دے د څه نه پیدا دے ؟ ﴿ اَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّنْ مَّنِيٍّ يُّمْنٰى﴾

۱۹) ما قبل آیت ۳۸ کښې ذکر شو : ﴿كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ رَهِيْنَةٌ﴾ دلته آیت ۱۳ کښې په هغې باندې ترقي ده : ﴿ يُنَبَّؤُا الْاِنْسَانُ يَوْمَىِٕذٍۭ بِمَا قَدَّمَ وَاَخَّرَ﴾

۲۰ـ ما قبل آیت ٤٦ کښې تکذیب د مجرمینو ذکر شو چې قیامت ئې نه مانهٔ : ﴿وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ الدِّيْنِ﴾ دلته آیت ۳۲ کښې هم د دوی دغه جرم ذکر کوي : ﴿ وَلٰكِنْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى﴾ په ترقی سره د ماسبق نه

امتيازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په قول د الله تعالیٰ باندي:﴿لَآ أُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ﴾،آيت۱.

۲) په ذکر دنفس لوامه باندي ،آيت ۲ .

۳) په خصوصي زجر منكر د قيامت ته : ﴿أَيَحْسَبُ الْإِنْسَانُ أَلَّنْ نَّجْمَعَ عِظَامَه﴾، آيت ۳ .

٤) په ذکر د بندونو د انسان باندي ،آيت ٤ .

٥) په خصوصي احوالو د قيامت باندي ،آيت ۷تا ۱٥ .

٦) په قول د الله تعالیٰ باندي : ﴿ لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِه﴾، آيت ١٦ .

۷) په قول د الله تعالیٰ باندي : ﴿ اِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهٗ وَقُرْاٰنَه﴾، آيت ۱۷ .

۸) په قول د الله تعالیٰ باندي : ﴿ فَاِذَا قَرَاْنٰهُ فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَه﴾، آيت ۱۸ .

۹) په قول د الله تعالیٰ باندي : ﴿ثُمَّ اِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهٗ﴾ ، آيت ۱۹ .

۱۰) په ذکر د دوه قسمه خلقو باندي ، آيت ۲۲ ، ۲٤ .

۱۱) په ذکر دحالاتو د دغه دواړوقسمه خلقو باندي ، آيت ۲۳ ، ۲٥ .

۱۲) په ذکر د " التَّرَاقِيَ " باندي ، آيت ٢٦.

۱۳) په ذکر د " رَاقٍ " دم اچونکی باندي ، آيت ۲۷.

١٤) په قول د باری تعالیٰ باندي : ﴿ وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقِ﴾، آيت ۲۹ .

۱٥) په قول د باری تعالیٰ باندي : ﴿اِلٰى رَبِّكَ يَوْمَئِذِنِ الْمَسَاقُ﴾، آيت ۳۰ .

١٦) په ذکر د اوصاف خمسه د کافر باندي ، آيت ۳۱ تا ۳۳ .

۱۷) په لفظ د " يَتَمَطّٰى "باندي ، آيت ۳۳ .

۱۸) په ذکر د خلور / ٤ څله لفظ د " اَوْلٰى" باندي ، آيت ۳٤ ، ۳٥.

۱۹) په قول د باری تعالی باندي : ﴿ أَيَحْسَبُ الْإِنسَانُ أَن يُتْرَكَ سُدًى ﴾ ، آيت ۳٦.

۲۰ـ په فائده نه ورکولو د عذرونو باندي مجرم ته : ﴿وَلَوْ أَلْقَىٰ مَعَاذِيرَهُ﴾.

دعوى:

اثبات القيامة و الزجر للمنكرين .

خلاصه:

سورت کښې څلور / ٤ خبري ذکر کوي : {۱}اثبات د قيامت او زجر منکرينو د قيامت ته . {۲} علامات د قيامت او يره ، حيرانيدل او افسوس د انسان ذکر کوي . {۳} ادخال الٰهي د پاره د تسلی د نبي ﷺ . {٤} زجر په محبت د دنيا څکه دا انسان د الله د دين نه اړوي بيا بشارت آيت ۲۲ او تخويف آيت ۲٤ کښې ، بيا مشرکينو ته په شرک او مکذبينو ته په تکذيب د آخرت او معرضينو د قرآن ته زجر ورکوي آيت ۳۱، ۳۲ کښې ، او سورت په ابتداء کښې چې څنګه اثبات د قيامت وو نو دارنګه آخر د سورت کښې هم اثبات د قيامت کوي .

آخر د سورت اول د سورت سره مرتبط دے .

سورة الدهر مدنية

نزولاً ۹۸ بعد سورة الرحمٰن   مصحفاً ۷٦ بعد القيامة

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل آيت ۳۷ کښې ذکر شو : ﴿أَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّن مَّنِيٍّ يُمْنَىٰ﴾ دلته آيت ۲ کښې په هغي باندي زيادت او ترقي کوي : ﴿إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن نُّطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَّبْتَلِيهِ فَجَعَلْنَاهُ سَمِيعًا بَصِيرًا﴾.

۲) ما قبل آيت ۲۲ ، ۲۳ کښې اجمالی بشارت ذکر شو : ﴿وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ﴾ دلته آيت ۱۱ تا ۲۲ کښې تفصيلي بشارت ذکر کوي .

۳) ما قبل کښې اثبات د قيامت اوشو دلته آيت ۱ کښې په مثال سره دغه دعویٰ ثابتوي ؛ لکه څنګه چې ته هيڅ شے نه وې بلکه عدم محض وې نو الله تعالیٰ ته پيدا کړې نو دارنګه به الله تعالیٰ تا ژوندے کوي کله چې مړ شي .

٤) ما قبل آيت ۳۱ تا ۳۳ کښې احوال د ناکارو خلقو ذکر شو دلته آيت ۷ تا ۱۰ کښې احوال د نيکانو خلقو ذکر کوي .

٥) ما قبل ابتداء کښې اثبات د قيامت بالشواهد اوشو دلته ابتداء کښې اثبات د قيامت بالتمثيل کوي .

٦) ما قبل آخر کښې ئې پيدائښ اول د انسان دليل ګرځولے وو په دوباره ژوندون د انسان باندې نو دلته په ابتداء د سورت کښې پيدائش اول د انسان په دوباره ژوندون د انسان باندې دليل ګرځوي .

۷) ما قبل آيت ١٦ تا ١٩ کښې صداقت او عظمت د قرآن ذکر شو دلته آيت ۲۳ کښې قرآن کريم ته ترغيب ورکوي .

۸) ما قبل آيت ۲٦ کښې تخويف منکرينو ته ذکر شو دلته آيت ٤ کښې هم منکرينو ته تخويف ورکوي .

۹) ما قبل آيت ۲۰ کښې ذکر شو : ﴿كَلَّا بَلْ تُحِبُّونَ الْعَاجِلَةَ﴾ دلته آيت ۲۷ کښې وائي : ﴿إِنَّ هَٰؤُلَاءِ يُحِبُّونَ الْعَاجِلَةَ﴾ اسم اشاره د پاره د تحقير راوړې ترقي ده ماسبق باندې .

۱۰) ما قبل آيت ۱۰ کښې حالت د هغه چا ذکر شو چې قيامت نه مانی چې هغه به وائي : ﴿ أَيْنَ الْمَفَرُّ ﴾ دلته آيت ۱۱ کښې حالت د هغه چا ذکر کوي چې قيامت مني : ﴿ فَوَقَاهُمُ اللَّهُ شَرَّ ذَٰلِكَ الْيَوْمِ وَلَقَّاهُمْ نَضْرَةً وَسُرُورًا﴾

۱۱) ما قبل آيت ۳۱ تا ۳۳ کښې اوصاف قبيحه د کافرانو ذکر شو دلته د هغې وجه ذکر کوي دوی کښې دا اوصاف ځکه راغلي دي چې دوی د دنيا سره محبت کوي : ﴿إِنَّ هٰٓؤُلَآءِ يُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ﴾

۱۲) ما قبل آيت ۳٦ کښې ذکر شو : ﴿أَيَحْسَبُ الْاِنْسَانُ اَنْ يُّتْرَكَ سُدًى﴾ دلته آيت ۷ تا ۱۰ کښې د مؤمنانو صفتونه للترغيب ذکر کوي .

۱۳) ما قبل آيت ١٦ تا ١٩ کښې ترغيب الى القرآن وو چونکه د قرآن په بيان کښې تکليفونه او مصيبتونه راځي دي وجې نه دلته آيت ٢٤ کښې تسلي ورکوي : ﴿فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ اٰثِمًا اَوْ كَفُوْرًا﴾ .

۱٤) ما قبل آيت ۱۸ کښې يو امر ذکر شو : ﴿فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَه﴾ ، دلته آيت ٢٤ تا ٢٦ کښې څلور اوامر ذکر کوي بالترقی علی ماسبق : {۱} فَاصْبِرْ {۲} وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ. {۳} فَاسْجُدْ لَهٗ . {٤} وَسَبِّحْهُ .

۱٥) ما قبل آيت ١٦ کښې يو نهي ذکر شوه : ﴿لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِه﴾ دلته آيت ٢٤ کښې بله نهي ذکر کوي : ﴿ وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ اٰثِمًا اَوْ كَفُوْرًا﴾.

امتيازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په قول د الله تعالی باندي : ﴿ هَلْ اَتٰى عَلَى الْاِنْسَانِ حِيْنٌ مِّنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُنْ شَيْـًٔا مَّذْكُوْرًا﴾ .

۲) په ذکر د پيدائش د انسان باندي د نطفي کډي ودي نه ، آيت ۲.

۳) په قول د الله تعالی باندي : ﴿اِنَّا هَدَيْنٰهُ السَّبِيْلَ اِمَّا شَاكِرًا وَّاِمَّا كَفُوْرًا﴾ .

٤) په ذکر د کافور چيني باندي ، آيت ٥ .

٥) په قول د الله تعالی باندي : ﴿ يُفَجِّرُوْنَهَا تَفْجِيْرًا﴾ .

٦) په اوصاف حسنه د مؤمنانو باندي ، آيت ۷ تا ۱۰ .

۷) په لسو انعاماتو باندي د پاره د مؤمنانو ، آيت ٥ تا ٢١ .

۸) په ذکر د " زَنْجَبِيْلًا " باندي ، آيت ١٧.

۹) په ذکر د " سَلْسَبِيْلًا " باندي ، آيت ١٨.

١٠) په قول د الله تعالیٰ باندي جنتيانوته : ﴿اِنَّ هٰذَا كَانَ لَكُمْ جَزَآءً وَّكَانَ سَعْيُكُمْ مَّشْكُوْرًا﴾ .

١١) په قول د الله تعالیٰ باندي : ﴿نَحْنُ خَلَقْنٰهُمْ وَشَدَدْنَآ اَسْرَهُمْ﴾.

١٢) په امر د الله تعالیٰ باندي : ﴿وَسَبِّحْهُ لَيْلًا طَوِيلًا﴾.

١٣) په ذکر د " لُؤْلُؤًا مَّنْثُوْرًا" باندي ، آيت ١٩.

١٤) په قول د الله تعالیٰ باندي : ﴿وَدَانِيَةً عَلَيْهِمْ ظِلٰلُهَا وَذُلِّلَتْ قُطُوْفُهَا تَذْلِيْلًا﴾.

١٥) په قول د الله تعالیٰ باندي په باره د جنتيانو کښي : ﴿لَا يَرَوْنَ فِيْهَا شَمْسًا وَّلَا زَمْهَرِيْرًا﴾.

دعوی:

اثبات د قيامت په تمثيل سره .

خلاصه:

سورت کښي شپږخبري ذکر کوي :

{١}اثبات د قيامت بالتمثيل ، آيت ١ . {٢} تخويف منکرينو ته ، آيت ٢ ، ٣ او بشارت مؤمنانو ته په لسو انعاماتو سره آيت ٥ تا ٢٢ . {٣} ترغيب الی القرآن او عظمت د قرآن ، آيت ٢٣ .{٤}تسلي نبي ﷺ او هر يو مبلغ ته ، آيت ٢٤ {٥}مقصد اعلیٰ (د الله تعالیٰ وحدانيت) ، آيت ٢٥ ، ٢٦.{٦} زجر په محبت د دنيا باندي ، آيت ٢٧ او سورت په بشارت او تخويف باندي ختموي .

سورة المرسلات مكية

نزولاً ۳۳ بعد الهمزة مصحفاً ۷۷ بعد الدهر

«ربط د ما سبق سره»

۱) مخکښې کښې اثبات د قيامت او احوال د ابرارو ذکر شو دلته اثبات د قيامت اواحوال د اشرارو ذکر کوي .

۲) ما قبل کښې لس انعامات د متقيانو د پاره ذکر شو دلته لس احوال د منکرينو او لس ځله دوی د پاره لفظ د" ويل" ذکر کوي .

۳) ما قبل کښې اثبات د قيامت اوشو بالتمثيل دلته په هغې باندي زيادت کوي امثله د عذاب او شواهد په قيامت ذکر کوي .

٤) ما قبل آخري آيت کښې ذکر شو : ﴿وَالظّٰلِمِيْنَ اَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا﴾ دلته آيت ۲۹ تا ۳٦ کښې بيان د هغه درد ناک عذاب کوي کوم چې الله تعالٰی دوی لره تيارکړي دے .

٥) ما قبل آيت ۲۹ کښې ذکر شو : ﴿اِنَّ هٰذِهٖ تَذْكِرَةٌ ۚ فَمَنْ شَآءَ اتَّخَذَ اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيْلًا﴾ دلته ٥ ، ٦ کښې په هغې باندي ترقي ده .

٦) ما قبل آيت ۲ کښې ذکر شو : ﴿ اِنَّا خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنْ نُّطْفَةٍ اَمْشَاجٍ﴾ دلته آيت ۲۰ تا ۲۳ کښې په هغې باندي زيادت او ترقي ده .

۷) ما قبل آيت ١٤ کښې ذکر شو : ﴿ وَدَانِيَةً عَلَيْهِمْ ظِلٰلُهَا ﴾ دلته آيت ٤١ کښې وائي : ﴿اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ ظِلٰلٍ وَّعُيُوْنٍ﴾ ترقي ده ماسبق باندي .

۸) ما قبل آيت ۲۲ کښې ذکر شو : ﴿ اِنَّ هٰذَا كَانَ لَكُمْ جَزَآءً وَّكَانَ سَعْيُكُمْ مَّشْكُوْرًا﴾ دلته آيت ٤٣ کښې وائي : ﴿ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا هَنِيْٓـًٔا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ﴾ .

۹) ما قبل آيت ۱۲ کښې ذکر شو : ﴿وَجَزٰىهُمْ بِمَا صَبَرُوْا﴾ دلته آيت ٤٤ کښې وائي : ﴿إِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ﴾.

۱۰) ما قبل آيت ۲۳ کښې ترغيب الى القرآن وو دلته آخري آيت کښې زجرمعرضينو د قرآن ته ورکوي : ﴿فَبِأَيِّ حَدِيْثٍ بَعْدَهٗ يُؤْمِنُوْنَ﴾.

۱۱) ما قبل آيت ۲۷ کښې زجروو په محبت د دنيا باندي نو دلته آيت ٤٦ کښې هم محبت کونکو د دنيا ته زجر او رټنه ورکوي .

۱۲) ما قبل کښې اثبات د قيامت اوشو دلته آيت ۷ تا ۱۰ کښې اثبات د قيامت او دري حالات د ابتداء د قيامت ذکر کوي .

۱۳) ما قبل آيت ۲٤ تا ۲٦ کښې څلور اوامر او يو نهي ذکر شوه دلته آيت ٤١ تا ٤٤ کښې هغه چا ته بشارت کوي چې په دغه باندي عمل کوي .

۱٤) ما قبل آيت ٤ کښې منکرينو ته مختصرتخويف ذکر شو دلته آيت ۲۹ تا ٤۰ کښې دوی ته تفصيلي تخويف اخروي ورکوي .

۱٥) ما قبل آيت ۳۱ کښې ذکر شو : ﴿يُدْخِلُ مَنْ يَّشَآءُ فِىْ رَحْمَتِهٖ﴾ دلته آيت ٤١ کښې تفصيل د "مَنْ" کوي چې هغه متقيان او موحدين دي : ﴿إِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِىْ ظِلٰلٍ وَّعُيُوْنٍ﴾ او تفصيل د "رَحْمَتِهٖ" کوي چې هغه د جنت نعمتونه دي .

امتيازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په ذکر د لس / ۱۰ ځله لفظ د " ويل " باندي د پاره د تکذيب کونکو .

۲) په ذکر د شواهد خمسه باندي ، آيت ۱ تا ٥ .

۳) په ذکر د څلورو احوالو د قيامت باندي ، آيت ۸ تا ۱۱ .

٤) په کافي کيدو د زمکې د ژوندو او مړو د پاره ، آيت ۲٥ ، ۲٦.

۵) په قول د الله تعالٰی باندي منکرینو د قیامت ته : ﴿ اِنْطَلِقُوْٓا اِلٰى مَا كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ﴾ ، آیت ۲۹ .

۶) په ذکر د دریؤ څانګو د اُور د جهنم باندي : ﴿اِلٰى ظِلٍّ ذِيْ ثَلٰثِ شُعَبٍ﴾ ، آیت ۳۰ دا سورے به اُور د جهنم وي .

۷) په عدم افاده د سوري د اُور د جهنم باندي:﴿لَا ظَلِيْلٍ وَّ لَا يُغْنِيْ مِنَ اللَّهَبِ﴾،آیت ۳۱ .

۸۔په خصوصي حالت د اور د جهنم باندي :﴿اِنَّهَا تَرْمِيْ بِشَرَرٍ كَالْقَصْرِ﴾،آیت۳۲.

۹) په ذکر د : ﴿جِمٰلَتٌ صُفْرٌ﴾ سره ، آیت ۳۳.

۱۰) په قول د باري تعالٰی باندي جهنمیانو ته : ﴿فَاِنْ كَانَ لَكُمْ كَيْدٌ فَكِيْدُوْنِ﴾ ، آیت ۳۹ .

۱۱) په خصوصي بشارت باندي موحدینو ته ، آیت ٤١ تا ٤٤ .

۱۲) په خصوصي زجر باندي منکرینو ته :﴿كُلُوْا وَ تَمَتَّعُوْا قَلِيْلًا اِنَّكُمْ مُّجْرِمُوْنَ﴾،آیت ٤٦ .

۱۳) په ذکر د دنګو غرونو باندي : ﴿وَ جَعَلْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ شٰمِخٰتٍ﴾ ، آیت ۲۷ .

۱٤) په خصوصي حالت د مکذبینو باندي چې نه به خبري کولے شي اونه به عذر پیش کولے شي ﴿ هٰذَا يَوْمُ لَا يَنْطِقُوْنَ۝۳۵ وَ لَا يُؤْذَنُ لَهُمْ فَيَعْتَذِرُوْنَ﴾ ، آیت ۳۵ ، ۳٦ .

۱۵) په قول د الله تعالٰی په باره د منکرینو کښي : ﴿ فَبِاَيِّ حَدِيْثٍ بَعْدَهٗ يُؤْمِنُوْنَ﴾، آیت ۵۰ .

دعوی:

اثبات د قیامت بالشواهد الخمسة ، مأخذ آیت ۷.

خلاصه:

دا سورت دوه حصي دے :

اوله حصه:

آیت ۱ نه تر ۲۸ پورې ، پدیکښې څلور خبرې ذکر کوي :

{۱}شواهد خمسه آیت ۱ تا ٦ دعوی د سورت ، آیت ۷ . {۲}څلور احوال د ابتداء د قیامت آیت ۸ تا ۱۵ . {۳} تخویف دنیوي په هلاکت د مکذبینو سابقینو باندې ، آیت ۱٦ تا ۱۹ . {٤} دلائل عقلیه په قدرت د الله تعالی باندې او تمثیل د قیامت ، آیت ۲۰ تا ۲۸ .

دویمه حصه:

آیت ۲۹ نه تر آخره پورې ، په دیکښې درې خبرې ذکر کوي :

{۱}تخویف اخروي منکرینو ته ، آیت ۲۹ تا ٤۰ .

{۲}بشارت مؤمنانو ته ، آیت ٤۱ تا ٤٤ .

{۳}زجر مشرکینو او معرضینو د قرآن ته ، آیت ٤٥ تا آخر .

مختصر خلاصه:

سورت کښې شواهد خمسه په اثبات د قیامت ، څلوراحوال د ابتداء د قیامت ، دلائل عقلیه ،تخویف اوزجر ذکر کولو د لفظِ " ویل "سره لس ځله .

سورة النباء مكية

نزولاً ۸۰ بعد المعارج مصحفاً ۷۸ بعد المرسلٰت

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل آيت ۳۸ کښې ذکر د يوم الفصل اوشو دلته آيت ٦ تا ١٦ کښې تفصيل د يوم الفصل کوي چې دنيا کښې لس څيزونه مشترک دي په مينځ د کافر او مؤمن کښې دغه اشتراک به ختم شي .

۲) ما قبل کښې اثبات د قيامت اوشو دلته اثبات د قيامت اونفی د شفاعت قہريه آيت ۳۷ کښې کوي ، ترقي ده ماسبق باندي .

۳) ما قبل آيت ۲۵ تا ۲۷ کښې دلائل عقليه په اثبات د قيامت ذکر شو دلته آيت ٦تا ١٦ کښې هم دلائل عقليه په اثبات د قيامت ذکر کوي .

٤) ما قبل آيت ١٠ کښې ذکر شو : ﴿ وَإِذَا الْجِبَالُ نُسِفَتْ﴾ دلته آيت ۲۰ کښې په هغي باندي زيادت او ترقي ده .

٥) ما قبل آيت۳۸ ، ۳۹ کښې ذکر شو : ﴿هٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ ۚ جَمَعْنٰكُمْ وَالْاَوَّلِيْنَ﴾ دلته آيت ۲۱ تا ۳۰ کښې په هغي باندي زيادت او ترقي ده .

٦) ما قبل آيت ٤١ تا ٤٤ کښې مؤمنانو ته بشارت وو دلته آيت ۳۱ تا ۳٦ کښې په هغي باندي ترقي کوي .

۷) ما قبل آيت ۹ کښې ذکر شو : ﴿وَإِذَا السَّمَآءُ فُرِجَتْ﴾ دلته آيت ۱۹ کښې په هغي باندي زيادت او ترقي ده .

۸) ما قبل آيت ۲۵ کښې ذکر شو : ﴿اَلَمْ نَجْعَلِ الْاَرْضَ كِفَاتًا﴾ دلته آيت ٦ کښې وائي : ﴿اَلَمْ نَجْعَلِ الْاَرْضَ مِهٰدًا ﴾ .

۹) ما قبل آیت ۲۷ کښې ذکر شو : ﴿وَ جَعَلْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ شٰمِخٰتٍ﴾ دلته آیت ۷ کښې د غرونو فائدي ذکر کوي .

۱۰ـ ما قبل آیت ۱٦ تا ۱۸ کښې تخويف دنيوي ذکر شو دلته آیت ۲۱ تا ۳۰ کښې تخويف اخروي ذکر کوي.

۱۱) ما قبل آیت ۳۵ کښې ذکر شو : ﴿ هٰذَا يَوْمُ لَا يَنْطِقُوْنَ﴾ دلته آیت ۳۷ کښې وائي : ﴿لَا يَمْلِكُونَ مِنْهُ خِطَابًا﴾ ترقي ده په ماسبق باندي خبري به نشي کولے ځکه اختيار د خبرو به ئې نه وي .

۱۲) ما قبل آیت ۳۵ کښې ذکر شو : ﴿هٰذَا يَوْمُ لَا يَنْطِقُوْنَ﴾ دلته آیت ۳۸ کښې وائي : ﴿لَا يَتَكَلَّمُونَ اِلَّا مَنْ اَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ وَقَالَ صَوَابًا﴾ حاصل د ربط دا دے چې مخکښې ئې اوئيل چې کافر به خبري نشي کولے نو دلته وائي چې مؤمنان به پس د اجازت د الله تعالٰی نه خبري کولے شي .

۱۳) ما قبل کښې لس ځله هلاکت د مکذبينو د پاره ذکر شو دلته آیت ۲۱ کښې ځائي د هلاکت د دوی ذکر کوي چې هغه جهنم دے .

۱٤) ما قبل آیت ٤٤ کښې ذکر شو : ﴿اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ﴾ دلته آیت ۳٦ کښې په هغې باندي زيادت او ترقي ده : ﴿ جَزَآءً مِّنْ رَّبِّكَ عَطَآءً حِسَابًا﴾ .

۱۵) ما قبل آیت ٤٦ کښې ذکر شو : ﴿اِنَّكُمْ مُّجْرِمُوْنَ﴾ دلته آیت ۲۷ ، ۲۸ کښې جرمونه د مجرمانو ذکر کوي .

امتيازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په ذکر د : ﴿النَّبَاِ الْعَظِيْمِ﴾ باندي ، آیت ۲ .

۲) په ذکر د لسو دلائل عقليؤ باندي خصوصي انداز سره ، آیت ٦ تا ۱٦ .

۳) په ذکر د : ﴿ سِرَاجًا وَّهَّاجًا﴾ باندي ، آیت ۱۳.

٤) په ذکر د : ﴿ الْمُعْصِرٰتِ﴾ باندي، آیت ۱٤ .

٥) په ذکر د : ﴿مَآءً ثَجَّاجًا﴾ باندي ، آیت ١٤.

٦) په ذکر د : ﴿جَنّٰتٍ اَلْفَافًا﴾ باندي ، آیت ١٦.

٧) په دروازي دروازي كيدو د آسمان:﴿وَّ فُتِحَتِ السَّمَآءُ فَكَانَتْ اَبْوَابًا﴾،آیت١٩.

٨) په شکوګل کیدو د غرونو باندي:﴿وَّ سُيِّرَتِ الْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا﴾ ، آیت٢٠.

٩) جهنم ته په " مِرْصَادًا " وئیلو باندي : ﴿اِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا﴾ ، آیت ٢١ .

١٠) په خصوصي تخويف اخروي باندي منکرینو ته ، آیت ٢١ تا ٣٠ .

١١) په ذکر د : ﴿ جَزَآءً وِّفَاقًا﴾ باندي ، آیت ٢٦ .

١٢) په ذکر د جر مونو د منکرینو باندي ، آیت ٢٧ ، ٢٨.

١٣) په تفصیل د یوم الفصل باندي ، آیت ١٧ تا ٤٠ .

١٤) د مؤمنانو بدلي ته : ﴿عَطَآءً حِسَابًا﴾ وئیلو باندي ، آیت ٣٦.

١٥) په افسوس د كافر په دي الفاظو باندي:﴿وَ يَقُوْلُ الْكٰفِرُ يٰلَيْتَنِيْ كُنْتُ تُرٰبًا﴾،آیت ٤٠ .

دعوی:

اثبات د قیامت اونفی د شفاعت قهریه .

خلاصه:

دا سورت دوه حصي دے :

اوله حصه:

آیت١ نه تر آیت ٣٠ پوري ، په دیکښي دلائل عقلیه او تفصیل د بعضو جملو د سورت مرسلات کوي د : ﴿وَ اِذَا السَّمَآءُ فُرِجَتْ﴾ تفصیل﴿وَّ فُتِحَتِ السَّمَآءُ فَكَانَتْ اَبْوَابًا﴾ آیت ١٩ کښي ، او د آیت ١٠ تفصیل آیت ٢٠ کښي کوي او آیت ٢١ نه ٣٠ پوري تخويف اخروي منکرینو ته ورکوي .

دويمه حصه:

آيت ۳۱ نه تر آخره پورې ، په دېکښې څلور خبرې ذکر کوې :

{۱}مؤمنانو ته بشارت ، آيت ۳۱ تا۳٦ .

{۲}نفي د شفاعت قهريه او اثبات د شفاعت اذنيه ، آيت ۳۷ ، ۳۸ .

{۳} اثبات د قيامت : ﴿ذٰلِكَ الْيَوْمُ الْحَقُّ﴾ ، آيت ۳۹ .

{٤}تخويف اخروي ، آيت ٤٠.

سورة النازعت مكية

نزولاً ۸۱ بعد النباء مصحفاً ۷۹ بعد النباء

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل کښې اثبات د قيامت په دلائلو اوشو دلته آيت ۱۳ ، ١٤ کښې اثبات د قيامت په شواهد او دلائلو باندې کوي .

۲) ما قبل آيت ۳۹ کښې ذکر شو : ﴿ذٰلِكَ الْيَوْمُ الْحَقُّ﴾ دلته آيت ٦ تا ١٤ کښې تفصيل د : ﴿يَوْمُ الْحَقِّ﴾ کوي .

۳) ما قبل آيت ۱۲ کښې ذکر شو : ﴿وَبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا﴾ دلته آيت ۲۷ تا ۲۹ کښې په هغې باندې زيادت کوي .

٤) ما قبل آيت ٦ کښې ذکر شو : ﴿أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ مِهٰدًا﴾ دلته آيت ۳۰ ، ۳۱ کښې په هغې باندې زيادت او ترقي ده .

٥) ما قبل آيت ۷ کښې ذکر شو : ﴿وَّالْجِبَالَ أَوْتَادًا﴾ دلته آيت ۳۲ کښې وائي : ﴿وَالْجِبَالَ أَرْسَاهَا﴾ حاصل د ربط دا دے چې مخکښې ئې غرونو ته ميخونه اوئيل او ميخ د بل څيز د مضبوطولو د پاره وي دلته وائي چې دا غرونه الله تعالى اودرولي او مضبوط کړي دي .

٦) ما قبل آيت ١٤ کښې د وريځي د اوبو "باران" ذکر اوشو دلته آيت ٣١ کښې د زمکي د اوبو ذکر کوي .

٧) ما قبل آيت ١٠ کښې ئې شپې ته جامه وئيلي وو : ﴿وَّ جَعَلْنَا الَّيْلَ لِبَاسًا﴾ دلته آيت ٢٩ کښې وائي : ﴿وَ اَغْطَشَ لَيْلَهَا وَ اَخْرَجَ ضُحٰـهَا﴾ زيادت کوي په هغي باندي .

٨) ما قبل آيت ١٧ کښې ذکر شو : ﴿اِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ كَانَ مِيْقَاتًا﴾ دلته آيت ٣٤ تا ٤١ کښې په هغي باندي زيادت او ترقي ده .

٩) ما قبل آيت ٢١ ، ٢٢ کښې ذکر شو : ﴿اِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا ٢١ لِّلطَّاغِيْنَ مَاٰبًا﴾ دلته آيت ٣٧ تا ٣٩ کښې په هغي باندي ترقي ده : ﴿ فَاَمَّا مَنْ طَغٰى ٣٧ وَ اٰثَرَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ٣٨ فَاِنَّ الْجَحِيْمَ هِيَ الْمَاْوٰى﴾ .

١٠) ما قبل آيت ٣١ تا ٣٦ کښې مؤمنانو ته تفصيلي بشارت ذکر شو دلته آيت ٤٠ ، ٤١ کښې مختصر بشارت ذکر کوي : فَاِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَاْوٰى﴾.

١١) ما قبل آيت ٣١ کښې ذکر شو : ﴿اِنَّ لِلْمُتَّقِيْنَ مَفَازًا﴾ دلته آيت ٤٠ کښې د متقيانو وضاحت کوي : ﴿ وَ اَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ وَ نَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوٰى﴾ يعني متقي هغه څوک دے چې الله ته د پيشي (مخامخ) نه يريږي او ځان د نفس د خواهش نه منع کوي .

١٢) ما قبل آيت ٤٠ کښې ذکر شو : ﴿ اِنَّاۤ اَنْذَرْنٰـكُمْ عَذَابًا قَرِيْبًا﴾ دلته آيت ٤٥ کښې پيغمبر عليه السلام ته خطاب کوي : ﴿ اِنَّمَاۤ اَنْتَ مُنْذِرُ مَنْ يَّخْشٰـهَا﴾.

١٣) ما قبل آيت ٤٠ کښې ذکر شو : ﴿ اِنَّاۤ اَنْذَرْنٰـكُمْ عَذَابًا قَرِيْبًا﴾ دلته آيت ٤٥ کښې وائي چې الله دا خلق د پيغمبر عليه السلام په واسطه باندي يروي.

١٤) ما قبل آيت ٢١ تا ٢٦ کښې تخويف اخروي منکرينو ته ذکر شو دلته آيت ١٥ تا ٢٦ کښې تخويف دنيوي منکرينو ته ورکوي .

١٥) ما قبل آيت ٢٧ ، ٢٨ کښې دوه قبيح صفتونه د منکرينو ذکر شو : ﴿لَا يَرْجُوْنَ حِسَابًا وَّ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا كِذَّابًا﴾ دلته آيت ٣٧ ، ٣٨ کښې دوه نور قبيح صفتونه د دوی ذکر کوي : {١}سرکشي {٢}غوره کول د دنيا(په آخرت باندي) .

١٦) ما قبل آيت ٢٧ ، ٢٨ کښې دوه علتونه د عذاب ذکر شو دلته آيت ٣٧ ، ٣٨ کښې دوه نور علتونه د عذاب ذکر کوي .

١٧) ما قبل آيت ٢١ ، ٢٢ کښې ذکر شو چې جهنم د سرکشو ځائي دے دلته آيت ٣٧ کښې هم وائي چې چا سرکشی اوکړه نو ځائي ئې جهنم دے.

١٨) ما قبل آيت ٢ کښې ذکر شو : ﴿عَنِ النَّبَاِ الْعَظِيْمِ﴾ اَیْ يَتَسَآءَلُوْنَ عَنِ النَّبَاِ الْعَظِيْمِ متعلق مقدر دے يعني مخکښې تپوس د خلقو په باره د قيامت کښې ذکر شو دلته آيت ٤٢ کښې هم تپوس د خلقو په باره د قيامت کښې ذکر کوي : ﴿ يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ اَيَّانَ مُرْسٰىهَا﴾.

١٩) ما قبل آيت ٤٠ کښې ذکر شو : ﴿ يَوْمَ يَنْظُرُ الْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدٰهُ ﴾ دلته آيت ٣٥ کښې په هغې باندي ترقي ده : ﴿ يَوْمَ يَتَذَكَّرُ الْاِنْسَانُ مَا سَعٰى﴾.

٢٠ ـ ما قبل آيت ٢١ تا ٢٦ کښې تخويف اخروي ذکر شو دلته آيت ٣٤ تا ٣٩ کښې هم تخويف اخروي ذکر کوي .

٢١) ما قبل آيت ٣٨ کښې حال د ملائکو ذکر شو : ﴿ يَوْمَ يَقُوْمُ الرُّوْحُ وَ الْمَلٰٓئِكَةُ صَفًّا ۙ لَّا يَتَكَلَّمُوْنَ ﴾دلته آيت ١ تا ٥ کښې پنځه احوال د ملائکو ذکر کوي ، ترقي ده ماسبق باندي .

٢٢) ما قبل آيت ١٨ کښې ذکر شو : ﴿يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ﴾ دلته آيت ٦، ٧ کښې د : ﴿يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ﴾ تفصيل کوي چې دا شپیلی کښې پوکے به دوه قسمه وي:

{۱} "الرَّاجِفَةُ" ړومبی شپیلی. {۲} "الرَّادِفَةُ" دویمه شپیلی.

۲۳) ما قبل آیت ۱۸ کښې ذکر شو : ﴿ يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ﴾ دلته آیت ۸ ، ۹ کښې حالت د منکرینو په دغه ورځ باندي ذکر کوي : ﴿قُلُوْبٌ يَّوْمَىِٕذٍ وَّاجِفَةٌ۸ اَبْصَارُهَا خَاشِعَةٌ﴾ .

۲٤) ما قبل آیت ۳ کښې اختلاف د خلقو په باره د قیامت او د قرآن کښې ذکر شو : {۱} هغه خلق چې قیامت ، قرآن مني {۲} هغه خلق چې قیامت نه مني دلته ړومبی ډلي ته بشارت د جنت او دویمي ډلي ته تخویف ورکوي .

۲۵) ما قبل آیت ۳۷ کښې ذکر شو : ﴿رَّبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا الرَّحْمٰنِ﴾ دلته آیت ۲٤ ، ۲۵ کښې وائي چې فرعون ځان ته رب وئيلي وو نو الله تعالٰی تباه کړو.

۲٦) ما قبل آیت ۱۸ تا ۲۰ کښې اثبات د قیامت اوشو دلته آیت ۱۰ تا ۱۲ کښې انکار د کافرانو ذکر کوي د قیامت نه .

۲۷) ما قبل آیت ۲۸ کښې علت د عذاب (تکذیب د کافرانو) ذکر شو : ﴿وَّ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا كِذَّابًا﴾ دلته آیت ۲۱ کښې د فرعون تکذیب ذکر کوي : ﴿فَكَذَّبَ وَعَصٰى﴾ تخصیص بعد التعمیم دے .

۲۸) ما قبل آیت ۳۰ کښې ذکر د عذاب اخروي اوشو : ﴿فَذُوْقُوْا فَلَنْ نَّزِيْدَكُمْ اِلَّا عَذَابًا﴾ دلته آیت ۲۵ کښې په هغې باندي ترقي ده عذاب دنیوي او عذاب اخروي دواړه ذکر کوي .

۲۹) ما قبل آیت ٦ ، ۷ وغیره کښې د زمکې ، غرونو او آسمان وغیره ذکر اوشو دلته آیت ۳۳ کښې د دغه څیزونو د پیدائش حکمت ذکر کوي : ﴿مَتَاعًا لَّكُمْ وَ لِاَنْعَامِكُمْ﴾.

۳۰ ـ ما قبل آیت ۲۷ ، ۲۸ کښې اوصاف قبیحه د مشرکانو او کافرانو ذکر شو دلته آیت ٤٥ کښې پیغمبر ﷺ ته تسلي ورکوي .

۳۱) ما قبل آیت ٤٠ کښې قول د کافر ذکر شو: ﴿وَيَقُوْلُ الْكٰفِرُ يٰلَيْتَنِيْ كُنْتُ تُرٰبًا﴾ دلته آیت ۳۷ ، ۳۸ کښې ئې وضاحت کوي چې دا به دوی څکه وائي چې دنیا کښې ئې سرکشي کړي وه او د دنیا ژوند ئې په آخرت غوره کړے وو.

۳۲) ما قبل آیت ٤٠ کښې ذکر شو : ﴿اِنَّآ اَنْذَرْنٰكُمْ عَذَابًا قَرِيْبًا﴾ چونکه د الله تعالٰی یرول د پیغمبرانو په ذریعه باندي وو نو دلته آیت ٤٥ کښې پیغمبر ﷺ مخاطب کوي : ﴿اِنَّمَآ اَنْتَ مُنْذِرُ مَنْ يَّخْشٰهَا﴾ یعني دلته تفصیل د ماسبق دے ، چې یره خلقو ته پیغمبر ﷺ ورکوي او هغه چاته د ده یرول فائده ورکوي چې د قیامت نه یریږي .

۳۳) ما قبل آیت ۲ کښې ئې قیامت ته : ﴿ النَّبَاِ الْعَظِيْمِ﴾ اوئیل دلته آیت ۳٤ کښې ورته : ﴿الطَّآمَّةُ الْكُبْرٰى﴾ لوئي مصیبت وائي .

۳٤) ما قبل آیت ۱٥ کښې ئې د باران فائده ذکر کړه : ﴿لِنُخْرِجَ بِهٖ حَبًّا وَّنَبَاتًا﴾ دلته آیت ۳۱ کښې ذکر د چراګاه "ورشو" کوي .

۳٥) ما قبل آیت ۳۹ کښې ئې قیامت ته : ﴿اَلْيَوْمُ الْحَقُّ﴾ اوئیل دلته آیت ۳٤ کښې ورته : ﴿ الطَّآمَّةُ الْكُبْرٰى﴾ وائي .

۳٦) ما قبل آیت ۲۲ کښې د سرکشو ذکر اوشو : ﴿لِّلطّٰغِيْنَ مَاٰبًا﴾ دلته آیت ۱۷ کښې وائي چې الله تعالٰی د سرکشو بهانه ختموي اوکوره موسٰی ﷺ ته ئې حکم اوکړو : ﴿ اِذْهَبْ اِلٰى فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ طَغٰى﴾.

۳۷) ما قبل آیت ۳۱ تا ۳٦ کښې انعامات د پاره پرهیزګارانو ذکر شو دلته آیت ٤٠ کښې اعمال د پرهیزګارانو ذکر کوي .

۳۸) ما قبل آیت ۳۱ کښې ذکر شو : ﴿إِنَّ لِلْمُتَّقِيْنَ مَفَازًا﴾ دلته آیت ٤١ کښې تفصیل د "مَفَازًا" کوي : ﴿ فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَاْوٰى﴾.

۳۹) ما قبل آیت ٤٠ کښې تخصیص وو : ﴿يَوْمَ يَنْظُرُ الْمَرْءُ﴾ دلته آیت ۳۵ کښې تعمیم دے : ﴿يَوْمَ يَتَذَكَّرُ الْاِنْسَانُ﴾ انسان کښې سړے او ښځه دواړه داخل دي.

٤٠۔ ما قبل آیت ٤٠ کښې ذکر شو : ﴿يَوْمَ يَنْظُرُ الْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدٰهُ﴾ دلته آیت ٤١ تا ٤٤ او آیت۳۷ ، ۳۸ کښې تفصیل د : ﴿مَا قَدَّمَتْ يَدٰهُ ﴾ یعني د بد اعمالو وضاحت دے .

٤١. ما قبل آیت ۳٤ کښې اثبات د قیامت اوشو نو دا قیامت به کله وي ؟ نو دلته آیت ٤٤ کښې وائي د قیامت علم الله رب العزت سره دے : ﴿إِلٰى رَبِّكَ مُنْتَهٰهَا﴾.

٤٢) ما قبل آیت ٢٦ کښې ذکر شو : ﴿جَزَآءً وِّفَاقًا﴾ دلته آیت ۳۷ تا ۳۹ کښې د هغې جزاء تفصیل کوي.

٤٣) ما قبل آیت ۳٦ کښې ذکر شو : ﴿جَزَآءً مِّنْ رَّبِّكَ عَطَآءً حِسَابًا﴾ دلته آیت ٤١، ٤٠ کښې د هغې جزاء تفصیل کوي .

٤٤) ما قبل آیت ٢٧ ، ٢٨ کښې ناکاره اعمال د کافرانو ذکر شو دلته آیت ١٠ تا ١٢ کښې ناکاره اقوال د کافرانو ذکر کوي .

٤٥) ما قبل آیت ٢٧ ، ٢٨ کښې اعمال د کافرانو ذکر شو دلته آیت ٨ ، ٩ کښې احوال د کافرانو ذکر کوي : ﴿ قُلُوْبٌ يَّوْمَئِذٍ وَّاجِفَةٌ٨ اَبْصَارُهَا خَاشِعَةٌ﴾.

٤٦) ما قبل آیت ٢٩ کښې ذکر شو چې هیڅ څیز د الله تعالیٰ د علم نه بهر نه دے یعني الله رب العزت عالم الغیب دے دلته آیت ٤٤ کښې هم وائي چې عالم الغیب الله دے د قیامت علم الله تعالیٰ سره دے .

٤٧) ما قبل آيت ٢٢ کښې د سرکشو سزا ذکر شوه دلته آيت ١٨ ، ١٩ کښې طريقه د دعوت ښائي چې سرکشه ته به څنګه خبره کوي .

٤٨) ما قبل آيت ٣٩ کښې اثبات د قيامت اوشو : ﴿ذٰلِكَ الْيَوْمُ الْحَقُّ﴾ دلته آيت ٤٦ کښې په دغه ورځ د خلقو حالت ذکر کوي : ﴿كَاَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوْٓا اِلَّا عَشِيَّةً اَوْ ضُحٰىهَا﴾.

٤٩) ما قبل کښې دلائل عقليه ذکر شو دلته آيت ١٥ کښې دليل نقلي د موسٰى عليه السلام نه ذکر کوي .

٥٠ ـ ما قبل آيت ٣٩ کښې اثبات د قيامت اوشو دلته آيت ٤٢ کښې تپوس د مشرکينو ذکر کوي په باره د قيامت کښې : ﴿يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ اَيَّانَ مُرْسٰىهَا﴾.

امتيازات:

١- دا سورت ممتاز دے په خصوصي احوالو د فرښتو باندي ، آيت ١ تا ٥ .

٢) په بيان د حالت د زړونو د خلقو په ورځ د قيامت کښې : ﴿ قُلُوْبٌ يَّوْمَئِذٍ وَّاجِفَةٌ﴾ ، آيت ٨ .

٣) په قول د کافرانو باندي : ﴿ يَقُوْلُوْنَ ءَاِنَّا لَمَرْدُوْدُوْنَ فِي الْحَافِرَةِ﴾ ، آيت ١٠.

٤) په قول د کافرانو باندي : ﴿ تِلْكَ اِذًا كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ﴾ ، آيت ١٢ .

٥) په قول د الله تعالى باندي : ﴿ فَاِذَا هُمْ بِالسَّاهِرَةِ﴾ ، آيت ١٤ .

٦) په امر د الله رب العزت باندي موسٰى عليه السلام ته : ﴿ اِذْهَبْ اِلٰى فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ طَغٰى﴾ ، آيت ١٧ ، ١٩ .

٧) په خصوصي حالت د فرعون باندي :﴿فَكَذَّبَ وَعَصٰى ۝ ثُمَّ اَدْبَرَ يَسْعٰى﴾،آيت ٢١ ، ٢٢ .

۸) په قول د فرعون باندي : ﴿أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلَىٰ﴾، آیت ۲٤ .

۹) په قول د الله رب العزت باندي په باره د فرعون کښې : ﴿فَأَخَذَهُ اللَّهُ نَكَالَ الْآخِرَةِ وَالْأُولَىٰ﴾، آیت ۲٥ .

۱۰) په قول د الله رب العزت باندي په باره د واقعي د موسیٰ علیه السلام او فرعون کښې : ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَن يَخْشَىٰ ﴾ ، آیت ۲٦ .

۱۱) په خصوصي زجر باندي مشرکینو ته : ﴿ءَأَنتُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمِ السَّمَاءُ ۚ بَنَاهَا﴾، آیت ۲۷ .

۱۲) په قول د الله رب العزت باندي : ﴿رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوَّاهَا﴾ ، آیت ۲۸.

۱۳) په قول د الله رب العزت باندي : ﴿وَأَغْطَشَ لَيْلَهَا وَأَخْرَجَ ضُحَاهَا﴾ ، آیت۲۹.

۱٤) په غوړولو د زمکي باندي پس د آسمان نه :﴿وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَاهَا﴾،آیت۳۰ ,

۱٥) په راویستلو د اوبو او چراګاه باندي د زمکي نه : ﴿أَخْرَجَ مِنْهَا مَاءَهَا وَمَرْعَاهَا﴾ ، آیت ۳۱.

۱٦) په قول د الله رب العزت باندي : ﴿وَالْجِبَالَ أَرْسَاهَا﴾ ، آیت ۳۲ .

۱۷) په ذکر د : ﴿الطَّامَّةُ الْكُبْرَىٰ﴾ باندي ، آیت ۳٤.

۱۸) په قول د الله رب العزت باندي : ﴿ يَوْمَ يَتَذَكَّرُ الْإِنسَانُ مَا سَعَىٰ﴾، آیت ۳٥.

۱۹) په قول د الله رب العزت باندي : ﴿وَبُرِّزَتِ الْجَحِيمُ لِمَن يَرَىٰ﴾ ، آیت ۳٦.

۲۰- په سرکشئ کونکو او محبت کؤنکو د دنیا سره : ﴿ فَأَمَّا مَن طَغَىٰ وَآثَرَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا ﴿۳۸﴾ فَإِنَّ الْجَحِيمَ هِيَ الْمَأْوَىٰ﴾ ، آیت ۳۷ تا ۳۹ .

٢١) په انعام د هغه چاچې د الله تعالی د ملاقات نه یریږي او ځان د خواهش نه بچ کوي : ﴿ وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَىٰ ۝٤٠ فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَىٰ ﴾، آيت ٤٠، ٤١.

٢٢) په خصوصي زجر باندي منکرينو د قيامت ته ، آيت ٤٢.

٢٣) په لفظ د " السَّاهِرَة "باندي ، آيت ١٤.

٢٤) په ذکر د ړومبی او دویمي شپیلی باندي : ﴿يَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ ۝٦ تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ﴾ ، آيت ٦، ٧.

٢٥) په لفظ د " سَمْكَ " باندي : ﴿رَفَعَ سَمْكَهَا﴾ ، آيت ٢٨.

٢٦) په تسلی ورکولو باندي نبي ﷺ ته :﴿إِنَّمَا أَنْتَ مُنْذِرُ مَنْ يَخْشَاهَا﴾،آيت٤٥.

دعوی:

اثبات القيامة مع التخويف الدنيوي .

خلاصه:

د سورت ابتداء کښې پنځه شواهد په اثبات د قيامت باندي ، بيا احوال د آخرت او احوال د خلقو، زجر او تخويف اخروي منکرينو د قيامت ته ، تخويف دنيوي په واقعي د فرعون باندي ، دلائل عقليه او د سورت په آخر کښې زجر او تخويف منکرينو ته او بشارت مؤمنانو ته ورکوي .

سورة عبس مكية

نزولاً ۲۴ بعد النجم مصحفًا ۸۰ بعد النازعات

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل کښې تسلي وه نبي ﷺ ته : ﴿إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرُ مَن يَخْشَىٰهَا﴾ دلته کيفيت د انذار ذکر کوي ، چې منيب ته يره ورکړه عنادي پرېږده .

۲) ما قبل آيت ۳٤ کښې هيبتی شان د قيامت ذکر شو : ﴿ فَإِذَا جَآءَتِ الطَّآمَّةُ الْكُبْرَىٰ﴾دلته آيت ۳۳ کښې په هغې باندي ترقي ده .

۳) ما قبل آيت ۲۷ تا ۳۲ کښې دلائل عقليه ذکر شو په اثبات د قيامت باندي دلته آيت ۲٤ تا ۳۱ کښې هم دلائل عقليه ذکر کوي خو په بل نهج او طريقه باندي .

٤) ما قبل آيت ۳۳ کښې ئې پس د دلائلو نه ذکر کړي وو : ﴿مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَامِكُمْ﴾ دلته آيت ۳۲ کښې هم پس د دلائلو نه دغه الفاظ راوړي .

٥) ما قبل آيت ۳۷ تا ۳۹ کښې تخويف اخروي وو دلته آيت ٤۰ تا ٤۲ کښې په هغې باندي زيادت او ترقي ده .

٦) ما قبل آيت ٤۰ ، ٤۱ کښې مؤمنانو ته بشارت وو دلته آيت ۳۸ ، ۳۹ کښې په هغې باندي زيادت او ترقي ده .

۷) ما قبل آيت ٤۲ کښې انکار د منکرينو د قيامت نه ذکر شو دلته اثبات د قيامت په دلائلو باندي کوي .

۸) ما قبل آيت ۲۷ کښې ذکر شو : ﴿ءَأَنتُمْ أَشَدُّ خَلْقًا﴾ يعني خلقت د انسان ذکر شو دلته آيت ۱۸ ، ۱۹ کښې د انسان د خلقت تفصيل کوي .

۹) ما قبل آیت ۲۵ کښې د عذاب دنیوي او اخروي ذکر اوشو دلته آیت ۱۱ تا ۱۵ کښې قرآن کریم ته ترغیب ورکوي ، چې د عذابونو نه د بچ کیدو ذریعه هم دا قرآن کریم دے .

۱۰) ما قبل آیت ٤٥ کښې نبي ﷺ ته تسلي وه : ﴿إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرُ مَن يَخْشَـٰهَا﴾ دلته په تبلیغ باندي تیزی ورکوي .

۱۱) ما قبل آیت ۳٦ کښې تخویف اخروي ذکر شو دلته آیت ٤٠ ، ٤١ کښې احوال د کافرانو ذکر کوي چې دوی باندي به گرد وغبار او توروالے وي .

۱۲) ما قبل آیت ۳۷ ، ۳۸ کښې ئې د جهنمیانو دوه جرمونه ذکر کړل : {۱}سرکشي . {۲}محبت ژوند د دنیا سره دلته آخري آیت کښې ئې دوه نور جرمونه ښائي : {۱} کفر . {۲} فجور .

امتیازات:

۱) په خصوصي حالت د نبي ﷺ او د اعمٰی باندي ، آیت ۱ ، ۲ .

۲ـ په خصوصي زجر باندي معرض د قرآن ته:﴿قُتِلَ الْإِنسَانُ مَآ أَكْفَرَهُ﴾،آیت۱۷.

۳) په عظمت د قرآن باندي په خصوصي الفاظو سره : ﴿فِى صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ ۝١٣ مَّرْفُوعَةٍ مُّطَهَّرَةٍ ۝١٤ بِأَيْدِى سَفَرَةٍ﴾ ، آیت ۱۳ تا ۱۵ .

٤) په قول د الله تعالی باندي : ﴿ كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَآ أَمَرَهُ﴾ ، آیت ۲۳ .

٥) په دلائل عقلیه باندي په خصوصي انداز سره آیت ٢٤ تا ۳۲ .

٦) په ذکر د " الصاخة " باندي ، آیت ۳۳.

۷) په تختیدو د سړي د خپل اهل وعیال نه ، آیت ٣٤ تا ۳٦ .

۸) په ذکر د علت د تختیدو باندي : ﴿لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ﴾ ، آیت ۳۷ .

۹) په قول د الله تعالی باندي : ﴿وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ مُّسْفِرَةٌ﴾ ، آیت ۳۸.

۱۰. په قول د الله تعالىٰ باندي : ﴿وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ﴾ ، آيت ٤٠ تا ٤٢ .

دعوى:

اثبات د قيامت سره د تخويف نه

خلاصه:

سورت كښې پنځه خبري ذكر كوي :{۱} توصيف د نبي عليه السلام په شدت حرص د دعوت باندي منيب او غيرمنيب ته . {۲} حث على التبليغ (تيزي په تبليغ باندي) او تاديب نبي عليه السلام ته چې هغه چاته توجه اوكړه چا كښې چې طلب دے . {۳} معرضينو د قرآن ته زجر . {٤} ادله عقليه په اثبات د قيامت او بيان د انعامات جليله . {٥} اثبات د قيامت ، تخويف منكرينوته او بشارت مؤمنينو ته .

سورة التكوير مكية

نزولاً ۱۸بعد مصحفاً ۱۸بعدعبس

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل كښې اثبات د قيامت اوشو دلته اثبات د قيامت كوي بالترقي علىٰ ما سبق په بيان د دولسو حالاتو سره .

۲) ما قبل آيت ۱۱ تا ۱۵ كښې ترغيب الى القرآن وو دلته آيت ۱۹ تا ۲۱ كښې هم ترغيب الى القرآن دے .

۳) ما قبل آيت ۳٤ كښې ذكر شو : ﴿ يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ﴾ دلته آيت ۲٦ كښې په هغې باندي ترقي ده : ﴿ فَأَيْنَ تَذْهَبُونَ﴾ دوئ د قرآن نه تختي .

٤) ما قبل آيت ۱۱ كښې صداقت د قرآن ذكر شو دلته آيت ۱۹ كښې هم صداقت د قرآن ذكر كوي .

٥) ما قبل آيت ١١ كښې ذكر شو : ﴿ كَلَّآ إِنَّهَا تَذْكِرَةٌ ﴾ دلته آيت ٢٧ كښې په هغې باندې ترقي ده : ﴿ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَٰلَمِينَ ﴾ .

٦) ما قبل آيت ١٥ كښې ذكر د فرښتو اوشو : ﴿بِأَيْدِى سَفَرَةٍ ۝ كِرَامٍۭ بَرَرَةٍ﴾ دلته آيت ١٩تا ٢١ كښې ذكر د جبريل امين كوي يعني تخصيص بعد التعميم كوي .

٧) ما قبل كښې صداقت د پيغمبر ﷺ ذكر شو دلته آيت ٢٢ كښې هم صداقت د پيغمبر ﷺ ذكر كوي .

٨) ما قبل كښې تاديب ذكر شو نبي ﷺ ته دلته آيت ٢٤ كښې مقام د نبي ﷺ ذكر كوي .

٩) ما قبل آيت ٣٨ كښې ذكر د جنتيانو اوشو يعني ذكر د مكينانو اوشو دلته آيت ١٣ كښې ذكر د مكان كوي : ﴿وَإِذَا الْجَنَّةُ أُزْلِفَتْ﴾.

١٠) ما قبل آيت ٤٠ كښې ذكر د جهنميانو اوشو دلته آيت ١٢ كښې د هغوی د مكان ذكر كوي چې جحيم (جهنم) دے : ﴿وَإِذَا الْجَحِيمُ سُعِّرَتْ﴾.

١١) ما قبل آيت ٢٢ كښې ذكر شو : ﴿ثُمَّ إِذَا شَآءَ أَنشَرَهُ﴾ دلته آيت ٧ كښې په هغې باندې ترقي ده : ﴿وَإِذَا النُّفُوسُ زُوِّجَتْ﴾.

١٢) ما قبل آيت ٣٩ كښې ذكر شو : ﴿ضَاحِكَةٌ مُّسْتَبْشِرَةٌ﴾ دلته آيت ١٤ كښې وجه د خندا او خوشحالۍ ذكر كوي چې هغه كول د نيكو اعمالو وو په دنيا كښې : ﴿ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّآ أَحْضَرَتْ﴾.

امتيازات:

١) دا سورت ممتاز دے په راغنډيدلو د رڼرا د نُور باندې:﴿إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ﴾،آيت ١ .

٢) په قول د الله تعالى باندي : ﴿وَإِذَا النُّجُومُ انكَدَرَتْ﴾ ، آيت ٢.

٣) په پريخودلو د خلقو محبوب مالونو لره ﴿وَإِذَا الْعِشَارُ عُطِّلَتْ﴾ ، آيت ٤ .

٤. په قول د الله تعالى باندي : ﴿وَإِذَا الْوُحُوشُ حُشِرَتْ﴾ ، آيت ٥ .

٥) په اوچيدو د دريابونو باندي : ﴿وَإِذَا الْبِحَارُ سُجِّرَتْ﴾ ، آيت ٦.

٦) په جوړه كيدو د روحونو بدنونو سره : ﴿وَإِذَا النُّفُوسُ زُوِّجَتْ﴾ ، آيت ٧ .

٧) په تپوس كيدلو باندي د ژوندى خخې شوي جينى نه : ﴿وَإِذَا الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ﴾ ، آيت ٨ .

٨) په قول د الله تعالى باندي : ﴿وَإِذَا الصُّحُفُ نُشِرَتْ﴾ ، آيت ١٠.

٩) په قول د الله تعالى باندي : ﴿وَإِذَا السَّمَاءُ كُشِطَتْ﴾ ، آيت ١١ .

١٠) په تيزولو د اور د جهنم باندي : ﴿وَإِذَا الْجَحِيمُ سُعِّرَتْ﴾ ، آيت ١٢ .

١١) په قول د الله تعالى باندي : ﴿عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا أَحْضَرَتْ﴾ ، آيت ١٤ .

١٢) په لفظ د " خُنَّسِ " باندي ، آيت ١٦.

١٣) په لفظ د " كُنَّسِ " باندي ، آيت ١٧.

١٤) په لفظ د " عَسْعَسَ " باندي ، آيت ١٧.

١٥) په قول د الله تعالى باندي : ﴿وَالصُّبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ﴾، آيت ١٨ .

١٦) په اوصاف خمسه د جبريل امين باندي ، آيت ١٩ تا ٢١ .

١٧) په مقام د نبي عليه السلام باندي : ﴿ وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِينٍ﴾ ، آيت ٢٤ .

١٨) په لفظ د " عِشَارُ " باندي ، آيت ٤ .

١٩) په ترغيب الى القرآن باندي خصوصي الفاظو سره : ﴿إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَالَمِينَ ۝٢٧ لِمَن شَاءَ مِنكُمْ أَن يَسْتَقِيمَ﴾ ، آيت ٢٧ ، ٢٨.

۲۰) په قول د الله تعالیٰ باندي : ﴿وَ مَا تَشَآءُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ﴾،آيت ۲۹.

دعوی

اثبات د قيامت په ذکر د دولسو / ۱۲ احوالو سره او ملاقات د انسان د خپلو اعمالو سره.

خلاصه:

سورت کښې دولس حالات ذکر کوي شپږ حالات د فناء (ختميدو) د دنيا او شپږ حالات د ابتداء د قيامت بيا آيت ۱٤ کښې دعوٰی د سورت چې انسان به د خپل عمل سره مخامخ شي ، دارنګه شواهد په فنا د دنيا ذکر کوي څنګه چې د ستورو د پاره مختلف حالات دي ، نو دارنګه په تاسو به هم مختلف حالات راځي ، بيا صداقت د قرآن او صداقت د پيغمبر ﷺ او معرضينو د قرآن ته زجر او رټنه ورکوي.

سورة الانفطار مكية

نزولاً ۸۲ بعد النازعات مصحفاً ۸۲ بعد التكوير

« ربط د ما سبق سره »

۱) د ما قبل ابتداء کښې دولس احوال ذکر شو د دي سورت ابتداء کښې څلور انقلابات ذکر کوي

۲) ما قبل آيت ۱٤ کښې ذکر شو : ﴿عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّآ اَحْضَرَتْ﴾ دلته آيت ٥ کښې په هغي باندي ترقي ده : ﴿عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ وَاَخَّرَتْ﴾ .

۳) ما قبل آيت ۸ کښې تخصيص وو : ﴿وَاِذَا الْمَوْءٗدَةُ سُئِلَتْ﴾ دلته آيت ٤ کښې تعميم دے : ﴿وَاِذَا الْقُبُوْرُ بُعْثِرَتْ﴾.

٤) ما قبل آيت ٢٧ کښې صداقت د قرآن ذکر شو دلته آيت ٦ کښې معرض د قرآن ته زجر ورکوي .

٥) ما قبل کښې اثبات د قيامت اوشو دلته آيت ٩ کښې منکرينو د قيامت ته زجر ورکوي .

٦) ما قبل کښې اثبات د قيامت اوشو دلته آيت ١٩ کښې نفي د شفاعت قهريه کوي بطور تتمه د ما سبق .

٧) ما قبل آيت ١٤ کښې ذکر شو : ﴿عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّآ اَحْضَرَتْ﴾ دلته آيت ١٠ تا ١٢ کښې د هغې تفصيل کوي چې اعمال د انسان الله تعالىٰ شميرلى دي ، فرښتې ئې د انسان د اعمالو ليکلو د پاره مقرر کړي دي نو دا اعمال به ورته د قيامت په ورځ پيش کړي .

٨) ما قبل آيت ١١ کښې ذکر شو : ﴿وَاِذَا السَّمَآءُ كُشِطَتْ﴾ دلته آيت ١ کښې په هغې باندې ترقي ده : ﴿اِذَا السَّمَآءُ انْفَطَرَتْ﴾ .

٩) ما قبل آيت ٢ کښې ذکر شو : ﴿وَاِذَا النُّجُوْمُ انْكَدَرَتْ﴾ دلته آيت ٢ کښې په هغې باندې ترقي ده : ﴿ وَاِذَا الْكَوَاكِبُ انْتَثَرَتْ﴾ .

١٠) ما قبل آيت ٦ کښې ذکر شو : ﴿وَاِذَا الْبِحَارُ سُجِّرَتْ﴾ دلته آيت ٣ کښې په هغې باندې ترقي ده : ﴿وَاِذَا الْبِحَارُ فُجِّرَتْ﴾ .

١١) ما قبل آيت ٧ کښې ذکر شو : ﴿ وَاِذَا النُّفُوْسُ زُوِّجَتْ﴾ دلته آيت ٤ کښې په هغې باندې ترقي ده﴿ وَاِذَا الْقُبُوْرُ بُعْثِرَتْ﴾ .

١٢) ما قبل آيت ١٩ کښې ذکر شو : ﴿ اِنَّهٗ لَقَوْلُ رَسُوْلٍ كَرِيْمٍ﴾ دلته آيت ٦ کښې راځي : ﴿ يٰۤاَيُّهَا الْاِنْسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيْمِ﴾ ، حاصل د ربط دا دے چې د قرآن کريم وحي راوړونکي فرښتې ته ئې کريم وئيلي وو نو دلته وائي دا فرښته چې د چا په حکم وحي راوړي نو هغه ذات عزتمند دے .

۱۳) ما قبل آیت ۱۳ کښې بشارت وو : ﴿وَإِذَا الْجَنَّةُ أُزْلِفَتْ﴾ دلته آیت ۱۳ کښې هم بشارت ذکر کوي : ﴿ إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ ﴾ .

١٤) ما قبل آیت ۱۲ کښې تخويف ذکر شو : ﴿ وَإِذَا الْجَحِيمُ سُعِّرَتْ﴾ دلته آیت ١٤ کښې هم تخويف ذکر کوي .

١٥) ما قبل آیت ٢٦ کښې ذکر شو : ﴿فَأَيْنَ تَذْهَبُونَ﴾ دلته آیت ١٦ کښې په هغې باندي ترقي ده : ﴿وَمَا هُمْ عَنْهَا بِغَائِبِينَ﴾ .

١٦) ما قبل کښې اثبات د قيامت اوشو دلته آیت ١٥ تا ١٩ کښې منکرينو د قيامت ته تخويف اخروي ورکوي .

١٧) ما قبل آیت ١٩ تا ٢١ کښې د جبريل امين ذکر اوشو دلته آیت ١١ کښې د کرامًا کاتبين تذکره کوي ، يعني تعميم بعد التخصيص کوي .

١٨) ما قبل آیت ١٢ کښې ذکر د مکان اوشو : ﴿وَإِذَا الْجَحِيمُ سُعِّرَتْ﴾ دلته آیت ١٤ کښې ذکر د مکان او مکين دواړو کوي : ﴿ وَإِنَّ الْفُجَّارَ لَفِي جَحِيمٍ﴾ .

١٩) ما قبل کښې اثبات د قيامت اوشو دلته آیت ٧ ، ٨ کښې دلائل عقليه په اثبات د قيامت باندي پيش کوي .

٢٠ ـ ما قبل کښې اثبات د قيامت اوشو دلته ابتداء کښې تزهيد من الدنيا يعني د دنيا نه بے رغبتي ورکوي چې دنيا فانی ده دي د پاره هميشګري نشته .

امتيازات:

١) په انقلابات اربعه باندي ، آیت ١ تا ٤ .

٢) په خصوصي زجر باندي انسان ته :﴿يَاأَيُّهَا الْإِنْسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ﴾.

٣) په ذکر د کراماً کاتبين باندي ، آیت ١٠ تا ١٢ .

٤) په خطاب د الله تعالٰی باندي انسان ته ، آیت ٦.

۵) په قول د الله تعالی باندي : ﴿ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ وَأَخَّرَتْ ﴾ ، آيت ٥ .
٦) په خصوصي زجرمنکرينو د قيامت ته :﴿ كَلَّا بَلْ تُكَذِّبُونَ بِالدِّينِ ﴾، آيت٩.
٧) په قول د الله تعالی باندي : ﴿وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ ﴾ ، آيت ١٠ .
٨) په خصوصي تخويف باندي منکرينو ته آيت ١٤ .
٩) په داخليدو د فاجرانو جهنم ته آيت ١٥ .
١٠) په نه غير حاضريدو د فاجرانو د جهنم نه :﴿وَمَا هُمْ عَنْهَا بِغَائِبِينَ ﴾،آيت١٦.
١١) په قول د الله تعالی باندي : ﴿وَمَا أَدْرَاكَ مَا يَوْمُ الدِّينِ ثُمَّ مَا أَدْرَاكَ مَا يَوْمُ الدِّينِ﴾ ، آيت ١٧ .
١٢) په قول د الله تعالی باندي : ﴿ يَوْمَ لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ لِّنَفْسٍ شَيْئًا ۖ وَالْأَمْرُ يَوْمَئِذٍ لِّلَّهِ﴾، آيت ١٩ .

دعوی:

توضيح لدعوى السورة السابقة و نفي الشفاعة القهرية زيادة عليها .

د سابقه سورت د دعوي وضاحت او نفي د شفاعت قهريه سورت کښې ترقي ده په ماسبق باندي .

خلاصه:

سورت کښې لس خبري ذکر کوي :

{١} اثبات د قيامت په فناء کيدو د دنيا سره چې دا دنيا به پس د آبادۍ نه ختم شي . {٢} التزهيد من الدنيا د دنيا نه بے رغبتي ورکوي چې دي سره مينه مه ساتئ ځکه دا ختميدلو والا ده هميشه به نه وي . {٣} الترغيب الى الاعمال الصالحة . {٤} په هغه فلاسفؤ باندي رد کوي چې هغوی وائي آسمان کښې خرق او التيام نه راځي : ﴿ إِذَا السَّمَاءُ انفَطَرَتْ ﴾ . {٥} عظمت شان د باری تعالی

چې رب ،كريم، مدبر ، او متصرف دے . {٦}زجر معرضينو ته : ﴿مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيْمِ﴾ . {٧} دلائل عقليه په اثبات د قيامت ، آيت ٧ ، ٨ . {٨} تنبيه انسان ته د دي خبري چې خپلو اعمالو سره به مخامخ كيږي : ﴿عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ وَاَخَّرَتْ﴾ . {٩} التخويف و البشارة ، آيت ١٣ ، ١٤ . {١٠} نفي د شفاعت قهريه او اثبات د توحيد ، آيت ١٩ آبادي د دي عالم د زمكي نه دے او خرابيږي به د آسمان نه ځكه آبادي د بنيادونو نه كيږي او روانے د چت نه كيږي .

سورة المطففين مكية

نزولاً ٨٦ بعد العنكبوت مصحفاً ٨٣ بعد الانفطار

«ربط د ما سبق سره»

١) ما قبل آيت ١٩ كښې نفي د شفاعت قهريه اوشوه دلته ترغيب وركوي دي خبري ته چې په الله تعالى باندي ايمان راوړئ .

٢) ما قبل په آيت ١٥ كښې ذكر شو : ﴿ يَّصْلَوْنَهَا يَوْمَ الدِّيْنِ ﴾ دلته آيت ١٦ كښې وائي : ﴿ثُمَّ اِنَّهُمْ لَصَالُوا الْجَحِيْمِ﴾ ترقي ده ماسبق باندي .

٣) ما قبل آيت ١٤ كښې تخويف ذكر شو : ﴿وَاِنَّ الْفُجَّارَ لَفِيْ جَحِيْمٍ﴾ دلته د فاجرانو اوصاف قبيحه ذكر كوي چې دوی د معمولي او سپكو څيزونو سره مينه ساتي او آخرت ئې پريخودے دے .

٤) ما قبل آيت ٦ كښې ترغيب وو اعمال صالحؤ ته دلته آيت ٤ آيت ٢٦ كښې په هغي باندي ترقي ده يعني ترغيب الى الاعمال الصالحة سره ترغيب الى الايمان هم وركوي .

٥) ما قبل آيت ١٣ كښې بشارت ذكر شو : ﴿اِنَّ الْاَبْرَارَ لَفِيْ نَعِيْمٍ﴾ دلته آيت ٢٢ تا ٢٨ كښې په هغي باندي زيادت او ترقي ده .

٦) ما قبل آيت ١٤ كښې ئې مكان د فجارو ذكر كړے وو چې جحيم دے : ﴿وَ إِنَّ الْفُجَّارَ لَفِيْ جَحِيْمٍ﴾ دلته مكان د كتاب د فجارو ښائي چې سجين دے : ﴿كَلَّآ إِنَّ كِتٰبَ الْفُجَّارِ لَفِيْ سِجِّيْنٍ﴾ .

٧) ما قبل آيت ٩ كښې ذكر شو : ﴿ كَلَّا بَلْ تُكَذِّبُوْنَ بِالدِّيْنِ﴾ دلته آيت ١٠ كښې وائي : ﴿ويلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ﴾ يعني سزا د مكذبينو ذكر كوي .

٨) ما قبل آيت ٩ كښې ذكر شو : ﴿ كَلَّا بَلْ تُكَذِّبُوْنَ بِالدِّيْنِ﴾ دلته آيت ١٢ كښې په هغې باندې زيادت او ترقي ده : ﴿وَمَا يُكَذِّبُ بِهٖٓ إِلَّا كُلُّ مُعْتَدٍ أَثِيْمٍ﴾ .

٩) ما قبل آيت ١٣ كښې مقام د ابرار ذكر شو : ﴿إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِيْ نَعِيْمٍ﴾ دلته آيت ١٨ كښې مقام د اعمالو د ابرار ذكر كوي:﴿كَلَّآ إِنَّ كِتٰبَ الْأَبْرَارِ لَفِيْ عِلِّيِّيْنَ﴾.

١٠) ما قبل آيت ١٤ كښې ذكر شو : ﴿وَإِنَّ الْفُجَّارَ لَفِيْ جَحِيْمٍ﴾ دلته آيت ٢٩ تا ٣٢ كښې د فجارو هغه اعمال ذكر كوي چې د هغې په وجه به جهنم ته ځي .

١١) ما قبل آيت ١٥ كښې ئې قيامت ته : ﴿يَوْمَ الدِّيْنِ﴾ اوئيل دلته آيت ٥ كښې ورته : ﴿يَوْمٍ عَظِيْمٍ﴾ وائي .

١٢) ما قبل آيت ٤ كښې ذكر شو چې قبرونو والا به پورته كړے شي : ﴿وَإِذَا الْقُبُوْرُ بُعْثِرَتْ﴾ دلته آيت ٤ تا ٦ كښې په هغې باندې زيادت او ترقي ده .

امتيازات

١) په زجر باندې د پاره د مطففينو : ﴿ويلٌ لِّلْمُطَفِّفِيْنَ﴾ ، آيت ١ .

٢) په اوصافو د مطففينو باندې ، آيت ٢ ، ٣.

٣) په خصوصي تخويف باندې په دې الفاظو سره : ﴿يَوْمَ يَقُوْمُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ﴾ ، آيت ٦ .

٤) په ذكر د " سِجِّيْنٍ " باندې : ﴿إِنَّ كِتٰبَ الْفُجَّارِ لَفِيْ سِجِّيْنٍ﴾آيت ٧،

٥) په تعريف د "سِجِّيْنٍ": ﴿وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا سِجِّيْنٌ۝٨ كِتٰبٌ مَّرْقُوْمٌ﴾، آيت ٨، ٩.

٦) په ذکر د: ﴿كِتٰبَ الْفُجَّارِ﴾ باندې، آيت ٧.

٧) په قول د الله تعالى باندې: ﴿كَلَّا بَلْ ۜ رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ﴾، آيت ١٤.

٨) په ذکر د: ﴿كِتٰبَ الْاَبْرَارِ﴾ باندې، آيت ١٨.

٩) په ذکر د: ﴿عِلِّيِّيْنَ﴾ باندې، آيت ١٨.

١٠) په تعريف د: ﴿عِلِّيِّيْنَ﴾ باندې، آيت ١٩تا٢١.

١١) په تازګۍ د مخونو د جنتيانو: ﴿تَعْرِفُ فِيْ وُجُوْهِهِمْ نَضْرَةَ النَّعِيْمِ﴾، آيت ٢٤.

١٢) په ذکر د: ﴿رَّحِيْقٍ مَّخْتُوْمٍ﴾ باندې، آيت ٢٥.

١٣) په ذکر د: ﴿خِتٰمُهٗ مِسْكٌ﴾ باندې، آيت ٢٦.

١٤) په قول د الله تعالى باندې: ﴿وَفِيْ ذٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُوْنَ﴾، آيت ٢٦.

١٥) په ذکر د: ﴿تَسْنِيْمٍ﴾ چينې باندې، آيت ٢٧.

١٦) په اوصاف قبيحه د مجرمانو باندې، آيت ٢٩تا٣٢.

١٧) په قول د الله تعالى باندې: ﴿فَالْيَوْمَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنَ الْكُفَّارِ يَضْحَكُوْنَ﴾، آيت ٣٤.

١٨) په قول د الله تعالى باندې: ﴿هَلْ ثُوِّبَ الْكُفَّارُ مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ﴾، آيت ٣٦.

دعوى:

الترغيب الى الايمان بالله والاعمال الصالحة آيت ٤، ٣٦.

خلاصه:

سورت کښې شپږخبرې ذکر کوي: {١} زجر معرضينو ته چې دنياوي امورو کښې تاوان ته تاوان وايئ اخروي امورو کښې تاوان ته تاوان نه وايئ. {٢} الترغيب الى الاعمال الصالحة. {٣} اثبات د قيامت. {٤} زجر او تخويف

منکرینو ته . {٥} بشارت مؤمنانو ته . {٦} اوصاف قبیحه د کافرانو سره د زجر او تخویف نه ثانياً .

سورة الانشقاق مكية

نزولاً ۸۳ بعد الانفطار　　　　مصحفاً ۸۴ بعد المطففين

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل آیت ٥ ، ٦ کښې اثبات د قیامت وو دلته آیت ١٦ کښې هم اثبات د قیامت کوي بالترقي علٰی ماسبق : ﴿فَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلشَّفَقِ﴾.

۲) ما قبل آیت ٢٦ کښې ترغیب وو اعمال صالحؤ ته دلته آیت ٦ کښې په بل نهج او طرز باندې اعمال صالحه ته ترغیب ورکوي .

۳) ما قبل آیت ١٦ ، ١٧ کښې منکرینو ته تخویف ذکر شو دلته آیت ١٢ کښې هم دوی ته تخویف ورکوي .

٤) ما قبل آیت ٢٢ تا ٢٨ کښې مؤمنانو ته بشارت ذکر شو دلته آیت ٧ تا ٩ کښې هم مؤمنانو ته بشارت ورکوي مختصر الفاظو باندې .

٥) ما قبل کښې د : ﴿كِتَٰبٞ مَّرۡقُومٞ﴾ ذکر اوشو آیت ٩ ، او آیت ٢٠ کښې دلته آیت ٧ تا ١٠ کښې ئې تفصیل کوي چې چا ته به عمل نامه په ښي لاس او چاته به په کس لاس باندې ملاؤشي .

٦) ما قبل آیت ١٧ کښې ذکر شو : ﴿ثُمَّ يُقَالُ هَٰذَا ٱلَّذِي كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ﴾ دلته آیت ١١ کښې په هغې باندې زیادت او ترقي ده .

٧) ما قبل آیت ٢٦ کښې اعمال صالحؤ ته ترغیب وو دلته ترغیب دے اصل عقیدې ته چې قیامت اومنه .

۸) ما قبل آیت ۳۱ کښې ذکر شو : ﴿وَاِذَا انْقَلَبُوْٓا اِلٰٓى اَهْلِهِمُ انْقَلَبُوْا فَكِهِيْنَ﴾ دلته آیت ۱۳ کښې په هغې باندې زیادت کوې چې صرف په لاره کښې نه بلکه په کور کښې هم مست وو .

۹) ما قبل آیت ٤ ، ٢٦ کښې ایمان او اعمال صالحو ته ترغیب وو دلته آیت ۲۵ کښې صله د ایمان او د اعمال صالحه ذکر کوې : ﴿لَهُمْ اَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُوْنٍ﴾ .

۱۰) ما قبل آخرې آیت کښې منکرینو ته تخویف ذکر شو دلته آخرې آیت کښې مؤمنانو ته بشارت ذکر کوې په عکس د ماسبق باندې .

امتیازات:

۱) په خصوصي انقلاباتو د زمکې اوآسمان باندې ، آیت ۱ تا ٥.

۲) په خصوصي خطاب باندې انسان ته چې پکښې اعمال صالحو ته ترغیب دے ، آیت ٦.

۳) په دې چې اصحاب الیمین سره به آسان حساب اوکړے شي ، آیت ۸ .

٤) په خصوصي حالت د هغه چا چې عمل نامه ورته په ښي لاس ورکړے شي ﴿وَّيَنْقَلِبُ اِلٰٓى اَهْلِهٖ مَسْرُوْرًا﴾.

٥) په ذکر د شواهد ثلاثه باندې ، آیت ١٦ تا ١٨ .

٦) په قول د الله تعالی باندې : ﴿ لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَنْ طَبَقٍ﴾ ، آیت ١٩ .

۷) په خصوصي زجر باندې کافرانو ته : ﴿فَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ﴾ ، آیت ۲۰ .

۸) په خصوصي صفت د کافرانو باندې : ﴿وَاِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْاٰنُ لَا يَسْجُدُوْنَ﴾ ، آیت ۲۱ .

۹) په ذکر د ﴿وَاَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ﴾ باندې دوه ځله آیت ۲ ، ٥ .

۱۰) په خالي کیدو د زمکې د مړو او خزانو وغیره نه : ﴿وَاَلْقَتْ مَا فِيْهَا وَتَخَلَّتْ﴾ ، آیت ٤ .

دعوى:

اثبات القيامة والترغيب الى الاعمال الصالحة، آيت ٦.

خلاصه:

سورت کښې پنځه خبرې ذکر کوي:

{١} بيان د هغه احوالو چې قيامت نه به مخکښې وي. {٢} ترغيب اعمال صالحو ته. {٣} احوال د مؤمنانو او د هغوی د پاره بشارت. {٤} احوال د کافرانو او د هغوی د پاره تخويف. {٥}منکرينو د قيامت، معرضينو د قرآن او نافرمانو ته زجر او سورت په بشارت باندې ختموي.

سورة البروج مكية

نزولاً ۲۷ بعد الشمس مصحفاً ۸۵ بعد الانشقاق

«ربط د ما سبق سره»

١) ما قبل کښې اثبات د قيامت اوشو دلته مقاصد اربعه عاليه {اثبات د توحيد، اثبات د رسالت، صداقة الكتاب، اثبات د قيامت} ذکر کوي، يعني ترقي ده په ماسبق باندې.

٢) ما قبل آيت ١٠ تا ١٥ کښې تخويف اخروي ذکر شو دلته آيت ١٠ کښې تخويف اخروي او آيت ١٧، ١٨ کښې تخويف دنيوي ذکر کوي.

٣) د سابقه سورت اختتام بالتخويف و البشارة وو د دې سورت ابتداء کښې مؤمنانو ته بشارت { چې دشمن نه به درله انتقام واخلم} او منکرينو ته تخويف ورکوي په ترقي سره د ماسبق نه.

٤) ما قبل آخرې آيت کښې بشارت ذکر شو دلته آيت ١١ کښې په هغې باندې زيادت او ترقي ده.

٥) ما قبل آيت ١٦ ، ١٧ ، ١٨ کښې دري شواهد ذکر شو په اثبات د قيامت باندي دلته ابتدائي دري آيتونو کښې هم دري شواهد په اثبات د توحيد باندي ذکر کوي .

٦) ما قبل آيت ٢٢ کښې ذکر شو : ﴿بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُكَذِّبُوْنَ﴾ دلته آيت ١٩ کښې په هغي باندي ترقي ده : ﴿بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ تَكْذِيْبٍ﴾ .

٧) ما قبل آيت ٢٣ کښې ذکر شو : ﴿وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا يُوْعُوْنَ﴾ يعني د دوی په عقيده کښې چې څه دي الله تعالٰی پري پوهه دے نو دلته آيت ٢٠ کښې په هغي باندي ترقي ده : ﴿وَاللّٰهُ مِنْ وَّرَآىِٕهِمْ مُّحِيْطٌ﴾ دوی د الله د علم او قدرت نه بهر نه دي .

٨) ما قبل آيت ٢١ کښې ذکر شو : ﴿ وَاِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْاٰنُ لَا يَسْجُدُوْنَ﴾ دلته آيت ٢١ ، ٢٢ کښې د قرآن کريم مقام ذکر کوي : ﴿بَلْ هُوَ قُرْاٰنٌ مَّجِيْدٌ۝۲۱ فِيْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ﴾ .

٩) ما قبل آيت ٢٠ کښې ذکر شو : ﴿فَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ﴾ دلته آيت ٨ کښې وائي ايمان راوړل لا څه ؟ چا چې ايمان راوړے دے نو هغه ئې بدې شي .

١٠) ما قبل آيت ١٥ کښې د الله تعالٰی دوه نومونه ذکر شو :

{١} رب . {٢} بصير دلته آيت ١٤تا١٦ کښې په هغي باندي ترقي ده پنځه نومونه د الله تعالٰی ذکر کوي : {١} الغفور . {٢} الودود . {٣} ذو العرش . {٤} المجيد {٥} فعال لمايريد .

١١) ما قبل آيت ٦ کښې ذکر شو چې انسانه به مشقت برداشت کوي دلته آيت ٤ تا ٨ کښې د مشقت نموني ذکر کوي .

امتيازات:

١) دا سورت ممتاز دے په واقعي د اصحاب الاخدود باندي ، آيت ٤.

۲) په شواهد ثلاثه باندي، آيت ۱ تا ۳ .

۳) په پنځو نومونو د باری تعالی باندي، آيت ١٤تا ١٦ .

٤) په خصوصي عظمت د قرآن كريم باندي : ﴿ بَلْ هُوَ قُرْاٰنٌ مَّجِيْدٌ ۝٢١ فِيْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ ﴾ .

٥) په بشارت باندي مؤمنانو ته خصوصي الفاظو سره، آيت ۱۱ .

٦) په خصوصي تخويف باندي منكرينو ته، آيت ١٠ .

۷) په قول د باری تعالی باندي : ﴿اِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيْدٌ ﴾، آيت ۱۲ .

۸) په خصوصي تخويف دنيوي باندي : ﴿هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ الْجُنُوْدِ ۝١٧ فِرْعَوْنَ وَثَمُوْدَ﴾ ، آيت ۱۷ ، ۱۸ .

۹) په ذکر د : ﴿ قُرْاٰنٌ مَّجِيْدٌ﴾ باندي، آيت ۲۱ .

۱۰) په قول د باری تعالی باندي : ﴿ بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ تَكْذِيْبٍ ﴾، آيت ۱۹ .

دعوی

البشارة للمؤمنين والتخويف للمنكرين .

خلاصه:

سورت كښي نهه خبري ذکر کوي : {۱} شواهد ثلاثه په اثبات د توحيد او تفصيل د هغي په طريقي د لف نشر غير مرتب سره : ﴿قُتِلَ اَصْحٰبُ الْاُخْدُوْدِ﴾ د : ﴿ وَ شَاهِدٍ وَّ مَشْهُوْدٍ﴾ سره متعلق ﴿وَ لَهُمْ عَذَابُ الْحَرِيْقِ﴾ د : ﴿وَ الْيَوْمِ الْمَوْعُوْدِ﴾ سره او : ﴿ وَاللّٰهُ مِنْ وَّرَآىِٕهِمْ مُّحِيْطٌ﴾ سره متعلق دے .

{۲}التذكير بايام الله . {۳} د مشرکانو دشمنی د مؤمنانو سره د ایمان او توحيد په وجه ده . {٤} تخويف منكرينو ته . {٥} بشارت دنیوي او بشارت اخروي مؤمنانو ته . {٦} ادله عقليه په اثبات د توحيد باندي . {۷} هلاکت د امم

مکذبو {تخويف دنيوي} . {۸} زجر منکرينو ته . {۹} توصيف او عظمت د قرآن کريم .

سورة الطارق مكية

نزولاً ۳٦ بعد البلد مصحفاً ۸٦ بعد البروج

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل کښې اثبات د مقاصد اربعه عاليه اوشو دلته آيت ۱۷ کښې منکرينو د مقاصد اربعه عاليه ته زجر ورکوي .

۲) ما قبل آيت ۲۱، ۲۲ کښې عظمت د قرآن ذکر شو دلته آيت ۱٤ ، ۱٥ کښې هم عظمت د قرآن کريم ذکر کوي .

۳) ما قبل کښې شواهد په اثبات د قيامت ذکر شو دلته دلائل په اثبات د قيامت باندي ذکر کوي .

٤) ما قبل آيت ۲۰ کښې ذکر شو : ﴿ وَاللَّهُ مِن وَرَآئِهِم مُّحِيطٌ ﴾ يعني الله رب العزت ته د دوی اعمال معلوم دي دلته آيت ٤ کښې ترقي ده : ﴿إِن كُلُّ نَفْسٍ لَّمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ﴾.

٥) ما قبل آيت ۱۳ کښې ذکر شو : ﴿وَيُعِيدُ﴾ دلته آيت ۸ کښې په هغي ترقي ده : ﴿إِنَّهُ عَلَىٰ رَجْعِهِ لَقَادِرٌ﴾ .

٦) ما قبل آيت ۱۳ کښې ذکر شو : ﴿ إِنَّهُ هُوَ يُبْدِئُ ﴾ دلته آيت ٦ ، ۷ کښې ئي تفصيل کوي .

۷) ما قبل آيت ۱۰ کښې تخويف هغه چاته ذکر شو چي مؤمنانو له ئي تکليفونه ورکول دلته آيت ۱۰ کښې ورله هم تخويف ورکوي چي نه به ئي طاقت وي او نه به ئي څوک ملګرے وي .

۸) ما قبل آیت ۲ کښې ذکر شو : ﴿وَالْيَوْمِ الْمَوْعُوْدِ۲﴾دلته آيت ۹ کښې په هغې ترقي ده : ﴿ يَوْمَ تُبْلَى السَّرَآئِرُ﴾.

۹) ما قبل آيت ۱ کښې ذکر شو : ﴿وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْبُرُوْجِ﴾ دلته آيت ۱۱ کښې رائي : ﴿وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الرَّجْعِ﴾.

۱۰) ما قبل آيت ٤ تا ۷ کښې کيد " تدبير " د کافرانو ذکر شو چې مؤمنان ئې سوزول دلته آيت ۱۵ ، ۱٦ کښې په هغې ترقي ده " کيد" د کافرو او (کيد) د الله تعالى ذکر کوي .

۱۱) ما قبل آيت ۱۹ کښې ذکر شو : ﴿بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ تَكْذِيْبٍ﴾ دلته آيت ۱۷ کښې تسلي ده چې خفه کيږه مه لږ شان مهلت کافرانو له ورکړه .

۱۲) ما قبل آيت ۲۱ کښې توصيف د قرآن کريم ذکر شو : ﴿بَلْ هُوَ قُرْاٰنٌ مَّجِيْدٌ۲۱فِيْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ﴾ دلته آيت ۱۳ ، ۱٤ کښې په نورو الفاظو باندې توصيف د قرآن کريم کوي : ﴿اِنَّهٗ لَقَوْلٌ فَصْلٌ۱۳وَّمَا هُوَ بِالْهَزْلِ﴾.

امتيازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په شواهدو په محفوظيت د اعمالو د انسان باندې ، آيت ۱ تا ٤ .

۲) په تعريف د " الطَّارِقُ " باندې په : ﴿ النَّجْمُ الثَّاقِبُ﴾ سره ، آيت ۳ .

۳) په قول د باري تعالى باندې : ﴿ اِنْ كُلُّ نَفْسٍ لَّمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ﴾ ، آيت ٤ .

٤) په زجر انسان ته په دې الفاظو سره : ﴿ فَلْيَنْظُرِ الْاِنْسَانُ مِمَّ خُلِقَ﴾ ، آيت٥.

۵) په پيدائش د انسان د اوبو توپ وهونکونه آيت ٦.

٦) په ذکر د مخرج د اوبو توپ وهونکو باندې : ﴿يَخْرُجُ مِنْ بَيْنِ الصُّلْبِ وَالتَّرَآئِبِ﴾ ، آيت ۷ .

۷) په قول د باری تعالی باندي : ﴿إِنَّهُۥ عَلَىٰ رَجْعِهِۦ لَقَادِرٌ﴾ ، آيت ۸ .

۸) په ښکاره کيدو د رازونو باندي په ورځ د قيامت :﴿يَوْمَ تُبْلَى السَّرَآئِرُ﴾،آيت۹.

۹) په عجز د انسان باندي خصوصي الفاظو سره:﴿فَمَا لَهُۥ مِن قُوَّةٍ وَلَا نَاصِرٍ﴾،آيت ۱۰ .

۱۰) په قول د باری تعالی باندي : ﴿ وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الرَّجْعِ﴾، آيت ۱۱ .

۱۱) زمکې ته په : ﴿ذَاتِ الصَّدْعِ ﴾ وئيلو باندي ، آيت ۱۲ .

۱۲) په توصيف او عظمت د قرآن باندي په خصوصي الفاظو ، آيت ۱۳ ، ۱٤ .

۱۳) نبي عليه السلام ته په تسلی او کافرو ته په تخويف ورکولو باندي په خصوصي الفاظو سره : ﴿ فَمَهِّلِ الْكَٰفِرِينَ أَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًا﴾.

دعوی:

تسلي نبي عليه السلام ته او تخويف منکرينو ته ، آيت ۱۷.

خلاصه:

سورت کښې دري خبري ذکر کوي : {۱} شواهد په محفوظيت د اعمالو د انسان باندي ځنګه چې آسمان کښې ستورې محفوظ دي دارنګه اعمال د انسان په پرچو د فرشتو کښې محفوظ دي : ﴿إِن كُلُّ نَفْسٍ لَّمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ﴾ . {۲} دلائل عقليه په اثبات د قيامت او په صداقت د قرآن کريم باندي ، آيت ۱۱ تا۱٤.

{۳} تسلي نبي عليه السلام ته او تخويف منکرينو ته ، آيت ۱۷.

سورة الاعلى مكية

نزولاً ۸ بعد التكوير مصحفاً ۸۷ بعد الطارق

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل آيت ٦ كښې خلق {پيدائش د انسان ذكر شو دلته استكمال د انسان ذكر كوي چې استكمال د انسان په قرآن سره راځي ،كويا چې انسان قرآن له پيدا شوے دے : ﴿الَّذِىۡ خَلَقَ فَسَوّٰى﴾ .

۲) ما قبل آيت ٤ كښې ذكر شو چې الله حافظ دے په انسان باندي دلته آيت ۲ كښې وائي چې الله تعالٰى خالق دے .

۳) ما قبل آيت ٥ تا ۷ كښې پيدائش د انسان ذكر شو تخصيصًا دلته آيت ۲ كښې تعميم كوي : ﴿الَّذِىۡ خَلَقَ فَسَوّٰى﴾ .

٤) ما قبل آيت ٤ كښې ذكر شو چې الله نكهبان دے دلته آيت ۷ كښې وائي چې الله تعالٰى عالم الغيب دے .

٥) ما قبل آيت ۱۳ ، ١٤ كښې عظمت د قرآن كريم ذكر شو دلته آيت ٦ كښې قرآن كريم ته ترغيب وركوي .

٦) ما قبل آيت ۱۲ كښې ذكر شو : ﴿وَالۡاَرۡضِ ذَاتِ الصَّدۡعِ﴾ دلته آيت ٤ كښې په هغي باندي ترقي وه .

۷) ما قبل آيت ۱۳ ، ١٤ كښې عظمت د قرآن كريم ذكر شو دلته آيت ۹ كښې د دي كتاب دعوت ته ترغيب وركوي .

۸) ما قبل آيت ۱۳ ، ١٤ كښې صداقت د قرآن كريم ذكر شودلته آيت ۱۰ كښې وائي چې دي كتاب نه هغه څوك نصيحت اخلي چې د الله نه يريږي .

۹) ما قبل آيت ۱۳ ، ١٤ كښې صداقت د قرآن كريم ذكر شو دلته آيت ۱۱ كښې وائي چې د قرآن نه بيرته كيږي نو هغه بدبخته دے .

۱۰) ما قبل آيت ۱۳ ، ١٤ كښې عظمت د قرآن كريم ذكر شو دلته آيت ١٦ كښې مانع د قرآن نه ذكر كوي چې هغه دنيا بهتر ګڼل دي په آخرت باندي .

۱۱) ما قبل آيت ٥ تا ٧ كښې پيدائش د انسان ذكر شو دلته آيت ١٤ ، ١٥ كښې د انسان د كاميابۍ د پاره دري اصول ذكر كوي .

۱۲) ما قبل آيت ۱۳، ١٤ كښې صداقت او عظمت د قرآن كريم ذكر شو نو چونكه محبت د دنيا انسان د قرآن نه بندوي د دي وجې نه دلته آيت ١٦ ، ١٧ كښې تزهيد من الدنيا او ترغيب الى الآخرة وركوي .

تنبيه : دي ځائي نه تر سورت ليل پوري شپږو سورتونو كښې تزهيد من الدنيا او ترغيب الى الآخرة ذكر كوي .

امتيازات:

۱) دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په بيان د مقصود اعلى چې هغه توحيد دے په خصوصي الفاظو سره ، آيت ۱تا ٥.

۲) په ذكر د لاري د پاره د حصول د مقصود چې هغه قرآن كريم دے، آيت ٦.

۳) په ذكر د مانع د مقصود نه چې محبت د دنيا دے ، آيت ١٦.

٤) په ذكر د نتيجې د حصول د مقصود باندي چې هغه كاميابي ده ، آيت ١٤ .

٥) په ذكر د نتيجې د عدم حصول د مقصود چې هغه هميشه تاوان دے ١٢ .

٦) په ذكر د ادله عقليه باندي ، آيت ۲ تا ٥ .

۷) په قول د بارى تعالى باندي : ﴿ سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنْسَىٰ ﴾ ، آيت ٦ .

۸) په قول د بارى تعالى باندي : ﴿ وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرَىٰ ﴾، آيت ۸ .

۹) په دريو / ۳ اصولو د پاره د حصول د كاميابۍ ، آيت ١٤، ١٥.

۱۰) په ذکر د صحف ابراهیم علیه السلام او موسیٰ علیه السلام : ﴿صُحُفِ إِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى﴾

دعوی :

بیان ددریؤ مضامینو : {۱} توحید . {۲} الترغیب الی القرآن . {۳} التزهید من الدنیا و الترغیب الی الآخرة .

مختصر خلاصه :

په دي سورت کښې الله رب العزت فرمائي چې دوه مسئلي اومنۀ : {۱}خالق لکل شئ هو الله ، آیت ۲ . {۲} عالم بکل شئ هو الله ، آیت ۷ نو دوه نعمتونه به درکړم : {۱} علم د قرآن ﴿سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنْسٰى﴾ {۲} جنت به درکړم :﴿وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرٰى﴾ .

تفصیلي خلاصه :

ابتداء د سورت کښې مسئله د توحید په دري دلائل عقلیؤ باندي ثابتوي او ترغیب ورکوي مسئلي د توحید ته چې کوم ذات تاسو پیدا کړي يئ نو هغه ذات رشتینے الٰه دے او کوم چې تاسو ته هدایت کړے دے نو د هغه کتاب نه هدایت حاصل کړئ او کوم ذات چې ستاسو څارؤ د پاره چراګاه زرغنوي او تاسو باندي ئې نعمتونه پوره کړي دي نوصرف د هغه ذات عبادت اوکړئ ، بیا آیت ۵ کښې تزهید من الدنیا یعني د دنیا نه بے رغبتي ورکوي ځکه چې دنیا فاني ده دیکښې همیشه پاتیکیدل نشته ، بیا دویم قسم دلیل په مسئلي د توحید باندي ذکر کوي چې الله تعالیٰ په هرڅه پوهه دے آیت ۷ ، او په مینځ یعني آیت ۶ کښې قرآن کریم ته ترغیب ورکوي : ﴿سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنْسٰى﴾ ځکه چې توحید او تسبیح بغیر د قراءت نه نه پوره کیږي نو د قرآن سره شوق اوساتئ او دا مه هیروئ نو جنت به درله درکړم : ﴿وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرٰى﴾، په مخکښې دوؤ مسئلو : {خالق لکل شئ هوالله او عالم بکل شئ هوالله } باندي دوه نعمتونه " قرآن

او جنت " تفريع كوي ،رومبے نعمت "قرآن" علت د دويم نعمت "جنت " دے ، حاصل دا چې په قرآن باندي چا عمل اوكړو نو جنت ته به لاړ شي ، هر كله چې قرآن كريم باندي جنت موندلے شي نو آيت ۹ كښې وائي چې قرآن خلقو ته بيان كړه ، بيا آيت ۱۰ تا ۱۵ كښې وائي چې خلق به پس د بيان نه دوه قسمه شي : {۱} كامياب چې دا اومني . {۲} نا كام چې د دينه انكار اوكړي ، بيا د جنت نه مانع څه شے دے ؟ نو هغه محبت د دنيا دے د دي وجي نه آيت ۱٦ ، ۱۷ كښې تزهيد من الدنيا او ترغيب الى الآخرة ذكر كوي ، او آخر د سورت كښې وائي چې دا مقاصد يعني توحيد ، د الله كتاب ته انابت كول او تزهيد من الدنيا په رومبنو صحيفو يعني صحيفو د ابراهيم عليه السلام او موسٰى عليه السلام كښې هم وو ، يعني دليل نقلي ذكر كوي .

درميانه خلاصه:

سورت كښې پنځه خبري ذكر كوي :

{۱}بيان د مقصود اعلٰى {توحيد آيت ۱ ﴿سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلَى﴾ ، آيت ۱ .

{۲}طريقه د پاره د حصول د مقصود چې هغه قرآن كريم دے ،توحيد به د قرآن نه زده كوي : ﴿سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنْسٰٓى﴾ ، آيت ٦ .

{۳}بيان د مانع د مقصود اعلٰى {توحيد}نه چې هغه محبت د دنيا دے:﴿بَلْ تُؤْثِرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا﴾، آيت١٦.

{٤}انجام د حصول د مقصود {توحيد} چې هغه كاميابى ده ﴿قَدْ اَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى﴾،آيت ١٤ ..

{٥} انجام دعدم حصول د مقصود {توحيد ، چې هغه هميشه د پاره خسران او تاوان دے : ﴿الَّذِيْ يَصْلَى النَّارَ الْكُبْرٰى﴾ ، آيت ۱۲ په آخر كښې يعني آيت ۱۸ ، ۱۹ كښې دليل نقلي په دي مسائلو باندي ذكر كوي .

سورة الغاشية مكية

نزولاً ٦٨ بعد الذاريات مصحفاً ٨٨ بعد الاعلى

«ربط د ما سبق سره»

١) ما قبل آيت ١٦ ، ١٧ كښې تزهيد من الدنيا او ترغيب الى الآخرة ذكر شو نو دلته آيت ١ تا ٧ كښې منكرينو د دې مسئلې ته تخويف وركوي .

٢) ما قبل آيت ١٦ ، ١٧ كښې تزهيد من الدنيا او ترغيب الى الآخرة ذكر شو دلته آيت ٨ تا ١٦ كښې منونكو د دې مسئلې ته بشارت وركوي .

٣) ما قبل آيت ٩ كښې د قرآن كريم دعوت ته ترغيب وو : ﴿فَذَكِّرْ إِنْ نَّفَعَتِ الذِّكْرٰى﴾ دلته آيت ٢١ كښې هم د قرآن كريم دعوت ته ترغيب وركوي.

٤) ما قبل آيت ١٤ كښې منونكو د توحيد ته بشارت ذكر شو دلته آيت ٨ تا ١٦ كښې په هغې باندې ترقي ده .

٥) ما قبل آيت ١١ تا ١٣ كښې منكرينو د توحيد ته تخويف ذكر شو دلته آيت ١ تا ٧ كښې په هغې باندې ترقي ده .

٦) ما قبل آيت ٩ كښې ذكر شو : ﴿فَذَكِّرْ إِنْ نَّفَعَتِ الذِّكْرٰى﴾ دلته آيت ٢٣ تا ٢٦ كښې معرضينو د قرآن ته زجر وركوي .

٧) ما قبل آيت ١٢ كښې ذكر شو : ﴿ الَّذِيْ يَصْلَى النَّارَ الْكُبْرٰى﴾ دلته آيت ٤ كښې وائي : ﴿تَصْلٰى نَارًا حَامِيَةً﴾ يعني ځكښې ئې د جهنم أور ته : ﴿النَّارَ الْكُبْرٰى﴾ وئيلي وو دلته ورته : ﴿ نَارًا حَامِيَةً﴾ وائي .

٨) ما قبل آيت ١٣ كښې ذكر شو : ﴿ثُمَّ لَا يَمُوْتُ فِيْهَا وَلَا يَحْيٰى﴾ يعني ژوند به ښه ژوند نه وي دلته آيت ٦ ، ٧ كښې وائي : ﴿ لَيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ إِلَّا مِنْ ضَرِيْعٍ ۝ لَا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِيْ مِنْ جُوْعٍ﴾ يعني خوراك به ئې ښه خوراك نه وي .

۹) ما قبل آیت ۹ کښې ذکر شو چې خلقو ته د قرآن دعوت ورکړه دلته آیت ۲۲ کښې تسلي ورکوي که څوک ستا دعوت نه مني نو مه خفه کیږه : ﴿لَسْتَ عَلَيْهِمْ بِمُصَيْطِرٍ﴾.

۱۰) ما قبل آیت ۸ کښې ذکر شو : ﴿وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرٰى﴾ دلته آیت ۱۰ کښې د "يُسْرٰى" وضاحت کوي : ﴿ فِيْ جَنَّةٍ عَالِيَةٍ﴾ چې دا جنت دے .

امتيازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په ذکر د : ﴿ الْغَاشِيَةِ﴾ باندي ، آیت ۱.

۲) په ذکر د : ﴿ عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ﴾ باندي آیت ۳ .

۳) په خصوصي تخويف اخروي باندي ، آیت ٤ تا ۷ .

٤. په خصوصي بشارت باندي ، آیت ۸تا ۱٦ .

٥) په ذکر د اوچتو کټونو باندي ، آیت ۱۳ .

٦) په ذکر د : ﴿أَكْوَابٌ مَّوْضُوعَةٌ﴾ باندي آیت۱٤ .

۷) په ذکر د : ﴿وَنَمَارِقُ مَصْفُوْفَةٌ﴾ باندي ، آیت ۱٥ .

۸) په ذکر د : ﴿ وَّزَرَابِيُّ مَبْثُوْثَةٌ﴾ باندي ، آیت ۱٦ .

۹) په بیان د څلورو مثالونو باندي د پاره د دغه څلور درجو کومي چې آیت ۱۳ تا ۱٦ کښې ذکر دي ، آیت ۱۷ تا۲۰ کښې دا مثالونه ذکر کوي .

۱۰) په خصوصي تسلی ورکولو باندي نبي عليه السلام او هر يو مبلغ ته ، آیت ۲۱ تا۲۲.

دعوی:

التخويف للمنكرين والبشارة للمؤمنين .

خلاصه:

سورت کښې څلور خبري ذکر کوي :

{۱} تخويف منکرينوته او ناکاره حالت د دوی ذکر کوي ، آیت ۱ تا ۷ .

{۲} بشارت مؤمنانو ته په څلورو درجو سره او د هغې د پاره څلور مثالونه په دنیاکښې، آیت ۸ تا ۲۰ . {یاد ساتل پکار دي چې دا مثالونه په طریقې د لف نشر غیر مرتب سره ذکر کوي :

{۳} الترغیب في التبلیغ او تسلي نبي اللہ ته آیت ۲۱ ۲۲.

{٤} زجر او تخویف معرضینو د قرآن ته آیت ۲۳ تا ۲٦ ابتداء او انتهاء د سورت په تخویف باندي ده .

سورة الفجر مكية

نزولاً ۱۰ بعد اللیل مصحفاً ۸۹ بعد الغاشیة

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل آیت ۱ تا ۷ کښې تخویف ذکر شو دلته آیت ۱ تا ٤ کښې تضرع او خشوع ته ترغیب ورکوي په اوقات حسنه کښې چې دا خلق د دغه تخویف نه په امن شي .

۲) ما قبل آیت ۸ تا ۱٦ کښې بشارت ذکر شو دلته آیت ۱ تا ٤ کښې تضرع او خشوع ته ترغیب ورکوي په اوقات حسنه کښې چې دا خلق دغه بشارت حاصل کړي .

۳) ما قبل آیت ۱۷ تا ۲۰ کښې څلورمثالونه د پاره د خلقو ذکر شو دلته آیت ۱ تا ٤ کښې په څلورو اوقات حسنه کښې خلقو ته د تضرع او خشوع ترغیب ورکوي .

٤) ما قبل آیت ۱ تا ۷ کښې تخویف اخروي ذکر شو دلته په هغې باندي زیادت او ترقي ده، په داسي شان چې دلته آیت ٦ تا ١٤ کښې تخویف دنیوي او آیت ۲۱ تا ۲٦ کښې تخویف اخروي ورکوي .

٥) ما قبل آيت ٢٠ كښې ذكر شو : ﴿وَإِلَى الْأَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ﴾ دلته آيت ٢١ كښې وائي : ﴿ كَلَّا إِذَا دُكَّتِ الْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا﴾ .

٦) ما قبل آيت ٢٤ كښې ذكر شو : ﴿ فَيُعَذِّبُهُ اللهُ الْعَذَابَ الْأَكْبَرَ﴾ دلته آيت ٢٥ كښې په هغې باندې ترقي ده : ﴿فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهُ أَحَدٌ﴾

٧) ما قبل آيت ٩ كښې ذكر شو : ﴿ لِّسَعْيِهَا رَاضِيَةٌ﴾ يعني جنتيان به د خپل عمل نه خوشحاله وي دلته آيت ٢٨ كښې په هغې باندې ترقي ده صرف دوئ به خوشحاله نه وي بلكه الله تعالىٰ به ترينه هم خوشحاله وي .

٨) ما قبل آيت ١٠ كښې ذكر شو : ﴿فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٍ﴾ دلته آيت ٣٠ كښې په هغې باندې ترقي ده : ﴿ وَادْخُلِي جَنَّتِي﴾.

٩) ما قبل آيت ٢ كښې كښې ذكر شو : ﴿وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ خَاشِعَةٌ﴾ دلته د دغه خلقو مثالو نه ذكر كوي ؛ لكه عاديان ، ثموديان او فرعون ، آيت ٦ تا ١٠.

١٠) ما قبل آيت ٨ كښې كښې ذكر شو : ﴿ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاعِمَةٌ﴾ دلته آيت ٢٧ كښې ئې تفصيل كوي يعني مخ به د نفس مطمئنه تازه وي : ﴿يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ﴾.

١١) ما قبل آيت ١ تا ٧ كښې منكرينو د قيامت ته تخويف ذكر شو دلته آيت ١٩ ، ٢٠ كښې اهانت او سپكاوے د محبت د مال ذكر كوي څكه چې دا سبب د قيامت نه د انكار كولو دے .

١٢) ما قبل آيت ٤ تا ٧ كښې سزاكاني د جهنميانو ذكر شوي دلته آيت ١٧ تا ٢٠ كښې د دوئ ناكاره عملونه ذكر كوي چې د هغې په وجه به دوئ له دغه سزاكاني وركولے شي .

امتيازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په ابتداء د سورت کښې په لفظ د : ﴿وَالْفَجْرِ"﴾، آيت۱.

۲) په ذکر د : ﴿ وَلَيَالٍ عَشْرٍ﴾ باندي، آيت ۲ .

۳) په ذکر د : ﴿ وَّالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ﴾ باندي، آيت ۳.

٤) په ذکر د : ﴿وَالَّيْلِ اِذَا يَسْرِ ﴾ باندي، آيت ٤ .

٥) په قول د بارې تعالى باندي : ﴿هَلْ فِيْ ذٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِيْ حِجْرٍ﴾ ، آيت ٥ .

٦) په ذکر د : ﴿اِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ﴾ باندي ، آيت ۷ .

۷) فرعون ته په : ﴿ ذِى الْاَوْتَادِ﴾ وئيلو باندي ، آيت ۱۰.

۸) په قول د بارې تعالى باندي : ﴿ فَاَكْثَرُوْا فِيْهَا الْفَسَادَ﴾ ، آيت ۱۲ .

۹) په ذکر د : ﴿سَوْطَ عَذَابٍ﴾ باندي ، آيت ۱۳ .

۱۰) په ذکر د : ﴿ مِرْصَادِ﴾ باندي ، آيت ١٤ .

۱۱) په خصوصي حالت د متکبر انسان باندي ، آيت ١٥ ، ١٦.

۱۲) په اوصاف اربعه د مجرمانو باندي ، آيت ۱۷ تا ۲۰ .

۱۳) په لفظ د : ﴿التُّرَاثَ ﴾ باندي ، آيت ۱۹ .

١٤) په ذکر د : ﴿ اَكْلًا لَّمًّا﴾ باندي ، آيت ۱۹. " لَّمًّا " ډيرته هم وائي اوکناه ته هم .

۱٥) په ذکر د : ﴿حُبًّا جَمًّا﴾ باندي ، آيت ۲۰ .

١٦) په ذکر د : ﴿دَكًّا دَكًّا﴾ باندي ، آيت ۲۱.

۱۷) په قول د بارې تعالى باندي : ﴿وَّ جَآءَ رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا﴾ ، آيت ۲۲ .

۱۸) په قول د بارې تعالى باندي:﴿يَوْمَئِذٍ يَّتَذَكَّرُ الْاِنْسَانُ وَ اَنّٰى لَهُ الذِّكْرٰى﴾،آيت۲۳ .

۱۹) په ارمان کولو د مجرم انسان په خصوصي الفاظو سره : ﴿يَٰلَيۡتَنِي قَدَّمۡتُ لِحَيَاتِي﴾ ، آيت ۲٤ .

۲۰ ـ په خصوصي تخويف اخروي باندي ، آيت ۲۵، ۲٦.

۲۱) په ذکر د : ﴿النَّفۡسُ الۡمُطۡمَئِنَّةُ﴾ باندي ، آيت ۲۷.

۲۲) په ذکر د دريؤ انعاماتو باندي د پاره د نفس مطمئنه آيت ۲۸ تا ۳۰ .

دعوی:

الترغيب الى الاعمال الصالحة في الاقات الحسنة او اهانت (سپکاوے)د محبت د مال .

خلاصه:

سورت کښې پنځه خبري ذکر کوي :

{۱} ترغيب انسان ته د اعمال صالحؤ چې د نيلام ورځې درنه لا ړې او ته اودۀ پروت ئې آيت ۱ تا ٥ .

{۲}تخويف دنيوي په هلاکت د دريؤ قومونو سره آيت ٦تا ١٤ .

{۳} اهانت د محبت د مال او دا ذکر کوي چې انسان په مال نه عزت مندکيږي بلکه د يتيم په عزت کولو او په مسکين خرج کولو باندي عزتمند کيږي او هغه چا ته زجر ورکوي چې مال سره محبت ساتي آيت ۱۵ تا ۲۰ .

{٤} تخويف اخروي آيت ۲۱تا۲٦ .

{٥}اطاعت او انابت د الله تعالى ته ترغيب ورکوي آيت ۲۷تا ۳۰

سورة البلد مكية

نزولاً ۳۵ بعد ق مصحفاً ۹۰ بعد الفجر

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل كښې غفلت د غافل ذكر شو دلته وائي چې د دغه خلقو اصلاح اوكره.

۲) ما قبل آيت ۱۹ كښې اهانت د محبت د مال او زجر هغه چا ته ذكر شو چې مال سره محبت كوي دلته آيت ۵ تا ۱۰ كښې هغه چا ته زجر وركوي چې بے ځايه مال خرج كوي.

۳) ما قبل آيت ٦ تا ١٤ كښې احوال د مكذبينو سابقينو ذكر شو دلته آيت ۱۹ ، ۲۰ كښې د دي امت د معاندينو حال ذكر كوي چې د الله تعالیٰ د حكم خلاف كوي.

٤) ما قبل آيت ۱ تا٤ كښې ترغيب وو اعمال صالحۆ ته په اوقات حسنۆ كښې نو دلته آيت ٤ كښې وائي : ﴿لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِيْ كَبَدٍ﴾ چې نيک اعمالو كښې به مشقت او تكليف برداشت كوي.

۵) ما قبل آيت ۱۷ ، ۱۸ كښې ذكر شو چې د يتيم او مسكين اكرام اوكړئ نو دلته آيت ۱۵ ، ١٦ كښې په هغې باندې زيادت او ترقي ده چې د يتيم او مسكين اكرام اوكړه او مال پرې خرج كړه.

٦) د ما قبل اختتام بالبشارة وو د دي سورت اختتام بالتخويف دے په عكس د ماسبق باندې.

۷) د ما قبل ابتداء كښې ذكر شو چې وخت ضائع نه كړئ نو دلته آيت ١٤ تا ١٦ كښې وائي مال هسې ضائع نه كړي په صحيح ځائي باندې ئې اولګوه.

۸) ما قبل آیت ٦ تا ۱۳ کښې دري قومونه د کافرو ذکر شو دلته آیت ۱۹ کښې وائي چې کافرو ته به کس لاس باندي عمل نامه ملاویږي .

۹) ما قبل آیت ۱۳ کښې ذکر شو چې کافرو باندي دنیا کښې عذاب راغے نو دلته آیت ۲۰ کښې وائي صرف دغه نه بلکه آخرت کښې به ورته هم عذاب ملاویږي : ﴿عَلَيْهِمْ نَارٌ مُّؤْصَدَةٌ﴾

۱۰) ما قبل آیت ۱۱ ، ۱۲ کښې دوه کارونه ذکر شو چې د هغې نه ځان ساتل پکار وو : (۱) سرکشي .

(۲) فساد ، نو دلته آیت ۱۳ تا ۱۷ کښې پنځه کارونه ذکر کوي چې هغه ځان کښې راؤستل پکار دي یعني ما قبل کښې تخلي وه ، دلته تحلي ذکر کوي .

امتیازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په ذکر د شاهدین سره : {۱} ﴿لَآ أُقْسِمُ بِهَٰذَا الْبَلَدِ﴾ .

{۲} ﴿وَوَالِدٍ وَّمَا وَلَدَ﴾، آیت۳ .

۲) په دي باندي چې انسان مشقت د پاره پیدا دے ، آیت ٤ .

۳) په خصوصي زجر هغه چاته چې مال بے ځایه لګوي ، آیت ۱۱ ، ۱۲.

٤) په خصوصي ترغیب باندي چې مال په صحیح ځائي اولګوه ، آیت ۱۳ تا ۱٦.

٥) په ذکر د دریؤ قوانینو باندي د پاره د اصلاح د کل آیت ٤ ، ۱۳ تا ۱۷ .

٦) په ښودلو دوؤ لارو باندي انسان ته : ﴿وَهَدَيْنَٰهُ النَّجْدَيْنِ﴾ ، آیت ۱۰ .

۷) په موصوف کولو د یتیم په : ﴿ذَا مَقْرَبَةٍ﴾ سره ، آیت ۱٥ .

۸) په موصوف کولو د مسکین په ﴿ذَا مَتْرَبَةٍ﴾ سره ، آیت ۱٦ .

۹) په تسلي ورکولو باندي نبي ﷺ ته چې دي مکې ته به ته بیا راځي ﴿وَأَنتَ حِلٌّ بِهَٰذَا الْبَلَدِ﴾ ، آیت ۲ .

۱۰) په دري عقلي دلائلو باندي ، آیت ۸ ، ۹.

۱۱) په ذکر د : ﴿الْعَقَبَةَ ﴾ او په تعريف د هغي باندي ، آيت ۱۱تا ۱٤.
۱۲) په لفظ د : ﴿الْمَرْحَمَةِ﴾ باندي ، آيت ۱۷ .

دعوی:

زجرمسرفينو (اسرف كؤنكو) ته او د ټولي د اصلاح د پاره ذکر د دريو قوانينو.

خلاصه:

سورت کښې د ټولی اصلاح د پاره دري قوانين ذکر کوي :

{۱} د ټولي مشر به جفاکش او محنت کش وي په اصلاح د قوم کښې لکه اوګوره نبي ﷺ ديارلس کاله د قريشو د اصلاح د پاره کوشش او محنت کړے وو : ﴿ لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي كَبَدٍ﴾ ، آيت ٤ .

{۲} د ټولی د مال دارو مال به په صحيح ځائي (يتيم او مسکين) و غيره باندي لګي آيت ۱۳تا ۱٦ .

{۳} د ټولی مشربه د خلقو په بدو باندي بد نه ګڼړي بلکه صبر او د حق بيان به کوي : ﴿وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا بِالْمَرْحَمَةِ﴾.

سورة الشمس مكية

نزولاً ۲٦ بعد القدر   مصحفاً ۹۱ بعد البلد

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل آيت ۱۸ ، ۱۹ کښې د دوؤ ډلو ذکر اوشو : {۱} اصحاب الميمنة .
{۲} اصحاب المشئمة دلته آيت ۹ ، ۱۰ کښې ئې تفصيل کوي ، چې اصحاب الميمنة كامياب او اصحاب المشئمة تاوانيان دي .

۲) ما قبل آيت ۱۹، ۲۰ کښې تخويف اخروي ذکر شو دلته آيت ۱۱ تا ۱۵ کښې تخويف دنيوي ذکر کوي .

۳) ما قبل آيت ٦ کښې حال د دې امت ذکر شو دلته آيت ۱۱ کښې د امم سابقؤ نه حال د ثموديانو ذکر کوي .

٤) ما قبل آيت ٤ کښې ذکر شو :﴿لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْ كَبَدٍ﴾ دلته آيت ۷ کښې جنس نفس بطور شاهد ذکر کوي : ﴿وَنَفْسٍ وَّمَا سَوّٰىهَا﴾ .

٥) ما قبل آيت ۱۰ کښې ذکر شو : ﴿وَهَدَيْنٰهُ النَّجْدَيْنِ﴾ دلته آيت ۸ کښې په هغې باندې زيادت او ترقي ده : ﴿فَاَلْهَمَهَا فُجُوْرَهَا وَتَقْوٰىهَا﴾ .

٦) ما قبل آيت ٤ کښې ترغيب وو اعمالِ صالحؤ ته دلته آيت ۹ کښې هم اعمال صالحؤ ته ترغيب ورکوي .

۷) ما قبل آيت ۱، ۳ کښې شاهدين ذکر شو دلته آيت ۱ تا ۷ کښې شواهد سبعه ذکر کوي بالترقي علٰی ماسبق .

۸) ما قبل آيت ۱۷ ، ۱۹ کښې د دوؤ ډلو ذکر اوشو : {۱} د مؤمنانو . {۲} د کافرانو دلته تفرقه (جدائی) ذکر کوي په عقائد د دغه دوانړو ډلو کښې .

۹) ما قبل آيت ۲ کښې نبي عليه السلام ته تسلي وه دلته آيت ۱۱ تا ۱۵ کښې هم نبي عليه السلام ته په واقعې د صالح عليه السلام سره تسلي ورکوي .

۱۰) ما قبل آيت ۱٤ تا ۱۵ کښې اصلاح د عمل ذکر شوه دلته آيت ۹ کښې اصلاح د عقيدې ذکر کوي ، ځکه عمل هله مفيد دے چې عقيده صحيح وي .

امتيازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په شواهد سبعه باندې ، آيت ۱ تا ۷ .

۲) په تفرقه د صحيح عقيدې او غلطې عقيدې باندې ، آيت ۹ ، ۱۰.

۳) په قول د باري تعالٰی باندې : ﴿ فَاَلْهَمَهَا فُجُوْرَهَا وَتَقْوٰىهَا﴾ ، آيت ۸ .

٤) په قول د صالح عليه السلام باندې :﴿فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ نَاقَةَ اللّٰهِ وَ سُقْيٰهَا﴾،آيت۱۳.

۵) په ذکر د خصوصي عذاب په ثمودیانو باندي : ﴿فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ رَبُّهُمْ بِذَنْبِهِمْ فَسَوّٰاهَا﴾، آیت ۱۴ .

۶) په قول د باري تعالیٰ باندي : ﴿ وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسّٰهَا﴾ ، آیت ۱۰ .

۷) په قول د باري تعالیٰ باندي چې قداربن سالف ته ئې بدبخت وئیلي دي : ﴿إِذِ انْبَعَثَ أَشْقٰهَا﴾ ، آیت ۱۲ .

۸) په عدم خوف د الله رب العزت د انجام د هلاکت د مخلوقات نه : ﴿وَلَا يَخَافُ عُقْبٰهَا﴾، آیت ۱۵ .

۹) په تقابل د نمر او سپوږمۍ باندي ، آیت ۱ ، ۲ .

۱۰) په تقابل د ورځي او دشپي باندي ، آیت ۳ ، ۴ .

۱۱) په تقابل د زمکي او د آسمان باندي ، آیت ۵ ، ۶.

دعوی:

بیان د تفرقي په مینځ د صحیح عقیدي او غلطي عقیدي کښي

خلاصه:

سورت کښې فرق او بیلتون په مینځ د صحیح عقیدي او غلطي عقیدي کښې په څلورو مثالونو سره واضح کوي : {۱} څنګه چې نمر او سپوږمۍ نه دي برابر دارنګه صحیح عقیده او غلطه عقیده برابرنه دي آیت ۱، ۲ . {۲}څنګه چې ورځ او شپه برابر نه دي دارنګه صحیح عقیده او غلطه عقیده برابر نه دي آیت ۳ ، ۴ . {۳} څنګه چې آسمان او زمکه نه دي برابر دارنګه صحیح عقیده او غلطه عقیده برابر نه دي ، آیت ۵ ، ۶. {۴} څنګه چې بدکار او نیکوکار نه دي برابر دارنګه صحیح عقیده او غلطه عقیده برابرنه دي ، آیت ۷ ، ۸ دارنګه اعمال صالحؤ ته ترغیب ورکوي او رد کوي په هغه خلقو باندي چې نیک نه وي او ځان ته نیک وائي آیت ۹، ۱۰ او په آخر د سورت کښې

تخويف دنيوي وركوي په هلاکت د ثموديانو سره چې هغوی تکذيب او سرکشي اوکړه نو تباه شو.

سورة الليل مكية

نزولاً ۹ بعد الاعلیٰ مصحفاً ۹۲ بعد الشمس

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل آيت ۹، ۱۰ کښې ذکر شوچې صحيح عقيده او غلطه عقيده برابر نه دي دلته آيت ٤ کښې وائي چې نيک عمل او بد عمل برابرنه دي او آيت ٥، ٦ کښې دري شرطونه د عمل د قبليدو ذکر کوي.

۲) ما قبل آخر کښې تخويف ذکر شو دلته آخر کښې بشارت ذکر کوي { په عکس د ماسبق باندي }.

۳) ما قبل کښې شواهد ذکر شو په دي باندي چې صحيح عقيده او غلطه عقيده برابرنه دي دلته شواهد ذکر کوي په دي باندي چې نيک عمل او بد عمل برابر نه دي.

٤) ما قبل آيت ۹ کښې مختصر بشارت ذکر شو: ﴿قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰىهَا﴾ دلته آيت ٥تا ۷ کښې په هغې باندي زيادت او ترقي ده.

٥) ما قبل آيت ۱۰ کښې مختصر تخويف ذکر شو: ﴿ وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسّٰىهَا﴾ دلته آيت ۸تا ۱۱ کښې په هغې باندي زيادت او ترقي ده.

٦) ما قبل آيت ۸ کښې ذکر شو: ﴿ فَاَلْهَمَهَا فُجُوْرَهَا وَتَقْوٰىهَا﴾ دلته آيت ۱۲ کښې په هغې باندي زيادت او ترقي ده﴿ اِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدٰى﴾.

۷) ما قبل آيت ۱۲ کښې ذکر شو : ﴿إِذِ انۢبَعَثَ أَشۡقَىٰهَا﴾ دلته آيت ۱۳ کښې په هغې باندې زيادت او ترقي ده په دنيا کښې ۾ هم سزا ورکړه او آخرت کښې به ورله هم سزا ورکړم : ﴿وَإِنَّ لَنَا لَلۡأٓخِرَةَ وَٱلۡأُولَىٰ﴾.

۸) ما قبل آيت ۱۲ کښې د بدبخته ذکر اوشو او د دنيا سزا ئې ورله ذکرکړه دلته آيت ۱۴، ۱۵ کښې د بدبخته اخروي سزا ذکر کوي : ﴿فَأَنذَرۡتُكُمۡ نَارٗا تَلَظَّىٰ ۝١٤ لَا يَصۡلَىٰهَآ إِلَّا ٱلۡأَشۡقَى﴾ .

۹) ما قبل آيت ۱۱ کښې ذکر شو : ﴿كَذَّبَتۡ ثَمُودُ بِطَغۡوَىٰهَآ﴾ دلته آيت ۱۵ ، ۱۶ کښې د تکذيب انجام ذکر کوي او هغه دا چې مکذب انسان به جهنم ته ځي.

۱۰) ما قبل آيت ۹ کښې د کامیابو خلقو يو صفت (تزکيه) ئې ذکر کړو دلته آيت ۱۷ ، ۱۸ کښې په هغې باندې زيادت کوي ، يعني دوه صفتونه ئې ذکر کوي :{۱} تقوٰی {۲} تزکية .

امتيازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په ذکر د شاهدين باندې په دې خبره چې نيک عمل او بد عمل نه دې برابر ، آيت ۱ تا ۳ .

۲) په قول د الله تعالی باندې : ﴿إِنَّ سَعۡيَكُمۡ لَشَتَّىٰ﴾ .

۳) په دريؤ شرطونو باندې د پاره د قبوليت د عمل :{۱} أَعۡطَىٰ . {۲}وَٱتَّقَىٰ . {۳}وَصَدَّقَ بِٱلۡحُسۡنَىٰ، آيت ۵ ، ۶.

۴) په تفصيل او انجام دنيک اعمالو باندې ، آيت ۵ تا ۷ .

۵) په تفصيل او انجام د بدو اعمالو باندې ، آيت ۸ تا ۱۱ .

۶) په قول د الله تعالی باندې : ﴿إِنَّ عَلَيۡنَا لَلۡهُدَىٰ ۝١٢ وَإِنَّ لَنَا لَلۡأٓخِرَةَ وَٱلۡأُولَىٰ﴾، آيت ۱۲ ، ۱۳ .

۷) په خصوصي تخويف اخروي باندې ، آيت ۱۴ تا ۱۶ .

۸) په خصوصي بشارت باندي ، آيت ۱۷ ، ۱۸ .

۹) په قول د الله تعالی باندي : ﴿وَمَا لِأَحَدٍ عِندَهُ مِن نِّعْمَةٍ تُجْزَىٰ﴾ . ، آيت ۱۹.

۱۰) په ذکر د " يُسْرَىٰ " او " عُسْرَىٰ " باندي ، آيت ۷ او آيت ۱۰ کښې .

دعوی:

بيان د فرق په مينځ د اعمال مقبوله او غيرمقبوله کښې آيت ٤.

خلاصه:

سورت کښې شاهدين ذکر کوي په دي باندي چې نيک عمل او بد عمل نه دي برابر :

{۱} څنګه چې شپه او ورځ نه دي برابر دارنګه نيک عمل او بد عمل نه دي برابر آيت ۱ ، ۲.

{۲} څنګه چې نارينه او زنانه نه دي برابر دارنګه نيک عمل او بد عمل نه دي برابر ، آيت ۳ .

دارنګه سورت کښې تفصيل د اعمال صحيحه او اعمال غيرصحيحه او د هر يو نتيجه او انجام ذکر کوي آيت ۵ تا ۱۱ او په آخر د سورت کښې منکرينو ته تخويف او منونکو ته بشارت ورکوي .

سورة الضحى مكية

نزولاً ١١ بعد الفجر مصحفاً ٩٣ بعد الليل

«ربط د ما سبق سره»

١) ما قبل كښې بيان د امت وو نو هغه شروع وو په "وَالَّيْلِ" سره او په ديكښې بيان د محمد ﷺ وو نو دا سورت ئې شروع كړو په "وَالضُّحٰى" سره يعني ته روښانه ئې كه څه ورځې جبريل امين ﷺ رانشي پرواه مه كوه .

٢) ما قبل آيت ٥ تا ٧ كښې ئې امت ته د اعمال صالحو ترغيب وركړو دلته آخر د سورت كښې نبي ﷺ ته د اعمال صالحو ترغيب وركوي .

٣) ما قبل آخري آيت كښې بيان د الله تعالى د رضاء اوشو د هغه چانه چې په دي امت كښې مخلص وي دلته آيت ٥ كښې بيان د الله تعالى د رضاء كوي د محمد ﷺ نه : ﴿ وَلَسَوْفَ يَرْضَىٰ ﴾ .

٤) ما قبل آيت ٨ ، ٩ كښې افعال قبيحه د كافرانو ذكر شو نو دلته نبي ﷺ ته تسلي وركوي چې ته مه خفه كيږه .

٥) ما قبل آيت ١ كښې ذكر شو : ﴿وَالَّيْلِ إِذَا يَغْشٰى﴾ دلته آيت ٢ كښې په هغې باندې ترقي ده : ﴿وَالَّيْلِ إِذَا سَجٰى﴾ .

٦) ما قبل آيت ١٢ كښې ذكر شو : ﴿ اِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدٰى﴾ دلته آيت ٧ كښې د هدايت كولو نمونه ذكر كوي : ﴿ وَوَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدٰى﴾.

٧) ما قبل آيت ١١ كښې غناء د مال ذكر شوه كومه چې غير مفيد وه دلته آيت ٨ كښې غناء د زړه ذكر كوي كومه چې مفيد ده .

۸) ما قبل آیت ۱۳ کښې ذکر شو : ﴿وَإِنَّ لَنَا لَلْآخِرَةَ وَالْأُولَىٰ﴾ يعني مخکښې د آخرت او د دنیا ذکر اوشو دلته آیت ٤ کښې وائي چې اے پیغمبره ستا د پاره آخرت د دنیا نه بهتر دے .

۹) ما قبل آیت ۱۷ کښې ذکر شو : ﴿وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى﴾ دلته سید الاتقیاء ﷺ ته تسلي ورکوي .

۱۰) ما قبل آیت ۲۱ کښې ذکر شو : ﴿وَلَسَوْفَ يَرْضَىٰ﴾ دلته آیت ۱۱ کښې طریقه د الله تعالی د رضاء ذکر کوي چې هغه د قرآن کریم بیانول دي ﴿وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ﴾.

امتیازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په ذکر د شاهدین باندیو د پاره د تسلی د نبي ﷺ او د پاره د دفع د شبهې د مشرکینو آیت ۱ تا ۳ .

۲) په تصدیر د "وَالضُّحَىٰ" باندي ، آیت ۱.

۳) په خصوصي خطاب نبي ﷺ ته : ﴿وَلَلْآخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْأُولَىٰ﴾ ، آیت ٤.

٤) په ذکر د خصوصي انعام د الله رب العزت په نبي ﷺ باندي چې ته يتيم وي او نیکهٔ او ترهٔ سره ئې درله ځائي درکړو : ﴿أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَىٰ﴾ ، آیت ٦.

۵) په ذکر د يتيم والی د نبي ﷺ باندي ، آیت ٦.

٦) په ذکر د خصوصي انعام د الله رب العزت په نبي ﷺ باندي چې ته حیران او پریشان وي د خلقو شرکیاتو لیدلو باندي نو ما درته د بیان کولو لاره درته کره ﴿وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدَىٰ﴾ ، آیت ۷ .

۷) په ذکر د خصوصي انعام د الله رب العزت په نبي ﷺ باندي چې ته بے ماله وي نوما درله زړه د مال نه بے پرواه کړو ﴿وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنَىٰ﴾ ، آیت ۸.

۸) په خصوصي نهی باندي نبي ﷺ ته په باره د یتیم کښې : ﴿ فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ ﴾ ، آیت ۹ .

۹) په قول د باری تعالیٰ باندي په باره د سائل کښې:﴿وَ أَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ ﴾،آیت ۱۰ .

۱۰) په قول د الله تعالیٰ باندي : ﴿ وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ﴾ ، آیت ۱۱ .

دعوی :

دفع د شبهي د منکرینو د رسالت او تسلي نبي ﷺ ته .

خلاصه:

سورت کښې ذکر د شاهدینو کوي په دعوٰی د سورت باندي چې دفع د شبهي ده او تسلي نبي ﷺ ته ، یو شاهد " لیل" یعني څنګه چې شپه همیشه نه وي نو دارنګه د وحي بندیدل به همیشه نه وي ، دویم شاهد "ضحٰی" یعني څنګه چې رنړا همیشه نه وي رنړا پسې تیاره راځي دارنګه د وحي راتلل به همیشه نه وي ، نوته پهٔ نه راتلو د وحي مه خفه کیږه ، بیا انعامات ثلاثه او په هغي تفریع د اوامر ثلاثو کوي او سورت په ترغیب في التبلیغ ختموي چې ته خپل کار جاری ساته قرآن بیانوه .

تنبیه ، د سورتٔ ضحٰی نه تر آخره یعني سورة الناس پوري ۲۲سورتونو کښې مقاصداربعه عالیه {توحید، رسالت ، صداقة الکتاب ، ایمان باالاخرة په دي باندي د راتلونکو اعتراضاتو جوابونه ، تزهید من الدنیا او ترغیب الی الآخرة بیانوي .

سورة الانشراح مكية

نزولاً ۱۲ بعد الضحی مصحفاً ۹۴ بعد الضحی

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل کښې تسلي وه نبي ﷺ ته دلته امت د نبي ﷺ ته تسلي ورکوي {یاد ساتل پکاردي چې خطاب نبي ﷺ ته دے خو مراد ترینه امت دے } .

۲) ما قبل آیت ۷ کښې انعام ذکر شوے وو په نبي ﷺ باندي : ﴿ وَوَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدٰى﴾ دلته آیت ۱ کښې په امت باندي هغه شان انعام ذکر کوي.

۳) ما قبل آیت ۸ کښې په نبي ﷺ انعام ذکر شوے وو : ﴿وَوَجَدَكَ عَآئِلًا فَاَغْنٰى﴾ دلته په امت د هغي په مثل باندي انعام ذکر کوي .

٤) ما قبل آیت ٦ کښې په نبي ﷺ باندي انعام ذکر شو : ﴿اَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيْمًا فَاٰوٰى﴾ دلته آیت ٤ کښې په امت باندي انعام ذکر کوي :﴿وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ﴾.

٥) ما قبل آیت ۸ کښې ذکر شو : ﴿وَوَجَدَكَ عَآئِلًا فَاَغْنٰى﴾نو دلته آیت ٥، ٦ کښې په هغي باندي زیادت او ترقي ده .

٦) ما قبل آخري آیت ۱۱ کښې ترغیب في التبلیغ وو دلته هم آخري آیت کښې ترغیب في التبلیغ ذکر کوي .

۷) ما قبل آیت ۳ کښې تسلي وه نبي ﷺ ته دلته آیت ٥ ، ٦ کښې صحابه کرامو ته تسلي ورکوي ، او مخاطب کوي نبي ﷺ .

۸) ما قبل آیت ٤ کښې ذکر شو : ﴿وَلَلْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْاُوْلٰى﴾نو داخیریت د آخرت به څنګه حاصلیږي دلته آیت ۷ ، ۸ کښې طریقه د حصول ښائي : ﴿فَاِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ۝ وَاِلٰى رَبِّكَ فَارْغَبْ﴾.

۹) ما قبل آیت ۱تا ۳ کښې جواب د هغه شبهې اوشو کومه چې مشرکينو په نبي ﷺ باندې کوله دلته آيت ۱ تا ٦ کښې جواب د شبهې د مشرکينو دے په صحابه کرامو باندې چې تاسو غريبانان او تنګدسته يئ ، د دې اعتراض جواب په بيان د انعامات ثلاثو کوي : {انشراح الصدر ، وضع الوزر ، او رفع الذکر دے} .

۱۰) ما قبل آيت ۹ ، ۱۰ کښې دوه نهي ذکر شوي : {۱} ﴿فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ﴾ . {۲} ﴿وَأَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ﴾ دلته آيت ۵، ٦ کښې ئې علت ذکر کوي : ﴿فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ۝ إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا﴾.

امتيازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په قول د باری تعالیٰ باندي :﴿أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ﴾،آيت ۱ .

۲) په انعام د باری تعالیٰ باندي : ﴿وَوَضَعْنَا عَنكَ وِزْرَكَ﴾ ، آيت ۲ .

۳) په قول د باری تعالیٰ باندي : ﴿وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ﴾ ، آيت ٤ .

٤. په خصوصي تسلی باندي امت ته ، آيت ۵، ٦.

۵) په ذکر د العسر الواحد او په بيان د يسرين باندي {قاعده} معرفه چې کله معاد شي نو مراد عين اولیٰ وي دي وجې نه العسر الواحد وئيلے شي .

٦) په امر د باری تعالیٰ باندي : ﴿فَإِذَا فَرَغْتَ فَانصَبْ﴾ ، آيت ۷ .

۷) په حکم د باری تعالیٰ باندي : ﴿وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَارْغَب﴾ ، آيت ۸ .

۸) په توصيف دوزر باندي په﴿ الَّذِي أَنقَضَ ظَهْرَكَ﴾سره ، آيت ۳ .

۹) په ترغيب الى الدعوة باندي خصوصي الفاظو سره:﴿وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَارْغَب﴾،آيت۸.

۱۰) په ذکر د صدر او ظهر د پیغمبر ﷺ باندي په يو سورت کښي، آيت ۱، ۳.

دعوی:

تسلي نبي ﷺ او صحابه کرامو ته او ترغيب الى القرآن .

خلاصه:

تسلي نبي ﷺ اوصحابه کراموته ورکوي او د کافرانو داعتراض جواب کوي ، اعتراض ئي په صحابه کرامو دا کولو چې تاسو تنګدسته او غريبانان يئ ، د دي جواب په بيان د انعامات ثلاثؤ سره کوي چې انشراح الصدر، وضع الوزر او رفع الذکر دے .

حاصل د جواب دا دے : چې کاميابي په حصول د دي نعمتونو ده نه په مال باندي چې فاني دے بيا آخر د سورت کښې ترغيب الى الدعوة والتبليغ دے او مؤمنانو ته تشجيع ورکوي .

سورة التين مكية

نزولاً ۲۸ بعد البروج — مصحفاً ۹۵ بعد الانشراح

«ربط د ما سبق سره»

۱) مخکښې اثبات د رسالت وو دلته آيت ۸ کښې اثبات د توحيد کوي .

۲) ما قبل آيت ۸ کښې ترغيب الى الدعوة و التبليغ ذکر شو دلته آيت ۱ تا ۳ کښې په واقعاتو د انبياء عليهم السلام {ابراهيم ﷺ ، عيسىٰ ﷺ ، موسىٰ ﷺ او محمد ﷺ} باندي ترغيب الى الدعوة و التبليغ ورکوي چې اوګوره هغوی دعوت و تبليغ کښې څومره تکليفونه برداشت کړي وو .

۳) ما قبل آیت ۱ تا ٤ کښې خصوصي انعامات ذکر شو دلته آیت ٤ کښې عمومی انعام ذکر کوي .

٤) ما قبل کښې د نبي ﷺ تذکره اوشوه دلته ترقي ده په ماسبق نبي ﷺ سره د ابراهیم علیه السلام ،عیسی علیه السلام ، موسی علیه السلام هم تذکره کوي (ذکر د مکان کوي او مراد ترینه مکین دے) .

٥) ما قبل آیت ۷ ، ۸ کښې ترغیب الی الدعوة و التبلیغ ذکر شو دلته آیت ٦ کښې داعینو او مبلغینو ته بشارت ورکوي .

٦) ما قبل آیت ٤ کښې ذکر شو : ﴿وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ﴾ دلته آیت ٦ کښې د درجې د پورته کیدو د پاره دوه شرطونه ذکر کوي :{۱} ایمان . {۲} اعمال صالحه.

۷) ما قبل کښې د نبي ﷺ تذکره اوشوه دلته آیت ۳ کښې د کل د نبي ﷺ تذکره کوي چې : ﴿الْبَلَدِ الْأَمِينِ﴾ مکه معظمه ده .

۸) ما قبل کښې ذکر د اخیار (صحابه کرامو) اوشو دلته آیت ٤ تا ٦ کښې ذکر د اشرار او اخیار کوي ترقي ده په ماسبق باندي .

۹) ما قبل آیت ۳ کښې ذکر د اجزاء د انسان اوشو چې صدر او ظهر دي دلته آیت ٤ کښې ذکر د کل کوي چې انسان دے : ﴿لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ﴾ .

۱۰) ما قبل آیت ۱ تا ٤ کښې ذکر د انعامات ثلاثه اوشو دلته آیت ۱ ، ۲ کښې ذکر د انبیاء ثلاثه کوي ، چې ابراهیم علیه السلام ،عیسی علیه السلام او موسی علیه السلام دي .

امتيازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په ذکر د : ﴿التِّينِ﴾ " انځر " باندي ، آیت ۱ .

۲) په شهادت د : ﴿التِّينِ﴾ باندي ، آیت ۱.

۳) په شهادت : د ﴿الزَّيْتُونِ﴾ باندي ، آیت ۱.

٤) په شهادت د : ﴿طُوْرِ سِيْنِيْنَ﴾ باندي ، آيت ۲.

٥) په شهادت د : ﴿ الْبَلَدِ الْاَمِيْنِ﴾ باندي ، آيت ۳.

٦) په خصوصي انعام د رب العزت په انسان باندي چې انسان ئې ښائسته شکل کښې پيدا کړي دے ، آيت ٤ .

۷) په خصوصي بشارت باندي د ايماندارو او نيک عملو د پاره ، آيت ٦.

۸) په خصوصي زجر باندي مکذب د قيامت ته :﴿فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّيْنِ﴾،آيت ۷ .

۹) په اثبات د توحيد باندي په خصوصي الفاظو سره : ﴿اَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَحْكَمِ الْحٰكِمِيْنَ﴾ ، آيت ۸ .

١٠) مکي ته : ﴿ الْبَلَدِ الْاَمِيْنِ﴾ وئيلو باندي ، آيت ۳.

دعوى:

اثبات د توحيد په ادله ثلاثه ، ماخذ آيت ۸

خلاصه:

سورت کښې اثبات د توحيد په ادله ثلاثؤ {نقلي ، وحي ، عقلي} سره کوي : {۱} اول دليل نقلي په اثبات د توحيد ذکر کوي د ابراهيم عليه السلام ، عيسىٰ عليه السلام ، او موسىٰ عليه السلام نه ، ذکر د مکان او مراد ترينه مکين دے ﴿وَالتِّيْنِ﴾ نه مراد صاحب د تين ، مقام د هجرت د ابراهيم عليه السلام ، ﴿وَالزَّيْتُوْنِ﴾ نه مراد صاحب د زيتون ، مقام د پيدائش د عيسىٰ عليه السلام او ﴿وَطُوْرِ سِيْنِيْنَ﴾ نه مراد صاحب د طور سينين ، مقام د وحي د موسىٰ عليه السلام دے .

{۲} دليل وحي :﴿ وَ هٰذَا الْبَلَدِ الْاَمِيْنِ﴾ ، آيت ۳ ، ځکه مکه معظمه ځائي د نزول د وحي وو په نبي عليه السلام باندي .

{۳} دليل عقلي ﴿لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِيٓ أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ﴾ ، آيت ٤ بيا آيت ٥ کښې منکرينو ته تخويف او آيت ٦ کښې مؤمنانو ته بشارت ورکوي ، او آخر د سورت کښې مسئله د توحيد بطور ثمره ذکر کوي : ﴿أَلَيْسَ اللّٰهُ بِأَحْكَمِ الْحٰكِمِيْنَ﴾ دارنګه سورت کښې تشجيع في التبليغ ورکوي چې اوګوره ستا مشرانو ابراهيم عليه السلام ، عيسیٰ عليه السلام ، او موسیٰ عليه السلام دين د پاره څومره تکليفونه برداشت کړي وو او تا څه اوکړل ؟ .

سورة العلق مكية

نزولاً اليست قبلها سورة مصحفاً ٩٦ بعد التين

« ربط د ما سبق سره »

۱) ما قبل آيت ۸ کښې اثبات د توحيد اوشو په ادله ثلاثو سره دلته آيت ۱ تا ٥ کښې قرآن ته ترغيب ورکوي ځکه چې په قرآن کښې اثبات د توحيد د باري تعالیٰ دے .

۲) ما قبل آيت ٤ کښې پيدائش د انسان ذکر شو دلته آيت ۲ کښې ئې تفصيل کوي : ﴿خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ﴾.

۳) ما قبل آيت ٤ کښې د انسان ظاهري ښائست ذکر شو دلته قرآن کريم ته ترغيب ورکوي چې انسانه معنوي ښائست او عزت به درته په قرآن باندي ملاويږي .

٤) ما قبل آيت ٦ کښې ذکر شو : ﴿ وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ﴾ دلته آيت ۱، ۳ کښې نمونه د عمل صالح ذکر کوي چې هغه قرآن کريم لوستل دي.

٥) ما قبل آيت ۸ کښې اثبات د قيامت اوشو دلته آيت ۸ کښې هم اثبا ت د قيامت کوي : ﴿ إِنَّ إِلٰى رَبِّكَ الرُّجْعٰى﴾ .

٦) ما قبل آيت ٧ کښې مکذب د قيامت ته زجر ورکړے شو : ﴿فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّيْنِ﴾ .
دلته آيت ١٣ تا ١٨ کښې زجر او تخويف ورکوي ترقي ده په ماسبق باندي .
٧) ما قبل آيت ٥ کښې ذکر شو : ﴿ثُمَّ رَدَدْنٰهُ اَسْفَلَ سٰفِلِيْنَ﴾ دلته آيت ٦ کښې هغه عمل ذکر کوي چې د هغې په وجه انسان : ﴿اَسْفَلَ سٰفِلِيْنَ﴾ کرځي چې هغه طغيان او سرکشي ده .
٨) ما قبل آيت ٤ کښې خلقت (پيدائش) د انسان ذکر شو دلته آيت ١ تا ٥ کښې مقصد د پيدائش د انسان (يعني د قرآن لوستل او زده کول) ذکر کوي .
٩) ما قبل آيت ٤ کښې دليل عقلي په اثبات د توحيد ذکر شو دلته آيت ٢ کښې هم دليل عقلي په اثبات د توحيد ذکر کوي .
١٠) ما قبل آيت ٧ کښې تکذيب د مکذب د قيامت ذکر شو دلته آيت ١٣ کښې په هغې باندي ترقي ده : ﴿ اَرَءَيْتَ اِنْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ﴾ تکذيب او تولي دوه څيزونه ذکر کوي .

امتيازات:

١) دا سورت ممتاز دے په تصدير د : ﴿ اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ﴾ باندي ، آيت ١ .
٢) په قول د الله تعالى باندي : ﴿ خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ﴾ ، آيت ٢ .
٣) په ترغيب الى القرآن په خصوصي الفاظو سره ، آيت ١ ، ٣ .
٤) په تعليم ورکولو انسان ته په قلم سره : ﴿الَّذِيْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ﴾ ، آيت ٤ .
٥) په سرکشى د انسان او په علت د سرکشى باندي :﴿اِنَّ الْاِنْسَانَ لَيَطْغٰى ۙ اَنْ رَّاٰهُ اسْتَغْنٰى ﴾ ، آيت ٦ ، ٧ .
٦) په اثبات د قيامت خصوصي الفاظو سره : ﴿اِنَّ اِلٰى رَبِّكَ الرُّجْعٰى ﴾ ، آيت ٨ .
٧) په خصوصي زجر باندي مکذب انسان ته ، آيت ١٣ ، ١٤ .

۸) په خصوصي تخويف باندي مکذب انسان ته ، آيت ۱۵ تا ۱۸.

۹) په ذکر د : ﴿الزَّبَانِيَةَ﴾ فرشتو باندي ، آيت ۱۸.

۱۰) په دوه ځله لفظ د " نَاصِيَةٍ " آيت ۱۵ ، ۱٦ او د هغې په تفصيل : ﴿كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ﴾ ذکر کولو سره .

دعوی:

ترغيب الى القرآن او اثبات د مقاصد اربعه عاليه

خلاصه:

سورت کښې قرآن ته ترغيب ورکوي او دا ذکر کوي چې انسان په قرآن باندي عزت مند کيږي او د دي د پاره په مثال کښې د انسان پيدائش ذکر کوي ؛لکه څنګه چې الله تعالیٰ انسان د نطفي نه پيدا کړے او ده له ئې په مخلوق کښې شرافت ورکړے دے اشرف المخلوقات ئې ګرځولے دے ، نو دارنګه الله تعالیٰ به دا انسان په مينځ د نورو انسانانو کښې په قرآن باندي عزت مند کړي ، دارنګه مقاصد اربعه عاليه ذکر کوي :

{۱} صداقت القرآن آيت ۱ تا ۳ .

{۲} اثبات د رسالت ، آيت ٤ ؛ لکه څنګه چې الله تعالیٰ انسان ته په قلم تعليم ورکولے شي نو دارنګه الله تعالیٰ ته داګرانه نه ده چې انسان {پيغمبر} ته وحي وکړي نو تاسو دا څنګه بعيده ګنړئ او د پيغمبر ﷺ د پيغمبری نه انکار کړئ .

{۳} اثبات د قيامت : ﴿إِنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ الرُّجْعَىٰ﴾ ، آيت ۸ .

{٤} اثبات د توحيد : ﴿أَلَمْ يَعْلَمْ بِأَنَّ اللَّهَ يَرَىٰ﴾ ، آيت ۱٤ دارنګه آيت ٤ کښې ائي : ﴿الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ﴾په قلم باندي تعليم ورکول قدرت او علم لره مستلزم دي ځکه چې بل ته ښودنه کوي نو هغه د پاره ضروری ده چې هغه

عالم وي ، دارنګه سورت کښې معرضينو د قرآن او مکذبينو د قيامت ته زجر ورکوي او سورت په توحيد باندې ختموي .

سورة القدر مكية

نزولاً ٢٥ بعد عبس مصحفاً ٩٧ بعد العلق

«ربط د ما سبق سره»

١) ما قبل آيت ٣ کښې ذکر شو : ﴿اِقْرَاْ وَرَبُّكَ الْاَكْرَمُ﴾ قرآن وايه الله تعالى به درله عزت ذکرې دلته ئې مثال ذکر کوي چې اوګوره کومه شپه کښې چې قرآن نازل شوے وو هغې له الله تعالى عزت ورکړو : ﴿ لَيْلَةُ الْقَدْرِ ۙ خَيْرٌ مِّنْ اَلْفِ شَهْرٍ ﴾، آيت ٣ .

٢) ما قبل ١ تا ٥ کښې ترغيب الى القرآن وو دلته عظمت د قرآن کريم ذکر کوي ، آيت ١.

٣) ما قبل آيت ١ تا ٥ کښې صداقة القرآن او صداقة الرسول ذکر شو دلته عظمت د قرآن کريم ذکر کوي بطور تتمه د ماسبق .

٤) ما قبل آيت ١ کښې ذکر شو : ﴿ اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِىْ خَلَقَ﴾ دلته ٤ کښې عظمت د رب ذکر کوي : ﴿ تَنَزَّلُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَ الرُّوْحُ فِيْهَا بِاِذْنِ رَبِّهِمْ ﴾ چې ملائک د هغه د اجازت نه بغير نه شي راتلے .

٥) ما قبل آيت ١ تا ٥ کښې قرآن کريم ته ترغيب وو دلته آيت ١ تا ٣ کښې هم قرآن ته ترغيب ورکوي .

٦) ما قبل آيت ٦ ، ٧ کښې د انسان سرکشي او د هغې وجه ذکر شوه دلته علاج د سرکشۍ ښائي چې قرآن ته لاس واچوه .

۷) ما قبل آیت ۱ تا ۳ کښې عظمت د هغه ذات ذکر شو چې قرآن ئې رالیږلے دے دلته آیت ۳ کښې عظمت د هغه زمان (وخت) ذکر کوي چې قرآن کریم پکښې نازل شوے دے.

۸) ما قبل آیت ۱، ۳ کښې ذکر شو چې قرآن وایه دلته آیت ۱ کښې الله تعالیٰ وائي: ﴿إِنَّآ أَنزَلْنَٰهُ﴾ ځکه ما دا قرآن رالیږلے دے.

۹) ما قبل آیت ۱، ۳ کښې ذکر شو چې قرآن وایه دلته آیت ٤، ٥ کښې فائده د لوستلو د قرآن ذکر کوي چې دي سره رحمت او برکت راځي.

۱۰) ما قبل آیت ۱۸ کښې د فرشتو ذکر اوشو: ﴿سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ ١٨﴾ دلته آیت ٤ کښې هم د فرشتو ذکر کوي.

۱۱) ما قبل آیت ۱۸ کښې د فرشتو ذکر اوشو چې سزا به مجرمانوله ورکوي دلته آیت ٤ کښې د ملائکو د رحمت تذکره کوي.

۱۲) ما قبل آخري آیت کښې ذکر شو: ﴿وَاقْتَرِبْ﴾ الله تعالیٰ ته ځان نزدې کړه الله تعالیٰ ته به څنګه نزدې کیږي؟ دلته وائي قرآن ته لاس واچوه.

امتیازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په لفظ د لیلة القدر باندې دري / ۳ ځله، آیت ۱ تا ۳.

۲) په عظمت د لیلة القدر باندې، آیت ٤.

۳) په تفصیل د لیلة القدر باندې، آیت ۳.

٤) په عظمت د قرآن باندې خصوصي الفاظو سره: ﴿إِنَّآ أَنزَلْنَٰهُ فِى لَيْلَةِ الْقَدْرِ﴾، آیت ۱.

٥) په قول د الله تعالیٰ باندې: ﴿وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ﴾، آیت ۲.

٦) په ذکر د: ﴿أَلْفِ شَهْرٍ﴾ باندې، آیت ۳.

۷) په راتللو د ملائکو او د جبریل امین په لیلة القدر کښې، آیت ٤.

۸) په ذکر د: ﴿ مَطۡلَعِ ٱلۡفَجۡرِ ﴾ باندي ،آیت ۵.

۹) په تصدير د: ﴿إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ﴾ باندي ،آیت ۱.

۱۰) په خصوصي بشارت باندي قرآن والؤ ته آیت ٤، ٥.

دعوی:

عظمت د قرآن .

خلاصه:

دا سورت تتمه د ماسبق ده په دیکښې هم قرآن کریم ته ترغیب ورکوي چې ځوک قرآن وائي نو الله تعالیٰ پرې رحمت رالیږي او برکت پکښې اچوي لکه څنګه چې ئې هغه شپه کښې برکت اچولے دے په کومه کښې چې قرآن نازل شوے دے: ﴿لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ خَيۡرٞ مِّنۡ أَلۡفِ شَهۡرٖ﴾ هغه یو شپه د قرآن په وجه د زرو میاشتو نه بهتره شوه دارنګه سورت کښې عظمت د قرآن ذکر کوي، چې یو عطار په یوه لاره باندي تیر شي نو هغه لاره خوشبویه وي نو هغه عطر به څنګه وي؟ چې کومه شپه کښې قرآن راغلے دے هغه شپه دومره بهتره ده نو چې کومه سینه کښې قرآن وي هغه به څنګه وي؟ .

سورة البينة مدنية

نزولاً ۱۰۰ بعد الطلاق مصحفاً ۹۸ بعد القدر

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل کښې عظمت د قرآن ذکر شو دلته آیت ٦ کښې زجر او تخویف منکرینو د قرآن ته ورکوي .

۲) ما قبل ۱ کښې ذکر د منزِّلِ {الله تعالیٰ} او منزَّل د {قرآن} اوشو دلته آیت ۲ کښې ذکر د منزل الیه {د پیغمبر عليه السلام} او د هغه کار ذکر کوي چې د قرآن لوستل دي .

۳) ما قبل کښې عظمت د قرآن ذکر شو دلته آیت ۲ کښې عظمت د {رسول الله} ذکر کوي چې قرآن ورته رالیږلے شوے دے .

٤) ما قبل کښې ترغیب وو قرآن ته دلته آیت ۲، ۳ کښې ترقي ده په ماسبق قرآن او اتباع د پیغمبر عليه السلام ته ترغیب ورکوي .

٥) ما قبل کښې ترغیب الی القرآن وو دلته آیت ۷ کښې منونکو د قرآن ته بشارت ورکوي .

٦) ما قبل آیت ٤، ٥ کښې قرآن والؤ ته بشارت دنیویه ذکر شو دلته آیت ۸ کښې دوی ته بشارت اخرویه ورکوي .

۷) ما قبل آیت ۳ کښې خیریت د لیلة القدر ذکر شو : ﴿لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ﴾ دلته آیت ۷ کښې خیریت د مؤمنانو ذکر کوي : ﴿أُولَٰئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ﴾ .

۸) ما قبل آیت ۳ کښې ذکر د خیر وو دلته ترقي ده په ماسبق باندي ، آیت ٦، ۷ کښې خیر او شر دواړه ذکر کوي .

۹) ما قبل کښې عظمت او صداقت د قرآن ذکر شو دلته آیت ٤ کښې مخالفین د قرآن او د پیغمبر ﷺ ذکر کوي .

۱۰) ما قبل آیت ۳ کښې خیریت (بهتر والے) د لیلة القدر ذکر شو دلته آیت ۷ کښې انسانانو ته د خیریت حاصلولو د پاره دوه اصول ښائي : {۱} ایمان . {۲} اعمال صالحه .

امتیازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په خصوصي صفت د اهل کتابو او مشرکینو باندي مخکښې د بعثت د نبي ﷺ نه آیت ۱.

۲) په لوستلو د پیغمبر ﷺ پاکو صحیفو لره : ﴿رَسُوْلٌ مِّنَ اللهِ يَتْلُوْا صُحُفًا مُّطَهَّرَةً﴾ ، آیت ۲ .

۳) په دریو اوامرو باندي اهل کتابو ته خصوصي الفاظو سره ، آیت ٥ .

٤) په قول د الله تعالی باندي : ﴿وَذٰلِكَ دِيْنُ الْقَيِّمَةِ﴾ ، آیت ٥ .

٥) په بیان د حکمت د ارسال الرسل او انزال الکتب باندي : ﴿مُنْفَكِّيْنَ حَتّٰى تَأْتِيَهُمُ الْبَيِّنَةُ﴾ ، آیت ۱ .

٦) په بیان د هغه امورو چې متفق دي په مینځ د اهل کتابو او مؤمنانو کښې : ﴿وَمَآ اُمِرُوْٓا اِلَّا لِيَعْبُدُوا اللهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ حُنَفَآءَ وَيُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوا الزَّكٰوةَ﴾ ، آیت ٥ .

۷) په خصوصي زجر او تخویف کفارو او مشرکینو ته آیت ٦ .

۸) په خصوصي انعام د رب العزت په مؤمنانو باندي : ﴿اُولٰٓئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ﴾ ، آیت ۷ .

۹. کافرو او مشرکینو ته په : ﴿شَرُّ الْبَرِيَّةِ﴾ وئیلو باندي ، آیت ٦ .

۱۰) په خصوصي بشارت د پاره د مؤمنانو او په بيان د طريقي د حصول د دغه بشارت چې هغه د الله تعالی نه يريدل دي ﴿ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّه﴾، آيت ۸ .

دعوی:

الزجر و التخويف للمنكرين

خلاصه:

سورت کښې اتباع د پيغمبر عليه السلام ته ترغيب ورکوي او امتنان (احسان) په خلقو باندي ذکر کوي په بعثت د پيغمبر عليه السلام سره، دارنګه سورت کښې زجر منکرينو د رسالت او د قرآن ته ورکوي او حکمت د ارسال الرسل او انزال الکتب او بيان د هغه امورو کوي چې آسمانی کتابونو مابين کښې متفق وو او آخر د سورت کښې منکرينو ته تخويف او مؤمنانو ته بشارت ورکوي .

سورة الزلزال مدنية

نزولاً ۹۳ بعد النساء مصحفاً ۹۹ بعد البينة

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل آيت ٤ کښې زجر ذکر شو دلته آيت ۸ کښې تخويف منکرينو ته ورکوي .

۲) ما قبل آيت ۳ کښې ترغيب الی اتباع الرسول ذکر شو دلته آيت ۸ کښې منکرينو ته تخويف ورکوي.

۳) ما قبل کښې صداقت د پيغمبر عليه السلام او صداقت د قرآن ذکر شو دلته آيت ۸ کښې مخالفينو د قرآن او پيغمبر عليه السلام ته تخويف ورکوي .

٤) ما قبل آيت ٦ کښې تخويف او آيت ٨ کښې بشارت ذکر شو نودا به کله وي دلته آيت ١ کښې وائي : ﴿إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا﴾ يعني دا به هله وي کله چې قيامت راشي .

٥) ما قبل کښې د مقاصد اربعه نه صداقت د رسول عليه السلام او صداقت د قرآن ذکر شو دلته د مقاصد اربعؤ نه يو مقصد {الايمان باالآخرة} يعني اثبات د قيامت ذکر کوي ځکه دي سورت ته حديث کښې ربع القرآن وئيلي شوي دي.

٦) ما قبل آيت ٧ کښې اعمال صالحؤ ته ترغيب وو دلته ، آيت ٧ کښې هم اعمال صالحؤ ته ترغيب ورکوي :﴿فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ﴾.

٧) ما قبل آيت ٦ کښې منکرينو ته تخويف ذکر شو دلته آيت ٨ کښې هم منکرينو ته تخويف ورکوي.

٨) ما قبل آيت ٧ کښې اعمال صالحؤ ته ترغيب وو دلته آيت ٧ کښې اعمال صالحه والؤ ته بشارت ورکوي .

٩) ما قبل په بشارت باندي ختم شوے وو دا سورت هم په بشارت باندي ختموي .

١٠) ما قبل آيت ٧ کښې اعمال صالحؤ ته ترغيب ذکر شو دلته آيت ٧ کښې تسلي ده که نيک عمل ډير لږ هم کړے وي نو بدله به ئې درته ملاويږي : ﴿فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ﴾ .

امتيازات:

١) دا سورت ممتاز دے په خصوصي حالاتو د زمکې باندي ، آيت ١ ، ٢.

٢) په قول د انسان باندي چې زمکې له څه شوي دي:﴿وَقَالَ الْإِنْسَانُ مَا لَهَا﴾، آيت ٣ .

٣) په بيانولو د زمکې خپلو حالاتو لره : ﴿يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا﴾ ، آيت ٤ .

٤) په بيان د علت د تحديث الارض يعني چې دا زمکه به ولې خپل حالات بيانوي نو د هغې وجه ذکر کوي : ﴿ بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَىٰ لَهَا ﴾، آيت ٥ .

٥) په قول د الله تعالى باندي : ﴿ يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا ﴾، آيت ٦ .

٦) په حکمت د واپس کيدلو د خلقو : ﴿ لِّيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ ﴾ آيت ٦ د دي د پاره به واپس کيږي چې دوی ته د عملونو بدله ورکړے شي .

٧) په خصوصي بشارت او تسلي باندي مؤمنانو ته : ﴿فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ﴾، آيت ٧ .

٨) په خصوصي تخويف باندي منکرينو ته :﴿وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ﴾ ،آيت ٨ .

٩) په تقابل د عمل د مؤمن او د عمل د کافر په خصوصي الفاظو، آيت ٧ ، ٨ .

١٠) په دوه ځله لفظ د " مِثْقَالَ ذَرَّةٍ " باندي ، آيت ٧ ، ٨ .

دعوی:

تخويف اخروي په اثبات د قيامت سره .

خلاصه:

سورت کښې اثبات د قيامت کوي او منکرينو د قيامت ته مفصل تخويف ورکوي په بيان د حالاتو د زمکې باندي او جزاء د نيک عمل او بد عمل په صورت د بشارت او تخويف کښې ذکر کوي .

سورة العاديات مكية

نزولاً ۱۴ بعد العصر مصحفاً ۱۰۰ بعد الزلزال

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل آيت ۸ کښې تخويف منکرينو د قيامت ته ذکر شو دلته آيت ۹ کښې زجر منکرينو ته ورکوي .

۲) ما قبل آيت ۱، ۲ کښې اثبات د قيامت اوشو دلته آيت ۹ تا ۱۱ کښې هم اثبات د قيامت کوي بالترقي على ماسبق .

۳) ما قبل آيت ۲ کښې ذکر شو : ﴿وَاَخۡرَجَتِ الۡاَرۡضُ اَثۡقَالَهَا ﴾ دلته آيت ۹ کښې ئې تفصيل کوي چې قبرونو والا به راپورته کړے شي : ﴿اَفَلَا يَعۡلَمُ اِذَا بُعۡثِرَ مَا فِي الۡقُبُوۡرِ﴾.

٤) ما قبل آيت ۷ کښې د خير يعني د نيک عمل ذکر اوشو دلته آيت ۱ تا ٥ کښې د نيک عمل مثال ذکر کوي چې جهاد کول دي .

٥) ما قبل کښې اثبات د قيامت ذکر شو دلته آخر د سورت کښې منکرينو د قيامت ته تخويف ورکوي.

٦) ما قبل آيت ۷ کښې اعمال صالحو ته ترغيب ذکر شو دلته آيت ۹ تا ۱۱ کښې تزهيد من الدنيا(ددنيا نه بے رغبتي) ذکر کوي ځکه محبت د دنيا د اعمال صالحۆ مخې ته رکاوټ کرځي .

۷) ما قبل آيت ۸ کښې تخويف ذکر شو : ﴿وَمَنۡ يَّعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ﴾ دلته په عمل د شر(د محبت د دنيا) باندي زجر ورکوي چې دا خلق دنيا د پاره جنګ کوي او د الله تعالىٰ د دين د پاره جنګ نه کوي .

۸) ما قبل آیت ۷ کښې اعمال صالحو ته ترغیب ذکر شو دلته انسان ته تیقظ (بیداری) ورکوي په مثال د اس سره چې اوګوره هغه اس د خپل مالک څومره تابعدار دے او تا د خپل مالک { الله تعالیٰ } تابعداري اونه کړه .

۹) ما قبل آیت ۳ کښې ذکر شو : ﴿وَقَالَ الْإِنسَانُ مَا لَهَا﴾ چې انسان مشرک او کافر به ګهبراؤ وي دلته آیت ٦ کښې ئې علت ذکر کوي ځکه به ګهبراؤ وي چې دے د الله تعالیٰ ناشکره او نافرمان وو : ﴿إِنَّ الْإِنسَانَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ﴾.

۱۰) ما قبل آیت ٦ کښې ذکر شو : ﴿يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا لِّيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ﴾ دلته آیت ۱۰ ، ۱۱ کښې په هغې باندي ترقي ده چې صرف د عملونو بدله نه بلکه چې سینو یعني زړونو کښې چې ئې که نیت د خیر وو د هغې بدله او که نیت او اراده ئې د شر وه نو د هغې سزا به ورکړے شي .

۱۱) ما قبل آیت ٦ کښې اعمال د جوارحو ذکر شو : ﴿لِّيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ﴾ دلته آیت ۱۰ کښې اعمال د قلوبو (نیت ، اراده) ذکر کوي .

۱۲) ما قبل آیت ٤ کښې ذکر شو : ﴿يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا﴾ دلته آیت ۱۱ کښې د هغې تفصیل دے .

امتیازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په خصوصي حالاتو د اسونو د مجاهدینو ، آیت ۱ تا ٥ .

۲) په بیان د دریؤ خبرو باندي : {۱} مرض د انسان . {۲} سبب د مرض . {۳} علاج د مرض ، آیت ٦ ، ۸ ، ۹.

۳) په تیقظ (بیداری) ورکولو انسان ته په مثال د اسونو سره ، آیت ۱ تا ٥ .

٤) په خصوصي زجر سره په محبت د مال باندي ، آیت ۹ تا ۱۱ .

٥) په دریو شواهدو سره په ناشکرئ د انسان باندي ، آیت ٦ ، ۷ .

٦) په خبریدو د انسان په خپل مرض د ناشکرئ باندي ، آیت ٦ ، ۷ .

۷) په دوؤ مذموم صفتونو د انسان باندي :{۱} ناشکري .{۲} د مال سره محبت،آيت ٦ ، ۷.

۸) په بدلے ورکولو د نيتونو او د هغي په حساب باندي په خصوصي الفاظو سره : ﴿وَ حُصِّلَ مَا فِي الصُّدُوْرِ﴾ ، آيت ۱۰ .

۹. په قول د الله تعالی باندي : ﴿إِنَّ رَبَّهُمْ بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّخَبِيْرٌ﴾ .

۱۰) په لفظ د : ﴿ وَالْعٰدِيٰتِ ﴾ باندي .

۱۱) په لفظ د : ﴿ فَالْمُوْرِيٰتِ ﴾ باندي ، آيت ۲.

۱۲) په لفظ د : ﴿ فَالْمُغِيْرٰتِ ﴾ باندي ، آيت ۳.

دعوى:

زجر او تخويف محبت کونکو د دنيا ته .

خلاصه:

سورت کښې زجر محبت کونکو د دنيا ته ورکوي چې تاسو د دنيا د پاره جنګ کوئ او د الله د دين د پاره جنګ نه کوئ او تيقظ (بيداری) ورکوي انسان ته په يو مثال سره چې اوګوره اس د خپل مالک تابعدار دے ځکه چې لږ خوراک او څکاک ئې ورله ورکړي دے او ته د خپل مالک تابعدار نه شوي؟ آخر د سورت کښې تزهيد من الدنيا او ترغيب الی الآخرة ورکوي ، دارنګه سورت کښې دري خبري ذکر کوي : {۱} مرض د انسان چې ناشکري ده :﴿إِنَّ الْإِنْسَانَ لِرَبِّهٖ لَكَنُوْدٌ﴾ ، آيت ٦ . {۲} سبب د مرض {محبت د دنيا} آيت ۸ : ﴿وَ إِنَّهٗ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيْدٌ﴾ .{۳} علاج د مرض {مرګ يادول ، آخرت يادول} ، آيت ۹تا ۱۱.

سورة القارعة مكية

نزولاً ۳۰ بعد القریش مصحفاً ۱۰۱ بعد العاديات

« ربط د ما سبق سره »

۱) ما قبل آيت ۹ کښې زجر ذکر شو : ﴿أَفَلَا يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُورِ﴾ دلته آيت ٤ کښې تخويف ورکوي : ﴿يَوْمَ يَكُونُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ﴾ .

۲) ما قبل آيت ۹ تا ۱۱ کښې هم اثبات د قيامت اوشو دلته آيت ٤ ، ٥ کښې اثبات د قيامت کوي .

۳) ما قبل آيت ۱۱ کښې ذکر شو : ﴿إِنَّ رَبَّهُمْ بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّخَبِيرٌ﴾ دلته آيت ۱ تا ٥ کښې تفصيل د دغه ورځې (قيامت) کوي .

٤) ما قبل آيت ۱۱ کښې تخويف منکرينو ته ذکر شو دلته آيت ۸ تا ۱۱ کښې په هغې باندې زيادت او ترقي ده .

٥) ما قبل آيت ۹ کښې ذکر شو چې خلق به د قبرونونه راپورته کړے شي دلته آيت ٦ تا ۱۱ کښې وائي چې د پورته کيدو نه پس به خلق دوه ډلې شي : {۱} جنتيان . {۲} جهنميان .

٦) ما قبل اختتام په اثبات د قيامت وو د دې سورت افتتاح په اثبات د قيامت باندې کوي .

۷) ما قبل آخر کښې صرف تخويف ذکر شو منکرينو ته دلته ٦ تا ۱۱ کښې په هغې باندې ترقي ده منونکو د قيامت ته بشارت او نه منونکو ته تخويف ورکوي .

۸) ما قبل آيت ۱ تا ٥ كښې احوال د اسونو ذكر شو په دنيا كښې دلته آيت ٤ كښې حالت د خلقو ذكر كوي په قيامت كښې : ﴿يَوْمَ يَكُوْنُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوْثِ﴾.

۹) ما قبل آيت ۹ تا ۱۱ كښې اثبات د قيامت اوشو دلته آيت ٦ تا ۷ كښې منونكو د قيامت ته بشارت وركوي

۱۰) ما قبل آيت ۹ تا ۱۱ كښې اثبات د قيامت اوشو دلته آيت ۸ تا ۱۱ كښې منكرينو د قيامت ته تخويف وركوي

امتيازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په تصدير د " اَلْقَارِعَةُ " باندي ، آيت ۱ .

۲) په دري ځله لفظ د" اَلْقَارِعَةُ "باندي ، آيت ۱ تا ۳ .

۳) په تفصيل د " اَلْقَارِعَةُ "باندي ، آيت ٤ ، ٥ .

٤. په تشبيه وركولو د غرونو د وړی ډنډت شوي سره : ﴿وَتَكُوْنُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوْشِ﴾ ، آيت ٥ .

٥) په تشبيه وركولو د خلقو د پتنګانو خورو ورو سره : ﴿يَوْمَ يَكُوْنُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوْثِ﴾ ، آيت ٤ .

٦) په خصوصي بشارت باندي مؤمنانو ته : ﴿فَاَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ ۝ فَهُوَ فِيْ عِيْشَةٍ رَّاضِيَةٍ﴾ ، آيت ٦ ، ۷ .

۷) په خصوصي تخويف باندي منكرينو ته آيت ۸ تا ۱۱ .

۸) په اور د جهنم ته په " اُمٌّ " يعني ځائي د راكرځيدلو وئيلو باندي ، آيت ۹.

۹) په ذكر د " هَاوِيَةٌ " باندي ، آيت ۹ .

۱۰) په تفصيل د " هَاوِيَةٌ "باندي نَارٌ حَامِيَةٌ "سره آيت ۱۱ .

دعوى:

تخويف په اثبات د قيامت سره

خلاصه:

سورت کښې پنځه خبري ذکر کوي: {۱} اثبات د قيامت، آيت ۱ تا ۵. {۲} پريشاني د خلقو په ورځ د قيامت: ﴿يَوْمَ يَكُونُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ﴾، آيت ٤. {۳} ختميدل د غرونو په ورځ د قيامت: ﴿وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوشِ﴾، آيت ٥. {٤} تقسيم د خلقو دوؤ قسمونو ته: {۱} مؤمنان: فَأَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُه﴾، آيت ٦. {۲} کافران: ﴿وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُه﴾، آيت ۸. {٥} مؤمنانو ته بشارت آيت ۷ او کافرانو ته تخويف، آيت ۹ تا ۱۱ کښې.

سورة التكاثر مكية

نزولاً ١٦ بعد الكوثر مصحفاً ١٠٢ بعد القارعة

۱) ما قبل کښې اثبات د قيامت ذکر شو دلته آيت ۱، ۲ کښې تزهيد من الدنيا ورکوي ځکه چې محبت د دنيا سبب د انکار من القيامة دے.

۲) ما قبل آيت ۵ کښې فناء د عالم ذکر شوه دلته آيت ٤ تا ۸ کښې هغه چا ته زجر ورکوي چې دنيا ته ميلان کوي.

۳) ما قبل آخر آيت ۹ کښې تخويف ذکر شو دلته آيت ۱ کښې علت د تخويف ذکر کوي چې دا ځکه چې تاسو په دنيا مشغول وئ او دين هم پريخودے وو.

٤) ما قبل آيت ۱ تا ۵ کښې اثبات د قيامت اوشو دلته آيت ٦ تا ۸ کښې منکرينو د قيامت ته تخويف ورکوي.

٥) ما قبل آيت ۹ کښې تخويف اخروي منکرينو د قيامت ته ذکر شو دلته آيت ٦ کښې هم دوی ته تخويف اخروي ورکوي.

٦) ما قبل آيت ٨ کښې سپکوالے د موازينو ذکر شو: ﴿وَاَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ﴾ دلته آيت ١ کښې د هغې سبب ښائي چې دنيا سره محبت کول دي.

٧) ما قبل آيت ٨ تا ١١ کښې تخويف اخروي ذکر شو دلته ترقي ده په ماسبق باندې زجر او تخويف دواړه ورکوي، آيت ١ تا ٨.

٨) ما قبل آيت ١ تا ٤ کښې ترغيب الى الآخرة وو دلته آيت ١ او آيت ٨ کښې تزهيد من الدنيا ذکر کوي ځکه محبت د دنيا د آخرت نه د غفلت سبب دے.

٩) ما قبل آيت ٩ کښې ئې د جهنم يو نوم "هَاوِيَةٌ" ذکر کړو دلته آيت ٦ کښې د جهنم بل نوم "الْجَحِيْمَ" ذکر کوي.

١٠) ما قبل آيت ٦ کښې درونډوالے د موازينو ذکر شو دلته آيت ٨ کښې دېته اشاره ده چې درونډ والے د موازينو به په قدر او شکر ئې د نعمتونو سره راځي.

١١) ما قبل آيت ٨ کښې سپک والے د موازينو ذکر شو دلته آيت ٨ کښې دېته اشاره ده چې درونډ والے د موازينو په ناقدرئ او ناشکرئ د نعمتونو سره راځي.

١٢) ما قبل آيت ٦، ٨ کښې وزن د اعمالو او د هغې ثقل {درونډوالے} او خفت {سپک والے} ذکر شو دلته آيت ١ کښې په محبت د دنيا زجر ورکوي ځکه دا سبب دخفت د موازينو دے او عدم محبت د دنيا سبب د ثقل د موازينو دے.

امتيازات:

١) دا سورت ممتاز دے په زجر ورکولو د محبت د دنيا: ﴿اَلْهٰكُمُ التَّكَاثُرُ﴾، آيت ١١.

٢) په خصوصي تخويف ورکولو باندې: ﴿كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۝ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ﴾ سره، آيت ٣، ٤.

٣) په بيانولو د اصل سبب د هلاکت د انسان باندې چې مال سره محبت کول دي، آيت ١.

٤) په لفظ د "الْمَقَابِرَ" باندې، آيت ٢.

٥) په ذکر د : ﴿عِلْمَ الْيَقِيْنِ﴾ باندي، آيت ٤.

٦) په خصوصي تخويف باندي : ﴿لَتَرَوُنَّ الْجَحِيْمَ﴾، آيت ٦.

٧) په ذکر د : ﴿عَيْنَ الْيَقِيْنِ﴾ باندي، آيت ٧.

٨) په تپوس کيدلو په باره د هر يو نعمت کښې : ﴿ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ يَوْمَىِٕذٍ عَنِ النَّعِيْمِ﴾، آيت ٨.

٩) په دوه ځله ذکر کولو د : ﴿كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ﴾ باندي، آيت ٣، ٤.

١٠) په تصدير د سورت په : ﴿اَلْهٰىكُمُ التَّكَاثُرُ﴾ سره، آيت ١.

دعوى:

التزهيد من الدنيا او زجر محبت کؤنکو د دنيا ته

خلاصه:

سورت کښې تزهيد من الدنيا او اصل سبب د هلاکت {مال سره محبت} ذکر کوي دارنګه محبت کؤنکو د دنيا ته زجر او تخويف ورکوي.

سورة العصر مكية

نزولاً ١٣ بعد الانشراح مصحفاً ١٠٣ بعد التكاثر

«ربط د ما سبق سره»

١) ما قبل آيت ١ کښې تزهيد من الدنيا او زجر په محبت د دنيا ذکر شو دلته آيت ٣ کښې اعمال صالحؤ ته ترغيب ورکوي.

٢) ما قبل آيت ١ کښې سبب د هلاکت د انسان ذکر شو چې مال سره محبت کول وو دلته آيت ٣ کښې څلور اصول د کاميابئ د انسان ذکر کوي.

٣) ما قبل آيت ١ کښې زجر محبت کؤنکو د دنيا ته ذکر شو دلته آيت ٢ کښې ئې انجام ښائي چې داسي انسان په تاوان کښې دے : ﴿اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ﴾.

٤) ما قبل آيت ١ کښې ئي سبب د خسران (محبت ددنيا) ذکر کړو دلته آيت ٣ کښې اسباب د نجات د خسران نه ذکر کوي .
٥) ما قبل آيت ١ کښې تخلي ذکر شوه چې مال سره محبت مه کوه دلته آيت ٣ کښې تحلي ذکر کوي چې دا څلور صفات ځان کښې راوله او ځان پرې ښائسته کړه .
٦) ما قبل آيت ١ کښې ئې منکر ذکر کړو چې مال سره محبت او تکاثر وو دلته آيت ٣ کښې رد د منکر ته ترغيب ورکوي : ﴿وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ﴾.
٧) ما قبل آيت ٨ کښې ذکر شو : ﴿ ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ ﴾ چې قيامت په ورځ به د نعمتونوباره کښې تپوس کيږي دلته آيت ٢ ، ٣ کښې وائي چې پس د تپوس نه به څه خلق تاوانيان او څه خلق به کامياب شي .
٨) ما قبل آيت ١ کښې سبب ذکر شو يعني محبت کول د مال سره دلته آيت ٢ کښې مسبب ذکر کوي چې هغه تاوان د آخرت دے .
٩) ما قبل آيت ٦ تا ٨ کښې تخويف ذکر شو دلته آيت ٣ کښې د نجات د پاره څلور خبرې ذکر کوي .
١٠) ما قبل آيت ١٠ کښې سبب د تلو د جهنم ذکر شو دلته آيت ٣ کښې سبب د تلو د جنت ذکر کوي چې هغه صحيح ايمان دے .

امتيازات:

١) دا سورت ممتاز دے په تصدير د سورت په : ﴿ وَالْعَصْرِ﴾ سره ، آيت ١.
٢) په شاهد کولو د عمر د انسان په تاوان دده باندي ، آيت ١ ، ٢.
٣) په څلورو اسبابو د نجات باندي ، آيت ٣ .
٤) په دي قول د باري تعالى باندي : ﴿اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ﴾ ، آيت ٢.
٥) په شاهد کولو د : ﴿الْعَصْرِ﴾ باندي ، آيت ١.

٦) په څلورو اعمال صالحؤ باندي چې هر روستنے په رومبني باندي مرتب دے، آیت ٣.

٧) په الفاظو د: ﴿وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ﴾ باندي، آیت ٣.

٨) په طریقي د حصول د کامیابۍ په دراینو کښې، آیت ٣.

٩) په کامل خسران د هغه چا چې د آیت ٣ د څلورو خصلتونو نه محروم وي آیت ٢.

١٠) په دوه اصولو د کمال او دؤو اصول د تکمیل باندي:

اصول د کمال: {١} ایمان. {٢} عمل صالح.

اصول د تکمیل: {١} الامر بالمعروف و النهي عن المنکر. {٢} د الله تعالٰی د رضا د پاره مصائب او تکالیف برداشت کول.

دعوی:

الترغیب إلی الاعمال الصالحة.

سورت کښې څلور اعمال د نجات د انسان ذکر کوي:

{١}ایمان. {٢}عمل صالح. {٣} امر بالمعروف او نهی عن المنکر.

{٤}د الله تعالٰی د رضا د پاره مصائب او تکالیف برداشت کول.

سورة الهمزة مكية

نزولاً ٣٢ بعد القيامة　　　　مصحفاً ١٠٤ بعد العصر

«ربط د ما سبق سره»

١) ما قبل آيت ٣ کښې ذکر د اوصاف ممدوحه اوشو دلته آيت ١ تا ٣ کښې اوصاف قبيحه ذکر کوي .

٢) ما قبل آيت ٢ کښې خسران د انسان ذکر شو دلته آيت ٤ تا ٩ کښې سزا د خاسر (تاوانی) انسان ذکر کوي .

٣) ما قبل آيت ٣ کښې څلور امور ذکر شو چې په هغې باندې ځان مزين کول پکاروو دلته آيت ١ تا ٣ کښې هغه څلور امور ذکر کوي چې د هغې نه ځان ساتل پکاردې يعني مخکښې تحلى بالخصال الممدوحه وه دلته تخلي عن الرزائل ده .

٤) ما قبل آيت ٣ کښې ترغيب وو اعمال صالحؤ ته دلته آيت ١ تا ٤ کښې ترهيب {يرول} د اعمال قبيحؤ نه ذکر کوي

٥) ما قبل آيت ٢ کښې تاوان د انسان ذکر شو دلته آيت ١ تا ٣ کښې هغه اعمال ذکر کوي چې انسان پرې تاواني کيږي يعني سورت کښې تفصيل د ماسبق دے.

٦) ما قبل آيت ٣ کښې څلور اعمال د کاميابى د انسان ذکر شو دلته آيت ١ تا ٣ کښې څلور اعمال د ناکامى د انسان ذکر کوي .

٧) ما قبل آيت ٢ کښې ذکر شو : ﴿إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ﴾ دلته آيت ١ تا ٣ کښې څلور نښې (علامات) د تاواني انسان ذکر کوي .

۸) ما قبل آیت ۳ کښې د مؤمنانو صفت ذکر شو : ﴿وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ﴾ دلته د آیت ۱ کښې د مخالفینو هغه کارونه ذکر کوي چې په هغې باندې صبر پکار دے .

۹) ما قبل آیت ۲ کښې ذکر شو : ﴿إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ﴾ دلته آیت ۱ کښې وضاحت د تاواني انسان او سزا د دغه انسان ذکر کوي .

۱۰) ما قبل آیت ۲ کښې مسبب ذکر شو یعني تاوان د آخرت دلته آیت ۱ تا ۳ کښې څلور / ٤ اسباب د تاوان ذکر کوي .

امتيازات:

(۱) دا سورت ممتاز دے په ذکر د : ﴿هُمَزَةٍ﴾ باندې ، آیت ۱

(۲) په ذکر د : ﴿لُمَزَةٍ﴾ باندې ، آیت ۱

(۳) په وصف قبیح د باطل پرست ﴿الَّذِي جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُ﴾ ، آیت ۲

(٤) په خصوصي زجر باندې دغه انسان ته:﴿ يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُ أَخْلَدَهُ ﴾، آیت ۳.

(٥) په ذکر د : ﴿ الْحُطَمَةِ﴾ باندې ، آیت ٤ .

(٦) په تفصیل د : ﴿ الْحُطَمَةِ﴾ باندې ، آیت ٦ تا ۹ .

(۷) په خصوصي تخویف اخروي باندې ، آیت ٤ تا ۹ .

(۸) په ذکر د : ﴿عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ﴾ باندې ، آیت ۹ .

(۹) په خصوصي صفت د اور د جهنم باندې ، آیت ۷ .

(۱۰)په ذکر د څلورو / ٤ اسبابو د خسران باندې ، آیت ۱ تا ۳ .

دعوى:

التزهید من الدنیا او زجر په اوصاف قبیحؤ باندې

خلاصه:

سورت كښې ځلور اوصاف مذمومه د باطل پرستو ذكر كوي او دوى له تخويف اخروي وركوي.

سورة الفيل مكية

نزولاً ۱۹ بعد الكافرون مصحفاً ۱۰۵ بعد الهمزة

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل كښې ځلور نښې(علامات) د باطل پرستو ذكر شوي دلته بله نښه د باطل پرستو ذكر كوي چې د الله تعالىٰ د دين مركز به ورانوي.

۲) ما قبل آيت ٤ تا ۹ كښې سركشو ته تخويف اخروي ذكر شو دلته آيت ۱ تا ٥ كښې دوى له تخويف دنيوي وركوي.

۳) ما قبل آيت ۱ تا ۳ كښې ځلور اوصاف د سركشو ذكر شو دلته آيت ۱ تا ٥ كښې دوى ته په مثال د اصحب الفيل سره تخويف دنيوي وركوي.

٤) ما قبل آيت ۱ تا ۳ كښې اوصاف د سركشو ذكر شو دلته آيت ۱ تا ٥ كښې مثال د سركشۍ د هغوي بنائې چې د الله تعالىٰ د دين ځايونه ورانول غواړي.

٥) ما قبل آيت ۲ كښې يو سبب د سركشۍ ذكر شو چې مال سره ئې محبت وو دلته بل سبب د سركشۍ ذكر كوي چې هغه د عهدي او سلطنت سره محبت دے.

٦) ما قبل آيت ۱ تا ۳ كښې تزهيد من الدنيا وو په ذكر د حال د سركشو سره دلته آيت ۱ تا ٥ كښې په واقعي د اصحاب الفيل سره تزهيد من الدنيا وركوي.

۷) ما قبل آيت ۱ كښې هلاكت د هغه چا ذكر شو چې د ديني اشخاصو بے عزتي كوي دلته آيت ۱ تا ٥ هلاكت د هغه چا ذكر كوي چه دديني مقاماتو بے عزتي كوي

۸) ما قبل آیت ۳ کښې ذکر شو چې دا خیال غلط دے چې د مال په وجه به سړے همیشه وي دلته آیت ۱ تا ۵ کښې ئې په مثال د اصحب الفیل سره وضاحت کوي چې اوکوره هغوی سره مال وو او تباه شو.

۹) ما قبل آیت ۱ کښې دشمني د باطل پرستو ذکر شوه د حق پرستو سره دلته دشمني د باطل پرستو مرکز د حق پرستوسره ذکر کوي، چې دا د دوی د مرکزهم دشمنان دي

۱۰) ما قبل آیت ۱ تا ۳ کښې سبب {ناکاره اخلاق} ذکر شو دلته مسبب ذکر کوي چې هغه دینی مرکز روانول دي.

امتیازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په ذکر د اصحب الفیل باندي، آیت ۱.

۲) په ناکام کرځولو د تدبیر د اصحب الفیل باندي، آیت ۲.

۳) په ذکر د: ﴿طَيْرًا أَبَابِيلَ﴾ باندي، آیت ۳.

۴) په ذکر د سزا د اصحب الفیل باندي، آیت ۳تا۵.

۵) په دشمنی د باطل پرستو مرکز د حق پرستو سره آیت ۱تا۲.

۶) په خصوصي تخویف دنیوي باندي په مثال د اصحب الفیل سره آیت ۱تا۵.

۷) په ذکر د "فِيلِ" او "أَبَابِيلَ" باندي، آیت ۱، ۳.

۸) په تصدیر د سورت په: ﴿أَلَمْ تَرَ كَيْفَ﴾ سره، آیت ۱.

۹) په ذکر د لفظ د: ﴿تَضْلِيلٍ﴾ باندي، آیت ۲.

۱۰) په ذکر د لفظ د "مَّأْكُولٍ" باندي، آیت ۵.

دعوی:

تخویف دنیوي سرکشو ته په واقعي د اصحب الفیل باندي

خلاصه:

سورت کښې حال د باطل پرستو ذکر کوي چې همیشه به مرکز د توحید ورانوي ، دارنګه تزهید من الدنیا او ورسره تخویف دنیوي د پاره د هغه چا چې د شعائر الله بے عزتي کوي ، او سورت نه دا خبره هم معلومیږی چې څوک د دین د مرکز حفاظت نه کوي نو الله تعالیٰ د هغي مرکز حفاظت په مارغانو باندې هم کولے شي .

سورة قريش مكية

نزولاً ۲۹ بعد التين مصحفاً ۱۰۶ بعد الفيل

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل کښې تزهید من الدنیا په واقعي د اصحاب الفیل ذکر شو دلته تزهید من الدنیا په واقعي د قریشو ذکر کوي .

۲) ما قبل کښې زجر وو په محبت د دنیا او سلطنت باندي دلته هم زجر په محبت د دنیا ذکر کوي چې دوی د دنیا د پاره اوړي او ژمي کښې سفرونه کوي او د الله تعالیٰ عبادت نه کوي .

۳) ما قبل کښې د باطل پرستو یوه نښه ذکر شوه چې د دین مرکز به روانوي دلته د باطل پرستو بله نښه ذکر کوي چې مال پسې به منډي وهي او دین ته به اوزګار نه وي .

٤) ما قبل کښې مسبب ذکر شو یعني سرکشي د باطل پرستو دلته د هغي سبب ذکر کوي چې مال سره محبت کول دي .

٥) ما قبل آیت ۲ تا ٥ کښې څلور صفات فعلیه د رب العزت ذکر شو دلته آیت ٤ کښې دوه نور صفات فعلیه د باري تعالیٰ ذکر کوي .

٦) ما قبل كښې محبت كؤنكو د دنيا ته تخويف ذكر شو دلته آيت ١ تا ٣ كښې محبت كؤنكو د دنيا ته زجر وركوي .

٧) ما قبل آيت ١ تا ٥ كښې په مكي والؤ يو نعمت ذكر شو چې دشمنان ورله الله تعالیٰ تباه كړل دلته آيت ٤ كښې په دوی دوه نور نعمتونه ذكر كوي : {١} الله تعالیٰ ماړه كړي دي . {٢} امن ئې ورله وركړي دے .

٨) ما قبل كښې د الله تعالیٰ قدرت او طاقت ذكر شو چې اصحب الفيل ئې تباه كړل دلته آيت ٣ كښې وائي چې د دغه ذات عبادت كول پكار دي ترغيب عبادت د الله تعالیٰ ته وركوي .

٩) ما قبل آيت١ كښې د الله تعالیٰ نوم {رب} ذكر شو : ﴿أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ﴾ دلته آيت ٣ كښې هم دغه نوم د رب العزت ذكر كوي : ﴿فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَٰذَا الْبَيْتِ﴾.

١٠) ما قبل كښې مركز د دين اشارةً او ضمناً ذكر شو دلته آيت ٣ كښې ئې صراحةً ذكر كوي : ﴿فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَٰذَا الْبَيْتِ﴾ البيت كښې الف لام عهدي مراد خانه كعبه ده .

امتيازات:

١) دا سورت ممتاز دے په بيان د حال د قريشو باندي ، آيت ١ ، ٢ .

٢) په ترغيب في العبادة باندي خصوصي الفاظو سره ، آيت ٣ .

٣) په ذكر د دوؤ نعمتونو كوم چې قريشو باندي شوي وو ، آيت ٤ .

٤) په ذكر د : ﴿إِيلَافِ﴾ سره ، آيت ١.

٥) په نوم د قريش قبيلې باندي ، آيت ١.

٦) په لفظ د : ﴿إِيلَافِ﴾ باندي ، آيت ١.

٧) په لفظ د : ﴿رِحْلَةَ﴾ باندي آيت٢.

۸) په لفظ د : ﴿الشِّتَآءِ﴾ باندي ، آيت ۲.

۹) په لفظ د : ﴿الصَّيْفِ﴾ باندي ، آيت ۲.

۱۰) په خصوصي زجر ورکولو باندي قريشو ته آيت ۱تا۳.

دعوی:

تزهيد من الدنيا په واقعي د قريشو سره .

خلاصه:

سورت کښې د قريشو حالت ذکر کوي چې دنيا پسې منډي وهي او دي د پاره اوړي او ژمي کښې سفر کوي او د الله تعالی عبادت او د دين مرکز ئې پريښودے دے .

دارنګه سورت کښې ترغيب الی التوحيد په تذکير باالنعم سره ورکوي .

سورة الماعون مكية

نزولاً ۱۷ بعد التکاثر مصحفاً ۱۰۷ بعد قريش

« ربط د ما سبق سره »

۱) ما قبل آيت ۳ کښې ترغيب الی العبادة وو دلته آيت ٤ تا ۷ کښې هغه چاته زجر ورکوي چې عبادت په صحيح طريقه نه کوي .

۲) ما قبل آيت ۱ ، ۲ کښې د باطل پرستو نښه ذکر شوه چې مال پسې به منډی وهی او دين ته به اوزګار نه وي دلته نورې شپږ نښې د باطل پرستو ذکر کوي : {۱} قيامت نه منل . {۲} يتيم له تيلے ورکول . {۳} د مسکين په خوراک تيزی نه ورکول . {٤} مونځ د مونځ په طريقه نهٔ کول ، آيت ٥ . {٥} رياء کاري کول ، آيت ٦ . {٦} آيت ۷سورت کښې ترقي ده په ماسبق باندي.

۳) ما قبل آیت ۱ ، ۲ کښې دنیادارو او معرضینو د دین ته زجر ذکر شو دلته آیت ۱ تا ٤ کښې هم دغه خلقو ته زجر ورکوي .

٤) ما قبل آیت ۱ ، ۲ کښې ذکر د سبب اوشو چې مال سره محبت کول دي دلته آیت ۱ تا ۳ کښې مسبب ذکر کوي مال سره ئې محبت دے نو ځکه قیامت نه مني ، یتیم له تیلې ورکوي او د مسکین د خوراک خیال نه ساتي.

٥) ما قبل آیت ۱ تا ۳ نه معلومه شوه چې محبت د مال انسان د الله د عبادت نه باتې کوي دلته آیت ۱ تا ۳ کښې وائي چې محبت د مال انسان د صحیح عقیدې او صحیح عمل نه پاتې کوي .

٦) ما قبل آیت ٤ کښې ذکر شو چې الله تعالیٰ قریشو سره احسانات کړي دي دلته ۲ ، ۳ کښې قریشو ته زجر ورکوي په نه کولو د احسان د یتیم او مسکین سره .

۷) ما قبل آیت ۱ تا ۳ کښې زجر وو قریشو ته دلته آیت ۱ تا ۳ کښې عام زجر دے تعمیم بعد التخصیص دے .

۸) ما قبل آیت ۳ کښې ترغیب الی العبادة ذکر شو دلته ٤ تا ۷ کښې دفع د وهم کوي وهم دا راته چې دا مشرکان خو عبادت کوي نو دلته وائي چې د دوی دا عبادت د عبادت په طریقه نه دے .

۹) ما قبل آیت ۱ ، ۲ کښې تخلي ذکر شوه چې د مال سره محبت نه دي کول پکار دلته آیت ۱ تا ۷ کښې هم تخلي ده بالترقي علی ما سبق شپږ صفات ذکر کوي چې د هغي نه ځان ساتل پکار دي .

۱۰) ما قبل آیت ۱ تا ۳ کښې هغه چاته زجر ذکر شو څوک چې د الله تعالیٰ د اطاعت نه اعراض کوي دلته دا ذکر کوي چې اعراض د الله تعالیٰ د اطاعت

نه انسان اوصاف قبيحو ته راښكي ، پنځه اوصاف قبيحه ذكر كوي چې د هغي په وجه انسان مستحق د عذاب گرځي او باعث په تكذيب گرځي .

نوټ : مخكښې شپږ اوصاف او دلته پنځه اوصاف مونږ ذكر كړل هلته پكښې تكذيب داخل وو دلته چونكه دا آخر الذكر پنځه اوصاف په تكذيب باعث گرځی نو بغير د دي نه بيا شمير پنځه گرځي .

امتيازات:

١) دا سورت ممتاز دے په تصدير د : ﴿أَرَءَيْتَ الَّذِيْ﴾ باندي ، آيت ١.

٢) په خصوصي زجر باندي مكذب د قيامت ته ، آيت ١ .

٣) په دوؤ صفتونو د انسان مكذب باندي ، آيت ٢ ، ٣ .

٤) په الفاظو د : ﴿فَوَيۡلٌ لِّلۡمُصَلِّيۡنَ﴾ باندي ، آيت ٤ .

٥) په لفظ د " الْمَاعُوْنَ " باندي ، آيت ٧ .

٦) په صحيح طريقي سره عبادت نه كونكو ته تخويف وركولو باندي٤.

٧) په وصف قبيح د كافر او منافق باندي چې مونځ نه ناخبري ده : ﴿ الَّذِيۡنَ هُمۡ عَنۡ صَلَاتِهِمۡ سَاهُوۡنَ ﴾.

٨) په وصف قبيح د كافر او منافق باندي چې ريا كارى ده ، دا وصف ئې خصوصي الفاظو باندي ذكر دے : ﴿ الَّذِيۡنَ هُمۡ يُرَآءُوۡنَ ﴾

٩) په وصف قبيح د كافر او منافق باندي چې منع كول د معمولى څيز دي : ﴿ وَيَمۡنَعُوۡنَ الۡمَاعُوۡنَ ﴾.

١٠) په لفظ د " سَاهُوْنَ " باندي ، آيت ٥.

دعوى:

زجر او تخويف منكرينود قيامت ته .

خلاصه:

سورت کښې کفارو او منافقينو ته زجر او تخويف ورکوي په اوصاف قبيحؤ خمسؤ سره:

{۱} تکذيب بالدين (قيامت نه منل)، آيت ۱.

{۲} بخل آيت ۲، ۳ کښې ورته اشاره ده يتيم او مسکين سره ځکه ظلم کوي چې بخيل دے.

{۳} مونځ نه کول (په صحيح طريقه باندي)، آيت ٤، ٥.

{٤} رياکاری آيت ٦.

{٥}حق واجب نه ورکول.

نوټ: دلته په بل اعتبار ترينه پنځه اوصاف جوړ شو.

سورة الكوثر مكية

نزولاً ١٥ بعد العاديات مصحفاً ١٠٨ بعد الماعون

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل کښې ئې زجر ورکړو منافقانو او کافرانو ته چې د مؤمنانو دشمنان وو دلته آيت ۳ کښې مؤمنانو ته تسلي ورکوي چې دشمن به درله ختم کړم.

۲) ما قبل آيت ۲، ۳ کښې ئي د باطل پرستو صفت (بخل) ذکر کړو دلته آيت ۲ کښې د هغي مقابل کښې د مؤمنانو ښه صفت ذکر کوي چې هغه مالی عبادت او انفاق کول دي: ﴿وَانْحَرْ﴾ نه دغه خبره معلوميږی.

۳) ما قبل آيت ٤ کښې د باطل پرستو صفت ذکر شو مونځ نه کول دلته آيت ۲ کښې د هغوی مقابل کښې د مؤمنانو صفت ذکر کوي چې هعه مونځ کول دي: ﴿فَصَلِّ﴾.

٤) ما قبل آیت ٦ کښې د باطل پرستو صفت ذکر شو ریا کاري کول دلته د هغې مقابل کښې د مؤمنانو صفت ذکر کوي چې هغه اخلاص دے : ﴿ لِرَبِّكَ﴾ کښې ورته اشاره ده .

٥) ما قبل کښې اوصاف قبیحه د کافرانو او منافقانو ذکر شو نو چونکه په دې باندې مؤمنان خفه کیږئ دلته آیت ٣ کښې تسلي ورکوي چې خفه کیږئ مه دشمن به درله تباه کړم .

٦) ما قبل کښې اوصاف قبیحه د کافرو ذکر شو دلته آیت ٢ کښې نسخه د هلاکت د دشمن ښائي چې هغه بدني او مالي عبادت د الله تعالی د رضا د پاره کول دي .

٧) ما قبل کښې ذکر شو چې دغه اوصاف قبیحؤ نه ځان بچ کړه دلته آیت ١، ٣ کښې دوه نعمتونه ذکر کوي چې دا به درله درکړم : {١}علم د قرآن به درکړم. {٢}دشمن به درله تباه کړم .

٨) ما قبل کښې زجر وو کافرانو او منافقانوته په اوصاف قبیحؤ باندې دلته آیت ٢ کښې مؤمنانو ته په اوصاف حسنؤ باندې امر کوي : ﴿فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ﴾.

٩) ما قبل کښې د باطل پرستو ذکر اوشو دلته د هغوی د مقابلې د پاره مؤمنانو ته لائحه عمل ښائي ، چې د دوی مقابله به په قرآن یعني د قرآن په بیان او په عبادت بدني او مالی کوئ " کوثر " نه مراد د مفسرینو د یو قول مطابق قرآن دے.

١٠) ما قبل کښې د مخالفینو د قرآن ذکر اوشو دلته آیت ١ کښې په دعوت د قرآن باندې تیزې ورکوي ځکه مؤمنان به دې کامیابیږي او د دوی دشمنان پرې تباه کیږي .

امتیازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په ترغیب الی القرآن خصوصي الفاظو سره : ﴿ اِنَّآ اَعۡطَیۡنٰكَ الۡكَوۡثَرَ ﴾ ، آیت ۱ .

۲) په دوؤ حکمونو باندي : {۱} ﴿فَصَلِّ﴾ . {۲} ﴿وَانۡحَرۡ﴾ .

۳) په خصوصي تسلی باندي نبي ﷺ ته آیت ۱ ، ۳ .

٤) په لفظ د : ﴿ الۡكَوۡثَرَ ﴾ باندي ، آیت ۱ .

٥) په تصدیر د : ﴿ اِنَّآ اَعۡطَیۡنٰكَ ﴾ باندي ، آیت ۱.

٦) په ښودلو د نسخي باندي د پاره د ختمولو د دشمن ، چې هغه بیان د قرآن ، بدني او مالي عبادت د پاره د رضا د الله تعالی کول دي .

۷) په دوؤ انعاماتو د باري تعالی باندي ، آیت ۱ ، ۳ .

۸) په لفظ د : ﴿ شَانِئَكَ ﴾ باندي ، آیت ۳ .

۹) په لفظ د : ﴿ الۡاَبۡتَرُ ﴾ باندي ، آیت ۳ .

۱۰) اعمال صالحؤ ته ترغیب ورکولو باندي خصوصي الفاظو سره ، آیت ۱ تا ۳ .

دعوی:

الترغیب الی الاعمال الصالحه

خلاصه:

سورت کښې الله رب العزت وائي دوه کارونه زما د رضا د پاره اوکړه :

{۱} بدني عبادت .

{۲} مالي عبادت نو دوه کارونه به زه تاله اوکړم :

{۱}علم د قرآن به درکړم آیت ﴿اِنَّآ اَعۡطَیۡنٰكَ الۡكَوۡثَرَ﴾ ، آیت ۱.

{۲} دشمن به درله تباه کړم : ﴿اِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الۡاَبۡتَرُ﴾ ، آیت ۳ .

تنبيه : دي ځائي نه څلورو سورتونو کښې د مؤمنانو اوصاف حسنه ښائي خو
ياد ساتل پکار دي چې سورة اللهب بطور تتمه د ماسبق .

سورة الكافرون مكية

نزولاً ١٨ بعد الماعون مصحفاً ١٠٩ بعد الكوثر

«ربط د ما سبق سره»

١) ما قبل آيت ٢ کښې اوصاف حسنه د مؤمنانو ذکر شو دلته آيت ١ تا ٦ کښې بل ښه صفت د مؤمنانو ذکر کوي چې هغه د الله تعالیٰ د دشمنانو نه بائيکاټ کول دي .

٢) ما قبل آيت ٢ کښې بيان دمسئلې د توحيد اوشو چې د عبادت بدني او مالي مستحق صرف الله تعالیٰ دے دلته وائي چې د کافرانو نه بائيکاټ اوکړه ، ځکه دوی د مسئلې د توحيد نه منکر دي .

٣) ما قبل آخري آيت کښې ذکر شو : ﴿إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ﴾ دلته آيت ١ کښې مسلمان ته د هغه دشمنان ښائي چې هغه کافران دي .

٤) ما قبل آيت ١ ، ٣ کښې ئې نبي عليه السلام ته تسلي ورکړه دلته آيت ١ تا ٦ کښې تشجيع او بهادري ورکوي نبي عليه السلام ته چې د کافرانو نه بائيکاټ اوکړه .

٥) ما قبل آيت ١ ، ٢ کښې اعمال صالحو ته ترغيب ذکر شو چې هغه سبب د کاميابۍ د دنيا او د آخرت وو دلته آيت ١ تا ٦ کښې وائي چې کافرانو نه بائيکاټ اوکړه ځکه چې دوی د دغه اعمال صالحو نه منکر دي .

٦) ما قبل آيت ٣ کښې مسبب ذکر شو چې د دشمن تباه کيدل دي دلته آيت ١ تا ٦ کښې ورله سبب ذکر کوي چې دشمن نه بائيکاټ کول دي ، يعني چې دشمن نه دې بائيکاټ اوکړو نو الله تعالیٰ به درله دشمن تباه کړي .

۷) ما قبل آيت ۱ کښې ترغيب وو بيان د قرآن ته دلته آيت ۱ تا ٦ کښې ترغيب دے مجاهدينو ته چې هغه د کافرو نه بائيکاټ کول دي .

۸) ما قبل آيت ۱ کښې د الله تعالیٰ لوئی نعمت ذکر شو چې ورکول دخير کثير دي دلته آيت ۱ تا ٦ کښې وائي چې دا نعمت هله حاصليږی چې د کافرو نه بائيکاټ اوکړې.

۹) ما قبل آيت ۲ کښې عبادت د مسلمان ذکر شو دلته آيت ۲ تا ٥ کښې ذکر کوي چې د مسلمان او کافر عبادت کښې فرق دے دواړه يو شان نه دي .

۱۰) ما قبل آيت ۲ کښې توحيد ذکر شو دلته آيت ۱ تا ٦ کښې وائي چې د توحيد تکميل به هله راځي چې د کافرانو نه بائيکاټ اوکړئ .

امتيازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په الفاظو د : ﴿ يَاأَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ ﴾ باندي ، آيت ۱.

۲) په بائيکاټ کولو د کافرانو نه .

۳) په الفاظو د : ﴿ لَآ أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ ﴾ باندي ، آيت ۲.

٤) په الفاظو د : ﴿ وَلَآ أَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَآ أَعْبُدُ ﴾ باندي ، آيت ۳.

٥) په الفاظو د : ﴿ وَلَآ أَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدْتُّمْ ﴾ باندي ، آيت ٤.

٦) په دوه ځله ذکر کولو د : ﴿ وَلَآ أَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَآ أَعْبُدُ ﴾

۷) په الفاظو د : ﴿ لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ ﴾ باندي ، آيت ٦.

۸) په خصوصي تفرقي بين عبادة المسلمين و الكفار ، آيت ۲ تا ٥ .

۹) په يو آيت کښې دوه ځله لفظ د "دين" باندي : ﴿ لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ ﴾.

۱۰) په هر وخت کښې د هر عبادت (غير شرعيه) او د هر معبود د کافرانو نه بائيکاټ کولو باندي ، آيت ۱ تا ٦ .

دعوى:

المقاطعة عن اعداء الله تعالیٰ .

سورت کښې دا ذکر کوي چې د الله تعالیٰ د دشمنانو نه په هر وخت {حال او استقبال} کښې بائیکاټ اوکړئ ، ځکه چې د هغوی عبادت په شرعی طریقه نه دے او عبادت صرف د الله تعالیٰ نه کوي بلکه الله تعالیٰ سره ئې نور معبودان جوړ کړي دي .

سورة النصر مدنية

نزولاً ۱۱۴ بعد التوبة مصحفاً ۱۱۰ بعد الکافرون

«ربط د ما سبق سره»

۱) ما قبل کښې د مؤمنانو صفت تشجیع ذکر شو بائیکاټ کول د کافرانو نه دلته مؤمنانو ته بشارت ورکوي .

۲) ما قبل آیت ۱تاه کښې بائیکاټ د مجرمانو نه ذکر شو چې دا یو قسم ابتلاء وه دلته آیت ۱ کښې ذکر د دوؤ نعمتونو کوي{چې نصر او فتح دی} یعني چې کله دغه امتحان کښې پاس (کامیاب) شوي نو الله تعالیٰ به درله دا نعمتونه درکړي .

٤) ما قبل آیت ۱ تا ٦ کښې سبب ذکر شو (بائیکاټ د کافرانو نه) دلته آیت ۱ کښې مسبب (نصر او فتح) ذکر کوي .

٥) ما قبل آیت ۱ تا ٦ کښې متفرع علیه (یعني بائیکاټ د کافرو نه) ذکر شو دلته آیت ۱ کښې متفرَع (نصر او فتح) ذکر کوي .

٦) ما قبل آیت ٦ کښې ذکر شو : ﴿وَلِيَ دِيْنِ﴾ دلته آیت ۳ کښې ئې تفصیل کوي چې د پیغمبر ﷺ دغه دین د الله تعالیٰ دین دے .

۷) ما قبل آیت ٦ کښې ذکر شو: ﴿لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ﴾ دلته آیت ۲ کښې تسلي او بشارت دے چې کوم ستاپه دین نه دي نو دوی به ستا په دین کښې داخل شي او ستا دین د الله تعالی دین دے.

۸) ما قبل آیت ٦ کښې ذکر شو: ﴿لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ﴾ نو سوال پیدا کیده چې جزاء د دین د کافرو څه ده؟ دلته د دغه سوال جواب کوي چې جزاء د دین اسلام نصرت، فتح او کثرت د منکرو دے او جزاء د دین د کافرو تاوان او هلاکت دے.

۹) ما قبل آیت ۱ تا ٦ کښې بائیکاټ د کافرو نه ذکر شو دلته آیت ۲ کښې وائي چې کله دِ بائیکاټ اوکړو نو زه به درله ملګری زیات کړم.

۱۰) ما قبل کښې تفرقه بین المؤمنین و الکافرین ذکر شوه دلته آیت ۳ کښې هغه مسئله ذکر کوي چې په هغې باندي تفرقه په مینځ د دوارو ډلو کښې راځي، او هغه مسئله د توحید مسئله ده: ﴿فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ﴾.

امتيازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په ترتب د اوامر ثلاثو باندي: {۱} امر بالتسبيح. {۲}امر بالحمد. {۳} امربالاستغفار په انعامات ثلاثو: {۱} نصر. {۲} فتح. {۳} په دین کښې خلق ډلي ډلي داخلیدل.

۲) دا سورت ممتاز دے په خصوصي بشارت دنيويه باندي، آیت ۱، ۲.

۳) په اشاري کولو فراق او اجل د پيغمبر پاک ﷺ ته آیت ۱، ۳.

٤) په تصدير د سورت په: ﴿إِذَا جَآءَ نَصْرُ اللهِ﴾ سره، آیت ۱.

٥. يوآيت کښې نصر او فتح ذکر کولو باندي، آیت ۱.

٦) په لفظ د: ﴿وَالْفَتْحُ﴾ باندي، آیت ۱.

۷) په آخري نازليدو باندي، چې دا دټولو سورتونو نه روستو نازل شوے دے.

٨) په بشارت د كثرت د ملكرو باندي : ﴿ وَرَاَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُوْنَ فِيْ دِيْنِ اللهِ اَفْوَاجًا﴾ ، آيت ٢ .

٩) په لفظ د : ﴿وَاسْتَغْفِرْهُ ﴾ باندي ، آيت ٣.

١٠) په اشارې باندي انعام د استغفار ته چې هغه بيا بيا رحمتونه راليږل دي : ﴿اِنَّهٗ كَانَ تَوَّابًا﴾ ، آيت ٣ ځكه " كَانَ " د دوام او ثبات د پاره دے .

دعوی:

البشارة للمؤمنين .

خلاصه:

سورت كښې هغه مؤمنانو ته بشارت دے چې هغوی د الله تعالٰی په لاره كښې جهاد اوكړو او د الله تعالٰی دشمنانو نه ئې بائيكاټ اوكړو، او دا ذكر كوي چې بائيكاټ كول د الله تعالٰی د دشمنانو نه سبب د الله تعالٰی د امداد دے دارنګه سورت كښې دري انعامات ذكر كوي : {١} نصر . {٢} فتح . {٣} كثرت د ملكرو او د دي مقابل كښې دري اوامر ذكر كوي : {١} امر بالتسبيح . {٢} امر بالحمد . {٣} امر بالاستغفار .

سورة اللهب مكية

نزولاً ٦ بعد الفاتحة

مصحفاً ١١١ بعد النصر

«ربط د ما سبق سره»

(١) ما قبل آيت ١ كښې بشارت بالنصرة ذكر شو دلته بشارت په هلاكت د دشمن باندي وركوي .

(٢) ما قبل آيت ٢ كښې ئې بشارت وركړو په كثرت د ملكرو باندي دلته بشارت په هلاكت د د شمنانو باندي وركوي .

(۳) ما قبل آیت ۱ کښې بشارة بالنصر وو دلته نمونه د الله تعالیٰ د امداد ښائي چې دشمن به درله تباه کړم.

(٤) ما قبل آیت ۱، ۲ کښې مؤمنانو ته بشارت ذکر شو دلته کافرانو ته تخویف ورکوي.

(٥) ما قبل آیت ۲ کښې ذکر شو چې خلق به د الله تعالیٰ په د دین کښې ډلې ډلې داخلیږی دلته وائي چې څوک معاندین وي او دین کښې نه داخلیږی نو هغوی به تباه کړم.

(٦) ما قبل آیت ۳ کښې مسئله د توحید په عنوان د تسبیح ذکر شوه: ﴿فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ﴾ دلته آیت ۳ کښې سزا د هغه چا ذکر کوي چې د دي مسئلې نه منکر وي.

(۷) ما قبل آیت ۳ نه معلومه شوه چې څوک د الله تعالیٰ تسبیح، حمد وائي او استغفار کوي نو الله تعالیٰ پرې مهربانی کوي دلته وائي چې د دغه دریو خبرو نه منکر وي او ضدي عنادي وي نو هغه الله تعالیٰ تباه کوي.

(۸) ما قبل آیت ۲ کښې ذکر شو چې خلق به دین کښې ډلې ډلې داخلیږی دلته وائي که مخې ته څوک رکاوټ جوړیږی او خلق نه پریږدي نو هغه به تباه کړم او خلقو ته به لار صفا کړم.

(۹) ما قبل آیت ۳ کښې اوامر ثلاثه ذکر شو چې د هغې نه انکار سبب د هلاکت وو دلته مسبب {هلاکت د دشمن} د دشمن ذکر کوي.

(۱۰) ما قبل آیت ۳ کښې اوامر ثلاثه (امر بالتسبیح، امر بالحمد او امر بالاستغفار) ذکر شو دلته د هغې فائدې ذکر کوي چې پهٔ دې سره دشمن تباه کیږي.

امتیازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په لفظ د : ﴿ تَبَّتْ ﴾ باندي، آیت ۱.

۲) په ذکر د لاسونو د ابولهب باندي، آیت ۱.

۳) په ذکر د ابولهب باندي، آیت ۱.

٤) په ذکر د مال د ابو لهب باندي، آیت ۲.

٥) په ذکر د کسب د ده باندي، آیت ۲.

٦) په عذاب اخروي د ابولهب باندي، آیت ۳.

۷) په تصدیر د سورت ﴿ تَبَّتْ ﴾ سره آیت ۱.

۸) په ذکر د ښځې د ابولهب باندي : ﴿ وَّامْرَاَتُه ﴾ ، آیت ٤ .

۹) په موصوف کولو د ښځې د ده په سره : ﴿حَمَّالَةَ الْحَطَبِ﴾ ، آیت ٤ .

۱۰) په ذکر د : ﴿مَّسَدٍ﴾ باندي، آیت ٥ .

دعوی:

نزول د عذاب په دشمنانو د اولیاء الله باندي یعني تخویف دنیوي .

خلاصه:

دا سورت تتمه د ماسبق ده دیکښې نمونه د کامیابۍ ښائي چې چا د اولیاء الله سره دشمني کړي ده او توقي ئې وربوري کړي ذي نو هغوی باندي عذاب راغلے دے اګرکه د پیغمبر ﷺ تره او تنداره ولے نه وو، په دنیا او آخرت کښې سزا وار شو.

سورة الاخلاص مكية

نزولاً ۲۲ بعد الناس مصحفاً ۱۱۲ بعد اللهب

«ربط د ما سبق سره»

(۱) ما قبل کښې دا ذکر شو چې الله تعالٰی د مؤحدینو دشمنان تباه کوي دلته مؤحدینو ته وائي چې په مسئله د توحید باندي کلک شئ، یعني سورت کښې ترغیب الی التثبت باالتوحید دے.

(۲) ما قبل کښې هلاکت د ابولهب ذکر شو دلته هغه مسئله {توحید} ذکر کوي چې د هغي نه انکار په وجه ابولهب تباه شوے وو.

(۳) ما قبل آیت ۱، ۲ کښې تخویف دنیوي ذکر شو دلته هغه مسئله ذکر کوي چې د هغي نه انکار سبب د عذاب دنیوي دے.

(٤) ما قبل آیت ۳ کښې عذاب اخروي ذکر شو دلته هغه مسئله ذکر کوي چې هغي نه انکار سبب د عذاب اخروي دے.

(٥) ما قبل کښې هلاکت د ابولهب ذکر شو دلته عظمت د هغه ذات ذکر کوي کوم ذات چې ابولهب هلاک کړے وو.

(٦) ما قبل آیت ۲ کښې ذکر شو چې د الله تعالٰی عذاب نه په مال او کسب سره نجات نه ملاویږي دلته هغه مسئله {توحید} ذکر کوي چې په هغي نجات او خلاصون ملاویږي.

(۷) ما قبل آیت ۱، ۲ کښې عذاب دنیوي ذکر شو دلته هغه مسئله ذکر کوي چې هغي منلو سره نجات د عذاب دنیوي نه ملاویږي.

(۸) ما قبل آیت ۳ کښې عذاب اخروي ذکر شو دلته هغه مسئله ذکر کوي چې د هغي په منلو سره نجات د عذاب اخروي نه ملاویږي.

(۹) ما قبل كښې انعام او احسان په مؤمنانو باندې ذكر شو چې دشمن ئې درله تباه كړو دلته وائي چې د دې احسان شكريه اداكړه مسئلې د توحيد ته خلق راؤبله .

(۱۰) مخكښې ټولو سورتونو كښې مختلف علوم او احكام الٰهيه ذكر شو دلته د هغې ټولو خلاصه ذكر كوي چې هغه توحيد د بارې تعالىٰ دے .

(۱۱) ما قبل كښې هلاكت د ابولهب ذكر شو چې مسئله د توحيد ئې نه منله او د پيغمبر عليه السلام خلاف ئې كولو نو دلته آيت ۲ كښې وائي : ﴿اَللّٰهُ الصَّمَدُ﴾ الله رب العزت بے حاجته ذات دے د هغهٔ چاته حاجت نشته بلكه هغه ته خلق محتاج دي او خپلو حاجتونو كښې ورته ژړا او فرياد كوي.

(۱۲) ما قبل آيت ٤، ٥ كښې هلاكت د ښځې د ابولهب ذكر شو دلته هغه مسئله ذكر كوي چې د هغې نه انكار سبب د هلاكت د هغې وو .

امتيازات:

۱) په دې چې صرف او صرف توحيد پكښې ذكر دے آيت ، ۱ تا ٤ .

۲. دا سورت ممتاز دے په قول د بارې تعالىٰ باندې : ﴿قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ﴾ ، آيت ۱.

۳) په ذكر د : ﴿اَللّٰهُ الصَّمَدُ﴾ باندې ، آيت ۲ .

٤) په خصوصي رد په يهود او نصارىٰ باندې : ﴿لَمْ يَلِدْ﴾.

٥) په ۲۲ نومونو د دې سورت باندې كوم چې امام آلوسی وغيره ذكر كړي دي.

٦) په لفظ د : ﴿ الصَّمَدُ ﴾ باندې ، آيت ۲ .

۷) په لفظ د كُفُوًا باندې ، آيت ۲ .

۸) په لفظ د : ﴿ لَمْ يَلِدْ ﴾ باندې ، آيت ۲ .

۹) په لفظ د : ﴿ وَلَمْ يُوْلَدْ ﴾ باندې ، آيت ۲ .

۱۰) په ثلث القرآن کیدلو باندي چې حدیث کښې دي سورت ته دريمه حصه د قرآن کريم وئيلي شوي ده .

دعوی:

اثبات د توحيد او رد په فرق ضالؤ باندي .

خلاصه:

سورت کښې هغه مسئله{توحيد} بيانوي چې په هغي باندي نجات ملاويږي دارنګه په ګمراه ډلو رد کوي چې هغه دهريه ، مشرکين ، يهود نصارئ وغيره دي .

سورة الفلق مكية

نزولاً ۲۰ بعد الفيل مصحفاً ۱۱۳ بعد الاخلاص

«ربط د ما سبق سره»

(۱) ما قبل کښې ذکر د قيمتي خزاني {توحيد} اوشو دلته وائي چې د دي خزاني حفاظت اوکړه .

(۲) ما قبل آيت ۱ کښې اعلان بالتوحيد باندي امر ذکر شو دلته آيت ۱ کښې امر بالتعوذ دے په يو صفت د الله تعالیٰ باندي چې : ﴿رَبِّ الْفَلَقِ﴾ دے .

(۳) ما قبل آيت ۱ ، ۲ کښې اسم علم د رب العزت {الله} ذکر شو دلته آيت ۱ کښې ئې صفتي نوم ذکر کوي : ﴿رَبِّ الْفَلَقِ﴾.

(٤) ما قبل کښې عظمت او توحيد د باري تعالیٰ ذکر شو دلته آيت ۱ کښې وائي چې د توحيد مقابل کښې چې کوم شرور دي د هغه شرورو نه په دغه ذات {الله تعالیٰ} سره پناهي حاصله کړه .

(٥) ما قبل کښې توحید بیان شو دلته آیت؛ کښې د دغه مسئلې دشمنان {سحر کونکی} ذکر کوي چې د دوی د شرنه په الله تعالی سره پناهي حاصله کړه.
(٦) ما قبل کښې رد په فرقِ ضالؤ اوشو دلته آیت ۲ کښې وائي چې د دغه خلقو دشر نه په الله تعالی سره پناهي حاصله کړه.
(٧) ما قبل کښې مسئله د توحید ذکر شوه دلته آیت ۲ تا ٥ کښې هغه آفات دنیویه ذکر کوي چې د هغې د شر پناه غوښتل پکار دي.
(٨) ما قبل کښې ذکر درنړا {توحید} اوشو دلته آیت ۳ کښې ذکر د تیّرې کوي چې رنړا {توحید} درته ملاؤ شوه نو د شر د تیرې {غلطې عقیدې} نه پناه غواړه.
(٩) ما قبل کښې دعوت وو حصول د خیر {توحید} ته دلته آیت ۲ تا ٥ کښې الدعوة الى الاجتناب من الشرور ذکر کوي.
(١٠) ما قبل کښې توحید او عظمت شان د الله تعالی ذکر شو او په غلطو خلقو رد اوشو نو کله چې دغه مسئله {توحید} دِ اومنله نو ناکاره خلق به د شر او تکلیف رسولو کوشش کوي نو دلته تسلي ده چې دغه ذات {الله تعالی} د هرشر او تکلیف نه پناهي ورکولو د پاره کافی دے نو هغه سره د شر او تکلیف نه پناهي حاصله کړه.

امتیازات:

١) دا سورت ممتاز دے په ذکر د صفت خصوصي د رب العزت باندي : ﴿قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ﴾ ، آیت ١.
٢) په استعاذې باندي دشرمطلق نه : ﴿مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ﴾، آیت ٢.
٣) په څلورځله لفظ د : ﴿شَر﴾ باندي ، آیت ٢ تا ٥.
٤) په استعاذې باندي دشرور خاصؤ نه آیت ٢ تا ٥.

٥) په لفظ د : ﴿غَاسِقٍ﴾ باندي، آيت ٣ .

٦) په ذكر د : ﴿إِذَا وَقَبَ﴾ باندي، آيت ٣ .

٧) په لفظ د : ﴿النَّفَّٰثَٰتِ﴾ باندي، آيت ٤ .

٨) په لفظ د : ﴿الْعُقَدِ﴾ باندي، آيت ٤ .

٩) په لفظ د : ﴿حَاسِدٍ﴾ باندي، آيت ٥ .

١٠) په ذكر د : ﴿إِذَا حَسَدَ﴾ باندي، آيت ٥ .

دعوی:

التعوذ بصفة الرب من الافات الدنيوية .

خلاصه:

سورت کښې د څلور قسمه شرورو نه په صفت د الله تعالیٰ سره پناهې غوښتل دي د پاره د حفاظت د توحيد چې زمونږ زړونه د ناکاره مخلوق دشبهات باطلؤ په وجه د توحيد نه کاره نه شي ، آيت ٢ کښې شر مطلق او آيت ٢ تا ٥ کښې شرور ثلاثه خاصه ذكر كوي

سورة الناس مكية

نزولاً ٢١ بعد الفلق　　　مصحفاً ١١٤ بعد الفلق

«ربط د ما سبق سره»

(١) ما قبل آيت ١ كښې تعوذ ذكر شو په يو صفت د الله تعالى باندي دا سورت تتمه د ماسبق ده ، دلته په دريؤ صفاتو د مستعاذ به {الله تعالى} استعاذه ذكر كوي ترقي ده ماسبق باندي .

(٢) ما قبل آيت ٢ تا ٥ كښې استعاذه دآفات دنيويؤ ظاهريؤ نه ذكر شوه دلته استعاذه دآفات اخرويؤ باطنيؤ نه ذكر كوي په دري صفاتو د باري تعالى سره .

(٣) ما قبل آيت ٢تاه كښې شرور خارجيه ذكر شو دلته ٤ كښې شر داخلي ذكر كوي څكه وسوسه سبب د معصيت دے اومعصيت شر داخلي دے .

(٤) ما قبل آيت ١ كښې ذكر د خلق (مخلوق) اوشو {الفلق} په معنیٰ د الخلق دے دلته آيت ١ ، ٣ ، ٥ ، ٦ كښې ذكر د {الناس} كوي چې اشرف المخلوقات دي يعني سورت كښې تخصيص بعد التعميم دے .

(٥) ما قبل كښې څلور قسمه شرورُ نه استعاذه ذكر شوه دلته آيت ٤ كښې يو قسم شر (شيطان) نه استعاذه ذكر كوي څكه دا ډير قوي دے.

(٦) ما قبل آيت ٥ كښې ذكر د حاسد او حسد اوشو دلته آيت ٥نه معلوميږي چې دحسد كولو وسوسه په زړه دحاسد كښې شيطان اچوي .

(٧) ما قبل آيت ١ كښې استعاذه ذكر شوه په صفت د الله {رب} باندي دلته آيت ١ كښې هم په دغه صفت باندي استعاذه ذكر كوي .

(٨)ما قبل آيت ٤ كښې سحر د سحر كونكو ذكر شو دلته آيت ٤ كښې د هغي علت ذكر كوي چې هغه وسوسه د شيطان ده .

(۹) ما قبل آیت ۱ کښې د الله تعالیٰ یوصفت ذکر شوے وو دلته آیت ۱تا۳ کښې په هغې باندي ترقي ده دري صفات {رب، ملک، اله} د باری تعالیٰ ذکر کوي .
(۱۰) ما قبل کښې امر ذکر شو د پناهی حاصلولو په الله تعالی سره د دي سورت افتتاح هم په دغه ده .

امتيازات:

۱) دا سورت ممتاز دے په ذکر د : ﴿ قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ﴾ باندي ، آیت ۱.
۲) په ذکر د : ﴿مَلِكِ ٱلنَّاسِ﴾ باندي ، آیت ۲ .
۳) په ذکر د : ﴿إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ﴾ باندي ، آیت ۳ .
٤) په ذکر د : ﴿ٱلۡوَسۡوَاسِ﴾ باندي ، آیت ٤ .
٥) په ذکر د : ﴿ٱلۡخَنَّاسِ﴾ باندي، آیت ٤ .
٦) په صفت د : ﴿ٱلۡخَنَّاسِ﴾ باندي خصوصي الفاظو سره : ﴿ٱلَّذِي يُوَسۡوِسُ فِي صُدُورِ ٱلنَّاسِ﴾ آیت ٥ .
۷) په ذکر د دوؤ قسمونو د شیطان باندي : ﴿مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ﴾ آیت ٦.
۸) په پنځه ځله ذکر کولو د : ﴿ٱلنَّاسِ﴾ باندي په مختصر سورت کښې آیت ۱ ،۲، ٥، ٦.
۹) په اشارے کولو باندي دري حالتونو د انسان ته : {۱}ماشوم والے . {۲}ځواني. {۳}بوډاوالے ، آیت ۱ تا ۳.
۱۰) په مصحف کښې د ټولو نه آخري کیدلو سره .

دعوی:

التعوذ بالترقی علیٰ ماسبق

خلاصه:

سورت کښې تعوذ بطور تتمه د ماسبق دے او ترقي ده ماسبق باندي د مستعاذبه مخکښې یوصفت ذکر شوے وو دلته ئې دري صفتونه ذکر کوي.

دارنګه سورت کښې دري حالات د انسان ذکر کوي :{۱}ماشوموالے. {۲}ځواني. {۳} بوډاوالے.

چې انسان په دغه دري وارو حالاتو کښې الله تعالی ته محتاج دے، نو دۀ له پکار دي چې الله تعالی ته انابت اوکړي .


تمت خلاصة القرآن بفضل الله المنان فالحمد له في كل زمان ومكان على ما وفقنا لتصنيف هذا الكتاب في دار القرآن باشارة من اشارته حكم وطاعة غنم اعني شيخ القرآن والحديث محمدطيب طاهري بارك الله في عمره وصانه الله من الشر الباطني و الظاهري.


الاحقرخالد الرحمن بن شفيع الرحمن


المرقوم ۱۰/ ۹/ ۲۰۱۹


الحمد لله

فهرست









الناشر
مکتبۃ الیمان دار القرآن پنج پیر صوابی

زیر انتظام
مولانا مفتی محمد صابر عفی عنہ
ناظم اعلی دار القرآن پنج پیر
0346-4543152



091-2580182
0300-5991873
0315-5991873